بسم اللہ الرحمن الرحیم

النحو في الكلام كالملح في الطعام

إنارة الضحو

د ... شرح

هداية النحو

مؤلف

الشيخ مولانا ابو احمد بادشاه منير عفی عنه القدير

أستاذ الحديث بدار العلوم تعليم القرآن خال دير

راجعه وحققه

مفتی عبید الله الشاهي حفظه الله

ناشر:-



جامعة دار العلوم تعليم القرآن خال دير



عظیم الشان خوشخبری



★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر ، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

الكتاب : إنارة الضحو شرح هداية النحو

المؤلف : الشيخ أبو أحمد بادشاه منير حفظه الله

المحقق : مفتي عبيد الله الشاهي حفظه الله

الطبعة : [الثالثة - جمادي الأولى ١٤٣٩ هـ-جنوري ، ٢٠١٨ء]
[الثانية-رجب ١٤٣٨هـ] ، [الأولى - ربيع الأول ١٤٣٨هـ]

الهاتف : ٠٣١٣٨٠٤٨٥٠٣ / ٠٣١٦٩٩٤٧١٢٨ / ٠٣٠٥١٩٠٩٦١٣

يطلب من:

- جامعة تعليم القرآن خال دير
- جامعة دارالعلوم تعليم القران كندف
- مكتبه اشاعت اسلامى ديربازار
- المكتبة المعروفية كوئته ، لاهور
- مدرسه روضة القرآن شرينكل
- مدرسه جواهر القرآن مرغز صوابى
- مكتبه صديقية مينكوره
- مكتبه عباسيه تيمرگره
- مكتبه عثمانية زيب ستى سنټر تيمرگره
- مكتبة دارالتوحيد والسنة پشاور
- مولوي فضل ربي قذافى باجور
- اسلامى كتب خانه صوابى
- جامعه مظاهر العلوم چكياتن دير بالا
- مكتبة القرآن والحديث مينگوره
- مكتبة انوار العلوم خار باجور
- مكتبة الخير عنايت قلعه باجور
- مكتبة اليمان تاج مير ماركيت باجور خار
- دار القرآن دير

MADRASA TALEEM UL QURAN KHAL DIR



جامعه دار العلوم تعليم القرآن خال دير

SARIM@GMAIL.COM ● MUHAMMAD UTMANI@GMAIL.COM


فهرس المضامين

فهرس المضامـــــــــــــين

فهرس المضامين

فهرس المضامـــــــــــــين

******



أيها القاري ! في الصفحات الآتية :

- الباعث على التأليف
- المقدمة الممهدة
- تشريح خطبة الكتاب
- تشريح مقدمة الكتاب
- تشريح بحث الاسم
- تشريح الباب الأول في المعرب
- تشريح المقصد الأول في المرفوعات
- تشريح المقصد الثّاني في المنصوبات
- تشريح المقصد الثّالث في المجرورات
- تشريح التوابع
- تشريح الباب الثّاني في الاسم المبنى
- تشريح بحث الفعل
- تشريح بحث الحرف

باعث په ليکلو ددې شرح

الحمد لله الهادي لأحسن الأفعال ، والصلوة على الدّاعي المضيء بأنوار الأقوال وعلى آله وأصحابه المتمسكين بسراج الامتثال ، وبعد :

پۀ علم النحو کښې د "هداية النّحو" چې کوم مقام دے ، هغه هر ذی علم ته عيان دے ؛ پدې بنياد پۀ درسِ نظامي کښې دا پۀ درجه ثانيه کښې تردې وخت پورې داخل برقرار دے ، اگر چې ډير مفيد کتابونه (والله أعلم) د اغيارو او علم دشمن خلقو پۀ إشاره خارج شوي دي او خارجيږي .

بل طرف ته استعداد د طلباؤ ورځ پۀ ورځ پۀ سبب د ترک د محنت کميږي او د ډير اهمو کتابونو د تدريس چې کوم قديمي طرز دے ؛ نو نوخيز مدرسين پۀ هغې کښې د مشقت د وجې نه ليت او لعلّ نه کار اخلي چې پۀ هغې کتابونو کښې يو کتاب او ډير اهم او د مبتدي طالب روانونکے دے "هداية النحو" ده چې دا کتاب څو کاله د بنده حقير زير تدريس پاتې شوے دے او پۀ هغه طرز الحمد لله مبتدي طلباؤ ډير ښۀ روانيدل چې د هغې ضبط ډير مخکښې مولانا عبد الحکيم سواتي حفظه الله (سابق مدرس دار العلوم تعليم القرآن خال) کړے وو ، د اکثر ملگرو خواهش وو چې هم پۀ دغه طرز ددې شرحه اوشي ، هر چند چې بنده عاجز ددې نه انکار کولو خو چې کله مطالبه زياته شوه ؛ نو زمونږ يو بهترين او قابل ترين ملگري مفتي عبيدالله شاهي صاحب حفظه الله پۀ ډير عرق ريزۍ سره په دغه مسوده نظر واچولو او نور هم ئې زيادات ورسره يو کړل چې الحمد لله د هغې نه يوه بهترينه شرحه "إنارة الضحو شرح هداية النحو" جوړه شوه چې د هغې پوره علم به تا ته د کتلو پۀ وخت کښې راشي .

ددې کتاب نور هم ډير شروحات ليکلي شوي دي ، قديم او جديد ، عربي او غير عربي ، خو دا شرحه پۀ لاندې خصوصياتو مشتمله ده .

۱ـ دا پۀ پښتو ژبه کښې جامع شرحه ده .

۲ـ پوره متن سره د ضبط د حرکاتو او سکناتو پکښې راغستے شوے دے .

۳ـ د پوره متن ترجمه واضحه ليکلې شوې ده .

۴ـ بيا ئې تشريح شوې ده چې نۀ ډيره اوګده او نۀ ډيره لنډه ، بلکه درميانه انداز اختيار کړے شوے دے .

هـ د خطبې نه تر مقصوره پورې د ټول عبارت آسان ترکیب شوے دے او وروستو بیا په ترکیب دا امثلو اکتفاء شوې او داسې نور هم فوائد چې په حین د مطالعه کښې به تا ته معلوم او ښکاره شي .

البته ستا په زړهٔ کښې دِ دا نهٔ وي چې ددې کتاب ډیر شروح دي ؛ نو دېته څهٔ ضرورت وو ؟ ؛ ځکه چې یو مخکښې مونږ باعث ذکر کړو ، بل ښهٔ استاذ او مدرس هغه دے چې هغه په کتاب ټول شروح اوګوري او بیا د هرې شرح مفیده خبره یا ترتیب یا تعبیر د مقتضی الحال موافق پیش کړي .

وثیلے کیدے شي چې دارالعلوم دیوبند کښې چې کله د علم الصرف ابتدائي کتاب "میزان الصرف" مدرس ته ورکړے شو ؛ نو ورسره ددې کتاب دوویشت/۲۲ شروح هم ورکړے شول ، دا ددې دپاره چې مدرس دا ټول شروح اوګوري او مفید سبق طلباء کرامو ته اوائي .

زهٔ په آخر کښې د هغه ټولو ملګرو شکر ګزار یم چا چې ددې کتاب یا نورو شروحاتو په حقله څهٔ قسم حوصله افزائ کړې ده او بالخصوص د ګران وررور قدردان قابل مفتي عبید الله الشاهی حفظه الله الباری چې هغوئ ددې کتاب په لیکلو ، مرمت کولو او تخریج د آیاتونو او د بهترین نه بهترین نورو امورو کښې د زړهٔ د اخلاص نه محنت اوکړو ، الله تعالی دِ ددې بهترین عوض فی الدّارین ورکړي ، **اللهم بارك فی علمه وعمله وعمره وماله وأولاده** او الله تعالی دِ دا کتاب زمونږه ، زمونږ د والدینو ، اساتذو او ټولو متعلقینو دپاره ذخیره د نجات اوګرزوي او الله دِ ورله قبولیّت خاصه او عامه فی الدّارین ورنصیب کړي . **آمین یارب العالمین**

أبو أحمد بادشاه منیر عفی الله عنه

*****

المقدّمة الممهّدة

د هر كتاب د شروع كولو نه مخكښې د درې/٣ خبرو پېژندل ضروري وي : ١ـ أحوال الفن ٢ـ أحوال المصنّف رحمه الله ٣ـ أحوال الكتاب ، ددې دپاره چې شروع په كتاب كښې وشي على وجه البصيرة الكاملة.

أحوال الفن :

احوال الفن مصنف رحمه الله په كتاب كښې روسته ذكر كړي دي.

أحوال المصنِّف :

د "هداية النحو" د مصنف د تعين په باره كښې په يقين سره قول كول مشكل دى ، خو مشهور دوه/٢ قولونه دى :

القول الأول : بعض علماء[١] د دې كتاب نسبت أبو حيان محمّد بن يوسف بن على بن حيان الأندلسى ته كړے ، چې دے په شوال ٦٥٣هـ په غرناطه ښار د اندلس كښې پيدا شوے دے، ده په ابتدائى عمر كښې حفظ د قرآن كړے وو ، په قراءت ، تجويد ، حديث كښې ئې كامل مهارت لرلو ، دده په استاذانو كښې ، كښې أبو محمد عبد الحق ، أبو جعفر غرناطى ، حافظ أبو على حسين بن عبد العزيز ، خو دلے شى ، چې د دوئ نه ئې فن تجويد زده كړے وو ، علماء ليكى چې د ده په باب د حديث كښې دوه سوه پنځوس/٢٥٠ اساتذه كرام دى ، علم الفقه ئې د علم الدين العراقى نه حاصل كړے وو ، منطق او علم الكلام ئې د أبو جعفر بن زبير نه ، او علم النحو ئې د أبو الحسن أبو جعفر بن زبير وغيره نه حاصل كړے وو.

تلامذه : تلامذه خو ئې ډير دى خو مشهور پكښې ابن عقيل او ابن هشام ذكر كيدے شى .

تصانيف : تصانيف ئې تقريبًا پنځه شپيته/٦٥ ته رسيږى ، مشهور پكښې البحر المحيط ، شرح تسهيل ، منهج السالك شرح الفيه ابن مالك ، او ددې هداية النحو نسبت ورته كيږى ، چونكه ما د أبو حيان ترجمه د تراجم په ډير كتابونو كښې وكتله لكه الإعلام للزّركلى ، البدر الطالع بمحاسن من بعد القران السابع ، الدّرر الكامنة فى أعيان المائة الثامنة ، الشهادة الزكية ، تراجم شعراء الموسوعة الشعريّة ، خو دده په تصانيفو كښې د "هداية النحو" ذكر نشته .

وفات : وفات ئې په ٧٤٣ هـ كښې شوے دے او بعض ٧٤٥ هـ ليكى .

---

[١] لكه صاحب د "إرشاد النحو" په حواله د تذكرة المصنّفين وغيره .

القول الثاني : بعض علماؤ لكه صاحب د "**ظفر المحصلين**"ددى كتاب نسبت شيخ سراج الدين عثمانى چشتى نظامى ته كړے دے[1].

ابتدائى حالات دده : د وړوكوالى نه دده د علم سره ډير شوق وو ، د مولٰنا فخر الدين نه ئى په غياث پور كښي د علم الصرف كتابونه ووے ، د علم النحو او علم الفقه تكميل ئى د شيخ ركن الدين اندرپتى نه وكړو.

تصانيف : دده په تصانيفو كښي ميزان الصرف ، پنج گنج ، او هداية النحو خودلے كيږى .

وفات : وفات دده په ٧٨٥ هـ كښي شوے دے.

بهر حال صحيح يقين سره ددي كتاب مصنّف معلوم نه دے ، او شايد چې وجه ددي نهايت اخلاص د صاحب او مرتّب ددي كتاب وى ، والله تعالى أعلم .

احوال الكتاب :

د مصنفﷺ كتاب " **هداية النحو** " مشتمل دے په څلورو حصو باندي : اوله حصه خطبه ده ، دويمه حصه ديباجه ، او دريمه حصه مقدمه ، او څلورمه حصه مقصود دے چې مشتمل دے په بحث الاسم ، بحث الفعل ، او بحث الحرف باندي . په اوله حصه (چې خطبه ده) كښي دري اجزاء دى تسميه ، حمد ، او صلوة على النبي ﷺ . ماتن اول جزء د خطبه ذكر كوى چې " **بسم الله** " ده .

*****

[1] ظفر المحصلين، جلد : ٧ صفحه : ٢٤ دار الاشاعت ترجمه ٦٨.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ترجمه : خاص په مدد (يا په بركت ، يا په مصاحبت) د نوم د الله تعالى سره چې عامې مهربانۍ والا دے ، او خاصې مهربانۍ والا دے شروع كوم.

تشريح :

مبحث التّسميـــة

په ديكښې په څو طريقو سره بحث كوو (١) د بسم الله د راوړلو وجوه (٢) د بسم الله د أجزاؤ تشريح (٣) تركيب . (٤) معنى د بسم الله او دا به د تركيب نه وروسته كوو .

(١) اوله خبره د بسم الله د راوړلو وجوه پنځه دي : (١) د وجه د موافقت د كتاب الله نه . (٢) د وجه د عمل كولو نه په حديث د بسم الله باندې ، چې كل أمر ذي بال لا يبدأ فيه ببسم الله فهو اقطع . (نبي ﷺ فرمائي : چې هر هغه كار چې د لوئ شان والا وي ، او بغير د بسم الله نه شروع شي نو هغه لندے بوجے وي) . (٣) د وجه د اقتداء نه په سلف صالحين پسې چې هغوى به ابتداء د كتاب په بسم الله سره كوله . (٤) د پاره د رد كولو په مشركينو باندې چې هغوى به ابتداء په بسم اللات و العزى كوله ؛ نو ماتن رحمه الله ابتداء په نوم د الله سره وكړه . (٥) د وجه د حصول د بركت نه .

(٢) **دويم مبحث** : تشريح د أجزاؤ د « **بسم الله الرحمن الرحيم** » أجزاء د " **بسم الله** " پنځه دي: " **باء ، إسم ، الله ، رحمن ، رحيم** " .

اوس **تشريح** : نو " باء " په ډيرو معنو سره راځي خو دلته مقصود درې معاني دي : ١ـ " باء " د استعانت شي . ٢ـ چې " باء " د پاره د مصاحبت شي . ٣ـ چې د پاره د بركت شي .

اسم : اسم په لغت كښې نوم ته وائي ، او په اصطلاح كښې دا هغه كلمه ده چې دلالت كوي په خپله معنى مستقله باندې ، او مقترن نه وي په يو د أزمنو ثلاثو پورې چې ماضي حال استقبال دے ، او باقي بحث به إن شاء الله تعالى وروسته په " **بحث الاسم** " كښې كوو .

الله : دريم جزء لفظ د الله دے په ديكښې اختلاف دے په يو څو طريقو سره يو اختلاف په ديكښې دا دے : چې دا لفظ عربي دے ، او كه غير عربي دے نو په ديكښې درې أقوال دي : (١) بعض وائي : دا لفظ عبراني دے . (٢) او بعض وائي : دا لفظ سرياني دے . (٣) او بعض وائي : دا لفظ عربي دے خو چې لفظ د عربۍ شي نو په ديكښې دا اختلاف دے چې دا اسم جامد دے او كه مشتق دے (١) بعض وائي : جامد دے دليل ئې دا دے : چې څنګه په ذات د الله كښې تغير او تبديل نه راځي نو دغه رنګ په لفظ د الله كښې هم تغير او تبديل نه راځي .

(٢) بعض وائي : دا اسم مشتق دے ، بيا په ديكښې دا اختلاف دے چې دا د چا نه مشتق

دے نو په دیکښې څلور أقوال دی : (۱) بعض وائی : چې دا مشتق دے د لاہ یلوہ نه (أجوف واوی دی) . (۲) بعض وائی : دا مشتق دے د وَلِهَ یولهٔ نه (مثال دی) . (۳) بعض وائی : دا مشتق دے د أَلِهَ یَأْلَهُ نه (مهموز الفاء دی). (٤) څلورم قول دا دے : چې دا مشتق دے د تَأَلَّهَ یَتَأَلَّهُ نه (مزید دی) .

پس د دینـــــه : لفظ د " الله " په لغت کښې معبود برحق ته وائی ، او په اصطلاح کښې « **هو اسم للذات الواجب الوجود المستجمع لجمیع صفات الکمال** » د داسې ذات نوم دے چې مستجمع دے تولو صفاتو د کمال لره .

الرحمن الرحیم : دا دواړه صیغې د مبالغې دی په دیکښې بعض فرق کوی ، او بعض فرق نه کوی ، څوک چې فرق کوی نو وائی : چې " **رحمن** " کښې زیادت د حروف دے ، او زیادت د حروف دلالت کوی په زیادت د معنی باندې ، نو د رحمن معنی ده عام مهربان دے یعنې په دنیا او آخرت دواړو کښې ، یا عام مهربان دے دنیا کښې مسلمانو او کافرانو دواړو لره رزق ورکوی . " **رحیم** " کښې حروف کم دی په نسبت سره " **رحمن** " ته ، او کموالے د حروف دلالت کوی په کموالی د معنی باندې ، نو معنی دا چې خاص مهربان دے په آخرت کښې صرف په مؤمنانو باندې ، نه په کافرانو باندې .

(۳) **خبره ترکیب** : " باء " جاره " اسم " مضاف لفظ د " **الله** " موصوف " **الرحمن** " صفت اول " **الرحیم** " صفت ثانی ، موصوف سره د صفتین نه دا مضاف الیه شو د پاره د اسم مضاف ، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو د پاره د باء جاره ، جار سره د مجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نیسی تر أشرع ، یا أبتدأ فعل مؤخر پورې ، بیا " أشرع " صیغه د واحد متکلم ده ، " أنا " ضمیر واجب الاستتار ورلره فاعل دے ، نو فعل سره د فاعل او متعلق خپل نه جمله فعلیه خبریه ابتدائیه شوه ، او معنیً جمله انشائیه ده .

(٤) **معنی د " بسم الله "** : خاص په نوم د الله تعالی چې عام او خاص مهربان دے شروع کوم (دا کتاب) .

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ، وَ الْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ، وَ الصَّلٰوةُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ، وَ آلِهٖ ، وَ أَصْحَابِهٖ أَجْمَعِیْنَ.

ترجمه : د ألوهیت مناسب صفتونه ټول الله لره دی چې پالونکے د کل ما سوی الله دے ، او غوره انجام د پاره د متقیانو دے ، او نزول د رحمت کامله دی وی په رسول د الله چې محمد ﷺ دے ، او په آل د هغه ، او په ملګرو د هغه ټولو باندې .

تشریح : قوله : الحمد لله ...

مبحث الحمـــــــد

په دې عنوان کښې لابدی ده د معرفت د یو څو خبرو نه اجمالاً (۱) ربط (۲) بیان د وجوه د ذکر کولو د حمد پس د تسمیه نه (۳) تعیین د ألف لام په " الحمد " کښې . (٤) معنی لغوی د حمد (٥) معنی اصطلاحی د حمد .

(۱) **اوله خبره ربط دا دے** : چې هر کله فارغ شو د اول جزء د خطبې نه نو اوس ئې شروع وکړه په دویم جزء د خطبه باندې چې حمد دے . (۲) خبره حمد ئې ذکر کړے پس د تسمیه نه ؛ د وجه د وجوه خمسؤ نه : ۱ـ د وجه د موافقت د کتاب الله نه . ۲ـ د وجه د اتباع د حدیث نه ؛ ځکه حدیث کښې دی چې « **کل أمر ذي بالٍ لایبدأ فیه بالحمد فهو أقطع** [1] » . ۳ـ د وجه د اقتداء نه په سلف صالحین پسې . ٤ـ د پاره د حصول د برکت . ٥ـ په دیکښې اشاره ده صفات کمالیؤ او جمالیؤ د الله تعالی ته .

(۳) خبره تعیین د " **ألف لام** " په " **الحمد** " کښې ، نو په دیکښې درې أقوال دی :

۱ـ بعض وائی : دا " ألف لام " جنسی دی نو معنی دا سې کوی چې جنس حمد د ألوهیت ثابت دے خاص الله لره . ۲ـ بعض وائی : چې دا ألف لام استغراق دی نو معنی داسې کوی چې هر فرد د أفراد د حمد نه ثابت دے خاص الله تعالی لره . ۳ـ بعض وائی : چې عهد خارجی دی معنی داسې کوی : چې هغه خاص حمد د ألوهیت چې معهود (معلوم) دے په مابین د الله ، او د مصنف کښې دا ثابت دے خاص الله تعالی لره .

(٤) خبره : نو حمد صیغه د مصدر ده په لغت کښې ستودن ته وائی (٥) او په اصطلاح کښې " **هو الثناء بأللسان على الجمیل الاختیاری سواءً کان فی مقابلة النعمة أو لا** " .

قوله : **لله** ... د لفظ د " **الله** " تحقیق په " **بسم الله** " کښې تیر شوے دے .

سوال : ماتن چې عنوان د حمد ذکر کولو نو عنوان د مدح یا شکر ئې ولې ذکر نکړو ؟

جواب : عنوان د حمد ئې ذکر کړو نه د مدح ؛ ځکه مقام د حمد اوچت دے د مقام د مدح نه ؛ ځکه حمد د ذوی العقولو وئیلے شی ، او د اختیاری څیز وئیلے شی ، او مدح عامه ده د غیر ذوی العقول ، او غیر اختیاری څیز هم وئیلے شی ؛ لهذا « **حمدت اللؤلؤ على صفائها** » نشي وئیلے ، او « **مدحت اللؤلؤ على صفائها** » وئیلے شي . نو ذکر د حمد مستلزم دے ذکر د مدح لره ، او ذکر د مدح مستلزم نه دے ذکر د حمد لره ؛ ځکه حمد خاص دے ، او مدح عام ده ، او تحقق د خاص مستلزم وی تحقق د عام لره ، او تحقق د عام مستلزم نه وی تحقق د خاص لره . او عنوان د شکر ئې ذکر نه کړو ؛ د دوه وجو نه : ۱ـ یو دا چې دلته ذکر د حمد دے ، او مراد تربیه

---

(۱) صحیح ابن حبان .

شکر دے ؛ ځکه چې شکر وئیلے کیږی په مقابله د نعمت کښې ، او دلته دا په مقابله د نعمت کښې دے ؛ ځکه چې تصنیف یو لوئ نعمت دے ، او قانون دا دے : چې « کل شئ وقع فی محل غیره فله حکم الغیر » . ۲ـ دویمه وجه دا ده : چې مقام د حمد اوچت دے د مقام د شکر نه ؛ ځکه په شکرکښې شرط دا دے : چې دا به په مقابله د نعمت کښې وی ، او حمد عام دے که په مقابله د نعمت کښې وی او که نه وی .

سوال : ماتن‌ﷺ چې دا حمد په جمله اسمیه سره ذکر کوو نو په جمله فعلیه سره ئ ولې نه ذکر کوو (یعني الحمد لله ئ وئیلو نو حمدت الله ئ ولې نه وئیلو) ؟ .

جواب : مصنف‌ﷺ جمله اسمیه ذکر کړه فعلیه ئ ذکر نه کړه د دوه وجو نه : ۱ـ یو د دې وجې نه چې موافقت راشی د قرآن ، حدیث ، او د کتب د سلف صالحین سره .

۲ـ دویم د دې وجې نه چې جمله اسمیه دلالت کوی په استمرار باندې ، او جمله فعلیه دلالت کوی په تجدد او حدوث باندې ، او استمرار أولی دے د تجدد او حدوث نه ، نو د جملې فعلې مطلب دا وی : چې الله تعالی لره دې نوے نوے حمد ثابت وی ، او د جملې اسمې مطلب دا وی : چې همیشه دې حمدثابت وی الله تعالی لره . **سوال** : په دې " **الحمد لله** " کښې دا حمد صفت دے او الله ذات دے ، او قانون دا دے : چې ذات مقدم وی په صفت باندې نو دلته مصنف‌ﷺ دا صفت ولې مقدم کړے دے په ذات باندې پکار خو دا وه لله الحمدُ ئ ویلے وے ؟ **جواب** عـ ۱ : دلته أصل کښې مقصود صفت بیانول دی نو په دې تقدیم د حمد کښې اشاره ده أهمیت د حمد ته ؛ ځکه قانون دا دے : چې د کوم شی مقام ورسته وی او ته ئ مخکښې کړې نو په هغې کښې اشاره وی أهمیت د هغې ته . **جواب** عـ ۲ : دا خبره دې منم چې تقدیم د صفت په موصوف او په ذات باندې نه دے جائز خو هغه وصف چې په دغه ذات پورې خاص نه وی او که دغه وصف مختص وو په دغه ذات پورې نو بیا تقدیم د هغې جائز دے او حمد د ألوهیت هغه وصف دے چې خاص دے په الله پورې؛ نو ځکه مقدم شوے دے.

سوال : چې « **الحمد لله** » ئ ووے نو « **الحمد للرحمن** » ، یا « **للرحیم** » ئ ولې نه ووے ؟

جواب : لفظ د " **الله** " ئ مختار کړو ؛ ځکه دا اسم ذاتی د " **الله** " دے او دا نور أسماء صفتی دی ، او ذات أشرف وی په نسبت سره صفت ته .

دویمه وجه دا ده : چې لفظ د **الله** ئ ؛ ځکه مختار کړو چې صفات د الله کثیر دی که تول ئ ذکر کول نو تطویل راتلو او که تول ئ ترک کول نو حمد بلا متعلقه پاتې کیدو او که بعض ئ ذکر کول او بعض ئ نه ذکر کول نو بیا ترجیح بلا مرجح راتله ؛ نو ځکه ئ لفظ د الله ذکر کړو . قوله : **ربّ العلمین** ... په دې مقام کښې لابدی ده د معرفت د أمور أربعۀ نه (۱) اعراب د رب (۲) صیغه د ربّ (۳) معنی د ربّ (٤) حکم د ربّ .

(۱) **اوله خبره اعراب د ربّ** : نو په دې لفظ د ربّ کښې اعرابات ثلاثه جائز دی : ۱ـ یا مجرور دے بنا په دې چې صفت دے د لفظ د الله ، نو معنی دا ده : چې ټول صفتونه د خدایٔ توب ثابت دی خاص الله لره هسې الله چې ربّ د مخلوقات دے . ۲ـ او یا مرفوع دے بنا برخبریت د پاره مبتداء محذوف نو تقدیر د عبارت داسې شو "**هُوَ رَبّ العلمین**" . ۳ـ او یا منصوب دے بنا په دې چې دا مفعول به دے د پاره د فعل محذوف نو تقدیر د عبارت داسې شو "**أعنى ربّ العلمین**" ، یا "**أمدح ربّ العلمین**" (۲) **دویمه خبره صیغه د ربّ** : ۱ـ نو دا یا صیغه د مصدر ده په أصل کښې "**رَبْبٌ**" وو ، دوه حرفه د یو جنس نه په یوه کلمه کښې راغلل اول ساکن وو او ثانی متحرک وو اول مدغم کړے شو په ثانی کښې نو "**رَبٌّ**" شو ، او دلته تنوین غرځیدلے دے ؛ د وجه د اضافت نه . ۲ـ او یا صیغه د صفت مشبه ده په أصل کښې "**رَبِبٌ**" وو دا أوله باء مو ساکنه کړه او په ثانی کښې مو مدغمه کړه نو "**رَبٌّ**" شو او تنوین غرځیدلے دے ؛ د وجه د اضافت نه . ۳ـ یا صیغه د اسم فاعل ده په أصل کښې "**رَابِبٌ**" وو بیا دا ألف حذف شو خلاف القیاس ؛ د وجه د کثرت استعمال نه نو "**رَبِبٌ**" شو ، بیا اوله باء ساکنه کړے شوه او په ثانی کښې مدغمه شوه . یا په أصل کښې "**رَابِبٌ**" وو دا أوله باء ساکنه کړے شوه بیا التقاء د ساکنین راغله بین الألف والباء نو ألف حذف کړے شو او دا یوه باء مدغمه شوه په دې بله کښې نو "**رَبّ**" شو بیا تنوین حذف شویدے په دې مقام کښې د اضافت د وجې نه .

(۳) **دریمه خبره معنی د ربّ** : نو "**ربّ**" په لغت کښې په ډیرو معانیو سره راځی لکه څه دا دی : ۱ـ مالک . ۲ـ مدبّر . ۳ـ سیّد . ٤ـ مصلح [۱]. او په اصطلاح کښې مدارک معنی کوی "**هو الخالق ابتداءً والمربي غذاءً والغافر انتهاءً**" . اوس دلته که دا صیغه د مصدر شی نو بیا د دې معنی ده تربیت کول ، او بیا یا حمل مبالغةً دے او یا مصدر مبنی للفاعل دے . او که صیغه د اسم فاعل شی ، او یا صیغه د صفت مشبه شی ؛ نو بیا معنی د دې ده تربیت کونکے .

(٤) **څلورمه خبره حکم د ربّ** : نو حکم د "**ربّ**" دا دے : چې بغیر د اضافت نه د دې اطلاق کول په غیرالله باندې نه دے جائز ، او سره د اضافت نه یٔ اطلاق جائز دے لکه ربّ زید ، ربّ الدّار وغیره [۲].

قوله : **العلمین** ... "عالمین" جمع د "**عالم**" ده ، او عالم په لغت کښې : ۱ـ ما یعلم به الشیئ ته وائی . ۲ـ که په معنی د رأس الجبل سره راځی . ۳ـ او که په معنی د علامې سره راځی . ٤ـ که رازی په معنی د جنډې سره . او په اصطلاح کښې کل ما سوی الله ته وائی . **سوال** : هر کله

---

(۱) د "ربّ" نورې هم کثیرې معانې دی ان شئت التفصیل فارجع الی وصول جوهری لتوضیح فصول أکبری.

(۲) والتفصیل فی وصول جوهری.

چې عالم كل ما سوى الله ته وائي نو دا ئ جمع ولې راؤړه جمع كولو ته ئ څه ضرورت وو خو "رَبِّ الـعـالم" به ئ وئيلے وے؟ جواب: "العالمين" ئ جمع ذكر كړه په ديكښې اشاره ده مختلفو أنواعو ته چې د عالم ډيرې نوعې دى، بعض كتابونو ذكر كړى دى چې د عالم زر (۱۰۰۰) أنواع دى، شپږ سوه په درياب كښې دى، او څلور سوه په وچه باندې دى، او بعض وائي: چې څوارلس زره نوعې دى، او بعض وائي: چې أتلس زره نوعې دى. سوال: هر كله چې ئ جمع ذكر كړه نو دا جمع ئ په ياء او نون سره ولې ذكر كړه په واو او نون، يا ياء او نون سره خو جمع د ذوى العقولو د پاره راځى، او عالم خو ټول ذوى العقول نه دى بلكه بعض ذوى العقول دى او بعض غير ذوى العقول دى بلكه غير ذوى العقول زيات دى د ذوى العقول نه؟ جواب: په ديكښې اشاره ده شرافت د ذوى العقول ته؛ څكه دا غير ذوى العقول الله تعالى پيدا كړى دى د پاره د فائدې د ذوى العقول (يعني دا جمع تغليبًا ده). قوله: والعاقبة للمتقين ... دلته دا واو استنافيه دے او دا جمله مستأنفه راغلې ده د پاره د دفع د وهم، وهم دا دے: چې مخكښې مصنف رحمه الله وئيل چې ربّ العلمين نو د ربّ په معنى كښې دا هم وه چې "والغافر انتهآءً" نو واهم دا وهم وكړو چې الله به غافر د مؤمنانو او كافرو ټولو وى، نو مصنف رحمه الله ووے: چې والعاقبة للمتقين غوره انجام د پاره د متقيانو دے، او دا معنى چې مونږ وكړه په دې سره مو دفع د اعتراض وكړه، اعتراض دا دے: چې عاقبت خو آخرى انجام ته وائي بيا عام دے كه د خير وى، او كه د شر وى، نو مصنف رحمه الله متقيان ولې خاص كړل آخرنے انجام خو د كفارو هم شته دے؟ دويم سوال: عاقبت خو اخرنى انجام ته وائي كه د خير وى او كه د شر وى نو د دې نه خو دا معلومه شوه چې د متقيانو انجام به هم د شر وى حالانكه دا خو خلاف الأصل ده؟ جواب: دا عبارت په حذف د مضاف سره دے تقدير د عبارت دارنګ دے "وخير العاقبة للمتقين" نو تخصيص د متقيانو صحيح شو؛ څكه غوره انجام صرف د متقيانو دے، نه د غير متقيانو.

پس د دينـــــه: متقين صيغه د جمع مذكر اسم فاعل ده مأخوذ دے د تقوى نه، او تقوى په لغت كښې بچاؤ ته وائي، او په اصطلاح كښې «مَن يتقي نفسه من تعاطى أن يستحق به العقوبة من فعل او ترك». او "متقين" په أصل كښې "مُوْتَقِيِيْنَ" وو، واو واقع شو په ځائ د فاء كلمه د باب افتعال باندې بدل شو په تاء سره، او يوه تاء په بله كښې مدغمه شوه نو مُتَّقِيِيْنَ شو بيا كسره په ياء باندې ثقيله وه نو هغه ترې وغرځيده نوالتقاء د ساكنين راغله بين اليائين نو يوه ياء حذف شوه نو "مُتَّقِيْنَ" شو. او متقى په لغت كښې ځان ساتونكى ته وائي، او په اصطلاح كښې درې قسمه دے: ۱ـ چې ځان ساتى د شرك او كفر نه. ۲ـ چې ځان ساتى د

كفر ، شرك ، او حرامو نه . ٣ ـ چې ځان ساتي د كفر ، شرك ، حرام ، او مشتبهاتو نه ، او دا آخرنے كامل متقي دے .

مبحث الصلوة

قوله : **والصلوة على رسوله** ... هر كله چې فارغ شو ماتنﷺ د دويم جزء د خطبې نه نو شروع ئ وكړه په دريم جزء د خطبه كښې چې صلوة دے . په دې مقام كښې هم لابدى ده د معرفت د أمورو ستؤ نه : (١) وجه د ايراد د صلوة په خطبه كښې . (٢) معنى لغوى د صلوة . (٣) معنى اصطلاحي د صلوة . (٤) تعيين د معنى مراد ههنا . (٥) صيغه د صلوة . (٦) أصل د صلوة .

(١) دا صلوة ئ په خطبه كښې راوړو د يو څو وجو نه : ١ ـ د وجه د اتباع د قرآن نه ؛ څكه قرآن كښې الله تعالى فرمائى : « **يٰأيها الذين آمنوا صلّوا عليه و سلّموا تسليمًا**[١] » الأية . ٢ ـ د وجه د اتباع د حديث نه ؛ څكه حديث كښې دى : چې « **كل أمر ذى بال لم يبدأ بحمد الله والصلوة علىّ فهو أقطع أبتر و ممحوق من كل بركة** » . اګر چې دا حديث ضعيف دے خو په فضائلو كښې مقبول دے . ٣ ـ د وجه د اقتداء نه په سلف صالحين پسې . ٤ ـ صلوة ئ ذكر كړو ؛ للتبرك . ٥ ـ يا ئ د دې وجه نه راوړو چې الله تعالى منعم حقيقى دے او نبيﷺ منعم مجازى دے ، او لكه څنګه چې د شكر د منعم حقيقى واجب دے نو دارنګ شكر د منعم مجازى هم واجب دے ، نو شكر د منعم حقيقى ئ ذكر كړو په عنوان د حمد سره ، او شكر د منعم مجازى ئ ذكر كړو په عنوان د صلوة سره .

(٢) **لغوى معنى د صلوة** : صلوة په لغت كښې په معنى د دُعا سره راځى كه نسبت ئ وشى انسان ته ، او په معنى د تسبيح او تهليل سره راځى چې نسبت ئ وشى وحوشو او طيورو ته ، او په معنى د استغفار سره راځى چې نسبت ئ وشى ملائك ته ، او په معنى د رحمت سره راځى چې نسبت ئ وشى الله ته .

(٣) **اصطلاحي معنى د صلوة** : نو په اصطلاح كښې صلوة عبارت دے د أركان مخصوصؤ نه چې أدا كيږى په أوقات مخصوصؤ كښې په أفعال او أقوال مخصوصؤ سره .

(٤) **تعيين د ما هو المراد ههنا** : نو دلته مراد دا دے : چې نزول د رحمت دې وى په رسول د الله تعالى باندې .

---

[١] سورة الأحزاب : ٥٦ .

(٥) **صيغه د صلوة** : نو صلوة يا صيغه د اسم مصدر ده په معنى د تصلية سره ، او يا صيغه د مصدر ده د صلّى يصلّى تصلية و صلوة نه [١]. (٦) **أصل د صلوة** : صلوة په أصل كښې صَلَوَةٌ وو ، واو متحرك وو او ماقبل ترې مفتوح وو بدل شو په ألف باندې نو صلوة شو پشان د زكوة ، او دا واو ورسره ليکلے کيږی د پاره د تفخيم (يعنې چې آواز پرې درونه کيږی).

قوله : **على رسوله** ... دا لفظ د "**على**" كله فعل راځى ، او كله حرف راځى چې فعل شى نو بيا صيغه د ماضى ده د علا يعلو علوًّا نه ناقص واوى دی ، په أصل كښې "**عَلَوَ**" وو دا "**واو**" بدل شو په "**ياء**" باندې او "**ياء**" بدله شوه په "**ألف**" سره نو "**عَلَى**" شو ، او بيا دا "**ألف**" په خپل شکل ليکلے کيږی نه په شکل د "**ياء**". او دا راځى په معنى د اوچت والى سره. او چې حرف شى نو بيا دا يو حرف دے د حروف جارؤ نه داخليږی په اسم باندې ، او جر ورکوی اسم له ، او دلته حرف دے نه فعل. **رسول** : مجرور دے د على د پاره او **هاء** ضمير الله ته راجع دے. او رسول وزن فعول دے بمعنى المفعول په لغت كښې فرستاده شده يعنې ليکلے شوی ته وائى ، او په اصطلاح كښې « **انسان بعثه الله تعالى الى الخلق لتبليغ الأحكام الشرعية معه كتاب متجدد** ». او دا كتاب متجدد عام دے كه په نزول جديده سره وى ، او كه په نزول متكرره سره وى.

الفرق بين الرّسول والنّبي

په "**رسول**" او "**نبي**" كښې فرق شته او كنه ؟ نو بعض وائى : چې فرق شته دے ، او بعض وائى : چې فرق پکښې نشته دے. څوک چې وائى چې فرق پکښې نشته نو د هغوى دليل دا آيت دے « **وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا** [٢] » الأية ، او څوک چې وائى : چې په رسول او نبى كښې فرق شته دے د دوى د پاره هم دليل د قرآن آيت دے « **وَمَآ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ** [٣] » دا "**نبي**" ئې عطف کړے دے په "**رسول**" باندې ، او قانون دا دے : چې په مينځ د معطوف او معطوف عليه كښې مغائرت وى. او بعض وائى : چې د دې په مينځ كښې مغائرت هم نشته ، او اتحاد پکښې هم نشته بلكه عموم خصوص مطلق دے پکښې رسول خاص مطلقًا دے ، او "**نبي**" عام مطلقًا دے ، هر "**رسول**" "**نبي**" دے او هر نبى رسول نه دے ، او هر چې دا آيت دے چې « **وما أرسلنا من رسول ولا نبي** » نو دلته تعميم بعد التخصيص دے ، او عطف

([١]) دا مصدر خلاف القياس په مزيد كښې مسموع من العرب دے ، د زيادت تفصيل د پاره رجوع وکړه " **شرح الجامى** " ، و " **تفريح الأرواح بترتيب ما في تلخيص المفتاح** " ته ، " **التقرير السامى لتوضيح** "
([٢]) سورة مريم : ٥١ ، ٥٤.
([٣]) سورة الحج : ٥٢.

مغائرت غواړی خو دا مغائرت عام دے که لفظي وی او که معنوی وی دلته مغائرت لفظي شته او دا کافي دے د پاره د صحت د عطف . قوله : محمّد ... دا صيغه د اسم مفعول ده د باب تفعيل نه ، او د باب تفعيل ګنړ خاصيات دی دلته د پاره د مبالغې دے معنی ئ ده ډير صفت کړے شوے ، او دا اسم ذاتي او اسم محضه د نبي ﷺ دے ، او نبي ﷺ په دې أمت کښې مشهور دے په " محمد " سره ، او په أسمان کښې مشهور دے په " محمود " سره ، او په مخکښې أمتونو کښې مشهور وو په " أحمد " سره ، او دا لفظ د " محمّد " مجرور دے ؛ ځکه دا بدل دے د رسول نه ، يا عطف بيان دے د رسول د پاره ، او صفت نه دے د رسول د پاره ؛ ځکه العلم يوصف ولا يوصف به .

قوله : وآله ... دا " آل " ئ عطف کړو په رسول باندې معنی ئ دا ده : چې نزول د رحمت دې وی په آل د نبي ﷺ باندې . او بيا مصنف‌ﷺ " واو " راوړو او " على " ئ رانه وړو په ديکښې اشاره ده نهايت امتزاج ته بين الرسول وآله . او صلوة په " آل " باندې وئيل ثابت دی په حديث سره ؛ ځکه حديث کښې راځی « من ذکرني بالصلوة ولم يذکر آلي فليس منّي » .

مبـــحث د آل

پس د دينـــــه : په دې لفظ د آل کښې لابدی ده د معرفت د أمور خمسو نه : (١)صيغه د آل . (٢) أصل د آل . (٣) معنی د آل (٤) مصداق د آل . (٥) الفرق بين الآل والأهل .

(١) صيغه د آل : نو آل صيغه د اسم جنس ده .

(٢) أصل د آل : د آل په أصل کښې اختلاف دے : ١ـ بعض وائی : دا په أصل کښې أهل وو ، هاء بدله شوه په همزه باندې ؛ د وجې د قرب د مخرج نه نو " أأل " شو ، بيا ثانی همزه بدل شوه په " ألف " سره په قاعده د آمن ؛ نو " آل " ترې جوړ شو . ٢ـ او بعض وائی : دا په أصل کښې اوَل وو بيا دا واو بدل شوه په ألف باندې په قاعده د قال باندې نو آل شو د دې اول مذهب والا دليل دا دے : چې تصغير د دې أُهَيْلٌ راځی ، او دويم مذهب والا دليل دا دے : چې تصغير د دې أُوَيْلٌ راځی . ليکن أصمعی وائی : چې تصغير د دې أُهَيْلٌ او أُوَيْلٌ دواړه راځی هغه وائی : « سمعت أعرابيًا فصيحًا يقول آل و أُوَيْلٌ . و أهل و أُهَيْلٌ » .

(٣)معنی د آل : " آل " هغه چاته وئيلے شی چې د هغو د پاره يو مشر وی لکه بچی ، ښځه وغيره شو . يعني ماتحت د يو مشر ته آل وائی . او په دې معنی سره ټول رعيت د بادشاه ته هم آل وائی لکه آل فرعون چې راغلے دے .

(٤) مصداق د آل : يعني دلته د " آل " نه څه مراد دے نو په ديکښې پنځه أقوال دی : ١ـ آل هغه چا ته وائی چې په أولاد د کعب بن لوئي کښې راځی دا د نبي ﷺ په نيکونو کښې راځی

دا هغه سرے وو چې اول ئ جمعه شروع کړې وه او په مکه کښې ئ دارالندوی جوړه کړې وه، او وائی چې په نبی ﷺ باندې ئ غائبانه ایمان راوړے وو.
٢ـ دویم قول د شیعه ګانو دے هغوی وائی : مراد د دینه پانچ تن پاک دی : علی ﷺ، حسن ﷺ، حسین ﷺ، فاطمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، جعفر ﷺ. ٣ـ دریم قول د امام شافعی ﷺ دے چې مراد بنو هاشم، او بنو عبد المطلب دی؛ ځکه نبی ﷺ په خُمس کښې د دوی د پاره حصه مقـــــرر کړې وه. ٤ـ څلورم قول د امام أبو حنیفه ﷺ دے چې مراد ترې فقط بنوهاشم دی. (٥) پنځم مذهب والا تفصیل کوی او دا صحیح قول دے چې آل په دوه قسمه دے : یو آل نسبی، او بل آل حسبی دے، آل نسبی هغه ته وائی : چې هغه د دې پنځه کسانو اولاد دے، اولاد علی ﷺ، اولاد جعفر ﷺ، اولاد عقیل ﷺ، اولاد حارث ﷺ، اولاد عباس ﷺ. او آل حسبی هر مسلمان مؤمن دے. او یو حدیث کښې هم راځی چې د تپوس وشو "من آل محمد"؟ نو نبی ﷺ ووے : "کل تقی"[1]. او دا پنځم قول غوره دے؛ ځکه که مراد ترینه مطلق خپلوان شی نو بیا پکار ده چې أبوجهل ئ هم آل شی. وکما قال الشاعر : شعر

آل النّبی هم أتباع ملته «««» من الأعاجم والسودان والعرب
لولم یکن آلـــه الا قرابته «««» صلی المصلی علی الطاغی أبی لهب[2]

اوس دلته که د "آل" نه مراد "آل" نسبی شی نو ذکر د أصحابه ورسته د دینه تعمیم بعد التخصیص دے، او که د "آل" نه مراد "آل" حسبی شی نو بیا ذکر د "أصحاب" ورستو د دې نه تخصیص بعد التعمیم دے.

(٥) الفرق بین الآل والأهل

(١) بعض وائی : چې دا دواړه مترادفین دی فرق پکښې نشته. ٢ـ او بعض وائی : چې فرق پکښې شته په دې شان سره چې "آل" خاص دے، او "أهل" عام دے په یو څو طریقو سره.
١ـ د "آل" استعمال په ذوی العقول کښې کیږی، او "أهل" عام دے په ذوی العقول او غیر ذوی العقول دواړو کښې ئ استعمال کیږی. نو د دې وجې نه آل البلد، آل المدینة وئیل نه دی صحیح. او أهل البلد، أهل المدینة وئیل صحیح دی. ٢ـ د "آل" استعمال کیږی په مذکر کښې، او "أهل" عام دے مذکر او مؤنث دواړو ته؛ لهذا آل فاطمة نشې وپلے، او أهل فاطمة

[1] أخرجه سنن الکبری للبیهقی : باب من زعم أن آل النبی ﷺ هم أهل دینه عامة.
[2] معجم المناهی اللفظیة ومعه فوائد فی الألفاظ : باب فی فوائد الألفاظ، مرعاة المفاتیح : الفصل الأول، وهو من اشعار نشوان الحمیری امام اللغة.

وئيلے شي . ٣ ـ د " آل " استعمال په أشرافو كښې كيږي ، او " أهل " عام دے أشراف او غير أشراف دوارو كښې كيږي؛ لهذا آل الحجام نشي وئيلے او أهل الحجام(نائى) وئيلے شي . **سوال** : ته وائى چې " آل " خاص دے په أشراف پورې دا قاعده ستا منقوضه شوه په آل فرعون باندې ؛ ځکه فرعون خو شريف نه وو ؟ **جواب** : شرافت دوه قسمه دے : (١) دنيوى (٢) أخروى ، نو هغه اګرچې شريف نه وو په اعتبار د آخرت سره ليکن شريف وو په اعتبار د دنيا سره ؛ ځکه بادشاه وو . ٤ ـ بل فرق په مابين د أهل او آل کښې دا دے : چې د أهل اطلاق په الله تعالى باندې کيږي کما فى قوله تعالى : « **هو أهل التقوى و أهل المغفرة الأية**[١] » په خلاف د " آل " چې د دې اطلاق په الله باندې نه کيږي.

قوله : **و أصحابه** ... " **أصحاب** " يا جمع د " **صاحب** " ده خلاف القياس لکه " **أشهاد** " چې جمع د " **شاهد** " ده کما فى قوله تعالى : « **يوم يقوم الأشهاد**[٢] » ، او يا جمع د " **صحب** " ده موافق القياس لکه " **أنهار** " چې جمع د " **نهْر** " ده ، يا جمع د " **صحيب** " ده لکه " **أشراف** " جمع د " **شريف** " ، يا جمع د " **صَحِبْ** " ده لکه " **أنمار** " چې جمع د " **نمر** " ده . او صحابى هر هغه چا ته وائى : چې د نبى ﷺ سره ئې ملاقات کړے وى ، او ايمان ئې پرې راوړے وى ، او په حالت د ايمان کښې د دنيا نه تلے وى .

قوله : **و أجمعين** ... غرض د مصنف رحمه الله په دې عبارت سره رد کول دى په روافضو باندې ؛ ځکه هغه د بعض أصحابو صفتونه کوى او د بعض بد وائى . نو ده أجمعين ذکر کړو چې صلوة دې په أصحابو باندې وى خو داسې نه چې په بعض دې وى او په بعض دې نه وى کما تقول الرّوافض بلکه په ټولو دې وى .

أَمَّا بَعْدُ : فَهٰذَا مُخْتَصَرٌ ، مَضْبُوْطٌ فِيْ النَّحْوِ ، جَمَعْتُ فِيْهِ مُهِمَّاتِ النَّحْوِ عَلٰى تَرْتِيْبِ الْكَافِيَةِ .

ترجمه : د تسميه ، حمد ، او صلوة نه وروسته پس دا يو مختصر کتاب دے چې ليکلے شوے دے په علم نحو کښې چې ما په په دې کتاب کښې أهمې مسألې د علم النحو جمع کړى دى په ترتيب د کافيه باندې .

تشريح : قوله : **امّا بعد فهذا** ... هر کله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د اولې حصې د کتاب نه چې خطبه وه نو شروع ئې وکړه په دويمه حصه د کتاب کښې چې ديباجه ده ، ديباجه د ديباج نه ده ، او ديباج ريښمو ته وائى ، او ديته ديباجه ؛ ځکه وائى چې لکه څنګه په ريښمو سره زينت د نساؤ راځى نو دارنګ په دې ديباجه سره زينت او خائست د کتاب راځى . او په دې ديباجه

---

(١) سورة المدثر : ٥٦ .
(٢) سورة المؤمن : ٥١ .

کښې مصنف‌ﷺ درې خبرې بيانوی (۱) باعث على التصنيف (۲) باعث على التصنيف في هذا الفن دا به اشارةً ذكر كړی . (۳) صفت د خپل کتاب .
بيا په دې مقام کښې څلور الفاظ دی : (۱) لفظ د أمّا (۲) لفظ د بعد (۳) لفظ د فاء (٤) لفظ د هذا ، نو لابدی ده د تحقيق د هر واحد نه .
(۱) اوس په "**أمّا**" کښې لابدی ده د معرفت د أمرين نه : يو دا چې "**أمّا**" په أصل کښې څه وو ، او دويم دا چې "**أمّا**" د څه د پاره راځی .
بيان د أمر أول : هر چې دے أصل د "**أمّا**" نو په ديکښې مذاهب أربعه دی : ۱ـ عند السيبويه دا کلمه موضوعه برأسها ده . ۲ـ او په نزد د بعض نحاتو باندې دا په أصل کښې "**مهما**" وو بيا "**هاء**" بدل شوه په "**همزه**" سره د وجه د قرب د مخرج نه نو "**مأمّا**" شو ، بيا قلب مکانی وشو بين الهمزة والميم نو "**أممَا**" شو ، نو دوه حرفه د يو جنس نه راغله په کلمه واحده کښې ، او اول پکښې ساکن وو نو مدغم شو په ثانی کښې وجوبًا نو "**أمّا**" شو . ۳ـ دريم مذهب دا دے : چې دا په أصل کښې "**مأما**" وو ، بيا قلب مکانی او ادغام وشو پشان د سابق . ٤ـ څلورم مذهب دا دے : چې دا په أصل کښې "**إنّما**" وو ، بيا "**نون**" بدل شو په "**ميم**" باندې ؛ لقرب المخرج ، نو "**إممَا**" شو ، بيا إدغام وشو ؛ نو "**إمّا**" شو ، بيا کسره د "**ميم**" بدله شوه په فتحه سره ؛ نو "**أمّا**" شو . او "**أمّا**" په دوه قسمه دے : ۱ـ **شرطيه تفصيليه** دا راځی د پاره د تفصيل د اجمال مثال لکه جاءني ثلاثة رجال أما الاول فأكرمته و أما الثاني فضربته و أما الثالث فأهنته . بل مثال لکه دا قول د الله شو «**فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ**[1]» ، او دا اجمال بيا عام دے که په ذهن کښې وی او که تلفظ دې پرې کړے وی . ۲ـ أمّا استنافيه دے يعنې د دې نه مابعد به مستقل کلام وی او تفصيل د ماقبل د پاره نه وی ، او په أوّل د خطبو د کتابونو کښې چې راځی دا "**أمّا**" استنافيه وی .
(۲) دويم لفظ د بعد دے نو دا ظرف دے د ظروف زمانيؤ نه او د دې د پاره أحوال أربعه دی په درې أحوالو کښې معرب دے ، او په يو حال کښې مبنی دے ؛ ځکه مضاف اليه د دې به خالی نه وی يا به مذکور وی او يا به محذوف وی که مذکور وو نو دا معرب دے او که محذوف وو نو بيا به خالی نه وی يا به حذف وی نسيًا منسيًا ، او يا به منوی وی که نسيًا منسيًا وو نو بيا معرب دے او که منوی وو نو بيا به خالی نه وی يا به په عوض د دې مضاف اليه محذوف کښې تنوين راغلے وی په مضاف کښې او يا به نه وی راغلے که راغلے وو نو بيا معرب دے کما في قول الشاعر شعر :

---
[1] سورة هود : ١٠٥ .

فساغ لیَ الشراب وکنت قبلاً[1] «» أکاد أغص بالماء الفرات

او که په عوض د دې کښې تنوين نه وو راغلے په دې مضاف کښې نو بيا به مبنى على الضمة وى . اوس دلته درې خبرې پيژندل پکار دى : (١) يو دا چې أصل خو په أسماء کښې اعراب دے نو دا مبنى ولې شو ؟ (٢) چې مبنى شو نو بيا أصل په بناء کښې بناء على السکون ده نو مبنى على الحرکت ولې شو ؟ (٣) چې مبنى على الحرکت شو نو حرکات خو درې دى نو بيا مبنى على الضمة ولې شو ، حالانکه قريب سکون نه فتحه ده په خفّت کښې ؟ (١)نفس مبنى خو ؛ ځکه دے چې دا په دې حال کښې مشابه شو د مبنى أصل سره چې حَرف دے په احتياج کښې لکه ځنګه چې حرف محتاج وى ضم د کلمې أخرى ته نو دارنګ دا هم محتاج دے ظهور د دغه مضاف اليه ته . (٢) او مبنى على الحرکت ؛ ځکه شو چې أصل په بناء کښې بناء على السکون ده خو په هغه شى کښې چې په هغه کښې بناء أصل وى او په اسم کښې بناء أصل نه ده بلکه أصل په اسم کښې اعراب دے او بناء پکښې عارضى ده نو سکون پکښې هم أصل نه شو بلکه مبنى على الحرکت شو . او که ومنم چې أصل په بناء کښې سکون دے مطلقًا نو بيا دا مبنى على الحرکت دے ؛ د دې وجې نه چې که مبنى على السکون مو کرځولے وے نو التقاء د ساکنين راتله . او دا مبنى على الضمة ؛ ځکه دے چې هر کله د دې نه مضاف اليه حذف شو نو په دې حذف د مضاف اليه سره دا " **بعدُ** " زخمى شو جبيره ، او پټئ ورلره پکار ده ، او مضبوطه جبيره پکار وه ، او مضبوطه جبيره په حرکاتو کښې ضمه وه . نو مبنى على الضمة شو . او په دې مقام کښې هم دا " **بعدُ** " مبنى على الضمة دے ؛ ځکه چې مضاف اليه حذف شويدے ، او منوى دے أصل کښې عبارت داسې وو چې " **مهما يکن شيئ من الأشياء بعد التسمية والحمد والصلوة فهذا مختصرٌ** " ، بيا په **مهما** کښې اعلال وشو نو أمّا شو کما مرّ ، او " **يکن شيئ من الأشياء** " حذف شو او " **بعدُ** " د هغه قائمقام وګرځيدو او مضاف اليه د " **بعدُ** " حذف شو او ضمه د هغه قائمقام وګرځيدو نو " **أمّا بعدُ** " شو .

(٣) دريم لفظ په دې مقام کښې " **فاء** " ده ، نو فاء خو په استعمال د کلام د عربو کښې په ډيرو معنو سره راځى خو دلته فاء جزائيه ده ؛ ځکه فعل شرط محذوف دے چې " **يَکن شيئ من الأشياء** " الخ دے . (٤) څلورم لفظ د " **هذا** " دے ، نو دا اسم اشاره ده واضع وضع کړه ده د پاره د دې چې په دې سره اشاره کولے شى هسې مشار اليه ته چې مفرد وى مذکر وى او موجود فى الخارج او محسوس بالبصر وى . **سوال** : دلته خو مصنفؒ په دې " **هذا** " سره اشاره کتاب ته کړې ده او کتاب خو لا نه دے موجود شوے ، او دويم دا چې په " **هذا** " سره خو

---

[1] ای قبل هذا الوقت .

اشاره مفرد ته کيږی ، او په دې کتاب کښې خو ډير مسائل دی نو لهذا په هذا سره اشاره كول کتاب ته نه دی صحیح ؟ **جواب** : بعض دا جواب کړے دے چې خطبه او دیباجه په دوه قسمه ده : (١) إبتدائيه (٢) الحاقيه . (١) ابتدائیه دیته وائی : چې د ابتداء نه پرې شروع وکړی کتاب ئې لا نه وی لیکلے . (٢) او الحاقيه دیته وائی : چې اول کتاب ولیکی او خطبه و دیباجه ورسته ولیکی ، نو دلته دا دیباجه الحاقيه ده نه ابتدائيه ، لیکن دا جواب کمزورے دے ؛ ځکه دا څه چې لیکلے شوی دی دا نقوش وی او نقوش ته کتاب نشی وئیلے ، بلکه کتاب یا عبارت دے د الفاظ دالّه نه ، یا د معانی مدلوله نه ، یا د دواړو نه . او که اومنم چې کتاب عبارت دے د نقوشو نه نو دا خو د مصنفﷺ هغه لیکلے شوی نقوش نه دی بلکه د نورو کاتبانو نقوش دی .
نو أصل **جواب** دا دے : چې په دې " **هذا** " سره اشاره ده ماحضر فی ذهن المصنفﷺ ته . نو ترجمه د دې دا ده : پس دا ما حضر په ذهن د مصنفﷺ کښې چې معانې د دې کتاب دی ، هسې معانې چې دال دی په دې باندې ألفاظ مخصوصه د دې کتاب په صورت د نقوشو محسوسؤ کښې ، او هسې معانې چې حاضر دی په ذهن کښې په وجه اجمالی سره هسې وجه اجمالی چې متحد ده د وجې تفصیلی سره په اتحاد ذاتی او عرضی سره . اوس هر کله چې په دې سره اشاره وکړے شوه ماحضر فی ذهن المصنفﷺ ته ؛ نو اشاره موجود ته راغله ، او هر کله چې ماحضر په وجه اجمالی سره واغستے شو نو اشاره مفرد ته راغله . **سوال** : په هذا سره خو اشاره کیږی محسوس بالبصر ته او دا خو محسوس بالبصر نه دی ؟ **جواب** : دا اګر چې محسوس بالبصر نه دی لیکن ده فرض کړی دی محسوس بالبصر ؛ د وجې د ظهور او آسانتیا نه .
قوله : **مختصر** ... " **مختصر** " صیغه د اسم مفعول ده او دا صفت دے د پاره د موصوف محذوفه چې کتاب دے او مختصر په لغت کښې **کوتاه شده را گویند** (لنډ کړے شوے) ، او په اصطلاح کښې دیته وائی : چې « **الفاظه قصيرة و معانيه كثيرة** » .

قوله : **مضبوط فی النحو** ... دا مضبوط صفت ثانی دے د پاره د موصوف محذوفه چې کتاب دے ، او دا فی النحو جار مجرور متعلق دے په دې مضبوط پورې او دا عبارت أصل کښې داسې وو چې « **مضبوط فيه النحو** » په دې تقدير سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې " **فی** " راځی د پاره د ظرفيت يعنې مدخول د " **فی** " ظرف وی د پاره د ماقبل نو دلته دا " **نحو** " ظرف شو د پاره د کتاب مظروف ، او بیا ورسته وائی چې « **جمعت فيه مهمات النحو** » یعنې د نحو مسائل مې جمع کړی دی په دې کتاب کښې نو دلته کتاب ظرف شو او نحو مظروف شو نو دا خو شے واحد هم ظرف شو او هم مظروف شو او داسې خو نشی کیدے ؛ ځکه په مینځ د ظرف او مظروف کښې مغائرت وی ؟ نو **جواب** : وشو چې دلته په دې عبارت کښې تقدیر دے أی « **مضبوط فيه النحو** » نو کتاب ظرف شو د پاره د نحو په دواړو صورتونو

كښي . اوس دلته يو بل اعتراض وارد شو ، **اعتراض** دا دے : چې ذكر كول د دې عبارت چې " **مهمات النحو** " دے مستدرک ، او لغو دی ؛ ځکه چې د " **مضبوط في النحو** " ، او د جمعت فيه مهمات النحو يوه معنى شوه ؟ **جواب** : ذكر كول د دې مهمات النحو لغو او مستدرک نه دی ، بلکه فائده پکښې شته هغه دا ده : چې په دې سره دفع د وهم وشوه ؛ ځکه هر كله چې مصنف رحمه الله وئيل چې " **مضبوط في النحو** " نو واهم دا وهم كولو چې د علم النحو دوه قسمه مسائل دی : (۱) مقاصد (۲) زوائد ، نو دا دواړه قسمه مسائل به په دې كتاب كښې ذكر وی نو په دې سره خو تطويل د دې كتاب راځي نو بيا تو صيف د دې كتاب په مختصر سره نه دے صحيح نو هر كله چې مصنف رحمه الله دا عبارت ذكر كړو چې " **جمعت فيه مهمات النحو** " نو دغه وهم ئې دفع كړو يعني مقصد د مصنف رحمه الله دا دے : چې ما پکښې هغه مقاصد ذكر كړی دی او زوائد مې نه دئ ذكر كړی نو توصيف د دې په مختصر سره صحيح دے .

پس د دينـــــه : " **مهمات** " جمع د " **مهم** " ده ، او مهم په معنى د مقصد سره راځي نو مهمات په معنى د مقاصد سره شو . او يا دا جمع د " **هَمْ** " ده ، او " **هَمْ** " په معنى د غم سره راځي نو بيا مراد د دينه هغه مشكل مسائل د نحو دی .

قوله : على ترتيب الكافية ... په دې مقام كښې لابدی ده د معرفت د دوه خبرو نه : (۱) يو غرض او مقصد د مصنف رحمه الله د دې جملې نه چې دا ئې د څه د پاره راوړې ده . (۲) او دويم اعراب د دې جملې .

(۱) هر چې اوله خبره ده (او د دې په ضمن كښې به دويمه خبره چې اعراب د دې جملې دے هم وی) : نو شارحينو د دې دوه مقصده بيان كړی دی : ۱ـ يو دا چې دَ الكافية نه مراد په دې مقام كښې كتاب د شيخ جمال الدين بن حاجب دے چې د نحو مشهور كتاب دے ، نو دے وائي : **چې ما** دا خپل كتاب په هغه ترتيب باندې وليكلو په كوم ترتيب چې شيخ جمال الدّين صاحب خپل كتاب ليكلے دے لكه هلته اول بحث د اسم دے بيا د فعل دے بيا د حرف دے ، او په اسم كښې اول معرب دے بيا مبنى دے ، او په معرب كښې اول مرفوعات بيا منصوبات بيا مجرورات دی نو دلته هم داسې دی . **سوال** : ماتن رحمه الله دا خپل كتاب په ترتيب د كافيه باندې ولې وليكلو ؟ **جواب** : ده دا خپل كتاب په ترتيب د كافيه باندې وليكلو د دوه وجو نه : ۱ـ يو د دې وجې نه چې ترتيب د كافيه ډير ښه ترتيب دے هر سليم الطبع انسان ئې خوښوی . ۲ـ دويم د دې وجې نه چې هغه مقبول عندالله او مقبول عند الناس دے ، يعني الله تعالى ورله مقبوليت وركړے دے .

سوال : چې په ترتيب د كافيه ئې وليكلو نو مونږ ته خبردارے ولې راكوې ؟

جواب : مونږ ته خبردارے ؛ ځکه راکوی چې د طالبانو په زړونو کښې د دې عظمت پیدا شي ؛ ځکه د خلقو په زړونو کښې د کافیه ډیر عظمت پروت دے . **سوال** : نه منم دا خبره چې دا کتاب په ترتیب د کافیه باندې دے ؛ ځکه په کافیه کښې بعض مسائل شته ، او دلته نشته لکه بعض د هغه مسائل نه تضمین د مبتداء معنی الشرط لره ده چې دا مسأله په کافیه کښې شته او دلته نشته ؟

جواب : مصنف‌رحمه الله چې اووے چې دا کتاب په ترتیب د کافیه دے نو د دې دا مطلب نه دے چې په کافیه کښې کوم مسائل ذکر دی هغه په دیکښې هم دی ؛ ځکه هغه مفصل کتاب دے ، او دا مختصر دے د هغه په نسبت بلکه مقصد د مصنف‌رحمه الله دا دے : چې په دیکښې چې څه ذکر دی دا په ترتیب د کافیه باندې دی . **سوال** : نه منم دا خبره چې په دې کتاب کښې څه ذکر دی نو دا په ترتیب د کافیه باندې دی بلکه بیا پکښې هم خلاف شته هغه داسې :

۱ـ په دیکښې مقدمه ذکر ده او په کافیه کښې نشته . ۲ـ په کافیه کښې خواص د اسم ، فعل ، او حرف د هغې سره سره ذکر شوی دی او دلته دا ټول په یوځائ ذکر شوی دی . ۳ـ په کافیه کښې بحث د منادی مقدم دے په تحذیر باندې او دلته بالعکس دے ؟ **جواب** : هر چې مقدمه ده نو دا خارج عن الکتاب وی . او مراد د ترتیب نه ترتیب په مسائلو او مباحث کلیۋ کښې دے نه په مسائل جزئیو کښې او دا تا چې کوم ذکر کړه دا مسائل جزئیه دی .

اوس هر کله چې د " **الکافیة** " نه مراد کتاب د ابن حاجب شي نو دا " **علی ترتیب الکافیة** " حال دے د ضمیر د " **جمعتُ** " نه یعنې دا جمع والے ما کړے دے په داسې حال کښې چې په ترتیب د کافیه نومې کتاب دے . او په " **الکافیة** " کښې دا " تاء " یا د پاره د تانیث ده نو دا صفت دے د موصوف محذوف د پاره چې " **الرسالة** " دے ، او یا د پاره د نقل ده د وصفیت نه اسمیت ته .

۲ـ دویم مقصد دا چې د الکافیة نه مراد معنی لغوی ده بیا دا صفت دے د موصوف محذوف د پاره نو تقدیر دارنګ دے " **علی ترتیب القواعد الکافیة** " ، او که د الکافیة نه مراد کتاب شي نو په دې عبارت کښې درې قسمه ترکیب جائز دے : ۱ـ چې دا حال شي د ضمیر مرفوع د جمعت نه نو معنی به ئ دا وی چې ما جمع کړی دی په دیکښې مسائل مهمه د نحو په حال کون زما کښې چې زه جمع کونکے ووم دې مسائل لره په ترتیب د کافیه نومې کتاب باندې . ۲ـ یا دا صفت دے د پاره د مختصرٌ نو بیا به معنی دا شي چې دا یو مختصر کتاب دے داسې مختصر چې په ترتیب د کافیه باندې دے . ۳ـ یا حال دے د مهمات النحو نه نو بیا ئ معنی دا ده : چې ما جمع کړی دی په دیکښې أهم مسائل د نحو په داسې حال کښې چې دغه أهمې

مسائلې په ترتیب د کافیه باندې دی ، او که مراد د کافیه نه کتاب نشي بلکه په معنی لغوی سره شي (یعنې په معنی د کاف سره) نو بیا دا حال دے د ضمیر د جمعتُ نه ، او معنی یې دا ده : چې ما جمع کړی دی په دیکښې مهمات د نحو په داسې حال کښې چې دا راجمع کول زما دي لره په ترتیب د قواعد کافیه دی .

مُبَوَّبًا ، و مُفَصَّلًا بِعِبَارَةٍ وَاضِحَةٍ مَعَ إِيْرَادِ الْأَمْثِلَةِ فِيْ جَمِيْعِ مَسَائِلِهَا مِنْ غَيْرِ تَعَرُّضٍ لِلْأَدِلَّةِ ، وَ الْعِلَلِ ، لِئَلَّا يُشَوِّشَ ذِهْنَ الْمُبْتَدِئِ عَنْ فَهْمِ الْمَسَائِلِ .

ترجمه : په حال کون زما کښې چې زه باب باب او فصل فصل کونکے یم دې کتاب لره (بناء په دې چې دا صیغې د اسم فاعل شي) په واضح عبارت سره ، سره د راوړو د مثالونو نه په ټولو مسائلو د دې کښې په غیر د تعرض (بیان کیدو) نه دلائلو او علتونو نه ، د پاره د دې چې که وه نه کړی دا أدله او علل (یا دا تعرض) ذهن د نوی شروع کونکي لره د فهم د مسائلو نه .

تشریح : قوله : **مبوبًا و مفصلًا** ... په دې مقام کښې لابدی ده د معرفت د أمور أربعو نه : (۱) صیغې د مبوبًا او مفصلًا (۲) اعراب د دې (۳) معنی د دې (٤) غرض د ماتن ؒ د دې عبارت نه .

(۱) دا دواړه صیغې د اسم فاعل دی ، او یا صیغې د اسم مفعول دی . (۱) که صیغې د اسم فاعل شي نو دا منصوب دئ بنا بر حالیت د ضمیر د " **جمعت** " نه (دا دریمه صیغه چې معنی ده دا به ورسره ورسره کوو) ، او معنی یې دا ده : چې په حال کون زما کښې چې باب باب کونکے ، او فصل فصل کونکے یم دې کتاب لره ، یا دې مهمات النحو لره . (۲) او که صیغې د اسم مفعول شي نو بیا منصوب دی بنا بر حالیت د " **مهمات النحو** " نه ، یا د ضمیر د " **فیه** " نه یعنې په داسې حال کښې چې دا کتاب باب باب کړے شوے ، او فصل فصل کړے شوے دے . (٤) خیره غرض د ماتن ؒ په دې عبارت سره دفع د وهم ده ؛ **ځکه مصنف** ؒ اوئیل چې دا کتاب په ترتیب د کافیه باندې دے نو واهم به دا وهم کولو چې په کافیه کښې خو بابونه او فصلونه نشته نو دلته به هم نه وی نو ده دا وهم دفع کړو چې دلته بابونه او فصلونه شته دے . دا خو هله چې د کافیه نه مراد کافیه کتاب شي ، او که " **الكافية** " په معنی لغوی سره شي نو بیا دا بیان د واقع دے ، او د دې خیل کتاب مزید تشریح او وضاحت کول دی .

پس د دینـــــه : باب په لغت کښې دروازې ته وائی ، او په اصطلاح کښې عبارت دے د هغه حصې د کتاب نه چې مشتمله وی په قواعد کلیه باندې . او فصل په لغت کښې قطع او جدائی ته وائی ، او په اصطلاح کښې عبارت دے د هغه حصې د کتاب نه چې د دوه کلامینو

مشترکینو په مینځ کښې راوړے شی چې د دې دوارړه کلامینو په مینځ کښې یو قدر کلی أمر مشترک وی، البته په جزئیاتو او خصوصیاتو کښې ئ جدا والے وی. لکه فاعل او مبتداء نو دا دواړه مشترک دی په أمر کلي کښې چې دواړه مرفوع دی نو أمر کلي قدر مشترک پکښې مرفوعیت دے ، خو په خصوصیاتو کښې د یو بل نه جدا دی ؛ ځکه چې فاعل معمول د عامل لفظي وی او مبتداء معمول د عامل معنوی وی او دا بابونه او فصلونه پکښې ؛ ځکه راوړی چې کله یو باب او فصل ختم شی نو د طالب زړه ته سرور حاصل شی او که بابونه پکښې نه وے ، او داسې کتاب روان وی نو بیا به سړے تنګیږی .

قوله : بعبارة واضحة ... " **عبارت** " په أصل کښې د خوب تعبیر ته وائی ، او دلته ترې مراد **هغه الفاظ** دی چې په هغې سره انسان د خپل مقصود نه تعبیر کوی . او غرض د ماتن‎ﷺ د دې **عبارت** نه دفع د وهم ده ، وهم دا دے : چې دا کتاب په ترتیب د کافیه باندې دے ، نو د کافیه **عبارت** خو ډیر سخت او مغلق دے نو د دې دا به هم داسې ګران عبارت وی نو دا خو بیا **مبتدیان** طالبان نشی وئیلے نو ده دغه وهم دفع کړو چې عبارت د دې مغلق نه دے بلکه واضح دے .

قوله : مع ایراد الأمثلة ... " **أمثله** " جمع د " **مثال** " ده ، او " **مثال** " په لغت کښې مشابه ته وائی، او په اصطلاح کښې « **إیراد الجزی لایضاح الکلي من أفراده** » ، لکه مثلًا دا یوه قاعده کلیه ده چې « **کل فاعل مرفوعٌ** » ، او دې د پاره مثال زید دے په « **ضَرَبَ زَیْدٌ** » کښې نو په دې کتاب کښې به ماتن‎ﷺ د مسألې د پاره مثال ذکر کوی ؛ ځکه په مثال سره خبره ذهن ته خه راځی .

قوله : في جمیع مسائلها ... " **مسائل** " جمع د " **مسألة** " ده ، او " **مسألة** " په لغت کښې ځائ د سوال ته وائی ، او په اصطلاح د عرف کښې هغه خبرې ته وائی چې د هغې تپوس کیدے شی ، او په شریعت کښې هغه خبرې ته وائی چې د هغې نسبت الله ته شوے وی ، یا پیغمبر ته شوے وی ، یا أئمه مجتهدینو ته شوے وی ، او په اصطلاح د أهل فنونو کښې مسأله وئیلے کیږی اثبات د محمول ته د پاره د موضوع لکه " **زیدٌ قائمٌ** " کښې " **قَائِمٌ** " ثابت دے " **زید** " لره .

قوله : من غیر تعرض للأدلة والعلل ... مطلب دا چې مثالونه مې ذکر کړی دی د مسألې د پاره خو دلائل او علتونه مې نه دی بیان کړی ؛ ځکه چې دا کتاب عام طور سره مبتدیان وائی ، نو مبتدیانو ته مسأله ، مثال ، او دلیل ټول زده کول مشکل کیږی .

پس د دینـــــه : " **تعرض** " صیغه د مصدر ده په معنی د پیش کولو سره . او " **أدلة** " جمع د " **دلیل** " ده ، او " **دلیل** " په لغت کښې « راه نمودن » ته وائی ، او عند العامة « **مایلزم من العلم به العلم بشیئ آخر** » ته وائی ، او عند المناطقة دلیل عبارت دے د هغه مقدماتو نه چې د اثبات د مدعی د پاره راوړے شی . او دلته مصنف‎ﷺ چې نفی د دلائلو کړې ده نو مراد د دلائل نه

دلائل د مناطقو دی ، او که مراد دلائل عند العامة شی ؛ نو بیا دا نفي په اعتبار د أغلب او أكثر سره ده ؛ ځکه چې په بعض مواضع کښې ئې دلائل ذکر کړی دی . او " **علل** " جمع د " **علة** " ده ، او " **علت** " په لغت کښې مؤثر ته وائی ، او په اصطلاح کښې هغه شی ته وائی چې موقوف علیه وی د پاره د ثبوت او وجود د شے آخر ، او دلته دا " **أدله او علل** " یو معنی ده یعنې الفاظ مترادفه دی او په خطبو او دیباجو د کتابونو کښې الفاظ مترادفه راوړے شی .

قوله : **لئلا يشوّش ذهن المبتدى** ... په دې عبارت کښې دوه ترکیبونه دی : ١ـ دا " **يشوش** " صیغه د فعل مضارع معلوم ده ، ضمیر پکښې مستتر دے چې راجع دے " **تعرض** " ته هغه ورله فاعل دے ، او " **ذهن المبتدى** " منصوب دے بناء په دې چې دا مفعول به ده د " **يشوش** " د پاره ، نو معنی دا چې " د دې د پاره چې ګډ وډ نه کړی دا أدله او علل ، یا تعرض ذهن د مبتدی لره " . ٢ـ دویم ترکیب دا دے : چې دا " **يشوش** " صیغه د فعل مضارع مجهول ده ، او " **ذهن المبتدى** " مرفوع دے بنا په دې چې دا نائب فاعل دے د " **يشوش** " د پاره ، نو معنی دا چې " د پاره د دې چې ګډ وډ نکړے شی ذهن د مبتدی " .

پس د دینـــــــه : " **ذهن** " په لغت کښې قوت ته وائی ، او په اصطلاح کښې " **قوة موجودة في جنان الانسان ينتقش فيه المعاني** " ، یا هغه قوت ته وائی چې ادراک د أشیاؤ کوی . او " **مبتدى** " په لغت کښې شروع کونکی ته وائی ، او په اصطلاح کښې هغه چا ته وائی چې شروع وکړی په اول جزء د یو شی کښې په إراده د تمامولو د باقی أجزاؤ سره .

قوله : **عن فهم المسائل** ... دا متعلق دے په " **يشوش** " پورې ، یعنې چې دا ذهن د مبتدی ګډ وډ نکړی د فهم د مسائلو نه ، او د مسائل نه مرادمسائل خاصه دی ؛ ځکه په بعض مسائل کښې ئې أدله راوړی دی.

وَ سَمَّيْتُهُ بِهِدَايَةِ النَّحْوِ رَجَاءَ أَنْ يَّهْدِيَ اللهُ تَعَالَى بِهِ الطَّالِبِيْنَ ، وَ رَتَّبْتُهُ عَلَى مُقَدَّمَةٍ وَ ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ . وَ خَاتِمَةٍ بِتَوْفِيْقِ الْمَلِكِ الْعَزِيْزِ الْعَلَّامِ .

ترجمه : او ما مسمی کړو دغه مختصر په هداية النحو (یعنې لار خودونکے د نحو) سره ؛ د وجه د امید کولو نه چې الله په دې سره هدایت وکړی طالبانو ته . او مرتب کړے مې دے دا مختصر په یو مقدمه ، او په درې أقسامو او په خاتمه باندې په توفیق د بادشاه سره داسې بادشاه چې غالب دے ، او داسې بادشاه چې بےمثل دے ، او داسې بادشاه چې عزت والا دے ، او داسې بادشاه چې پوهه دے .

تشريح : قوله : **و سمّيته بهداية النحو** ... هداية په لغت كښې راه نمودن ته وائي، او په اصطلاح كښې د هدايت دوه معانى دى : ١ـ ايصال الى المطلوب . ٢ـ اراءة الطريق [١].

قوله : **رجاء أن يَهدى الله تعالى به الطالبين** ... يعني دا نوم مې ورلره كيښودو ؛ د وجه أميد كولو نه چې الله پدې سره هدايت وكړى طالبانو ته . " **طالبين** " جمع د " **طالب** " ده ، او " طالب " صيغه د اسم فاعل ده په لغت كښې مطلق طلب كونكى ته وائي ، او دلته مراد طالب العلم دے نه طالب الدنيا .

قوله : **ورتّبته على مقدمة وثلاثة أقسام و خاتمة** ... غرض د مصنفؒ د دې عبارت نه د خپل كتاب تجزيه كول دى (يعني حصې د كتاب ذكر كوى) . نو دا كتاب أصل كښې پنځه حصې دے خو دوه مخكښې تيرې شوى دى : يوه خطبه ، او بله ديباجه . اوس دے دا باق كتاب منقسم كوى درې حصو ته : (١) مقدمه (٢) ثلاثة أقسام (٣) خاتمه .

پس د دينــــــه : " ترتيب " په لغت كښې « **وضع كل شيئ فى مرتبته** » ته وائي ، او په اصطلاح كښې « **جعل الأشياء الكثيرة شيئًا واحدًا بحيث يطلق عليه اسم واحد** » ، او په مينځ د دغه أشياؤ كښې نسبت د تقدم او تأخر وى . بيا په مقدمه د دې كتاب كښې تعريف ، موضوع ، او غرض د علم النحو ذكر كوى ، او په أقسام ثلاثه كښې اول بحث د اسم دے ، بيا بحث د فعل دے ، او بيا بحث د حرف دے . او په خاتمه كښې توابع خمسه ذكر كوى ، خو دا هله چې مراد د خاتمې نه خاتمه د معرب شي ، او كه خاتمه د كتاب مراد شي (چې په هغې كښې مصنفين د علم أجزاء ذكر كوى) نو هغه نشته بلكه دا لفظ بيا زيادت د كاتبين دے ، او يا د دې مصنفؒ اراده وه ليكن بيا ئې نه ده ذكر كړې . قوله : **بتوفيق الملك الخ** ... " **توفيق** " په لغت كښې " **وست واوندکے رابکارے** " ته وائي، او په اصطلاح كښې « **جعل أسباب العبد موافقًا لمطلوبه الخير** » .

بيا دلته مصنفؒ د الله درې صفات ذكر كړه په ديكښې اشاره ده ديته چې كتاب ليكل ډير گران دى خو په توفيق د ملك ، عزيز ، او علام باندې به كيږى ، او بل دا چې مخكښې ده نسبت ځان ته كړے وو په " **رتّبته** " كښې نو په هغې كښې يو قسم انانيت وو ؛ نو د دې وجې نه دے وائي : چې دا زما خپل كمال نه دے ، او بل دا چې دا درې نومونه ئې راوړه ؛ ځكه چې « **اِنّ الله وِتر يحبّ الوتر** » . **سوال** : وترخو صرف درې نه وو بلكه يو او پنځه هم وو نو هغه ئې ولې ذكر نه كړه ؟ **جواب** : « خير الأمور أوسطها » .

******

---

[١] والتفصيل فى نور الأنوار .

أَمَّاالْمُقَدَّمَةُ فَفِيْ الْمَبَادِي الَّتِيْ يَجِبُ تَقْدِيْمُهَا ؛ لِتَوَقُّفِ الْمَسَائِلِ عَلَيْهَا ، وَ فِيْهَا فُصُوْلٌ ثَلَاثَةٌ .

ترجمه : هر چې مقدمه ده نو په مباديؤ کښې ده هغه مبادی چې واجب دے تقديم د هغې د دې وجې نه چې موقوف وی مسائل په هغې باندې او په ديکښې درې فصلونه دی .

تشريح : قوله : **أمّا المقدمة** ... هر کله چې فارغ شو مصنف‌ﷺ د خطبې او ديباچې نه نو شروع ئې وکړه په مقدمه د کتاب کښې . د " **أمّا** " تحقيق مخکښې تير شوے دے ، او په دې لفظ د " **مقدمة** " کښې لابدی ده د معرفت د أمور ثلاثو نه . (۱) صيغه د مقدمة (۲) معنی د مقدمه (۳) أقسام د مقدمه .

بيان د صيغې د مقدمة

نو دا يا صيغه د اسم فاعل ده په کسره د " **دال** " سره ، او يا صيغه د اسم مفعول ده په فتحه د " **دال** " سره ، که صيغه د اسم فاعل شی نو په معنی د مخکښې کونکی سره ده ، او که صيغه د اسم مفعول شی نو په معنی د مخکښې کړے شوی سره ده. اوس په دې دوارو باندې اعتراض راځی ، چې صيغه د اسم فاعل شی نو **اعتراض** دا دے : چې د دې مطلب خو دا شو چې دا مقدمه مخکښې کونکی ده بل چا لره حالانکه دا خو بل چا لره نه ده مخکښې کونکې بلکه په خپله مخکښې ده ، او که صيغه د اسم مفعول شی نو اعتراض دا دے : چې د دې مطلب خو دا شو چې په ديکښې تقدم جعلی راغلے دے ، او تقدم نفس الأمری پکښې نشته ، حالانکه ديکښې خو تقدم نفس الأمری دے ؟ **جواب ۱** : دا صيغه د اسم فاعل ده د باب تفعيل نه ليکن په معنی د باب تفعّل سره ده نو دا متعدی نه ده بلکه لازم ده ، يعنې دا معنی ې نه ده چې مخکښې کونکې ده بل چا لره بلکه معنی ئې دا ده : چې مخکښې کيدونکې ده په خپله په مقاصدو باندې . **جواب ۲** : يا صيغه د اسم فاعل ده د باب تفعيل نه او په خپله معنی سره ده ليکن معنی ئې دا ده : چې دا مخکښې کونکې ده عالم خپل لره په جاهل خپل باندې په مقاصدو کښې او په مسائل کښې . جواب ۳ : يا صيغه د اسم مفعول ده معنی ئې دا ده : چې مخکښې کړے شويده ليکن تقدم جعلی منافی نه دے د تقدم رتبی او نفس الأمری سره لکه مثلًا يو شاګرد په يو ځائ کښې امام وی او استاذ ئې راشی او دے ئې د لاسه ونيسی او محراب ته ئې مخکښې کړی نو دلته تقدم رتبی هم شته او تقدم جعلی هم شته .

بيان د أقسامو د مقدمه

نو " مقدمه " په څلور قسمه ده : (١) مقدمة العلم (٢) مقدمة الكتاب (٣) مقدمة الدليل (٤) مقدمة التمهيد .

تعريف د مقدمة العلم : « مايتوقف عليه الشروع في العلم على وجه البصيرة الكاملة »

تعريف د مقدمة الكتاب : « طائفة من الكلام قدمت أمام المقصود لارتباط المقصود بها و نفعها فيه »

مقدمة العلم : او مقدمة العلم عبارت دے د تعريف ، موضوع ، او غرض د هغه فن نه نو چې دا چا نه وی زده کړی نو د هغه د پاره شروع في العلم جائز نه وی . **سوال :** ډير خلق خو داسې وی چې په يو فن کښې شروع کوی او د هغه فن تعريف ، موضوع ، او غرض ورته ياد نه وی ؟ **جواب :** شروع په دوه قسمه ده : يو نفس شروع ده او بل شروع على وجه البصيرة ده نو نفس شروع خو هسې هم کيږی خو شروع على وجه البصيرة هله کيږی چې دا ورته ياد وی .

المراد من المقدّمة ههنا

اوس دلته کومه مقدمه مراد ده : نو دلته مقدمه د علم هم ده ؛ ځکه چې په ديکښې تعريف ، موضوع ، او غرض ذکر دی ، او مقدمه د کتاب هم ده. او په " **المقدمة** " کښې دا "تاء" د پاره د نقل ده د وصفيت نه اسميت ته ؛ ځکه دا أصل کښې يو صفت وو ، او اوس عَلَم ګرځيدلے دے د يو حصې د کتاب د پاره .

قوله : **المبادى** ... دا جمع د " **مبدء** " ده ، او مبدء په لغت کښې ځائ د شروع کولو ته وائی ، او په اصطلاح کښې د " **مبدء** " او مقدمة يوه معنى ده . **سوال :** هر کله چې د مبادى او مقدمة يو مقصد شو نو دا خو لازم شو ظرفيت د شي لنفسه او دا خو نه دے جائز ؟ **جواب :** د مقدمة نه مراد معانی دی او د مبادى نه مراد الفاظ دی نو مغائرت شته په مينځ د ظرف او مظروف کښې . قوله : **التي يجب تقديمها لتوقف المسائل عليها** ... مراد د **مسائل** نه مسائل د نحو دی .

سوال : " **توقف** " خو وئيلے کيږی « **لولاه لامتنع** » ته چې کله موقوف عليه نه وی نو موقوف نشی موجوديدے نو معنى دا شوه چې دا أمور ثلاثه چا نوی ياد کړی نو هغه بالکل په مسائل د نحو باندې نشی پوهيدے او حالانکه ډير خلق داسې وی چې دا مسائل ورته نوی ياد او په نحو باندې پوهيږی لکه مثلاً يو طالب د کال په اول کښې نه وی او ورسته راشی نو د هغه نه دا مقدمه تيره شوی وی حالانکه هغه خو دا ورسته مسائل يادولے شی ؟ **جواب :** د توقف دوه معانی دی : ١ـ په معنى د « **لولاه لامتنع** » سره . ٢ـ په معنى د « **إنْ وجد فَوَجدَ** » سره . او دلته هم په معنى د « **إن وجد فوجد** » سره دے نه په معنى د « **لَولاه لَامتنع** » سره ، يعني مطلب دا دے : چې په دې مسائل باندې څوک پوهه شی نو هغه د نحو په مسائل باندې خه پوهيږی ، او داسې نه ده چې دا ورته ياد نه وی نو هغه به بالکل په مسائل د نحو باندې نه پوهيږی . اوس دا أمور

ثلاثه ولې ضروري دي . نو تعريف ؛ ځکه ضروري دے چې طلب د مجهول مطلق رانشي ، او غرض ؛ ځکه ضروري دے چې سعې عبث نشي ؛ ځکه نبي ﷺ فرمائي : چې « كل عبث حرام ». او موضوع ؛ ځکه ضروري ده چې فرق راشي په مابين د علم مشروع او غير مشروع کښې .

قوله : **وفيها فصول ثلاثة** ... تقدير د عبارت داسې دے : چې " **وَ هِيَ فصول ثلاثةٌ** " ، په دې سره اعتراض دفع شو چې " **فيها** " کښې ضمير راجع دے " **مبادي** " ته ، او دا " **فصول** " نه دي مګر دغه مبادي دي نو لازم شو ظرفيت د شے لنفسه ؟ نو **جواب** : وشو چې دا عبارت مؤل دے په تاويل د « **و هي فصول ثلاثة** » سره . **سوال** : " **فصول** " موصوف دے او " **ثلاثة** " ئې صفت دے او " **فصول** " جمع ده او " **ثلاثة** " مفرد دے نو مطابقت رانغلو ؟ **جواب** : دا " **ثلاثة** " اګر چې په اعتبار د لفظ سره مفرد دے ليکن په اعتبار د معنى سره جمع ده ، او مطابقت عام دے که لفظًا وي او که معنًى وي .

پس د دينـــــه : په فصل اوّل کښې تعريف موضوع غرض ذکر کوي ، او په فصل ثاني او ثالث کښې تفصيل د موضوع العلم دے چې کلمه او کلام دي .

فصلٌ اَلنَّحْوُ عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ أَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلَاثِ مِنْ حَيْثُ الْإِعْرَابِ ، وَ الْبِنَاءِ ، وَ كَيْفِيَّةُ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ .

ترجمه : دا د مقدمې اولنے فصل دے ، علم النحو يو علم دے په أصولو او قواعدو او ضوابطو سره داسې أصول او قواعد چې پيژندے شي په هغې سره أحوال د آخير د درې کلمو (چې اسم فعل او حرف دي) د حيثيت د اعراب او د بناء نه او پيژندے کيږي په دغه قواعدو سره طريقه د يوځائ کولو د بعض کلمو د بعض سره .

تشريح : قوله : **فصل** ... په دې مقام کښې لابدى ده د معرفت د أمور ثلاثؤ نه (١) معنى لغوى د فصل (٢) معنى اصطلاحى د فصل (٣) اعراب د فصل .

(١) نو " **فصل** " په لغت کښې قطع ته وائي . (٢) او په اصطلاح کښې « **الحاجز بين البحثين** » ته وائي . (٣) او هر چې إعراب د دې دے نو په ديکښې دوه احتماله دي : يو دا دے چې دا د مابعد نه جدا اوئيلے شي . او دويم احتمال دا دے : چې د مابعد سره متصل اوئيلے شي . نو که د مابعد نه جدا اوئيلے شي نو بيا به دا موقوف وي ؛ ځکه دا مفرد دے او په مفرداتو کښې اعراب نه راځي . او که د مابعد سره مربوط ولوستے شي نو بيا به په دې باندې اعراب ظاهريږي نو بيا دا مرفوع دے بنا بر خبريت د پاره د مبتداء محذوفې أى « **هذا فصلٌ** » . يا منصوب دے بنا بر مفعوليت د پاره د فعل محذوفه أى « **خذ فصلًا !** » .

پس د دينـــــــه : په دې فصل کښې مصنفؒ درې خبرې ذکر کوی (۱) تعريف (۲) موضوع (۳) غرض .

قوله : **النّحو علم بأصول يعرف بها** ... غرض د ماتنؒ د دې عبارت نه د علم النحو تعريف كول دی ، نو په دې کښې دوه خبرې ضروری دی : (۱) ترجمه د عبارت (۲) مختصر تشريح .

(۱) **ترجمه** مخکښې تيره شوه هلته ئې گوره !

(۲) **مختصره تشريح** د مفرداتو : النّحو : نو " **نحو** " په لغت کښې بچاؤ ته وائی ، او ديته " **نحو** " ځکه وائی چې په دې سره هم بچاؤ د الفاظو راځی د غلط تلفظ نه. اوعلم : په لغت کښې دانستن ته وائی ، او په اصطلاح کښې ئې ډيرې معانې دی خو دلته ترې مراد هغه قواعد ملفوظه مکتوبه دی . او أصول : جمع د " **أصل** " ده ، " **أصل** " په لغت کښې « **ما يبتنى عليه غيره** » ته وائی ، او په اصطلاح کښې « **أمر كلي منطبق على جميع الجزئيات** » ته وائی ، بيا يو څو الفاظ دی : أصل ، ضابطه ، قانون ، قاعده دا الفاظ مترادفه دی ، او " **مترادفة** " د " **ترادف** " نه دے او " **ترادف** " په لغت کښې « **ركوب خلف الأخر** » ته وائی ، او په اصطلاح کښې ديته وائی چې د يوې معنى د پاره ډير الفاظ راشی نو لکه څنگه چې په يوه سورلئ باندې ډير کسان سواره وی نو مترادفين ورته وائی نو دارنگې دلته په يوه معنى ډير الفاظ سواره شول . يعنې دا يوه معنى ده چې أمر كلي منطبق على جميع الجزئيات ، او قاعده ، أصل ، ضابطه ، او قانون ټول په دې باندې سواره دی . **يعرف** : دا يا صيغه د مضارع مجهول ده او يا صيغه د فعل مضارع معلوم ده ، که صيغه د مضارع مجهول شی نو « **أحوال أواخر الكلم** » الخ مرفوع دے او نائب فاعل دے د دې " **يعرف** " د پاره ، او که صيغه د فعل مضارع معلوم شی نو بيا پکښې ضمير مستتر دے چې راجع دے مبتدی ته هغه ورلره فاعل دے او " **أحوال** " الخ بيا منصوب دے ؛ ځکه مفعول به دے . **سوال** : څه وجه ده مصنفؒ لره چې يعرف ئې اوئيلو او يعلم ئې ونه ووے ؟

جواب : په ديکښې دوه مذهبه دی : (۱) بعض وائی : چې د " **علم** " او " **معرفت** " په درميان کښې فرق نشته . (۲) او بعض وائی : چې شته ، څوک چې وائی فرق نشته د هغوی په نزد خو دا الفاظ مترادفه دی . او څوک چې فرق کوی نو هغه وائی چې د " **علم** " استعمال په معرفت د کلياتو کښې کيږی او د " **معرفت** " استعمال په ادراک د جزئياتو کښې کيږی نو مصنفؒ اول " **علم** " ذکر کړو ؛ ځکه چې په ديکښې قواعد کليه دی ، او بيا ئې " **يعرف** " ذکر کړو ؛ ځکه په دغه قواعد کليۀ سره معرفت د جزی قواعد راځی . **بها** : دا " باء " جاره ده او " **هاء** " ضمير مجرود دے محلًا او راجع دے " **أصول** " ته . **سوال** : " **أصول** " خو جمع مذکر دے ، او " **هاء** " ضمير د واحد مؤنث دے مطابقت رانغلو ؟ **جواب** : دا ورته راجع دے په تاويل د " **جماعة** " سره .

أحوال: جمع د " حال " ده او د " حال " كثري معاني دي تفصيل به ئې وروسته راشي إن شاء الله تعالى . خو دلته ترې مراد هغه حالات دي چې عارض كيږي أخير د كلمې ته د رفع ، نصب ، او جر نه . او د اعراب او د بناء نه . او أواخر : جمع د " أخير " ده وروسته به وائي . " الكلم " جمع د " كلمة " ده و سيجيئ تفصيلها إن شاء الله تعالى . " من حيث الاعراب والبناء " د إعراب او بناء تفصيل به هم وروسته راشي إن شاء الله تعالى . قوله : و كيفية تركيب ... " تركيب " په لغت كښې يوځاى كولو ته وائي ، او په اصطلاح كښې ګرځول د ډيرو أشياؤ دي شي واحد په دې شان سره چې نسبت د تقدم او تأخر پكښې وي او اطلاق د اسم واحد پرې كيږي ، او دا عطف دے په أحوال باندې نو هغه دوه تركيبونه په ديكښې هم دي كوم چې په هغې كښې وو . دا تعريف شو په هر تعريف كښې لابدى وي د جنس او فصل نه ، او د جامعيت مانعيت نه . نو " علم " په منزله د جنس دے په دې سره ټول علوم داخل شو . " باصول " فصل اول دے په دې سره ترې هغه علوم خارج شو چې هغه په قواعدو او أصولو سره نه وي لكه علم ادب . « يعرف بها أحوال » دا فصل ثاني دے په دې سره هغه علوم خارج شو چې په هغې سره أحوال د كلمه نشي پيژندے لكه فقه ، أصول ، منطق وغيره . « أواخر الكلم الثلث » دا فصل ثالث دے په دې سره ئې احتراز وكړو د هغه علوم نه چې په هغې سره أحوال د كلمې پيژندے شي خو أحوال د آخر نه وي بلكه أحوال د مجموعه كلمې وي لكه علم المعاني ، علم البيان ، او علم البديع . « من حيث الاعراب والبناء » دا فصل رابع دے په دې سره ئې احتراز وكړو د علم العروض او علم القوافي نه ؛ ځكه دا هم د آخير د كلمې نه بحث كوي خو د حيثيت د اعراب او د بناء نه نه بلكه د حيثيت د وزن او حرف روى نه . " و كيفية تركيب بعضها مع بعض " دا فصل خامس دے په دې سره ئې احتراز وكړو د هغه علومو نه چې په هغې سره أحوال د أواخر د كمات ثلاثه پيژندے كيږي خو د مفرداتو د يو بل سره د يوځاى كولو طريقه پكښې نه وي لكه علم الهندسه ، علم الحساب ، او علم الأبجد شو . سوال : دا تا چې د علم النحو كوم تعريف وكړو دا نه دے صحيح ؛ ځكه ډير خلق داسې دي چې نحو ئې وئيلې وي او د أواخر د كلمات ثلاثه أحوال ورته نه وي معلوم ؟ جواب : دا تعريف مطلقًا نه دے بلكه باستحضارها دے يعني چې دا قواعد مستحضر كړې ذهن ته نو هله پرې پوهيږې . سوال : په دې تعريف د علم النحو كښې لفظ د أحوال ذكر شويدے اوس دا به خالي نه وي يا به مراد په دې سره كل أحوال د آواخر د كلماتو ثلاثؤ وي او يا به بعض وي كه كل أحوال مراد وي يعني چې سرى ته ټول أحوال معلوم شي نو هله نحوى كيږي نو بيا خو په دنيا كښې هيڅوك نحوى نشته ؛ ځكه ټول أحوال معلومول خو د انسان د طاقت نه بهر دي. او كه بعض مراد وي نو بيا ګكار ده چې

څوک يو دوه درې مسألې د نحو زده کړي او په هغې سره بعض أحوال د آخر د کلمه اوپيژني نو هغه ته دې نحوي اوئيلے شي حالانکه داسې خو نه ده ؟

جواب عـ ۱ : زما مراد د " **أحوال** " نه نه کل دی او نه بعض دی بلکه هغه " **أحوال** " مراد دی چې د هغې په سبب سره ملکه حاصليږي په ذهن د انسان کښې . اوس ملکه څه ته وائي : نو دا يو کيفيت دے چې راسخ شي په ذهن د انسان کښې نو حاصليږي په دې سره أشياء بے د کلفت او مشقت نه . **جواب عـ ۲** : يا مراد د أحوال نه هغه دی چې په عرف د نحات کښې ورته أحوال وئيلے شي .

وَ الْغَرَضُ مِنْهُ صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَأِ اللَّفْظِيِّ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ ، وَ مَوْضُوْعُهُ الْكَلِمَةُ ، وَ الْكَلَامُ .

ترجمه : او غرض د علم النحو ساتل او بچ کول د ذهن دی د خطاء لفظی نه په کلام عربي کښې ، او موضوع د علم النحو کلمه او کلام دی .

تشريح : قوله : **والغرض منه** ... دويم هغه شے چې د هغې زده کول ضروري وو هغه غرض دے ، او غايه ورته هم وائي ، د غرض او غايه په درميان کښې فرق صرف دومره دے چې هر هغه شے چې باعث وي په انسان باندې په کولو د يو کار سره ديته غرض وائي ، او هر کله چې هغه کار وشي او بيا باندې چې کوم شے باعث شوے وو هغه پرې مرتب شي نو هغې ته غايه وائيلے شي . **سوال** : ذهن خو نه خطاء کيږي بلکه خطاء کيږي خو ژبه ؛ څکه چې تلفظ ژبه کوي نو ښکار وه چې مصنفؒ داسې وئيلے وے چې " **صيانة اللسان عن الخطاء** " الخ؟

جواب ۱ : أصل کښې خطاء کيږي ذهن ؛ څکه چې دا ژبه ترجماني د ذهن کوي که ذهن صحيح وو نو ژبه ترجماني صحيح وکړي او که ذهن غلط شوے وو نو ژبه ترجماني غلطه وکړي ، نو څکه ئې نسبت ذهن ته وکړو . **جواب ۲** : او که اومنم چې خطاء کيږي ژبه او ذهن نه خطاء کيږي نو بيا دا عبارت په حذف د مضاف سره دے أی " **صيانة معبر الذهن** " . او عن الخطاء اللفظي ئې ؛ څکه ووے چې په علم النحو سره د خطاء معنوی نه بچاؤ نه راځي بلکه د هغې د بچاؤ د پاره نور علوم دی لکه معاني ، أدب وغيره .

قوله : **وموضوعه الكلمة والكلام** ... دريم شے چې زده کول د هغې ضروري دی هغه موضوع د علم النحو ده . موضوع د علم وئيلے کيږي " **ما يبحث فيه عن عوارضه الذاتية** " ته . نو د نحو موضوع کلمه او کلام دی ؛ څکه چې په علم النحو کښې بحث کيږي د عوارض ذاتيه د کلمه او د کلام نه . **سوال** : هر کله چې موضوع د علم النحو کلمه او کلام دی نو دا خو تعدد د موضوع راغلو او تعدد د موضوع مستلزم دے تعدد د علم لره حالانکه علم النحو خو يو

علم دے ؟ **جواب** : تعدد د موضوع مستلزم وی تعدد د علم لره خو هله چې تعدد حقيقتًا وی او تعدد باعتبار الذات وی ، او دلته تعدد باعتبار الذات نشته ؛ ځکه چې کلمه او کلام دواړه قسمين د لفظ موضوعه دی ، او تعدد پکښې راغلے دے اعتبارًا ، او تعدد اعتباری مستلزم نه دے تعدد د علم لره .

فصلٌ اَلْكَلِمَةُ : لَفْظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مُفْرَدٍ .

ترجمه : دا فصل دے (په بيان د تعريف د کلمه کښې) . کلمه داسې لفظ دے چې وضع شوے دے د پاره د معنى هسې معنى چې مفرده ده (يا هسې لفظ چې مفرد دے) .

تشريح : قوله : فصل الكلمة ...

التقريرات البديعيّة على الكلمة النحويّة

هر کله چې فارغ شو مصنف ﷫ د بيان د فصل اول نه نو شروع ئې وکړه په فصل ثانى کښې چې په دې فصل کښې دے تعريف د کلمه کوی او بيان د أقسامو د کلمې کوی . او کلمه ئې مقدم کړه د کلام نه هم په اجمال کښې او هم په تفصيل کښې ؛ ځکه چې دا جزء دے د کلام نه هم په لفظ کښې او هم په معنى او مفهوم کښې ، او جزء په منزله د مفرد وی او کل په منزله د مرکب وی ، او مفرد مقدم وی په مرکب باندې په طبع کښې نو ده مقدم کړو په وضع کښې د پاره د دې چې وضع مطابق شی د طبع سره . اوس کلمه د کلام نه جزء څنګه دے نو په لفظ کښې خو داسې جزء دے چې " **زيد قائم** " کلام دے او يواځې " **زيد** " ، او يواځې " **قائم** " کلمه ده ، او " **زيد** " جزء دے د دې " **زيد قائم** " نه ، دارنګ " **قائم** " هم جزء دے د دې " **زيد قائم** " نه . او په معنى کښې ترې داسې جزء ده چې د " **زيد قائم** " معنى ده حيوان ناطق مع هذا التشخص ، او دا د دې تولې معنى نه جزء دے . او په مفهوم کښې ترې ؛ ځکه جزء ده چې د کلام مفهوم دا دے : « **ماتضمن كلمتين بالاسناد** » ، نو کلام متضمن وی دوه کلمو لره او يوه کلمه جزء وی د دوه کلمو نه .

پس د دينـــــه : په " **الكلمة** " کښې مباحث ثلاثه دی : (۱) اول بحث د " **ألف لام** " دے (۲) دويم بحث د " **كَلِم** " دے (۳) دريم بحث د " **تاء** " ده .

المبحث الأول : " **ألف لام** " په لغت کښې کلمې د " **أَلْ** " ته وائى ، او په اصطلاح کښې « **كلمة تحلّ بهاكلمة أخرى** » ته وائى . او " **ألف لام** " اولاً په دوه قسمه دی : يو " **ألف لام** " اسمى دی ، او بل " **ألف لام** " حرفى دی . " **ألف لام** " اسمى ديته وائى : چې داخليږی په اسم فاعل او اسم مفعول باندې غالبًا ، هغه اسم فاعل او اسم مفعول چې دلالت کوی په معنى مصدرى باندې

په طریقه د تجدد او حدوث سره ، او دیته " ألف لام " موصولی هم وائی ؛ ځکه دا چې داخل شی په اسم فاعل او اسم مفعول باندې نو په معنی د " الذی " او " التی " سره راځی لکه " **الضارب الذی ضرب** " ، " **المضروب الذی ضُرِبَ** " . " **الضاربة التی ضَربتْ** " ، " **المضروبة التی ضُرِبَتْ** " .

او " **ألف لام** " حرف دیته وائی : چې په اسم فاعل او اسم مفعول باندې نه داخلیږی ، او دا بیا په دوه قسمه دی : ۱ ـ زائد . ۲ ـ غیر زائد . **زائد** : دیته وائی چې په سقوط د هغه سره په کلمه کښې څه نقصان نه راځی . او **غیر زائد** : دیته وائی چې په سقوط د هغه سره نقصان راځی په کلمه کښې . او دا ألف لام زائد بیا دوه قسمه دی : لازم ، او غیر لازم . **لازم** : دیته وائی چې انفکاک او جداوالے د هغې د کلمې نه نه راځی . او **غیر لازم** : دیته وائی چې د هغې انفکاک او جداوالے د کلمې نه راځی . او هر واحد د دینه بیا په دوه دوه قسمه دی : **عوضی ، غیر عوضی** .

مثال د ألف لام زائد لازم عوضی لکه ألف لام شو په لفظ د " **الله** " کښې ، نو دا زائد دی ؛ ځکه چې تعریف حاصل شوے دے په علمیت سره ، او لازم دی ؛ ځکه چې " **الله** " علم دے د هغه ذات د پاره چې واجب الوجود دے او مستجمع دے جمیع صفات د کمال لره ، او أعلام محفوظ وی د تغیر او تبدیل نه بقدر الامکان . او عوضی دی ؛ ځکه چې عوض راغلی دی د همزه د " **إلهٌ** " نه . او مثال د ألف لام لازم غیر عوضی لکه ألف لام د " **النجم** " و " **الصعق** " و " **الثریا** " دا زائد دی ؛ ځکه چې په سقوط د دې سره په معنی کښې نقصان نه راځی ؛ ځکه تعریف حاصل شوے دے په علمیت سره ، او لازم ؛ ځکه دی چې دا أعلام دی او أعلام محفوظ وی د تغیر او تبدیل نه بقدر الامکان ، او غیر عوضی ؛ ځکه دی چې عوض د چا نه نه دی راغلی . او مثال د ألف لام زائد غیر لازم عوضی لکه ألف لام شو په " **یَا أَیُّهَا النَّاسُ** [1] " کښې دا زائد دی ؛ ځکه تعریف حاصل شویدے په یاء حرف نداء سره ، او عوضی دی ؛ ځکه چې په عوض د همزه د أناس کښې راغلی دی ، او غیر لازم دی د وجه د عدم احاطې د علمیت نه ، نو نَاسٌ ، أُنَاسٌ ، او اَلنَّاسُ درې واړه ونیلے شي . او ألف لام زائد غیر لازم او غیر عوضی لکه ألف لام د الغلامان شو په دې قول د شاعر کښې ، شعر :

فیا الغلامان الذان فرّا «» إیّاکما أن تکسبا شرّا

دلته " **ألف لام** " زائد دی ؛ ځکه تعریف حاصل شوے دے په حرف نداء سره او غیر لازم دی ؛ د وجې د عدم احاطې د تسمیت نه . او غیر عوضی دی ؛ ځکه چې د چا نه عوض نه دی راغلی . او ألف لام حرف غیر زائد هم په څلور قسمه دی : (۱) جنسی (۲) استغراق (۳) عهد خارجی (٤) عهد ذهنی .

[1] سورة البقرة : ۲۱ .

ألف لام جنسي ديته وائي : چې په هغې سره اشاره شوې وی ماهيت د مدخول ته بے د ملاحظې د أفرادو نه لکه " **الرجل خير من المرأة** " ، يعنې جنس د سړی غوره دے د جنس د ښځې نه قطع لحاظ د أفرادو نه ؛ ځکه که لحاظ د أفرادو پکښې وکړو نو بيا خو ډيرې ښځې داسې دی چې غوره دی د سړو نه لکه أمهات المؤمنين ، بنات النبي ﷺ ، مريم بنت عمران ، أسية امرأة فرعون . او د رجل تعريف دا دے : چې مذكر من بني آدم يتجاوز عن حد الصغر الى حد الكبر . و د "مرأة" تعريف دا دے : مؤنث من بنات آدم تتجاوز عن حد الصغر الى حد الكبر .

ألف لام استغراق ديته وائي : چې په هغې سره اشاره کيږی ماهيت د يو شی ته سره د لحاظ د جميع افراد نه كما في قوله تعالى : « **ان الانسان لفي خسر** [١] » الأية . ترجمه ئ دا ده : چې بے شک هر فرد د أفرادو د انسان په تاوان کښې دے ، دلته په الانسان کښې ألف لام استغراق دی ؛ ځکه که استغراق نه شی نو بيا ورستو دا استثناء نه صحيح کيږی .

ألف لام عهد خارجي ديته وائي : چې په هغې سره اشاره کيږی بعض أفرادو د ماهيت ته داسې أفراد چې معلوم بين المتكلم والمخاطب وی كما في قوله تعالى : « **فعصى فرعون الرسول** [٢] » الأية ، دلته په الرسول کښې ألف لام عهد خارجي دی ؛ ځکه دلته مراد د رسول د ماهيت نه بعض أفراد دی چې هغه موسى عليه السلام دے ، او هغه معلوم دے بين الله وبيننا .

ألف لام عهد ذهني ديته وائي : چې په هغې سره اشاره کولے شی بعض أفرادو د ماهيت ته چې معلوم وی په ذهن د متكلم کښې كما في قوله تعالى حكاية عن يعقوب عليه السلام : « **و أخاف أن يأكله الذئب** [٣] » الأية ، نو دلته د دې صرف يعقوب عليه السلام ته پته وه او هغه برادران يوسف عليه السلام ته ئ پته نه وه چې آيا دے حقيقي شرمخ يادوی او که بل څه ترې مراد دی .

سوال : دلته په " **الكلمة** " کښې کوم " **ألف لام** " دی اسمی خو نه صحيح کيږی ؛ ځکه چې هغه داخليږی په اسم فاعل او اسم مفعول باندې ، او " **الكلمة** " نه اسم فاعل دے او نه اسم مفعول دے . او که ته وائی چې " **ألف لام** " حرفی دی نو " **ألف لام** " حرفی دوه قسمه دی : زائد ، او غير زائد نو که ته وائی چې زائد دی نو هغه هم نه صحيح کيږی ؛ ځکه چې " **ألف لام** " زائد خو ديته وائی چې د هغې په سقوط سره نقصان نه راځی په أصل معنی د كلام کښې او د دې په سقوط سره نقصان راځی په أصل معنی د كلام کښې ؛ ځکه چې " **الكلمة** " مبتداء ده نو لازميږی نکارت د مبتداء او که ته وائی چې غير زائد دی نو هغه څلور قسمه دی :

---

(١) سورة العصر : ٢ .

(٢) سورة المزمل : ١٦ .

(٣) سورة يوسف : ١٣ .

جنسي ، استغراق ، عهد خارجي ، عهد ذهني ، او دا يو هم نه صحيح كيږي ؛ ځکه که جنسي يا استغراق اخلې نو د هغې منافات دے د تاء د وحدت سره چې ذکر ده په " الكلمة " كښې ، او عهد خارجي هم نه صحيح كيږي ؛ ځکه په هغې سره اشاره وی يو فرد معين ته او دلته يو داسې معين فرد نشته چې مونږ په دې سره هغې ته اشاره وکړو . او عهد ذهني هم نشي کيدے ؛ ځکه د هغې مدخول په قوت د نکره کښې وی نو لازميږي نکارت د مبتداء ؟ **جواب** : دلته ألف لام حرف غير زائد دی او په ديکښې بيا (١) يا جنسي دی او دليل وربانديې دا دے : چې دا مقام د تعريف دے او تعريف د جنس کيږي او په جنس سره کيږي او د أفرادو نه کيږي ؛ ځکه أفراد غير محصور وی . (٢) او بعض وائی : چې ألف لام استغراق دی او أفراد د کلمې غير منضبط نه دی بلکه منضبط او محصور دی چې هغه اسم ، فعل ، او حرف دی . او که نه وائی چې د تاء د وحدت سره ئ منافات دے نو زه وائم چې وحدت په څلور قسمه دے : ١ ـ وحدت جنسي . ٢ ـ وحدت نوعي . ٣ ـ وحدت صنفي . ٤ ـ وحدت فردي . نو د جنسي او استغراق منافات صرف د وحدت فردي سره دے ، د دې نورو سره نشته ، او دلته تاء د پاره د وحدت فردي نه ده بلکه د دې نورو د پاره ده . (٣) او يا ألف لام عهد خارجي دی او مراد په دې سره هغه کلمه ده چې جاری ده په ألسنه د نحاتو بانديې .

المبحث الثاني : دويم بحث د کلم دے نو کلم په لغت کښې خبرو ته وائی ، او په معنی د قاعدې سره هم راځی . دلته په ديکښې دوه تحقيقه دی : (١) يو تحقيق په اعتبار د اشتقاق او جمود سره دے (٢) دويم تحقيق په اعتبار د صيغې سره دے .

تحقيق الكلم باعتبار الاشتقاق والجمود

هر چې اول تحقيق دے نو په ديکښې ورسره کلام هم شريک دے نو په ديکښې اختلاف دے : بعض وائی : چې دا جوامد دی يعني الفاظ موضوعه برأسها دی د چا نه مشتق نه دی . او بعض وائی : چې دا مشتق دی د " كَلْمٌ " (بسكون اللام) نه . خوک چې وائی چې دا مشتق نه دی د هغوی دليل دا دے : چې په مابين د مشتق او مشتق منه کښې لابدی وی د مناسبت لفظي او معنوی نه ، او دلته اگرچې لفظًا مناسبت شته ليکن معنوی مناسبت نشته ؛ ځکه چې " كَلِم " خبرو ته وائی ، او " كَلْمٌ " زخم ته وائی . او خوک چې وائی چې دا مشتق دی د " كَلْمٌ " نه نو هغه وائی چې د دې په مينځ کښې منا سبت لفظي او معنوی دواړه شته ، لفظي خو ظاهر دے . او هر چې مناسبت معنوی دے نو دا عام دے که په معنی مطابقي کښې وی او که په معنی تضمني کښې وی او که په معنی التزامی کښې وی نو دلته اگر چې په معنی مطابقي او تضمني کښې نشته ليکن په معنی التزامی کښې شته هغه دا دے : چې د زخم سره هم لازم اثر وی او

د خبرو سره هم لازم اثر وی بلکه د خبرو اثر زیات وی د اثر د زخم نه نو د دې وجې نه یو شاعر تعبیر کوی د اثر د خبرو نه په زخم سره، شعر

جراحات السّنان لها التيام «» ولا يلتام ما جرح اللسان[1]

تحقيق الكلم باعتبار الصّيغة

او هر چې دویم تحقیق دے په اعتبار د صیغې سره چې " کلم " د څه صیغه ده نو په دیکښې اختلاف دے : جمهور نحات وائی : چې دا صیغه د جنس ده، او بعض وائی : چې دا صیغه د جمع ده . جمع دیته وائی : چې اطلاق ئې کیږی په ثلاثه او مافوق د ثلاثه باندې، او جنس دیته وائی : چې اطلاق ئې کیږی په قلیل او کثیر دواړو باندې .

دلائل الجمهور

د جمهورد درې دلائل دی : ۱ـ یو دلیل ئې دا قول د الله تعالی دے « إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ[2] » دلته دا " الطيب " صفت د " كلم " دے او دا مفرد دے نو که دا " كلم " جمع وے نو پکار وه چې صفت ئې " الطيبة " یا " الطيّبات " راغلے وے . ۲ـ دویم دلیل ئې دا دے : چې تمییز د عدد أوسط مفرد منصوب وی او " كلم " تمییز د عدد أوسط واقع کیږی لکه عرب وائی: " قرأت ثلاثة عشر كلمًا " که دا جمع وے نو تمییز د عدد أوسط به نه وے واقع شوے . ۳ـ دریم دلیل ئې دا دے : چې تصغیر د دې " كُلَيْمٌ " راځی او قانون په جمع کښې دا دے : چې رد کیږی مفرد خپل ته، او د مفرد نه ئې تصغیر راځی نو که دا جمع وے نو پکار وه چې رد شوے وے " كلمة " ته، او تصغیر ئې " كُلَيْمَةٌ " راغلے وے، کلیم نه راتلے .

او څوک چې وائی : چې دا جمع ده نو د هغو دلیل دا دے : چې دا څکه جمع ده او جنس نه دے چې که دا جنس وے نو استعمال به ئې په مفرد او تثنیه کښې کیدے لیکن د دې استعمال خو په مفرد او تثنیه کښې نه کیږی نو معلومه شوه چې جنس نه دے . او د جمهورو د دلائلو نه جوابونه کوی چې په دې آیت کښې تاویل دے أی « إليه يصعد بعض الكلم الطيب » نو دا " الطيب " صفت د " بعض " دے او " بعض " مفرد دے . او تمییز د عدد أوسط " كلمة " واقع کیږی " كَلِمًا " نه واقع کیږی، او تصغیر د دې " كُلَيْمَةٌ " راځی " كُلَيْمٌ " نه راځی . لیکن غوره مذهب د جمهورو دے نو هغوی دې بعض ته جواب ورکوی چې تاسو چې په دې آیت کښې تاویل وکړو دا خلاف الأصل دے ؛ څکه څه ضرورت ورته نشته . او تاسو چې وائی چې تمییز

---

[1] وقال بعض الأفاغنة : پرهر د توري ښه دے چې به څه شی په یو دم ** خو به پرهر د ژبې دے چې وی د عمر سره سم .

[2] سورة فاطر : ۱۰ .

د عدد أوسط " كَلِمَةٌ " دے او تصغير د دې " كُلَيْمَةٌ " دے نو دا مدعی بلا دلیله ده، او مکابره ده . او تاسو چې دا خبره کوئ چې دا په مفرد او تثنیه کښې نه استعمالیږی نو یوه وضع ده او یو استعمال دے ، نو وضع دې د مفرد تثنیه او جمع ټولو د پاره شوې ده خو استعمال ئې په مفرد او تثنیه کښې نه کیږی ، او عدم استعمال فی المفرد والتثنیة نقصان نه رسوی جنسیت د دې ته .

تحقيق " التاء " فی الكلمة

" تاء " په دوه قسمه ده : یوه " تاء " مطوله ده ، او بله " تاء " مدوره. دا دلته چې کومه " تاء " راغلې ده دا " تاء " مدوره ده . د دې بیا ډیر قسمونه دی : (١) کله راځی د پاره د تانیث نحو ضاربة . (٢) کله راځی د پاره د نقل د وصفیت نه اسمیت ته لکه " **الكافية** " ، " **المقدمة** " کښې . (٣) کله راځی د پاره د حکایت لکه په " **الحكاية** " کښې . (٤) کله راځی د پاره د مبالغې لکه " **العلامة** " . (٥) کله راځی د پاره د وحدت خو وحدت بیا څلور قسمه دے : جنسی ، نوعی ، صنفی ، فردی .

دلته بعض وائی : چې د پاره د تانیث ده ، او بعض وائی : چې د پاره د نقل ده د وصفیت نه اسمیت ته چې " **كلم** " خو په معنی د خبرو سره وو ، یا په معنی د قاعدې یا ضابطې وغیره سره وو خو اوس د دغې نه نقل شویدے او نوم گرځیدلے دے د پاره د یو خاص کلمې چې موضوع د نحو ده . او بعض وائی : چې دا د پاره د اخبار ده ، او بعض وائی : چې دا د پاره د وحدت ده **وهذا قول الأكثر** خو د وحدت نه مراد وحدت دے علاوه د فردی او شخصی نه نو منافات ئې رانغلو د ألف لام جنسی سره .

قوله : **لفظ** ... دا اوس تعریف شروع شو ، او " **الكلمة** " معرَّف وو ، اوس په دې باندې **اعتراض** راځی چې تا دلته اجتماع د متنافیین کړې ده او دا باطله ده ، او هغه داسې ده چې " **الكلمة** " معرَّف دے او " **لفظ** " الخ ئې تعریف دے او قانون دا دے : چې معرَّف مجهول وی او تعریف معلوم وی نو د دې نه دا معلومه شوه چې " **الكلمة** " به نکره او مجهول وی او " **لفظ** " الخ به معرفه او معلوم وی او بل طرف ته " **الكلمة** " مبتداء ده او " **لفظ** " الخ ئې خبر دے او په مبتداء او خبر کښې قانون دا دے : چې مبتداء معرفه وی او خبر نکره وی نو حاصل دا شو چې " **الكلمة** " هم معرفه ده او هم نکره ده ، دارنګ " **لفظ** " الخ هم معرفه ده او هم نکره ده ؟ **جواب** : دا اعتراض به تا هله کولے چې دا په یو حیثیت سره هم معرفه وے او هم نکره وے ، لیکن دا په جدا جدا حیثیتونو سره .تعریف او تنکیر راغلی دی ، او په جدا جدا اعتباراتو سره تعریف او تنکیر راتلے شی ، او هغه حیثیتونه او اعتبارات دا دی : چې " **الكلمة** " معرفه ده باعتبار الاجمال او نکارت پکښې باعتبار التفصیل دے ، او " **لفظ** " الخ کښې نکارت باعتبار الاجمال دے او تعریف پکښې باعتبار التفصیل دے .

پس د دينــــه : په دې تعريف د " **الكمة** " کښې څو الفاظ دی او قانون دا دے : چې معرفت د معرَّف موقوف وی په معرفت د جميع أجزاؤ د تعريف باندې ، نو اول جزء د تعريف د " **الكلمة** " نه " **لفظ** " دے نو " **لفظ** " په لغت کښې " **رمی** " ته وائی ، او دا " **رمی** " په درې قسمه ده : (١) **رمی** د غير لفظ من الفم لکه عرب وائی : " **أكلت التمرة ولفظت النواة** " . (٢) **رمی** د لفظ من الفم لکه " **لفظت بزيد** " . (٣) **رمی** د غير لفظ من غير الفم لکه " **لفظت الرحى الدقيق** " . او **لفظ** په اصطلاح کښې «**ما يتلفظ به الانسان قليلًا كانَ او كثيرًا مفردًا كانَ او مركبًا حقيقةً كانَ او حكمًا موضوعًا كان او مهملًا سواءً كان فی جميع الأحيان او فی البعض** » . دا قيودات چې مونږه ولګول نو په دې سره دفع د يو څو اعتراضونو ، او وهمونو وشوه . اول **وهم** به چا دا کولو : چې مراد د دې نه کثير وی نه قليل نو بناء په دې خارج شو د دې نه حروف هجاء سره د دې نه چې په هغې هم تلفظ کيږی نو مونږه چې دا تعميم وکړو چې " **قليلًا كان اوكثيرًا** " نو دا پکښې داخل شو . **بل وهم** دا پيدا کيدو : چې مراد به د دې نه لفظ مفرد وی نو مرکبات ترې خارج شول سره د دې نه چې هغه هم الفاظ دی نو مونږ چې دا قيد ولګولو چې مفردًا كان او مركبًا نو هغه هم داخل شو . بيا **بل وهم** پيدا کيدو : چې مراد به د دې نه حقيقتًا وی نو منوی ترې خارج شول لکه " **أنت** " شوِ په " **إضرب** " کښې نو مونږ تعميم وکړو چې " **حقيقتًا كان او حكمًا** " نو هغه پکښې داخل شو . بيا **وهم راتلو** : چې مراد به د دې نه الفاظ موضوعه وی فقط نو مهملات ترې خارج شول نو هرکله چې مونږ دا تعميم وکړو چې " **موضوعًا كان او مهملًا** " نو الفاظ مهمله پکښې هم داخل شول لکه " **ديز** " ، " **جسق** " وغيره . بيا **بل وهم** پيدا شو : چې ته وائی چې **لفظ** "**ما يتلفظ به الانسان** " ته وائی نو خارج شو د دې نه کلام د الله تعالى ، کلام د ملائک ، او کلام د جنات . کلام د الله تعالى لکه قرآن پاک شو ، او کلام د ملائک لکه

انَ فی الجنة نهرًا من لَبن «» لعلی و حسين و حسن[١]

يا لکه دا قول د شو « **وماننزل إلا بأمر ربک**[٢] » الأية .

او د جنّات قول لکه

قبر حرب بمكان قفر «» ليس قرب قبر حرب قبر

يا لکه دا شعر شو

قتلنا سيد الخزرج سعد بن عبادة «» رميناه بسهمين فلم نخطأ فؤاده

نو مونږه چې دا تعميم وکړو چې " **سواء كان فی جميع الأحيان او فی البعض** " . يا داسې تعميم وکړه چې برابره خبره ده که فی الحال وی او که فی المآل وی نو دغه پکښې داخل شو ؛ ځکه

---

(١) ماوجدت مرجعه .

(٢) سورة مريم : ٦٤ .

چې په دې هم انسان تلفظ کوی فی المآل په بعض أحیان کښې . قوله : **وضع** ... دا صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول مثال واوی از باب فتح یفتح . اوس دا یو مشتقی دے او مشتق پیژندے کیږی په تبع د مبدأ او مشتق منه مصدر وی نو مصدر د دې "**وَضْعٌ**" ده . نو وضع په لغت کښې نهادن ته وائی ، او په اصطلاح کښې "**تخصیص شیئٍ بشیئٍ بحیث متی أطلق أو أحس الشیئ الأول فهم منه الشیئ الثانی**" . **سوال** : ته وائی چې "**تخصیص شیئٍ بشیئٍ**" نو دا تخصیص به خالی نه وی یا به تخصیص د لفظ اخلې په معنی پورې او یا به عکس وی که اول وی نو الفاظ مشترکه اوتل او که ثانی وی نو الفاظ مترادفه اوتل ؛ ځکه تخصیص خو دیته وائی چې "**مایوجد فیه ولایوجد فی غیره**" و ههنا لیس کذالک ؟ **جواب** : دلته ذکر د تخصیص دے او مراد ترې جعل دے او جعل عام دے . **سوال** : ته وائی چې کله اول شیئ معلوم شی نو دویم ترې معلومیږی ، نو هغه الفاظ خارج شو چې بغیر د ضم د ضمیمی نه معنی نه ورکوی . دارنګ امیان چې قرآن وائی نو هغه د دې په معنی نه پوهیږی حالانکه د دې وضع د معانیؤ د پاره شوې ده نو اطلاق د شی اول شته او فهم د ثانی نشته یا لکه یو سړے چې خبره وکړی او بیا لیونے شی او هغه خبره کوی او په معنی ئې نه پوهیږی یا لکه یو سړے کوڼړ وی او ته ورته خبره کوې هغه ئې نه اوری ؟ **جواب** : دلته قیودات نور هم دی هغه دا چې بحیث أطلق اطلاقًا صحیحًا یعنې د اطلاق نه مراد اطلاق صحیحه دے او اطلاق صحیحه په حروفو کښې دا دے : چې سره د ضم د کلمې أخری نه وی . او پس د علم د مخاطب نه په وضع د شیئ اول د پاره د ثانی او په وقت د عدم وجود د مانع کښې نو دغه اعتراضونه دفع شول . قوله : **لمعنًی** ... معنی په لغت کښې "**قصد**" ته وائی ، او په اصطلاح کښې "**مایقصد من اللفظ**" ته وائی ، یا "**مایقصد من الشیئ**" ته وائی . **سوال** : معنی د څه صیغه ده یا به ئې صیغه د مصدر وائی ، او یا به ئې صیغه د ظرف وائی ، او یا به ئې صیغه د اسم مفعول وائی او دا یوه نه صحیح کیږی ؛ ځکه چې صیغه د مصدر شی نو معنی به ئې دا شی چې کلمه یو لفظ دے چې وضع شوے دے د پاره د قصد ، او که صیغه د ظرف شی نو معنی به ئې دا شی چې کلمه یو لفظ دے چې وضع شوے دے د پاره د ځائ د قصد ، یا د پاره د وقت د قصد او دا معنی هم غلطه ده ، او که صیغه د اسم مفعول شی نو معنی خو به ئې صحیح شی لیکن اسم مفعول چرته په دې وزن باندې نه دے راغلے ؟ **جواب** : دا صیغه د مصدر میمی ده په معنی د اسم مفعول سره او مصدر میمی په معنی د اسم مفعول سره راتلے شی ؛ ځکه چې علاقه پکښې شته چې کلیت او جزئیت دے ، او یا دا صیغه د ظرف ده په معنی د اسم مفعول سره او د دې په مینځ کښې علاقه د اشتقاق ده یعنې دواړه مشتقین دی او بل پکښې علاقه د فضلیئت ده یعنې دواړه فضله واقع کیږی . او یا دا صیغه د اسم مفعول ده او که ته وائی چې په دې وزن باندې اسم مفعول نه دے راغلے نو

جواب دا دے : چې دا په أصل کښې "معتويٌ" وو، يا "واو" بدل شو په "ياء" باندې او "ياء" په "ياء" کښې مدغمه شوه او ضمه د "نون" بدله شوه په کسره سره؛ لمناسبة الياء، يا "ياء" مدغم فيه حذف شوه خلاف القياس؛ للتخفيف او کسره د ماقبل په فتحه سره بدله شوه يا ضمه په "ياء" ثقيله وه نو حذف شوه نو التقاء د ساکنين راغله بين الياء والتنوين نو "ياء" حذف شوه نو "معنًى" شو. قوله : **مفرد** ــ په دې مقام کښې لابدی ده د معرفت د څلورو خبرو نه (۱) معنی لغوی (۲) معنی اصطلاحی (۳) أقسام د مفرد (٤) اعراب د مفرد.

(۱) **لغوی معنی** : مفرد په لغت کښې يوکړے شوی ته وائی. (۲) **اصطلاحی معنی** : په اصطلاح کښې ديته وائی چې جزء د لفظ دلالت نه کوی په جزء د معنی مقصودې باندې په دلالت مقصوده سره. (۳) **دريمه خبره أقسام** : دا مفرد په پنځه قسمه دے : ۱ ـ چې لفظ لره جزء نه وی لکه "همزه" د استفهام، او "واو" عاطفه شو. ۲ ـ چې لفظ لره جزء وی خو معنی لره جزء نه وی لکه لفظ د "الله" شو، يا "نقطه" شوه. ۳ ـ چې لفظ لره هم جزء وی او معنی لره هم جزء وی خو جزء د لفظ دلالت نه کوی په جزء د معنی باندې لکه "زيد" شو نو د دې معنی ده حيوان ناطق مع هذا التشخص، نو دا "زاء" دلالت نه کوی په "حيوان"، او "ياء" دلالت نه کوی په "ناطق" باندې، او دا دال دلالت نه کوی په مع هذا التشخص باندې. ٤ ـ چې لفظ لره هم جزء وی او معنی لره هم جزء وی او جزء د لفظ دلالت کوی په جزء د معنی باندې خو هغه معنی مقصوده نه وی لکه "عبدالله" شو په حين د علميت کښې چې "عبد" دلالت کوی په عبديت او "الله" دلالت کوی په اُلوهيت باندې خو دلته دغه نه ده مراد بلکه معنی علمی مراد ده. ٥ ـ چې لفظ لره هم جزء وی او معنی لره هم جزء وی او جزء د لفظ دلالت هم کوی په جزء دِ معنی باندې او دغه معنی مقصود هم وی خو هغه دلالت مقصود نه وی لکه "حيوان ناطق" شو په حين د علميت کښې چې د يو کس نوم شی، دلته دا دلالت مقصود نه دے؛ ځکه دلالت خو حقيقت ځائ او زمونږ مقصود معنی علمی ده.

(٤) **څلورمه خبره اعراب د مفرد** : په دې نقش د مفرد باندې درې واړه اعرابات جاری کول صحيح دی يعنې رفع، نصب، او جر.

چې مرفوع شی نو دا به صفت شی د پاره د "**لفظ**"؛ ځکه صفت تابع وی د موصوف خپل په اعراب کښې. او که مجرور شی نو صفت به شی د پاره د "**معنی**"؛ ځکه هغه مجرور دے په حرف جر سره او اعراب یٔ تقديری دے. او يا منصوب دے بنا بر حاليت. په دې هر يو باندې اعتراض دے. په اول **اعتراض** دا دے : چې دا صفت د "**لفظٌ**" د پاره نه دے صحيح د دوه وجو نه : ۱ ـ اوله وجه دا ده : چې فصل راځی په مابين د صفت او موصوف کښې په "**وُضِعَ**" او "**معنی**" سره. ۲ ـ دويمه وجه دا ده : چې د "**لفظ**" د پاره يو صفت "**وُضع**" دے، او بل

صفت ئ " **مفرد** " شو نو مطابقت نشته په مابين د صفتين كښې ؛ ځكه اول صفت جمله ده او دويم مفرد دے او قانون دا دے : چې هر كله د يو موصوف د پاره دوه صفته راځي نو مناسب دا ده : چې يا به دواړه مفردين وى او يا به دواړه جملې وى ؟ **جواب** : فصل راتلل بين الموصوف والصفة دوه قسمه دى : يو په أجنبي سره وى ، او بل په أقربي سره وى نو هغه فصل ناروا دے چې په أجنبي سره وى هغه دلته نه دے راغلے دلته فصل راغلے دے په أقربي سره ؛ ځكه وضع ئ هم صفت دے او دا ناروا نه دے . او هر چې دا بله وجه ده نو د هغې نه **جواب** دا دے: چې ذا منم چې مطابقت بين الصفتين أصل دے او د أصل نه خلاف كول نه دى صحيح خو عدول كول د أصل نه خلاف الأصل ته دوه قسمه دى : يو جائز دے ، او بل ناجائز دے كله چې عدول د يوې نكتې د وجې نه وشى نو هغه جائز وى او چې عدول وشى بغير د نكتې نه نو هغه ناجائز وى او دلته دا عدول د يوې نكتې د وجې نه شوے دے هغه نكته دا ده : چې دلته مصنف‌ﷺ دا اول صفت فعل ماضى ذكر كړو په دې كښې ئ اشاره وكړه دې ته چې " **وضع** " مقدم وى په لفظ كښې ، او افراد او تركيب پكښې مؤخر وى او دا په صيغه د ماضى ذكر كولو سره معلوميږى ، او دويم ئ مفرد ذكر كړو ؛ ځكه أصل په صفت كښې افراد دے .

او چې مفرد مجرور شى نو **اعتراض** دا راځى : چې دا مفردٍ مجرور وشيل بنا بر صفت للمعنى نه دے صحيح ؛ ځكه چې لازميږى توهم د اتصاف المعنى په افراد او تركيب سره قبل الوضع او معنى موصوف كول په افراد او تركيب سره قبل الوضع ناروا دى ؛ ځكه قانون دا دے : چې اول په الفاظو كښې وضع راځى د پاره د معانيو بيا پكښې دلالت راځى او په دريم نمبر كښې افراد او تركيب راځى . اوس دلته دا توهم ولې پيدا كيږى نو دا بنا دے په يوه قاعده باندې هغه قاعده دا ده : چې هر كله يو " **شے** " مقيد وى په يو قيد باندې او د دغه " **شي** " مقيده تعلق راغلے وى د يو فعل يا شبه فعل سره نو ثابتيږى به دا قيد د دغه **شي** مقيد د پاره مخوا د تعلق راتلو د **فعل** او **شبه فعل** نه د دغه " **شي** " سره . نو اوس دلته " **شے مقيد** " " **معنى** " دے او قيد ورلره " **مفرد** " دے او فعل " **وُضِعَ** " دے . نو حاصل دا شو چې معنى به مفرده مخكښې وى او " **وضع** " پكښې ورسته وى ؟ **جواب** : دې معنى ته چې مونږ مفرده وائيو مخكښې د وضع نه نو دا **مجازًا** وائيو په اعتبار د **مايؤل اليه** سره يعنې چې وضع پكښې راشى نو مفرده به شى نو دا د قبيلې د "**من قتل قتيلا فله سلبه**" نه دے .

او چې منصوب شى بنا بر حاليت نو يا به حال وى د ضمير د " **وضع** " نه او يا به حال وى د " **معنى** " نه ، په دې باندې **اعتراض** دا دے : چې د دې حاليت د معنى نه نه صحيح كيږى ؛ ځكه حال خو ديته وائى چې "**يُبين هيئة الفاعل أو المفعول به أو كليهما**" او " **معنى** " نه فاعل دے او نه مفعول به دے . بل **اعتراض** دا دے : چې دا منصوب شى نو د دې نه ورسته " **ألف** "

ليكل پكار وو او دلته " ألف " نشته ؟ د اول سوال جواب دادے چې دا معنی نائب فاعل دے ، په اصل كښې ، بالفاظ ديگر مفعول به په دوه/٢ قسمه ده يو بلا واسطه دويم بالواسطه دلته دا معنی دويم قسم دے. د دويم سوال نه جواب : دا " ألف " نه دے ليكلے شوے ؛ ځكه د " ألف " د ليكلو د پاره شروط سته دی : ١ ـ ألف ليكلے كيږی په هغه ځائ كښې چې هلته تعيين د نصب وی ، او دلته تعيين د نصب نشته بلكه دغه نور احتمالات پكښې هم شته چې رفع ، او جر دی . ٢ ـ دا اسم به معرف باللام نوی نو " ضربت الرجل " ترې خارج شو . ٣ ـ اسم منصوبه به غير منصرف نه وی نو " ضربت أحمد " ترې خارج شو . ٣ ـ اسم منصوبه به مضاف نه وی نو " ضربت غلام زيد " ترې خارج شو . ٥ ـ د دې اسم منصوبه په آخير كښې به تاء مدوره نه وی نو " رأيت امرأةً " ترې خارج شو . ٦ ـ د دې اسم منصوبه په آخير كښې به " ألف " مقصوره نوی نو " رأيت عصى " ترې خارج شو .

پس د دينــــــه : په هر تعريف كښې لابدی وی د جامعيت مانعيت نه نو د جامعيت د پاره الفاظ عامّه راوړے كيږی او د مانعيت د پاره الفاظ خاصه راوړے كيږی دغه لفظ عام ته جنس وائی ، او لفظ خاص ته فصل وائی . اوس دلته " **لفظٌ** " لفظ عام دے جنس دے په دې كښې ټول ألفاظ داخل شو (كما مرّ فی التعميمات) او " **وُضع** " فصل اول دے په دې سره الفاظ مهمله ووتل ؛ اذ لاوضع فيه . او **لمعنی** فصل ثانی دے په دې سره حروف هجاء خارج شو ؛ ځكه د حروف هجاء وضع لمعنی نه وی بلكه لغرض التركيب وی . او **مفرد** فصل ثالث دے په دې سره ترې مركبات خارج شو نو تعريف جامع او مانع شو .

تركيب العبارة : " **الكلمة** " مبتداء ، " **لفظ** " موصوف ، " **وضع** " صيغه د فعل ماضی مجهول ضمير پكښې مستتر دے هغه ورلره نائب فاعل ، " **لام** " جاره معنی موصوف مفرد صفت ، بيا موصوف سره د صفت نه دا مجرور شو د پاره د " **لام** " جاره ، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسی تر " **وضع** " فعل پورې ، نو " **وضع** " فعل مجهول سره د نائب فاعل او متعلق خپل نه دا جمله فعليه خبريه صفت شو د پاره د " **لفظ** " موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا خبر شو د " **الكلمة** " مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

وَ هِيَ مُنْحَصِرَةٌ فِيْ ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ : إِسْمٌ ، وَ فِعْلٌ ، وَ حَرْفٌ .

ترجمه : او دا لفظ د كلمه په اعتبار د مفهوم سره منحصره دے په درې قسمونو كښې . چې اسم ، فعل ، او حرف دی .

تشريح : قوله : **وهى منحصرة فى ثلاثة أقسام** ... هر كله چې فارغ شو مصنف ﷺ د بيانولو د تعريف د كلمه نه نو اوس ئې شروع وكړه په بيان د أقسامو د كلمه كښې . دلته مونږ معنى داسې كوو چې دا لفظ د كلمه په اعتبار د مفهوم سره منحصره ده په دريو قسمونو كښې په دې معنى سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې دا " **هِيَ** " ضمير به يا راجع وائى لفظ د " **كلمة** " ته ، يا به ئې راجع وائى " **مفهوم** " ته ، كه لفظ ته ئې راجع وائى نو تقسيم نه صحيح كيږى ؛ ځكه لفظ د " **كلمة** " خو اسم دے نو لازميږى تقسيم د شے چې " **اسم** " دے إلى نفسه چې اسم دے او إلى غيره چې " **فعل** " او " **حرف** " دے او دا باطل دے ، او كه "**مفهوم** " ته ئې راجع كوې نو مطابقت نه راځى بين المرجع والضمير ؛ ځكه مفهوم د " **كلمة** " مذكر دے او " **هِيَ** " ضمير د مؤنث دے او مطابقت خو ضرورى دے ؟ نو **جواب** : وشو چې لفظ د " **كلمة** " ته راجع دے باعتبار المفهوم نو تقسيم هم صحيح شو چې د معنى تقسيم وشو دريو أقسامو ته ، او مطابقت هم راغلو په مابين د راجع او مرجع كښې . قوله : **اسم و فعل و حرف** ... دا هر واحد مرفوع دے بنا بر خبريت د مبتداء محذوف أى أحدها اسم الخ ، جر ليكښې هم جائز دے بنا په دې چې دا بدل شى د أقسام نه ، او نصب ليكښې هم جائز دے بنا په دې چې دا مفعول به شى د پاره د فعل محذوفه أى أعنى اسمًا وفعلًا وحرفًا . **سوال** : اسم ئې ولې مقدم كړو په فعل باندې ؟ **جواب** : ځكه چې اسم عمده دے مسند او مسند اليه دواړه واقع كيږى او فعل فقط مسند واقع كيږى ، او بيا فعل ئې مقدم كړو په حرف باندې ؛ ځكه دا په نسبت سره حرف ته عمده دے ؛ ځكه يو خو مسند واقع كيږى او بل دا چې دلالت كوى په معنى مستقله باندې بخلاف الحرف .

تركيب : " واو " عاطفه ، " **هِيَ** " مبتداء " **منحصرة** " صيغه اسم فاعل از باب انفعال " **هى** " ضمير مستتر ئې فاعل " **فى** " جار " **ثلاثة** " عدد أقل مبهم مميز مضاف " **أقسام** " تميز مضاف اليه ، نو مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور شو د پاره د " **فى** " جار ، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسى تر " **منحصرة** " پورې ، نو اسم فاعل سره د فاعل او متعلق نه دا خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

لِأَنَّهَا إِمَّا أَنْ لَّاتَدُلَّ عَلَى مَعْنًى فِىْ نَفْسِهَا، وَ هُوَ الْحَرْفُ، أَوْ تَدُلَّ عَلَى مَعْنًى فِىْ نَفْسِهَا، وَيَقْتَرِنُ مَعْنَاهَا بِأَحَدِ الْأَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ، وَ هُوَ الْفِعْلُ، أَوْ تَدُلَّ عَلَى مَعْنًى فِىْ نَفْسِهَا وَ لَمْ يَقْتَرِنْ مَعْنَاهَا بِهِ وَهُوَ الْإِسْمُ.

ترجمه : ځكه دا كلمه چې ده يا به دلالت نه كوى په معنى باندې هسې معنى چې ثابته وى او كائنه وى په نفس د دې كلمه كښې (يعني په معنى مستقله باندې به دلالت نه كوى) دېته (عند النحات) حرف وائى ، او يا

به دلالت کوی په یوه معنی هسې معنی چې کائنه وی په نفس د دې کلمه کښې او مقترنه به وی معنی د دې کلمه په یو د أزمنو ثلاثو پورې او دیته (په اصطلاح د نحات کښې) فعل وائی ، او یا به دلالت کوی په یوه معنی باندې هسې معنی چې کائنه وی په نفس د دې کلمه کښې او مقترن به نه وی معنی د دې کلمه په یو د أزمنو ثلاثو پورې او دا مسمی کولے شی (په اصطلاح د نحات کښې) په اسم سره .

تشریح : قوله : **لأنها اما أن** ...

وجه الحصر بين أقسام الكلمة

غرض د مصنفؒ په دې عبارت سره وجه د حصر ذکر کول دی . **سوال** : حصر په أقسامو د یو شي کښې چې راځی نو دا مشهور په دوه قسمه دے : ۱ـ حصر عقلی دے . ۲ـ او بل حصر استقرائی دے .

حصر عقلی : دیته وائی : چې عقل د نورو أقسامو راتلل جائز نه گنړی او دائر وی بین النفی والاثبات .

حصر استقرائی : دیته وائی : چې عقل جائز گنړی راتلل د نورو أقسامو ، او دائر نه وی بین النفی والاثبات . اوس دلته کوم حصر دے که دیته گورو چې دائر دے په مینځ د نفی او اثبات کښې نو پکار ده چې حصر عقلی دې شی او که دیته گورو چې عقل جائز گنړی راتلل د نورو أقسامو نو پکار ده چې استقرائی شی ؟ **جواب** : دا حصر عقلی دے خو مقدمات ئ استقرائی دی . **سوال** : په دې عبارت د مصنفؒ کښې چې دا " **فی نفسها** " ذکر دے درې ځله نو دا ظرف لغو دے ، که ظرف مستقر ؟ **جواب** ۱ : دا " **ظرف لغو** " دے په دې مخکښې " **لاتدل** " او " **تدل** " پورې متعلق دے . **سوال** : د دلالت په صله کښې خو " **فی** " نه راځی ؟ **جواب** : دا " **فی** " دلته په معنی د " **باء** " سره ده . او یا دا " **ظرف مستقر** " دے متعلق دے په " **حاصل** " پورې .

سوال : دا څه وجه ده چې مصنفؒ چې أقسام ذکر کول نو اول ئ اسم ذکر کړو بیا ئ فعل ذکر کړو او حرف ئ په آخیر کښې ذکر کړو او په دلیل د حصر کښې ئ حرف مقدم کړو او اسم ئ مؤخر کړو ؟ **جواب** : دا کار ئ د یو څو وجو نه کړے دے : ۱ـ **یوه وجه** دا ده : چې حرف په لغت کښې طرف ته وائی ، او طرف یا اول وی او یا آخیر وی نو هلته ئ آخیر ذکر کړو او دلته ئ اول ذکر کړو .

۲ـ **دویمه وجه** دا ده : چې په أقسامو کښې ئ اسم مقدم کړو ؛ ځکه دا أصل دے او فعل او حرف ئ فرع دی او أصل أولی بالتقدیم وی ، او په دلیل د حصر کښې ئ حرف مقدم کړو ؛ ځکه دلته مصنفؒ د هر یو تعریف کوی او تعریف د حرف عدمی دے او تعریف د اسم او فعل وجودی دے او عدم د ممکناتو مقدم وی په وجود باندې . ۳ـ **دریمه وجه** دا ده : چې په أقسامو کښې لحاظ د اصالت شوے وو ، او دلته ئ حرف ؛ ځکه مقدم کړو چې د دې په

تعريف کښې صرف يوه خبره ده چې عدم اصالت على المعنى دے ، او په تعريف د اسم کښې دوه خبرې دى : يو دلالت على المعنى ، او دويم عدم اقتران . او په تعريف د فعل کښې هم دوه خبرې دى : يو دلالت على المعنى ، او دويم اقتران مع الأزمنه . نو څنګه په منزله د مفرد شو او دا په منزله د مرکب شو ، او مفرد مقدم وى په مرکب باندې . او بيا فعل ئې مقدم کړو په اسم ، ځکه په تعريف د فعل کښې دواړه خبرې وجودى دى او په تعريف د اسم کښې يو قيد وجودى دے چې دلالت على المعنى دے ، او بل عدمى دے چې عدم الاقتران باحدالأزمنة الثلثة دے او وجودى أشرف وى د عدمى نه .

ترکيب : " **لام** " جاره " **أنّ** " حرف دے د حروف مشبّه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړى " **هاء** " ضمير راجع دے " **کلمة** " ته څخه ئې اسم شو " **إمّا** " ترديديه " **أن** " مصدريه " **لا** " نافيه " **على** " حرف جر " **معنًى** " موصوف " **فى** " حرف جر " **نفس** " مضاف **هاء** ضمير راجع دے " **کلمة** " ته څخه مضاف اليه ، جار سره د مجرور نه دا په اعتبار د متعلق سره صفت د پاره د موصوف ، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **لاتدل** " پورې ، " **لاتدل** " فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه په تاويل د مفرد سره خبر د " **إنّ** " . " **إنّ** " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسميه خبريه مجرور شو د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو تر " **منحصرة** " پورې ، " **و هو** " مبتداء او " **الحرف** " خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **او** " حرف عطف " **تدل** " صيغه د فعل مضارع معلوم ضمير پکښې راجع دے " **کلمة** " ته څخه ئې فاعل " **على** " حرف جر " **معنًى** " موصوف " **فى** " حرف جر " **نفس** " مضاف " **هاء** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه دا په اعتبار د متعلق سره صفت شو د پاره د موصوف چې " **معنًى** " وو ، موصوف سره د صفت نه دا مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **تدل** " پورې ، بيا فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه معطوف عليه ، " **واو** " حرف عطف " **يقترن** " صيغه فعل مضارع معلوم ، " **معناها** " مضاف مضاف اليه دا فاعل د فعل ، " **باء** " حرف جر " **أحد** " مضاف " **الأزمنة** " موصوف " **الثلثة** " صفت ، موصوف سره د صفت نه دا مضاف اليه د پاره د مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور شو د پاره د باء حرف جر ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **يقترن** " پورې ، " **يقترن** " فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه معطوفه په " تدل " ، " **وهو** " دا مبتداء " **الفعل** " خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . او د " **او تدل على معنى فى نفسها** " الخ ترکيب آسان دے . تأمل .

فَحَدُّ الْإِسْمِ : كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلَى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا غَيْرِ مُقْتَرِنٍ بِأَحَدِالْأَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ ، أَعْنِيْ الْمَاضِيَ ، وَ الْحَالَ ، وَ الْإِسْتِقْبَالَ كَـ " رَجُلٍ " ، وَ " عِلْمٍ " .

ترجمه : پس تعریف جامعه مانعه د اسم دا دے : چې دا يوه كلمه ده چې دلالت كوى په معنى خپله باندې هسې معنى چې حاصله وى په نفس د دې كلمه كښې او مقترن نه وى په يو د أزمنه ثلاثو پورې (په فهم كښې د لفظ دالّه نه په اعتبار د هيئت سره په أصل وضع كښې) . لكه رجل او علم شو .

تشريح : قوله : **فحد الاسم** ... هر كله چې فارغ شو مصنف ﷫ د تعريف د كلمې نه اجمالًا ، او د وجه د حصر نه نو شروع ئې وكړه په تفصيل د أقسامو د كلمه باندې ، چونكه د كلمه درې أقسام وو اسم ، فعل ، او حرف . او په اجمال كښې ئې اسم مقدم كړے وو نو په تفصيل كښې ئې هم مقدم كړو د دې د پاره چې تفصيل موافق شى د اجمال سره او په اجمال كښې د تقديم وجه مخكښې تيره شويده اوس مصنف﷫ اول تعريف د اسم كوى په **فحدّ الاسم** ... سره . دلته دا " **فاء** " فصيحيه ده دا تقاضه د شرط مقدر كوى نو تقدير د عبارت داسې شو چې « **إذا انحصرت الكلمة في ثلاثة أقسام** » ، يا « **إذا بيّنّا وجه الحصر فحدّ الاسم** » . دويم لفظ د " **حدّ** " دے ، نو " **حدّ** " په لغت كښې منع ته وائى ، او تعريفاتو ته ؛ ځكه " **حد** " وائى چې دا مانع وى د دخول د غير نه ، او په اصطلاح د مناطقو كښې وئيلے كيږى تعريف د شے ته په ذاتياتو سره ، او په اصطلاح د أهل العرب او نحاتو كښې تعريف جامع مانع ته وائى او دلته هم دغه مراد دے ؛ نو ځكه مونږ معنى كوو چې پس تعريف جامعه مانعه د اسم دا دے : چې دا يوه كلمه ده چې دلالت كوى په معنى خپله باندې هسې معنى چې حاصله وى په نفس د دې كلمه كښې او مقترن نه وى په يو د أزمنه ثلاثه پورې په فهم كښې د لفظ دالّه نه په اعتبار د هيئت سره په أصل وضع كښې . هر كله چې مونږ دا قيودات ولګول نو په دې سره دفع د اعتراضونو وشوه .

اول **اعتراض** دا دے : چې دا تعريف ستا جامع نه دے خپلو أفرادو لره ؛ ځكه زه به درته وښائم چې اسم به وى او مقترن به وى په يو د أزمنو پورې لكه مصادر شو مثلًا " **أكل** " ، " **شرب** " وغيره چې دا په يو زمانه كښې خامخا واقع وى ؟ **جواب** : زمونږ مراد دا دے : چې مقترن به نه وى په اعتبار د فهم سره او تا چې كوم مثال ذكر كړو نو دا په اعتبار د تحقق او وقوع سره دے په اعتبار د فهم سره نه دے . دويم **اعتراض** دا دے : چې زه به درته وښائم چې مقترن به وى په يو د أزمنه ثلاثه پورې لكه " **ضارب أمس** " ، " **ضارب الآن** " ، " **ضارب غدًا** " دلته دا ضارب اسم دے او معنى د دې مقترن ده د يو د أزمنه سره ؟ **جواب** : مونږ وائيو چې دا معنى به فهم ته راځى د لفظ دالّه نه ، او دلته زمانه فهم ته د بل لفظ نه راځى چې هغه " **الآن** "

."غدًا"، او "أمس" دے د ضارب نه فهم ته نه راځي. دریم اعتراض دا دے: چې زه به درته وښایم چې اسم به وی او مقترن به وی په یو د أزمنه ثلاثه پورې لکه لفظ د ماضی، حال، او استقبال؟ **جواب**: مونږ وائیو دا به مقترن وی په زمانه پورې په اعتبار د هیئت سره او دلته دا مقترن دی په اعتبار د مادې سره نه په اعتبار د هیئت سره. **څلورم اعتراض** دا دے: چې دا تعریف ستا جامع هم نه دے خپلو أفرادو لره او مانع هم نه دے د دخول د غیر نه؛ ځکه أسماء أفعال ترې خارج شو؛ ځکه هغه أسماء دی او مقترن دی په یو د أزمنه ثلاثو پورې او أفعال مدح، أفعال ذم وغیره پکښې داخل شو؛ ځکه هغه مقترن نه وی په یو د أزمنه ثلاثو پورې او سره د دې نه چې أفعال دی؟ **جواب**: مونږ وائیو چې دا به مقترن وی په یو د أزمنه ثلاثو پورې په أصل وضع کښې نو أسماء أفعال په أصل وضع کښې مقترن نه وو بلکه ورستو د عارض استعمال د وجه نه مقترن ګرځیدلے دی او أفعال مدح او ذم وغیره په أصل وضع کښې مقترن وو خو بیا ترې زمانه ویستلے شوې ده؛ لهذا أفعال منسلخه عن الزمان ورته وائی، او په دې سره دفع د بل اعتراض هم وشوه، **اعتراض** دا دے: چې ستا دا تعریف جامع نه شو خپلو أفرادو لره؛ ځکه چې خارج شو ترې ظروف لازم الاضافة لکه قبل، بعد وغیره شو دا أسماء دی او دلالت نه کوی په خپله معنی باندې تر څو چې ورسره مضاف الیه نه وی ذکر شوے؟ **جواب**: وشو چې دا په اعتبار د أصل وضع سره دلالت کوی په خپله معنی باندې اګرچې په اعتبار د استعمال سره ئې نه کوی.

پس د دینـــــه: په هر تعریف کښې لابدی وی د جنس او فصل نه نو کلمة په منزله د جنس دے د اسم د پاره په دې کښې اسم، فعل، او حرف ټول داخل شو. او "**تدل على معنى فى نفسها**" ورلره فصل اول دے په دې سره ترې حروف خارج شو. او "**غير مقترن**" فصل ثانى دے په دې سره ترې فعل خارج شو.

قوله: **كرجل وعلم** ... دا خبر دے د پاره د مبتداء محذوف تقدير د عبارت داسې دے "**هُوَ كَرَجُلٍ و علم**". دلته مصنف﵀ دوه مثالونه ذکر کړه نو په دې **اعتراض** واردیږی چې مثال خو وی د پاره د وضاحت د ممثل او وضاحت د ممثل خو په یو مثال سره هم راځي نو دوؤ ته څه ضرورت دے؟ **جواب**: تعدد د مثال بنا دے په تعدد د ممثل باندې؛ ځکه اسم دوه قسمه دے: ذات، او صفت. نو اول مثال د ذات دے دویم مثال د وصف دے، یا اول مثال د جامد دے دویم مثال د مصدر دے، یا دا مثال په منزله د شاهد وی او شاهد په شریعت کښې دوه پکار وی.

ترکیب: "**فحد**" کښې "**فاء**" تفصیلیه (على قول) "**حد**" مضاف "**الاسم**" مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتداء "**كلمة**" موصوف "**تدل**" صیغه فعل مضارع معلوم

ضمير پټکښې دے راجع دے " كلمة " ته هغه ئې فاعل " عل " جار " معنى " موصوف " في " جار " نفس " مضاف " هاء " ضمير د مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه په اعتبار د متعلق سره صفت اول شو د " معنى " ، " غير " مضاف " مقترن " صيغه د اسم فاعل ضمير پټکښې مستتر دے هغه ئې فاعل ، " باء " حرف جر " أحد " مضاف " الأزمنة " موصوف " الثلثة " صفت موصوف سره د صفت نه مبيّن " الماضي " معطوف عليه " والحال " معطوف عليه معطوف ، " والاستقبال " معطوف ، معطوف عليه سره د معطوفين نه دا مفعول به د پاره د فعل محذوفه چې " أعني " دے " أعني " فعل سره د فاعل ، او مفعول به نه دا جمله فعليه بيان شو د پاره د مبيّن ، مبيّن سره د بيان نه دا مضاف اليه د پاره د " أحد " مجرور د پاره ، بيا جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " مقترن " اسم فاعل پورې ، بيا اسم فاعل سره د فاعل نه دا شبه جمله مضاف اليه شو د پاره د " غير " ، " غير " مضاف سره د مضاف اليه نه دا صفت ثاني شو د پاره د " معنى " ، " معنى " موصوف سره د صفتين نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " تدلّ " فعل پورې ، بيا " تدلّ " فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه صفت شو د پاره د موصوف چې " كلمة " دے ، موصوف سره د صفت نه دا خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه ، " كرجل " كښې كاف په معنى د " مثل " مضاف رجل مضاف اليه ، دا خبر شو دپاره د مبتداء محذوف چې " مثاله " دے .

وَ عَلَامَتُهُ صِحَّةُ الْإِخْبَارِ عَنْهُ نَحْوُ : " زَيْدٌ قَائِمٌ " ، وَ الْإِضَافَةُ نَحْوُ : " غُلَامُ زَيْدٍ " ، وَ دُخُولُ لَامِ التَّعْرِيْفِ كَـ" الرَّجُلِ " ، وَالْجَرُّ ، وَ التَّنْوِيْنِ ، نَحْوُ : " بِزَيْدٍ " ، وَ التَّثْنِيَةُ وَالْجَمْعُ وَالنَّعْتُ وَالتَّصْغِيْرُ وَالنِّدَاءُ .

ترجمه : او علامه د اسم صحيح كيدل د خبر وركولو دے د ده نه لكه " زيد قائم " ، او اضافت دے لكه " غلام زيد " ، او دخول د لام د تعريف دے لكه " الرجل " ، او دخول د حرف جر دے ، او تنوين دے لكه " بزيد " ، او تثنيه ، جمع ، نعت ، تصغير ، او نداء .

تشريح : قوله : **وعلامته** ... هر كله چې فارغ شو مصنفؒ د تعريف حدی د اسم نه نو شروع ئې وكړه په تعريف رسمی د اسم باندې ؛ ځكه عام طور سره مبتديان په تعريف حدی نه نه پوهيږی او په تعريف رسمی باندې ښه پوهيږی . دويمه وجه دا ده : چې وجود د شے دوه قسمه دے : يو وجود ذهنی او بل وجود خارجی نو په تعريف سره وجود ذهنی د اسم معلوم شو ، نو چې په علاماتو سره د اسم وجود خارجی هم معلوم شی . د تعريف رسمی معنى دا چې تعريف په نخو او علامو سره . علامه په لغت كښې نخې ته وائی ، او په اصطلاح كښې : ما

يدل على وجود الشيئ ولاتنفك عنه ». بیا مصنف‌ؒ علامه وئیله ، او بعض خاصه وائی . نو خاصه وئیلے کیږی « **ما یوجد فیه ولایوجد فی غیره** » ته . بیا د دې دواړو په مینځ کښې تلازم دے خو دومره فرق دے چې علامه په وجود د شے دلالت کوی ، او په خاصه کښې په وجود د شے باندې دلالت ضروری نه دے . او بیا د " **علامې** " او د " **حد** " په مینځ کښې فرق دا دے چې په " **حد** " کښې جامعیت او مانعیت شرط دے ، او په " **علامه** " کښې نه دے شرط ؛ نو ځکه مونږ داسې وئیلے شو چې هر هغه کلمه چې دلالت کوی په معنی فی نفسها باندې او مقترن نه وی په یو د أزمنه ثلاثۀ پورې نو هغه به اسم وی او که داسې نه وو نو اسم به نه وی لیکن داسې نه شو وئیلے چې په کومه کلمه کښې ألف لام وو نو هغه به اسم وی او په کومه کښې چې ألف لام نه وو نو هغه به اسم نه وی ؛ ځکه په زید کښې ألف لام نشته او اسم دے . **سوال** : علامات د اسم خو ډیر دی نو مصنف‌ؒ له پکار وه چې صیغه د جمع ئې ذکر کړی وے د مفرد صیغه ئې ولې ذکر کړه ؟ **جواب** : دا " **علامة** " صیغه د اسم جنس ده اطلاق ئې کیږی په قلیل او کثیر دواړو باندې ؛ نو ځکه ئې صیغه د جمع ذکر نکړه بیا مصنف‌ؒ دلته ټول علامات د اسم نه دی ذکر کړی بلکه بعض لوئې لوئې علامات ئې ذکر کړیدی .

قوله : **صحة الاخبار عنه** ... نو یوه علامه دا ده : چې د دینه خبر ورکول صحیح دی یعنې مسند الیه محکوم علیه ، مخبر عنه ، موضوع ، مبتداء صرف اسم واقع کیږی ، فعل او حرف نشی واقع کیدے . دا مسندالیه او محکوم علیه بیا عام دے که حقیقتًا وی او که حکمًا وی ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې زه به درته وښائم چې فعل به مسند إلیه واقع شوے وی کما فی قوله تعالی : « **و اذا قیل لهم آمنوا** [1] » الآیة . دلته " **آمنوا** " فعل دے او مسندالیه دے ؛ ځکه نائب فاعل دے د " **قیل** " د پاره ؟ **جواب** : دا اګر چې حقیقتًا اسم نه دے خو تاویلًا اسم دے أی « **اذا قیل لهم لفظ آمنوا . یا اذا قیل لهم هذا القول** » اوس دا علامه د اسم ولې ده ؟ نو ؛ ځکه چې مسند الیه دلالت کوی په ذات باندی ، او اسم هم دلالت کوی په استقلال بالذات باندې او حرف کښې استقلال نشته ، او فعل کښې اګر چې استقلال شته خو دا واضع وضع کړے دے مسند نو که مونږ ئې مسند الیه واقع کړو نو خلاف راځی د وضع د واضع نه .

قوله : **نحو زید قائم** ... دلته زید اسم دے او مسند الیه ، محکوم علیه ، مخبرعنه ، موضوع ، او مبتداء ده ، او قائم مسند ، مسندبه ، محکوم به ، مخبر به ، محمول ، حکم ، او خبر دے .

---

(1) سورة البقرة : ۱۳ .

قوله : والاضافة ... بل د خواص مكبره معظمه د اسم نه اضافت دے دا اضافت يو نسبت دے په مينځ د مضاف او مضاف اليه كښې ، بيا دلته مصنف‎ﷺ اضافت ذكر كړو اشاره ده اختلاف ته (۱) بعض وائي چې علامه د اسم صرف مضاف دے ، او مضاف اليه فعل هم واقع كيږى لكه « **يوم ينفع الصادقين صدقهم**[1] » ، دلته **ينفع** فعل دے ، او مضاف اليه واقع شوے دے . (۲) او بعض وائي : چې خاصه د اسم مضاف او مضاف اليه دواړه دى خو دا اسم عام دے ، كه حقيقتًا وى او كه تاويلًا وى ، او دا تاويلًا اسم دے أى « **يوم نفع الصادقين** » ، نو مصنف‎ﷺ اضافت ذكر كړو اوس ستا خوښه ده كه دواړه ترې أخلې او كه فقط مضاف ترې أخلې ، او كه يوازې مضاف ئ ذكر كړے وے نو بيا ترجيح بلا مرجح راتله (يعني يو مذهب ذكركيدو او بل پاتې كيدو). اوس اضافت د خواص مكبرؤ معظمؤ د اسم نه ولې شو نو ؛ ځكه چې اضافت په دوه قسمه دے : ۱ ـ اضافت لفظى . ۲ ـ اضافت معنوى . اضافت لفظى مفيد د تخفيف وى ، او اضافت معنوى مفيد د تعريف او تخصيص وى او تعريف ، تخصيص ، او تخفيف درې واړه خاص دى په اسم پورې نو اضافت هم خاص شو په اسم پورې د پاره د دې چې لازم نه شى اختلاف بين الملزوم (چې اضافت دے) و اللازم (چې تعريف ، تخصيص ، او تخفيف دے) . مثال لكه " **غلام زيد** " دلته " **غلام** " مضاف دے ، او " **زيد** " مضاف اليه دے او دواړه اسمين دى .

قوله : و دخول لام التعريف ... بل د خواص مكبرؤ معظمؤ د اسم نه دخول د لام التعريف دے . بيا په ديكښې اختلاف دے درې مذهبه دى پكښې : سيبويه ، مبرد ، خليل بن احمد . ۱ ـ مذهب د سيبويه دا دے : چې علامه د اسم فقط " **لام** " دے او " **همزه** " ورسره د دې د پاره راوړے شى ابتداء بالساكن لازم نشى . ۲ ـ او عند المبرد علامه د اسم فقط " **همزه** " ده او " **لام** " ورسره د دې د پاره ذكر كيږى چې التباس ئ رانشى د همزه استفهامى سره . ۳ ـ او عند خليل بن احمد " **همزه** " او " **لام** " دواړه علامه د اسم ده ، پشان د " **هَلْ** " . او **مصنف**‎ﷺ لام التعريف ذكر كړو اشاره ئ ديته وكړه چې مذهب د سيبويه غوره دے ؛ ځكه په مذهب د خليل لازميږى حذف د جزء د علامې ، او په مذهب د مبرد باندې لازميږى حذف د عين علامې په درج د كلام كښې ، او مذهب د سيبويه د دې نه صفا دے . اوس دا خاصه د اسم ولې شوه ؛ نو ځكه چې دا واضع وضع كړى دى د پاره د تعيين د معنى مستقلې مطابقې ، او معنى د حرف غير مستقله ده ، او معنى د فعل مستقله ده خو معنى تضمنى او معنى مطابقى د

---

(1) سورة المائدة : ۱۱۹ .

فعل غير مستقله ده. دويمه وجه دا ده: چې دا راځي د پاره د تعريف، او تعريف خاص وو په اسم پورې نو دا هم خاص شو په اسم پورې.

قوله: **و الجر و التنوين** ... په ديکښې دوه احتماله دی په اعتبار د اعراب سره: ۱ـ يا مرفوع دی عطف دی په " **دخول** " باندې يا په " **صحة الاخبار عنه** " باندې نو معنی به ئ دا شی چې بله خاصه د اسم جر دے او بل تنوين دے. ۲ـ او يا مجرور دی عطف دی په " **لام** " باندې نو د " **دخول** " لاندې به راشی. **سوال**: " **دخول** " خو وئيلے کيږی « **إتيان الشيئ في الأول** » ته او " **جر** " او " **تنوين** " خو په آخير کښې راځي؟ **جواب**: " **دخول** " دلته په معنی عامې سره دے نو لحوق ته هم شامل دے. اوس دا " **جر** " خاص شو په اسم پورې؛ ځکه چې دا اثر د حرف جر دے، او حرف جر خاص وو په اسم پورې نو دا هم خاص شو په اسم پورې؛ د پاره د دې چې لازم نشی خلاف په مينځ د اثر (چې جر دے) او مؤثر (چې حرف جر دے) کښې. **سوال**: حرف جر ولې خاص شو په اسم پورې؛ نو ځکه چې حرف جر واضع وضع کړے دے د پاره د دې چې راکاږی معنی د فعل او شبه فعل خپل مدخول ته چې اسم دے، ولې که فعل شی؛ نو لازميږی « **إفضاء الشيئ الى نفسه** ». او " **تنوين** " په لغت کښې نون ورکولو ته وائی، او په اصطلاح کښې « **نون ساكنة تتبع حركة آخر الكلمة لا لتأكيد الفعل** ». " **نون ساكنه** " سره احتراز دے د نون متحركه نه او " **تتبع حركة آخر الكلمة** " سره احتراز دے د هغې نه چې اول يا وسط کښې وی او په " **لا لتاكيد الفعل** " سره ئ احتراز وکړو د نون تاکيد خفيفه نه. بيا مشهور أقسام د تنوين پنځه دی: ۱ـ **تنوين تمكن**: چې داخليږی په اسماء متمکنو باندې لکه تنوين د زَيْدٌ، رَجُلٌ وغيره. ۲ـ **تنوين تنكير**: چې د دې د وجې نه اسم نکره ګرځی لکه تنوين د " **صَهٍ** " شو چې بدون التنوين دا معرفه ده، " **صَهْ** " (بدون التنوين) « **بمعنى اسكت السكوت الآن** »، " **مَهْ** " بمعنى « **انكفف انكفاف الآن** » سره. او " **صَهٍ** " او " **مَهٍ** " (مع التنوين) نکره ده بمعنى « **اسكت سكوتا ما** »، « **وانكفف انكفافا ما** ». ۳ـ **تنوين عوضى**: دا هغه تنوين دے چې عوض د مضاف اليه جملې نه راغلے وی، يا د حرف نه، يا د مفرد نه. مثال د جملې لکه " **حينئذٍ** " او " **يومئذٍ** " چې په أصل کښې " **إذا كَانَ كذَا** " وو. مثال د مفرد لکه « **ولكلّ وجهةٌ** » أى: " **لكلّ واحدٍ** ". مثال د حرف لکه تنوين د " **جوارٍ** " چې " **جوارِيُ** " وو. ۴ـ **تنوين مقابله**: دا هغه تنوين دے چې راځي په آخير د جمع مؤنث سالمه کښې په مقابله د واو او نون د جمع مذکر سالمه کښې. ۵ـ **تنوين ترنم**: چې دا هغه تنوين دے چې راځي په آخير د اشعارو کښې د پاره د خوش آوازئ کما في قول الشاعر، شعر

اقلى اللوم عاذل والعتابن «««» وقولى ان أصبت لقد أصابن

او دا ټول أقسام د تنوين شاعر راجمع کړی دی په يو شعر کښې لکه ګوره! شعر

تنوین به پنج قسم ست اے یار من بگیر «» اول تمکن ست عوض ثالث تنکیر
دیگر مقابلہ است ترنم برادرم «» این پنج یاد کن که شوی شاه بے نظیر

وقال الآخر:

تناوین پنج اند اے پر غرض «» ترنم تمکن تقابل عوض
بتنکیر پنج شد اے یار غار «» اگر هوش دارے بیا یاد دارے

دا اولنی څلور قسمونه خاص دی په اسم پورې او تنوین ترنم په اسم، فعل، او حرف درې وارو کښې راځی، او ماتن‌ﷺ مطلقًا ذکر کړے دے؛ ځکه چې أکثر د خواص د اسم نه دے او أکثر لره حکم د کل وی. اوس دا خاصه د اسم ولې ده؟ نو! ځکه چې تنوین مقتضی د انفصال وی او انفصال په اسم کښې راځی په فعل او حرف کښې نه راځی، فعل او حرف مقتضی د اتصال وی، نو که تنوین پکښې راشی نو اجتماع د متنافیین به راشی. او دویمه وجه دا ده: چې دا تنوینات أربعه چې د کومو معانیؤ د پاره راتلل هغه ټولې خاص دی په اسم پورې نو دا (چې تنوین دے) هم خاص شو په اسم پورې د پاره د دې چې لازم نشی مخالفت بین الدال والمدلول. قوله: **نحو بزید** ... دا مثال د جر او د تنوین دواړو دے.

قوله: **والتثنية والجمع والنعت والتصغير** ... دا ټول عطف دی په " **صحة** " باندې نو مرفوع دی؛ ځکه خبر د علامته دی. دا درې خواص ذکر کوی چې تثنیه، جمع، نعت (مراد ترې منعوت دے)، او تصغیر دے. **سوال**: " ضَرَبَا " او " ضربوا " کښې خو فعل تثنیه شوے او جمع شوے دے؟ **جواب**: دا په أصل کښې تثنیه شوے او جمع شوے فاعل دے نه فعل، او فاعل اسم دے. اوس دا څلور علامات خاص شو په اسم پورې؛ ځکه چې تثنیه، جمع، او نعت (مراد منعوت) دلالت کوی په زیادت باندې او تصغیر دلالت کوی په نقصان، او حقارت باندې، او زیادت او نقصان راځی په اسم کښې نه په فعل او حرف کښې؛ ځکه فعل او حرف واضع وضع کړی دی د پاره د مفهوم معراء عن الزيادة والنقصان. نو که په فعل او حرف کښې زیادت او نقصان راشی؛ نو خلاف به راشی د وضع د واضع نه. قوله: **والنداء** ... او بل د خواص مکبرؤ معظمؤ د اسم نه نداء ده یعنې دخول د حرف نداء او دا خاصه د اسم؛ ځکه شوه چې دا داخلیږی په منادی او منادی نه وی مګر مفعول به او مفعول به نه وی مګر اسم. بله وجه دا ده: چې نداء خاصه د اسم؛ ځکه ده چې دا اثر د حرف نداء دے، او حرف نداء خاص ده په اسم پورې نو نداء هم خاص شوه په اسم پورې؛ د پاره د دې چې خلاف رانشی د اثر د مؤثر نه.

ترکیب: د دې تیر شوی عبارت ترکیب دا دے: " **و علامته** " دا مضاف مضاف الیه مبتداء، " **صحة** " مضاف " **الإخبار** " مصدر " **عنه** " متعلّق، بیا مصدر سره د متعلق نه دا

معطوف عليه ، " و الاضافة " إلى آخره ټول معطوفات چې راواخلې دا خبر ، نو مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

فَإِنَّ كُلَّ هَذِهِ خَوَاصُ الْإِسْمِ ، وَ مَعْنَى الْإِخْبَارِ عَنْهُ أَنْ يَكُوْنَ مَحْكُوْمًا عَلَيْهِ لِكَوْنِهِ فَاعِلًا ، أَوْ مَفْعُوْلًا ، أَوْ مُبْتَدَأً ، وَ يُسَمَّى إِسْمًا ؛ لِسُمُوِّهِ عَلَى قَسِيْمَيْهِ ، لَا لِكَوْنِهِ وِسْمًا عَلَى الْمَعْنَى .

ترجمه : پس يقينًا دا ټول خواص د اسم دي . او معنى د اخبار عنه دا ده : چې وى محكوم عليه ؛ حكه چې دا فاعل وى ، يا مفعول (أى مالم يسمى فاعله) ، او يا مبتداء وى ، او ديته اسم وائي ؛ د وجه د وچتوالى د دې نه په أخوين خپلو ، داسې نه چې دا علامه ده په معنى خپله باندې .

تشريح : قوله : **فانّ كلّ هذه خواصّ الاسم** ... غرض د مصنف ﷫ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې علامه د شى د يته وائي چې هغه پورې خاص وى ، او په دې علامو کښې يو تنوين ، دويم ألف لام دى او دا خو بعض أسماؤ کښې نه راځى لکه ضمائر او اسماء اشارات شو نو څنګه علامه شوه ؟ **جواب** : علامه او خاصه يو شے دے نو ذكر د علامې مستلزم دے ذکر د خاصې لره ، او خاصه بيا په دوه قسمه ده : ١ ـ شامله . ٢ ـ غير شامله ؛ نو لهذا مراد دلته خاصه غير شامله ده ، او دا په ټولو أفرادو د ذوالخاصه پورې خاص نه وى . دغسې بل **اعتراض** هم په دې عبارت سره دفع کوى هغه دا دے : چې تا خو دې أشياء مذکوروُ ته علامات وئيل ، او کافيه والا خو ورته خواص ويلې دى ، او ته وائي چې زما دا کتاب په ترتيب د کافيه دے نو دا خو د هغه نه خلاف شو؟ **جواب** : ده جواب وکړو حاصل ئ دا دے : چې دا اعتراض به تا هله کولے چې علامات او خواص جدا جدا وے حالانکه دا يو شے دے . قوله : **ومعنى الاخبار عنه أن يكون محكومًا عليه** ... غرض د مصنف ﷫ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې تا په دې علامات کښې يو اخبارعنه ووے ، او نور نحات خو ديته محکوم عليه او مسنداليه وائي ؟ نو مصنف ﷫ **جواب** وکړو : چې محکوم عليه او مخبرعنه يو شے دے . بيا دلته « **لكونه فاعلًا او مفعولًا** » چې وائي : نو د " **مفعولًا** " نه مراد مفعول مالم يسمى فاعله (يعني نائب فاعل) دے . قوله : **و يسمى اسمًا لسموه على** ... غرض د ماتن﷫ د دې عبارت نه بيان د وجه د تسميه د اسم دے ، نو په دې کښې اشاره ده اختلاف ته دوه مذهبه دی پکښې : ١ـ بصريين . ٢ ـ کوفيين . بصريين وائي : چې دا په أصل کښې " **سمْوٌ** " وو ناقص واوى په معنى د " **علوّ** " سره ، او ديته هم اسم ؛ ځکه وائي چې په خپلو أخوينو (چې فعل او حرف دى) باندې دا عالي وى . بيا واو حذف شو او د هغې په عوض کښې همزه وصليه په اول سر کښې راوړے شوه نو اسم شو ، او دليل په دې دا دے : چې د دې جمع أسماء او تصغير

ئ شئ راځي چې شئ په أصل کښې سَمَوٌ وو ، او قانون دا دے : چې په تصغير او جمع تكسير سره شے خپل أصل ته واپس کيږي ، نو په جمع او تصغير کښې واو په آخير کښې دے نو معلوم شوه چې ناقص دی . او کوفيين وائي : چې دا په أصل کښې وِسْمٌ وو ، بيا واو مکسور بدل شو په همزه سره نو اسمٌ شو ، په معنى د علامې سره ، او ديته هم اسم : ځکه وائي چې دا علامه ده په خپله مسمى يا معنى باندې . په کوفيانو باندې اعتراض واردېږي : چې ځنګه چې اسم علامه ده په خپله مسمى باندې ، نو دارنګ فعل او حرف هم علامه ده په خپله مسمى باندې نو ښکاره ده چې هغې ته هم اسم وئيلے شي ؟ جواب دا دے : چې په وجه د تسميه کښې جامعيت مانعيت نه دے ضروري ، بلکه جامعيت او مانعيت په تعريفاتو کښې ضروري وی . او په نزد د مصنف رحمه الله باندې مذهب د بصريين غوره دے ؛ نو ځکه ئ اوئيل : چې " و يسمى اسمًا لسموّه " الخ .

ترکیب : " **فاء** " تفصيليه " **إنّ** " حرف د حروف مشبه بالفعل " **كلّ** " مضاف " **هذه** " اسم اشاره مشاراليه ، دا مضاف اليه شو د " **كلّ** " د پاره ، " **كلّ** " مضاف سره د مضاف اليه نه دا اسم شو د پاره د " انّ " ، " **خواص** " مضاف " **الإسم** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر د " **إنّ** " شو ، " انّ " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **واو** " استئنافيه " **معنى** " مضاف " **الاخبار** " مصدر " **عنه** " جار مجرور متعلق دے تر " **الإخبار** " مصدر پورې ، " **الإخبار** " مصدر سره د متعلق نه دا مضاف اليه شو د پاره د " **معنى** " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتداء شوه ، " **أن** " مصدريه ناصبه " **يكون** " فعل ناقص ضمير پکښې دے هغه اسم شو ، " **محكوما** " صيغه د اسم مفعول " **عليه** " متعلق په اسم مفعول پورې ، " **لام** " جاره " **كون** " مصدر مضاف " **هاء** " ضمير مضاف اليه دا اسم شو د " **كون** " ، " **فاعلا** " معطوف عليه " **او مفعولًا** " معطوف اول ، " **او مبتدأ** " معطوف ثاني بيا معطوف عليه سره د معطوفين نه دا خبر د پاره د " **كون** " ، " **كون** " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسميه مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق تر " **محكوما** " پورې ، بيا اسم مفعول سره د متعلقين نه دا خبر د " **يكون** " ، " **يكون** " سره د اسم او خبر نه دا جمله فعليه په تاويل د مصدر سره خبر شو د پاره د مبتداء . " **و يسمى** " فعل مضارع مجهول ضمير پکښې دے راجع دے اسم ته دا نائب فاعل ، " **اسمًا** " مفعول به " **لام** " جار " **سمو** " مضاف " **هاء** " ضمير د مضاف اليه " **على** " حرف جر " **قسميه** " مجرور ، جار سره د مجرور نه متعلق شو په " **سموّ** " مصدر پورې ، بيا مصدر سره د مضاف اليه او متعلق نه دا معطوف عليه ، " **لا** " عاطفه " **لام** " جاره " **كون** " مضاف " **هاء** " ضمير د مضاف اليه دا اسم شو د " **كون** " ، " **وسمًا** " مصدر " **على** " جاره " **المعنى** " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **وسمًا** " پورې ، " **وسمًا** " مصدر سره د متعلق

خپل نه دا خبر شو د " كون "، " كون " اسم سره د خبر خپل نه دا مجرور شو د پاره د " لام " جاره، جار سره د مجرور نه دا معطوف شو په مخكښې، معطوف سره د معطوف عليه نه دا مجرور د جار، مجرور سره د جار نه دا متعلق شو په " يسمى " پورې، " يسمى " فعل سره د نائب فاعل او مفعول به او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه.

وَ حَدُّ الْفِعْلِ كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلَى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا دَلَالَةً مُقْتَرِنَةً بِزَمَانٍ ذٰلِكَ الْمَعْنَى كَـ " ضَرَبَ "، " يَضْرِبُ "، " إِضْرِبْ ".

ترجمه: او تعريف د فعل دا دے: چې دا يوه كلمه ده چې دلالت كوى په معنى مستقله باندې، داسې معنى چې كائنه وى په نفس د دې كلمه كښې، او داسې دلالت چې مقترن وى په زمانه پورې (په اقتران وضعى اولى سره)، لكه ضرب، يضرب، او اضرب.

تشريح: قوله: **وحدّ الفعل** ... هر كله چې فارغ شو مصنفﷺ د تعريف د اسم، او د علاماتو د اسم نه، نو شروع ئې وكړه په تعريف د فعل كښې (او وروسته به ئې علامات بيان كړى). نو فعل په لغت كښې حدث ته وائى، او په اصطلاح كښې " **كلمة تدل على معنى** " الخ. په هر تعريف كښې لابدى وى د جنس او فصل نه، نو **كلمة** جنس دے ټولو ته شامل دے، " **او تدل على معنى فى نفسها** " سره ترې حرف اوتلو، او " **دلالة مقترنة** " الخ سره ترې اسم اوتلو. مثال لكه " **ضرب** "، " **يضرب** "، او " **إضرب** " شو. **سوال**: درې مثالونه ئې ولې ذكر كړه؟ **جواب**: ؛ ځكه چې زمانې درې دى، او د هرې زمانې د پاره جدا جدا فعل دے نو ټول ئې ذكر كړه، د ماضى د پاره " **ضرب** "، او د استقبال د پاره " **يضرب** "، او د حال د پاره " **إضربْ** ". **سوال**: ستا تعريف نه دے صحيح؛ ځكه دا خپلو أفرادو ته نه دے شامل؛ ځكه چې بعض د أفعالو نه أفعال منسلخه دى لكه " **نعم** "، " **بئس** "، وغيره. او دا خو مقترن نه دى په زمانه پورې؟

جواب: ما وئيلى دى: چې دلالت به كوى په زمانه خو په اعتبار د أصل وضع سره او دې أفعالو هم په أصل وضع كښې دلالت كوو په زمانه باندې خو بيا ترې دا زمانه ويستلے شوې ده. **سوال**: دا ستا تعريف جامع نه دے خپلو أفرادو لره فعل مضارع ترې خارجه شوه؛ ځكه تا اوئيل چې مقترن به وى په يوه زمانه پورې او مضارع كښې خو دوه زمانې وى؟

جواب: مونږ ئې په اعتبار د أصل وضع سره وائيو، او مضارع هم په اعتبار د أصل وضع سره دلالت كوى په يوه زمانه باندې، بيا بعض وائى: وضع د استقبال د پاره ده او معنى د حال مجازًا ده، او بعض وائى: چې وضع د حال د پاره ده او استقبال پكښې مجاز دے، نو په دې اعتراض نه وارديږى. البته بعض وائى: چې دواړه زمانو د پاره وضع ده نو بيا **اعتراض** وارديږى

چې په تعريف کښې مونږ ووے چې مقترن به وی په يوه زمانه پورې ؟ نو جواب ئې دا دے : چې اوس ترې دوه زماني اغستے کیږی باعتبار الاستعمال . دويم جواب دا دے : چې مونږ ووے مقترن به وی په يوه زمانه پورې دا أقل مقدار دے ، او نفي د ماعدا مقصود نه ده چې کنې په دوه پورې مقترن وی هغه به فعل نه وی بلکه هغه هم فعل وی . بل جواب دا دے : چې دا زماني په مضارع کښې په طريقه د بدليت سره دی . سوال : تعريف دې مانع نه شو د دخول د غير نه أسماء أفعال پکښې داخل شو ؛ ځکه دا راځی بمعنی الماضی والأمر ؟

جواب : زه وائم چې مقترن بالزمان به وی په اعتبار د أصل وضع سره ، او دا په اعتبار د أصل وضع سره نه دی مقترن ، بلکه باعتبار الاستعمال دی . سوال : تعريف دې مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکښې اسم فاعل ، او اسم مفعول دا په معنی د حال او استقبال سره راځی او واضع وضع کړی دی د دې د پاره ؟ جواب : مراد د وضع نه وضع اوله ده ، او هيڅ شک نشته چې دا په وضع اوله سره د دې د پاره نه دی وضع ، بلکه په وضع ثانی سره وضع دی .

ترکيب : " واو " حرف عطف " حدّ " مضاف " الفعل " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتداء شوه . " کلمة " موصوف " تدل " فعل مضارع معلوم ضمير پکښې دے چې راجع دے " کلمة " ته ، " على " حرف جر " معنى " موصوف " فى " حرف جر " نفس " مضاف " هاء " ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا په اعتبار د متعلق سره صفت د پاره د موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا مجرور د پاره د " على " حرف جر ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " تدل " فعل پورې ، "دلالة" مقترنه صيغه د اسم فاعل ضمير پکښې دے هغه شے فاعل "باء" حرف جر "زمان" مضاف "ذالک" اسم اشاره "المعنى" مشار اليه دا بيا مضاف اليه د زمان مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور د "باء" جاره جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو متعلق تر مقترنه پورى دا بيا صفت دپاره د "دلالة" موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا مفعول مطلق د " تدل " فعل سره د فاعل او متعلق منه دا صفت شو د پاره د " کلمة " موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا خبرشو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه ممثل او "کضراب " الخ ئى مثال شو ممثل سره د مثال نه دا جمله اسميه الخ شوه.

وَ عَلَامَتُهُ أَنْ يَصِحَّ الْإِخْبَارُ بِهِ لَا عَنْهُ ، وَ دُخُوْلُ قَدْ ، وَ السِّيْنِ ، وَ سَوْفَ ، وَ الْجَزْمِ ، وَ التَّصْرِيْفُ إِلَى الْمَاضِيْ وَ الْمُضَارِعِ ، وَ كَوْنُهُ أَمْرًا ، أَوْ نَهْيًا ، وَ اتِّصَالُ الضَّمَائِرِ الْبَارِزَةِ الْمَرْفُوْعَةِ نَحْوُ : " ضَرَبْتُ " ، وَ تَاءُ التَّانِيْثِ السَّاكِنَةُ نَحْوُ : " ضَرَبَتْ " ، وَ نُوْنَيِ التَّاكِيْدِ .

ترجمه : او علامه د فعل دا ده : چې صحيح کیږی به خبر ورکول په دې سره ، نه د ده نه ، او دخول د قد ،

سين ، سوف ، او جزم ، او گردان كول د دې ماضي او مضارع ته ، او كيدل د ده أمر او نهي ، او اتصال د ضمائرو دے هغه ضمائر چې بښكاره وي ، او مرفوعه وي . لكه ضربْتُ ، او بل د خواص الفعل نه تاء تانيث الساكنه ده لكه ضَرَبَتْ . او بل د خواص دوه نه نونونه د تاكيد دي .

تشريح : قوله : وعلامته أن يصح الاخبار به ... اوس مصنفﷺ تعريف رسمي ذكر كوي ، او علامات د فعل بيانوي . نو يوه علامه ئې دا ده : چې صحيح به وي خبر وركول په دې سره نه د دې نه ، يعني مسند به واقع كيږي او مسند اليه به نه واقع كيږي ؛ ځكه ورسته به د دې اخبار به تعريف راشي چې "أن يكون محكومًا به لا عليه" دا خبره مونږ ؛ ځكه وكړه چې يوه كلمه چې مسند واقع كيږي دا په دوه قسمه ده : ١ـ يو دا چې صحيح دی واقع كيدل د دې مسنداليه . ٢ـ او بل دا چې صحيح نه وی واقع كيدل د دې مسنداليه . نو علامه د فعل دا ده : چې دا به مسند واقع كيږي او مسنداليه به نه واقع كيږي او كه مسنداليه هم واقع كيدو نو دا علامه د اسم ده لكه مثلًا په " زيدٌ المنطلق " كښې چې هر يو مقدم شي نو هغه به مسند اليه وی ، او په ضربَ زيد كښې دا " ضَرَبَ " داسې مسند دے چې كله هم مسنداليه نه واقع كيږي ، او دا خاصه د فعل ؛ ځكه شوه چې دا واضع وضع كړے دے د پاره د أعراضو او أوصافو ، او دا په فعل ... : اخې ، نه په اسم سره يعني مسند دلالت كوی په عرض او حدث باندې او دا په فعل پورې خاص ... ے نو دا مسند هم خاص شو تر فعل پورې . دويم دا چې حق د مسند دا دے : چې دا به نكره وی او فعل هم واضع وضع كړے دے د پاره د نكرې نو د دې وجې نه خاص شو په فعل پورې .

قوله : **و دخول قد** ... او بل د خواص د فعل نه دخول د " **قد** " دے ؛ ځكه دا چې داخل شي په فعل ماضي نو تحقيق او تقريب فائده كوی لكه قدضرب ، او چې فعل مضارع داخل شي نو للتقليل وی او تقليل (فی الزمان) او تحقيق (فی الزمان) خاص وی په فعل پورې نو دا هم خاص شو په فعل پورې . قوله : **و السّين و سوف** ... او بل د خواص د فعل نه سين او سوف دی ؛ ځكه سين او سوف راځی د پاره د استقبال او استقبال زمانه ده ، او زمانه په فعل كښې راځی ، البته دومره خبره ده چې سين راځی د پاره د استقبال قريبه او سوف راځی د پاره د استقبال بعيده ؛ ځكه د سين حروف كم دی او د سوف حروف زيات دی نو قلّت د حروفو دلالت كوی په قلت د معنی باندې نو ؛ ځكه سين د استقبال قريب د پاره راځی ، او زيادت د حروفو دلالت كوی په زيادت د معنی باندې ؛ نو ځكه سوف د استقبال بعيد د پاره راځی . **سوال** : دا څه وجه ده چې مصنفﷺ په سين باندې ألف لام داخل كړی دی او په سوف باندې ئې نه دی داخل كړی ؟ **جواب** : ځكه چې سوف يو قسم دے او خاص دے په فعل پورې ، او د " **سين** " كثير أقسام دی او ټول خاص نه دی په فعل پورې بلكه بعض خاص دی او بعض نه دی خاص نو

ألف لام " ئ وربانديٍ داخل کړه چې اشاره پکښې راشی معين ته . د " **سين** " أقسام دا دی :
١ ـ سين د استقبال لکه سيضرب . ٢ ـ سين د استفعال لکه استخرج زيدٌ . ٣ ـ سين زائده لکه " استحضر زيدٌ " ، يا لکه " اسطاع " " **يسطيع** " کښې . ٤ ـ سين د تحول لکه استحجر الطين أی صار الطين حجرا . ٥ ـ سين د تاکيد لکه سيصلی نارًا . ٦ ـ سين د طلب کما فی قول الشاعر :
شعر

سأطلب بعد الدار عنکم لتقربوا «» وتسکب عيناى الدموع لتجمدا

٧ ـ سين د کسکسه چې دا متصل کيږی په آخير د کاف د مؤنث پورې په حالت د وقف کښې لکه د مذکر د پاره " **اکرمتکَ** " (بفتح الكاف) دے او د مؤنث د پاره " **اکرمتکِ** " (بكسر الكاف) ، خو په حالت د وقف کښې دواړه " **اکرمتکْ** " (بسكون الكاف) رئيلے کيږی نو پته نه لګی چې دا مذکر دے که مؤنث دے نو بنو بکر قبيله د مؤنث سره آخير کښې " **سين** " پيوست کوی د پاره د فرق نو اکرمتکِس وائی ، او بنو تميم قبيله ورسره " **شين** " پيوست کوی او اکرمتکِش وائی ، نو دې " **سين** " ته " **سين** " د کسکسه وائی ، او هغه " **شين** " ته " **شين** " د کشکشه وائی . اوس دا ټول أقسام په فعل پورې خاص نه دی ، بلکه " **سين** " زائده ، او " **سين** " د کسکسه په اسم کښې هم راځی ؛ نو د دې وجې نه ئ وربانديٍ " **ألف لام** " داخل کړه .

قوله : **والجزم** :.. بل د خواص د فعل نه دخول د جزم دے او مراد د دخول نه عام دے که په طريقه د اتصال قبلی سره وی او که په طريقه د لحوق او اتصال بعدی سره وی . دلته يو څو الفاظ دی : حرکت ، سکون ، او جزم .

حرکت : خو " **زور** " ، " **زير** " ، او " **پيښ** " ته وائی ، او جزم هغه ته وائی چې د عامل د وجې نه وی او دا خاص دے په أفعالو پورې ، په أسماؤ کښې نه راځی ، البته سکون په أسماؤ کښې راځی يعنې بغير د عواملو نه وی . اوس دا ولې خاص شو په فعل پورې نو ځکه چې دا أثر د جوازم دے او جوازم خاص دی تر فعل پورې نو دا هم خاص شو ؛ د پاره د دې چې لازم نشی اختلاف بين الأثر (چې جزم دے) والمؤثر (چې حروف جازمه دی) . قوله : **والتصريف الى الماضى والمضارع** ... بل د خواص د فعل نه ګرځان ګول دی ماضی او مضارع ته . او په حرف کښې تصريف أصلًا نه راځی او په بعض أسماؤ کښې راځی خو هغه الی الماضی والمضارع نه وی . او دا ځکه په فعل پورې خاص شو چې تصريف ماضی ، او مضارع ته په اعتبار د زمانې سره دے او زمانه نه وی مګر په فعل کښې وی . قوله : **وکونه أمرًا او نهيًا** ... او بل د خواص د فعل نه کيدل د دې دی أمر او نهی او دا خاص شو په فعل پورې ؛ ځکه چې په أمر کښې طلب الفعل وی او په نهی کښې طلب ترک الفعل وی . **سوال** : داسې ئ ولې نه وئيل : چې " **والتصريف**

إلى الماضي والمضارع والأمر والنهي » ؟ **جواب** : دا مصنف رحمه الله چې کوم عبارت ذکر کړو په دېکښې اشاره ده اختلاف ته ، او رعايت د هر مذهب ته .

الاختـــــلاف

په دې مسأله کښې اختلاف دے چې أمر او نهی د فعل مستقل أقسام دی او که په مضارع کښې داخل دی نو بعض وائی : مستقل أقسام دی ، او بعض وائی : چې په مضارع کښې داخل دی نو مصنف رحمه الله « **و کونه أمرًا** » الخ اوئيل : نو د دواړو لحاظ وشو ؛ ځکه يو ئې جدا ذکر کړل او بل ئې دا ونه ووے چې گردان ئې کيږی ماضی ، مضارع ، أمر ، او نهی ته .

قوله : و اتّصال الضّمائر البارزة المرفوعة ... او بل د خواص د فعل نه اتصال د ضمائرو دے هغه ضمائر چې ښکاره وی او دلالت کوی په فاعل باندې ، يعنې ضمير بارز مرفوع متصل خاص دے په فعل پورې ، ، اسم او حرف پورې نه متصل کيږی ، او دا ؛ ځکه خاصه د فعل ده چې دا نه وی مگر فاعل وی او فاعل د فعل د پاره وی او د فروعو د فعل د پاره چې اسم فاعل ، اسم مفعول ، صفت مشبه ، اسم تفضيل وغيره دی ، خو دا ضمير بارز فقط په فعل پورې متصل کيږی او په دې فروعو پورې نه متصل کيږی ؛ د دې د پاره چې انحطاط د فروعو راشی د أصل نه . **سوال** : داسې به دې کړې وے چې هغه ضمير مستتر چې په فروع د فعل کښې راځی هغه به دې خاص کړے وے په فعل پورې او دا ضمير بارزه به دې خاص کړے وے په فروع پورې ؟ **جواب** : داسې مو ونکړه ؛ ځکه چې ضمير بارز مرفوع أصل دے او فعل هم أصل دے په اقتضاء د فاعل کښې او ضمير مستتر فرعه ده د ضمير بارز نو أصل مو أصل ته ورکړو او فرعه مو فرعې ته ورکړه . مثال د ضمير بارز لکه " **ضَرَبْتُ** " ، او مثال د ضمير مستتر لکه " **زَيْدٌ ضَرَبَ** " .

قوله : وتاء التانيث الساكنة ... او بل د خواص معظمؤ د فعل نه ملحق کيدل د تاء التانيث الساكنة دی په آخير د فعل پورې يعنې هغه تاء چې ساکنه وی او د پاره د تانيث وی نو هغه خاص ده په فعل پورې په اسم او حرف کښې نه راځی . اوس دا ولې خاص شوه په اسم پورې ؛ نو ځکه چې دا تاء د تانيث دلالت کوی په فاعل مؤنثه باندې او فاعل د فعل د پاره راځی ، او د فروعو د فعل استغناء راغلې ده په تاء التانيث المتحركة سره [1].

([1]) **سوال** : عکس وکړه چې تاء التانيث الساکنة دې فروعو پورې متصل وی او تاء المتحركة دې فعل پورې خاص شی ؟ **جواب** : عکس ونشو ؛ ځکه اسم خفيف دے او فعل ثقيل دے او تاء ساکنه خفيفه ده ، او تاء متحرکه ثقيله ده نو مناسب فعل سره تاء ساکنه ده او اسم سره تاء متحرکه ده .

قوله : ونوني التاكيد ... او پل د خواص مكبرۇ معظمو د فعل نه نونونه د تاكيد دي ، او دا خاصه د فعل ، څكه شوه چې دا راځي د پاره د تاكيد د طلب ، او طلب په فعل كښې راځي نو دا هم خاص شو په فعل پورې .

تركيب : " واو " حرف عطف " علامته " مضاف مضاف اليه أن مصدريه ناصبه " **يصح** " صيغه فعل مضارع معلوم " **الإخبار** " مصدر به جار مجرور معطوف عليه " **لا** " عاطفه " **عنه** " جار مجرور معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا متعلق شو په " **الإخبار** " مصدر پورې ، " **الإخبار** " مصدر سره د متعلق خپل دا فاعل شو د پاره د " **يصحّ** " فعل ، فعل سره د فاعل خپل نه دا جمله فعليه معطوف عليها . " **واو** " حرف عطف " **دخول** " مضاف " **قد** " معطوف عليه ، " **واو** " حرف عطف " **السين** " معطوف اول " **سوف** " معطوف ثاني " **و الجزم** " معطوف ثالث ، معطوف عليه سره د خپلو معطوفاتو نه دا مضاف اليه شو د پاره د مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا عطف شو په " **أن يّصح الاخبار به** " باندې ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه معطوف عليها . " **واو** " حرف عطف " **التصريف** " مصدر " **إلى** " حرف جر " **الماضي** " معطوف عليه " **و المضارع** " معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا مجرور د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **التصريف** " مصدر پورې ، بيا دا عطف شو په ماقبل باندې . " **واو** " حرف عطف " **كون** " مضاف " **هاء** " ضمير مضاف اليه دا اسم شو د پاره د " **كون** " مصدر " **أمرًا** " معطوف عليه " **أو** " حرف عطف " **نهيًا** " معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا خبر د پاره د " **كون** " مصدر ، " **كون** " اسم سره د خبر خپل نه دا جمله اسميه خبريه شوه عطف په ماقبل باندې . " **واو** " حرف عطف " **اتّصال** " مضاف " **الضمائر** " موصوف " **البارزة** " صفت ، موصوف سره د صفت نه دا بيا موصوف " **المرفوعة** " صفت ، موصوف سره د صفت نه دا مضاف اليه شو د پاره د " **اتّصال** " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا عطف دے په ماقبل باندې . " **نحو** " مضاف " **ضربت** " (مراد ترې لفظ د ضربت دے) مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو د پاره د پاره د مبتداء محذوف چې " **مثاله** " دے . " **واو** " حرف عطف " **تاء** " مضاف " **التانيث** " موصوف " **السّاكنة** " صفت ، موصوف سره د صفت نه دا مضاف اليه شو د پاره د " تاء " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا عطف په ماقبل باندې ، " **نحو ضربتْ** " مثل ما مرّ . " **واو** " حرف عطف " **نوني** " مضاف " **التّاكيد** " مضاف اليه ، بيا دا عطف په ماقبل .

فَإِنَّ كُلَّ هَذِهِ خَوَاصُ الْفِعْلِ ، وَ مَعْنَى الْإِخْبَارِ بِهِ أَنْ يَكُوْنَ مَحْكُوْمًا بِهِ ، وَ يُسَمَّى فِعْلًا بِاسْمِ أَصْلِهِ ، وَ هُوَ الْمَصْدَرُ ؛ لِأَنَّ الْمَصْدَرَ هُوَ فِعْلُ الْفَاعِلِ حَقِيْقَةً .

ترجمه : پس بیشک دا خواص د فعل دی ، او معنی د اخباربه دا ده : چې وی دا فعل محکوم به ، او مسمی کولے شی فعل په نوم د أصل خپل سره ؛ ځکه مصدر هم دغه فعل د فاعل وی حقیقةً .

تشریح : قوله : **فانّ کلّ هذه خواص الفعل** ... غرض د مصنفؒ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې تا یو په خواصو د فعل کښې اخباربه ذکر کړو او دا هغه خاصه د فعل ده چې په ټولو أقسامو د فعل کښې راځی یعني خاصه شامله ده عند النحات ، او بعض په أقسامو د فعل کښې أمر هم دے او په أمر سره اخبار ورکول نه دی صحیح ؛ ځکه اخبار راځی په جمله خبریه کښې او أمر خو قسم د جملې انشائیه دے ؟ نو مصنفؒ جواب وکړو ، حاصل د **جواب** دا دے : چې دلته د اخباربه دا معنی نه ده مراد چې خبر ورکول په دې سره ، بلکه دا کنایه ده د دې نه چې دا مسند او محکوم به واقع کیږی برابره خبره ده که قسم د انشاء وی او که د اخبار وی .

قوله : **ویسمی فعلًا باسم أصله وهو المصدر** ... غرض د ماتنؒ د دې عبارت نه وجه د تسمیه د فعل ذکر کول دی په فعل سره ، چې فعل ته فعل ولې وائی ؟ خو په دې خبره د فهم د راتلو د پاره مخکښې دوه خبرې پیژندل پکار دی : ۱ـ **یوه خبره دا ده** : چې د فعل استعمال په دوه طریقو سره کیږی یو په کسره د " **فاء** " سره " **فِعْلٌ** " ، او دویم په فتحه د " فاء " سره " **فَعْلٌ** " ، او " **فِعْلٌ** " چې په کسره د " **فاء** " سره وی د دې دوه معانې دی : یو په معنی د کار سره ، او په دې معنی سره مشهور هم دے او بل په معنی د مصدری سره چې کردن دے یعني کول او دا معنی یې غیر مشهوره ده . او په فتحه د فاء سره فعل صرف په معنی مصدری کښې مستعملیږی . ۲ـ **دویمه خبره دا ده** : چې په دیکښې اختلاف دے چې مصدر أصل دے او که فعل أصل دے ؟ نو بصریان وائی : چې مصدر أصلٌ دے ؛ ځکه چې اشتقاق د ټولو أشیاؤ د ده نه کیږی او فعل یې فرع ده ، او کوفیان وائی : چې فعل أصل دے اشتقاق د ټولو أشیاؤ د ده نه کیږی ، او مصدر یې فرع ده . او تفصیل د دې مسألې په مراح الأرواح او علم الصیغه کښې ذکر دے خو مختار عند المصنفؒ مذهب د بصریانو دے نو وجه د تسمیه د بصریانو ذکر کوی . حاصل دا دے : چې نحویانو د فعل تعریف داسې کړے دے چې « **کلمة تدل** ، انخ » نو دا مفهوم د فعل دے ، او د دې مفهوم د پاره نحاتو لفظ د فعل وضع کړے دے اوس د لفظ د دې مفهوم سره څه مناسبت دے چې دا فعل د معنی مصدری نه دې معنی ته نقل شو ؟ نو مصنفؒ هغه

مناسبت ذكر كوى چې د دې لفظ د فعل او د دغه معنى د يو بل سره مناسبت د كل او جزء دے په دې شان سره چې فعل په لغت كښې دغه معنى مصدرى او حدث ته وائى ، او دا فعل اصطلاحى مركب دے د أمور ثلاثو نه چې حدث ، نسبت ، او زمان دى . نو حدث يو جزء دے د معنى اصطلاحى د فعل نه نو دا تسميه د كل شوه په اسم د جزء سره ، يا تسمية المتضمّن باسم المتضمَّن ، يا د قبيلې د تسمية الفرع باسم الأصل سره ده ، او ديته ئې اشاره كړې ده په دې عبارت سره چې " **باسم أصله** " ؛ ځكه چې أصل د دې فعل مصدر دے ؛ ځكه حقيقةً فعل د فاعل دغه مصدر دے ، او په زمان او نسبت سره ئې ورلره تسميه نه ده ايښودې ؛ ځكه هغه د دې د پاره أصل نه دى .

تركيب : " **فاء** " تفصيليه " **إنّ** " حرف د حروف مشبه بالفعل نه " **كلّ** " مضاف " **هذا** " اسم اشاره " **هاء** " ضمير (چې راجع دے هر واحد د أقسام مذكورۆ ته) دا اسم اشاره ، مشاراليه سره د اسم اشارې نه دا مضاف اليه شو د پاره د " **كلّ** " مضاف ، " **كل** " مضاف سره د مضاف اليه نه دا اسم شو د پاره د " **إنّ** " ، " **خواص** " مضاف " **الإسم** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو د پاره د " **إنّ** " ، " **إنّ** " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **واو** " استئنافيه " **معنى** " مضاف ، **الاخبار** " مصدر " **به** " جار مجرور متعلق دے په " **الإخبار** " پورې ، دا " **الاخبار** " سره د متعلق نه دا مضاف اليه شو د پاره د " **معنى** " ، " **معنى** " مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتداء شوه . " **أن** " مصدريه ناصبه " **يكون** " فعل ناقص په دې كښې ضمير پټكښې دے هغه ئې اسم شو " **محكومًا** " صيغه د اسم مفعول ، " **به** " جار مجرور متعلق دے په " **محكومًا** " پورې ، " **محكومًا** " اسم مفعول سره د متعلق نه دا خبر شو د پاره د " **يكون** " ، " **يكون** " اسم سره د خبر خپل نه دا جمله فعليه په تاويل د مفرد سره خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **واو** " استئنافيه " **يسمى** " فعل مضارع مجهول ضمير پټكښې دے راجع دے فعل اصطلاحى ته هغه نائب فاعل ، " **فعلًا** " مفعول به ، " باء " جار " **اسم** " مضاف أصل مضاف اليه مضاف ، " **هاء** " ضمير مضاف اليه شو ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شو د پاره د مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **يسمى** " فعل پورې ، " **يسمى** " فعل سره د نائب فاعل او سره د مفعول به او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه . " **واو** " استئنافيه " **هُوَ** " مبتداء " **المصدر** " خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **لام** " (تعليليه) حرف جر " أنّ " حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړى " **المصدر** " اسم شو د " **أنّ** " ، " **هو** " مبتداء " **فعل** " مصدر مضاف " **الفاعل** " مضاف اليه " **حقيقةً** " مفعول فيه د پاره د " **فعل** " مصدر مضاف ، بيا مصدر مضاف سره د مضاف اليه نه او مفعول فيه نه دا خبر

شو د پاره د " هو " مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه خبر شو د پاره د " انّ " ، انّ " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسميه خبريه مجرور د جار شو ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو تر فعل مقدر پورې ، نو تقدير د عبارت داسې شو چې « انما كان الفعل اسماً للمصدر لأن المصدر » الخ .

وَحَدُّ الْحَرْفِ : كَلِمَةٌ لَاتَدُلُّ عَلَى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا ، بَلْ تَدُلُّ عَلَى مَعْنًى فِيْ غَيْرِهَا نَحْوُ : " مِنْ " فَإِنَّ مَعْنَاهَا الابتداء ، وَهِيَ لَاتَدُلُّ عَلَيْهِ إِلَّا بَعْدَ ذِكْرِ مَا مِنْهُ الْإِبْتِدَاءُ كَـ " الْبَصْرَةِ " ، وَ " الْكُوْفَةِ " تَقُوْلُ : " سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ إِلَى الْكُوْفَةِ " .

ترجمه : او تعريف جامعه مانعه د حرف دا دے : چې دا يوه کلمه ده چې دلالت نه کوي په معنى باندې په اعتبار د نفس د دې سره ، بلکه دلالت کوي په معنى باندې په اعتبار د غير سره لکه مِنْ شو ؛ ځکه معنى د دې ابتداء ده ، او دا دلالت نه کوي په دې ابتداء باندې مگر پس د ذکر کولو د هغه شي نه چې د هغې نه ابتداء وي . لکه بصره او کوفه ، چې ته وائې : ماسفر وکړو د بصرې نه تر کوفې پورې .

تشريح : قوله : **وحدّ الحرف كلمة لاتدل على معنى** ... هر کله چې فارغ شو مصنف ﷺ د بيان د تعريف د اسم او فعل او علاماتو د دې دواړو نه نو اوس ئې شروع وکړه په قسم ثالث د کلمه کښې چې حرف دے نو د هغې تعريف کوي او علامات ئې بيانوي . ده تعريف وکړو او په هر تعريف کښې لابدى وي د جنس او فصل نه . « **كلمة** » جنس قريب دے په ديکښې اسم ، فعل ، او حرف درې واړه داخل شو ، او « **لاتدل على معنى فى نفسها** » سره ترې فعل ، اسم خارج شو ؛ ځکه هغه دلالت کوي په معنى فى نفسها باندې . او د « **فى نفسها** » معنى مونږ وکړه چې په اعتبار د نفس د دې سره . په دې سره مونږ دفع د سوال وکړه ، **سوال** دا دے : چې تا کوم تعريف د حرف وکړو چې دا يوه کلمه ده چې دلالت نه کوي په خپله معنى باندې بلکه دلالت کوي په معنى د بل چا باندې نو چې په خپله معنى باندې دلالت نه کوي نو د بل په معنى به څنګه دلالت وکړي ؟ نو مونږ **جواب** وکړو : چې دا " فى " دلته د پاره د اعتبار ده يعني چې دلالت نه کوي په معنى خپله په اعتبار د نفس د دې سره بلکه دلالت چې کوي په خپله معنى باندې نو په اعتبار د غير سره ئې کوي مثال لکه " مِنْ " شو . قوله : **فانّ معناها الابتداء** ... ؛ ځکه معنى د " مِنْ " ابتداء ده الخ . يعني د " مِنْ " معنى ابتداء ده خو چې فقط " مِنْ " " مِنْ " وئيل کيږي ، او د کوم شي نه چې ابتداء کيږي هغه ورسره ذکر نشي نو د " مِنْ " نه معنى د ابتداء نه مراد کيږي ، بيا يوه ابتداء مطلقه ده ، او بله ابتداء مقيده ، نو ابتداء مطلقه د " مِنْ " معنى نه ده ، بلکه ابتداء مقيده د " مِنْ " معنى ده . ابتداء مقيده وئيل کيږي د يو ځائ نه په يو

شي شروع کولو ته لکه مثلاً څوک سفر کوی او سفر د يو خاص ځای نه شروع کوی نو دا ابتداء مقیده ده ، او دا د مِنْ معنی ده خو مِنْ په دې معنی باندې دلالت نه کوی تر څو چې مبتداء به ، او مبتداء منه نه وی ذکر شوې لکه " **بصره** " او " **کوفه** " شوه مثلاً .

قوله : **تقول سرت من البصرة الى الكوفة** ... ما سفر وکړو د بصرې نه تر کوفې پورې یعني ابتداء د سفر زما د بصرې نه وه او انتهاء ئې په کوفه باندې وه . اوس د " **مِنْ** " معنی ده ابتداء او د " **إلى** " معنی ده انتهاء خو که فقط " **مِنْ** " او " **إلى** " وائی ، او بصره او کوفه ورسره نه ذکر کوې نو د " **مِنْ** " نه د ابتداء معنی نه معلومیږی او د " **إلى** " نه د انتهاء معنی نه معلومیږی .

ترکیب : " **واو** " حرف عاطف " **حدّ** " مضاف " **الحرف** " مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتداء " **کلمة** " موصوف " **لا** " نافیه " **تدل** " صیغه فعل مضارع معلوم ضمیر پکښې راجع دے " **کلمة** " ته هغه ئې فاعل ، " **على** " جار " **معنًى** " موصوف " **فى** " حرف جر " **نفس** " مضاف " **هاء** " ضمیر مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره مجرور نه دا په اعتبار د متعلق سره صفت شو د پاره د موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا بیا مجرور شو د پاره د " **على** " جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **لاتدل** " پورې ، " **لاتدل** " فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعلیه معطوفة علیها ، " **بل** " حرف عطف " **تدل** " صیغه فعل مضارع معلوم " **على** " حرف جر " **معنًى** " موصوف " **فى** " حرف جر " **غیر** " مضاف " **هاء** " ضمیر د مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق دے په " **تدلّ** " پورې ، " **تدل** " فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه معطوفه ، جمله معطوفه سره د معطوفة علیها نه دا صفت شو د پاره د موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا خبر د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه . " **نحو** " مضاف " **مِنْ** " (مراد ترې لفظ د مِنْ دے) مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا خبر شو د پاره د مبتداء محذوف چې " **مثاله** " دے مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه . " **فاء** " تفصیلیه " **إنّ** " حرف د حروف مشبه بالفعل نه " **معناها** " مضاف مضاف الیه دا اسم شو د " **إنّ** " د پاره " **الابتداء** " خبر د " **إنّ** " ، " **إنّ** " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسمیه خبریه معطوفة علیها شوه . " **واو** " حرف عطف " **هى** " مبتداء " **لاتدل** " فعل ضمیر پکښې دے هغه ئې فاعل ، " **علیه** " جار مجرور متعلق دے په " **لاتدل** " پورې ، " **الّا** " حرف استثناء " **بعد** " مضاف " **ذکر** " مضاف الیه مضاف " **ما** " موصوفه یا موصوله " **منه** " جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم " **الابتداء** " مبتداء مؤخره ، بیا مبتداء مؤخره سره د خبر مقدم نه دا یا صفت شو د پاره د ما موصوفه ، یا صله د دغه ما چې کله موصوله شی ، موصوف سره د صفت یا صله سره د موصول نه دا مضاف الیه شو د پاره د " **ذکر** " مضاف ،

مضاف سره د مضاف اليه نه دا بيا مستثنى مفرغه شوه د پاره د مستثنى منه مقدر (چې فى وقت من الأوقات ده) ، بيا مستثنى مفرغه سره د مستثنى مقدر نه دا متعلق شو په " لاتدل " پورې ، بيا فعل سره د فاعل او سره د متعلقين نه دا خبر د پاره د " هى " مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه معطوفه (دا ممثل شو) . " كاف " په معنى د " مثل " مضاف " البصرة " معطوف عليه ، " واو " حرف عطف " الكوفة " معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا مضاف اليه شو د پاره د " مثل " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو د پاره د مبتداء محذوف چې " مثاله " دے ، " مثلاً " مفعول مطلق دے د پاره د فعل مقدر ، فعل سره د فاعل او مفعول مطلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه . " تقول " فعل فاعل ، فعل سره د فاعل نه دا قول شو ، " سرت " فعل فاعل " من " حرف جر " البصرة " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " سرت " پورې ، " إلى " حرف جر " الكوفة " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا هم متعلق شو په " سرت " پورې ، " سرت " فعل سره د فاعل او متعلقين نه دا جمله فعليه مقوله شوه د پاره د قول ، قول سره د مقولې نه دا جمله فعليه قوليه شوه .

وَعَلَامَتُهُ أَنْ لَّا يَصِحَّ الْإِخْبَارُ عَنْهُ ، وَ لَا بِهِ ، وَأَنْ لَّا يَقْبَلَ عَلَامَاتِ الْأَسْمَاءِ ، وَ لَا عَلَامَاتِ الْأَفْعَالِ .

ترجمه : او علامه د حرف دا ده : چې نه صحيح كيږى خبر وركول د ده نه او نه په ده سره ، او بل دا چې نه به قبلوى علامات د اسماؤ او نه علامات د أفعال .

تشريح : قوله : **وعلامته أن لايصح الأخبار عنه ...** غرض د مصنف ﷫ اوس علامه د حرف ذكر كوى ، نو يوه علامه ئې دا ده : چې نه صحيح كيږى خبر وركول د ده نه او نه په ده سره ، يعني دا نه مسنداليه واقع كيږى او نه مسند واقع كيږى ؛ ځكه چې مسند او مسند اليه راځى په كلمه مستقله كښې او حرف كلمه غير مستقله ده . قوله : **وأن لايقبل علامات الأسماء ...** او بله علامه ئې دا ده : چې نه قبلوى علامات د أسماؤ او أفعالو . **سوال** : په علاماتو د أسماؤ او افعالو كښې خو اخبار عنه او اخبار به هم وو نو دا ئې مستقلاً ولې ذكر كړه ؟ **جواب** : دا تعميم بعد التخصيص دے او دا په كلام د عرب كښې شائع او كثير دے ، يعني اول ئې خاص علامې ذكر كړې او بيا ئې تعميم وكړو ټولو علاماتو ته . او بل په دې كښې اشاره ده ديته چې كوم علامات مخكښې ذكر شوى دى د أسماؤ او د أفعالو دا خواص دى او خواص جمع د خاصة ده ، او خاصه په دوه قسمه ده : ١ ـ شامله . ٢ ـ غير شامله . شامله ديته وائى : چې ټولو أفرادو ته شامله وى او نه منفک كيږى د شى نه او غير شامله ديته وائى : چې ټولو ته شامله نه وى او منفک كيږى د شے نه ، نو دلته د أسماؤ او د أفعالو دا خواص أكثر غير شامله دى ، البته

اخبارعنه او اخبار به پکښې خاصتين شاملتين دی ، نو دا ئ ؛ څکه جدا ذکر کړې او خاصې غير شاملې ئ ذکر کړې په دې عبارت سره چې " و أن لا يقبل " الخ .

ترکيب : " **و علامته** " مضاف مضاف اليه دا مبتداء ، " **أن** " ناصبه مصدريه " **لا** " نافيه " **يصح** " صيغه فعل مضارع معلوم " **الاخبار** " مصدر " **عنه** " جار مجرور معطوف عليه " **واو** " حرف عطف " **لا** " نافيه " **به** " جار مجرور معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا متعلق دے په مصدر " **الاخبار** " پورې ، بيا " **الاخبار** " مصدر سره د متعلق نه دا فاعل شو د پاره د " **يصح** " فعل ، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه خبريه په تاويل د مفرد سره معطوف عليه . " **واو** " حرف عطف " **أن** " ناصبه مصدريه " **لا** " نافيه " **يقبل** " فعل مضارع معلوم ضمير پکښې راجع دے حرف ته دا فاعل شو ، " **علامات** " مضاف " **الأسماء** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا معطوف عليه شو ، " **واو** " حرف عطف " **لا** " نافيه ، " **علامات الأفعال** " مضاف مضافِ اليه ، دا معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا مفعول به شو د " **لايقبل** " فعل د پاره ، فعل سره د فاعل او مفعول به دا جمله فعليه په تاويل د مفرد سره عطف په " **أن لايصح** " باندې ، بيا معطوف سره د معطوف عليه نه دا خبر د پاره د مبتداء چې " **علامته** " دے ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

وَلِلْحَرْفِ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ فَوَائِدُ كَالرَّبْطِ بَيْنَ الْإِسْمَيْنِ نَحْوُ : " زَيْدٌ فِي الدَّارِ " ، أَوِ الْفِعْلَيْنِ نَحْوُ : " أُرِيْدُ أَنْ تَضْرِبَ " ، أَوِ اسْمٍ وَفِعْلٍ كَـ " ضَرَبْتُ بِالْخَشَبَةِ " ، أَوِ الْجُمْلَتَيْنِ نَحْوُ : " إِنْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَكْرَمْتُهُ " ، وَغَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْفَوَائِدِ الَّتِيْ تَعْرِفُ فِي الْقِسْمِ الثَّالِثِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى .

ترجمه : او د حرف د پاره په کلام د عرب کښې ډيرې فائدې دی لکه ربط بين الاسمين شو لکه " زيد في الدار " ، او يا ربط بين الفعلين لکه " أريد أن تضرب " ، او دغسې ربط په مابين د اسم او فعل کښې لکه " ضربت بالخشبة " ، يا د دوؤ جملو په درميان کښې لکه " ان جاءني الخ " دغسې نور هم ګڼر فوائد دی چې په قسم ثالث کښې به ئ وپيژنې ان شاء الله تعالى .

تشريح : قوله : **وللحرف في كلام العرب فوائد** ... غرض د مصنف ﷬ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې هر کله حرف په معنى مستقله او مقصوده باندې دلالت نه کوي نو غرض د الفاظو نه خو معانى مقصوده وی نو بيا د دې حرف راؤړلو ته څه ضرورت دے نو مصنف ﷬ جواب وکړو حاصل د **جواب** دا دے : چې صحيح ده چې حرف په خپله معنى مقصوده او مستقله باندې دلالت نه کوی خو غرض د الفاظو نه فقط معانى مقصوده نه دی ، بلکه کله کله د نورو أغراضو د پاره هم راؤړے شی . او هغه نور أغراض او فوائد په حرف

كښې شته دے پوره تفصيل به ئې ورستو راشي په قسم ثالث كښې ، خو دلته دے د هغې يو څو طريقې ذكركوى بطور مشت نمونه خروار؛ نو څكه وائي: چې "وللحرف فى كلام العرب فوائد".

پس د دينـــــه : " **فوائد** " صيغه د منتهى الجموع ده يعنې ډيرې فائدې دى لكه ربط په مابين د دوه اسمين كښې لكه " **زيد فى الدار** "، " **زيد** " مبتداء " **فى الدار** " خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه . دلته دا زيد او دار دوه اسمين دى ، او ځانله ځانله پراته دى او ته پكښې ربط پيدا كوې نو دا په حرف سره پيدا كيږى چې " **فى** " دے ، او كه دا " **فى** " ذكر نشى نو د " **زيد** " او " **دار** " په مينځ كښې ربط نشته . قوله : **والفعلين** ... او دارنګ حرف راځى د پاره د ربط په مابين د دوه فعلين كښې مثال لكه " **أريد أن تضرب** " (زه اراده لرم چې ته وهل وكړې) اوس دلته " **أريد** " ځانله فعل دے او " **تضرب** " ځانله فعل دے نو كه " **أن** " حرف پكښې ذكر نكړے شى نو د " **أريد** " او " **تضرب** " په مينځ كښې ربط نه راځى .

قوله : **او اسم وفعل** ... او يا ربط راولى په مينځ د اسم او فعل كښې مثال لكه " **ضربت بالخشبة** " دلته " **ضربت** " فعل دے او " **الخشبة** " اسم دے نو ترڅو چې پكښې " **باء** " حرف جر نوى ذكر شوے نو هسې پكښې ربط نه راځى .

قوله : **أو الجملتين** ... او يا ربط راولى په مينځ د دوه جملو كښې لكه " **إن جاءنى زيد أكرمته** " ، دلته " **جاءنى زيد** " ځانله جمله ده او " **أكرمته** " ځانله جمله ده ، د دې په درميان كښې ربط نشته ترڅو چې پكښې حرف نه وى ذكر شوے .

قوله : **وغير ذلك** ... او د دې نه علاوه نور فوائد پكښې هم شته چې په قسم ثالث كښې به راشى إن شاء الله تعالى .

تركيب : " **واو** " استنافيه " **لام** " جاره " **الحرف** " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا ظرف مستقر په إعتبار د متعلق سره خبر مقدم ، " **فى** " جار " **كلام** " مضاف " **العرب** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه په اعتبار د متعلق سره دا صفت مقدم د پاره د موصوف مؤخر چې " **فوائد** " دے ، او " **فوائد** " صيغه منتهى الجموع " **كاف** " جار " **ربط** " مصدر مضاف بين مضاف اليه مضاف الاسمين مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا معطوف عليه ، " **او** " حرف عطف " **الفعلين** " دا ورسته تول معطوفات دى ، نو " **الربط** " سره د تولو معطوفاتو نه دا مجرور شو د پاره د " **كاف** " جاره ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **فوائد** " پورې ، " **فوائد** " موصوف سره د صفت او سره د متعلق نه دا مبتداء مؤخره ، مبتداء مؤخر سره د خبر مقدم نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **نحو** " مضاف " **زيد** " مبتداء " **فى الدار** " په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم ، مبتداء سره د خبر مقدم نه دا جمله اسميه په تاويل د مفرد سره مضاف اليه د پاره د " **نحو** " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه

دا خبر شو د پاره د مبتداء محذوف چي " **مثاله** " دے ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه ده . " **نحو** " مضاف " **أريد** " صيغه واحد متكلم فعل مضارع معلوم ضمير پکښي مستتر دے چي تعبير تري کيدے شي په " **أنا** " سره هغه يځ فاعل " **أن** " ناصبه مصدريه " **تضرب** " صيغه فعل مضارع معلوم ضمير پکښي دے چي تعبير تري کيدے شي په " **أنت** " سره هغه يځ فاعل ، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه خبريه په تاويل د مفرد سره مفعول به د " **أريد** " ، " **أريد** "فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه مضاف اليه شو د پاره د " **نحو** " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو د پاره د مبتداء محذوف چي " **مثاله** " دے ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله فعليه خبريه شوه. "**او اسم وفعل**" دا عطف دی په " **الربط** " باندي (لکه محکښي په ترکيب کښي موثر راوستل) " **كاف** " په معنى د " **مثل** " مضاف ، " **ضربت** " فعل فاعل " **بالخشبة** " جار مجرور دا متعلق شو په " **ضربت** " پوري ؛ " **ضربت** " فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله مضاف اليه شو د پاره د " **مثل** " (کوم چي معنى د کاف ده) مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر د پاره د مبتداء محذوف چي " **مثاله** " دے مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه ده . " **نحو** " مضاف **إنْ** " حرف شرط " **جاء** " فعل ماضى معلوم " **نون** " وقايه ياء ضمير د واحد متكلم مفعول به **زيد** فاعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا فعل شرط شو د پاره د حرف شرط ، فعل شرط سره د حرف شرط نه دا شرط شو ، " **أكرمت** " فعل فاعل " **هاء** " ضمير مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جزاء شوه د پاره د شرط ، شرط سره د جزاء نه دا جمله فعليه شرطيه مضاف اليه شو د پاره د " **نحو** " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر د پاره د مبتداء چي " **مثاله** " دے ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **واو** " حرف عطف " **غير** " مضاف " **ذلک** " مصاف إليه ، مضاف سره د مضاف إليه نه دا مبيَّن ، " **من** " حرف جر " **الفوائد** " موصوف " **التى** " اسم موصول " **تعرف** " فعل فاعل " **فى** " جار " **القسم** " موصوف الثالث صفت ، موصوف سره د صفت نه دا مجرور د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **تعرف** " پورې ، " **تعرف** " فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه دال بالجزاء يا جزاء مقدم ، " **انْ** " شرطيه " **شاء** " فعل " **الله** " ذوالحال " **تعالى** " تري حال ، ذوالحال سره د حال نه دا فاعل شو د پاره د " **شاء** " ، فعل سره د فاعل نه دا فعل شرط شو ، فعل شرط سره د حرف شرط نه شرط شو ، نو شرط سره د دال بالجزاء يا جزاء مقدم نه دا جمله فعليه شرطيه صله شوه د پاره د " **التى** " موصول ، موصول سره د صله نه دا صفت شو د پاره د " **الفوائد** " ، بيا دا موصوف سره د صفت نه دا په اعتبار د متعلق محذوف سره بيان شود پاره د مبيَّن ، او مبيَّن سره د بيان نه عطف شو په هغه " **الربط** " الخ باندي .

وَ يُسَمَّى حَرْفًا ؛ لِوُقُوْعِهِ حَرْفًا أَيْ : طَرَفًا ؛ إِذْ لَيْسَ مَقْصُوْدًا بِالذَّاتِ مِثْلَ الْمُسْنَدِ ، وَ الْمُسْنَدِ إِلَيْهِ .

ترجمه : او حرف ته حرف ؛ ځکه وائي چې (حرف په لغت کښې طرف ته وائي) دا په طرف کښې واقع کيږي ؛ ځکه دا حرف مقصود بالذات نه وي پشان د مسند او مسند اليه .

تشريح : قوله : **ويسمى حرفًا** ... غرض د مصنفؒ د دې عبارت نه وجه د تسميه د حرف ذکر کول دي په حرف سره چې حرف ته حرف ولې وائي . نو دا ورته ځکه وائي چې حرف په لغت کښې طرف ته وائي او دا هم په طرف کښې واقع کيږي . قوله : **اذ ليس مقصودًا** ... غرض د ماتنؒ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې ته وائې حرف ته حرف ؛ ځکه وائې چې دا په طرف کښې واقع کيږي حالانکه زه به درته وښائم چې حرف به وي او په درميان کښې به واقع شوے وي لکه " **زيد في الدار** " ؟ نو مصنفؒ جواب وکړو ، حاصل د **جواب** دا دے : چې د طرف مقصد دا نه دے چې دا به په جمله کښې په طرف کښې پروت وي ، بلکه د طرف معنى ده : مقابل يعني دا به مقابل د اسم او فعل واقع کيږي په دې شان سره چې اسم او فعل مستقل دي او دا غير مستقل دے ؛ ځکه چې دا مقصود بالذات نه دے پشان د مسند او مسند اليه . **سوال** : چې هر کله د حرف معنى طرف شوه او د طرف معنى مقابل دے نو مقابل چې څنګه حرف دے چې غير مستقل دے او اسم او فعل مستقل دي نو اسم او فعل هم په طرف کښې دي او د طرف مقابلين دي نو دا نوم چې دې حرف ته وائيو نو اسم او فعل ته ئ ولې نه وائيو ؟ **جواب** : جامعيت او مانعيت په وجه د تسميه کښې ضروري نه دے ، بلکه جامعيت او مانعيت په تعريفاتو کښې ضروري دے .

ترکيب : " **واو** " حرف عطف (يا استنافيه) " **يسمى** " فعل ماضى مجهول ضمير پکښې دے هغه ئ نائب فاعل " **حرفًا** " مفعول به " **لام** " جاره " **وقوع** " مصدر مضاف " **هاء** " ضمير مضاف اليه " **في الکلام** " جار مجرور متعلق شو په " **وقوع** " مصدر پورې " **حرفًا** " مفسَّر " **أي** " حرف تفسير " **طرفًا** " مفسِّر ، مفسَّر سره د تفسير نه دا مفعول به شوه د پاره د " **وقوع** " مصدر ، بيا " **وقوع** " مصدر سره د مضاف اليه ، متعلق او مفعول به نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **يسمى** " فعل مجهول پورې . " **إذ** " مضاف " **ليس** " فعل ناقص دے اسم مرفوع خبر منصوب غواړي ضمير پکښې دے راجع دے حرف ته هغه ئ اسم ، " **مقصودًا** " صيغه اسم مفعول " **بالذات** " جار مجرور متعلق دے په " **مقصودًا** " پورې ، اسم مفعول سره د متعلق نه شبه جمله خبر شو د پاره د " **ليس** " فعل ناقص ، نو " **ليس** " فعل ناقص سره د اسم او خبر نه دا جمله فعليه مضاف اليه شو د پاره د " **إذ** " مضاف ، مضاف سره د

مضاف اليه نه دا مفعول فيه شو د پاره " **يسمى** " فعل ، فعل سره د نائب فاعل ، مفعول به ، مفعول فيه ، او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه . " **مثل** " مضاف " **المسند** " معطوف عليه " **واو** " حرف عطف " **المسند** " صيغه اسم مفعول " **إليه** " جار مجرور په اعتبار د متعلق سره نائب فاعل د پاره د " **المسند** " ، نو " **المسند** " سره د نائب فاعل نه دا معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا مضاف اليه شو د پاره د " **مثل** " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر د پاره د مبتداء محذوف چې " **مثاله** " دے ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

فصلٌ الْكَلَامُ لَفْظٌ تَضَمَّنَ كَلِمَتَيْنِ بِالْإِسْنَادِ ، وَ الْإِسْنَادُ نِسْبَةُ إِحْدَى الْكَلِمَتَيْنِ إِلَى الْأُخْرَى بِحَيْثُ تُفِيْدُ الْمُخَاطَبَ فَائِدَةً تَامَّةً يَصِحُّ السُّكُوْتُ عَلَيْهَا نَحْوُ : " زَيْدٌ قَائِمٌ " ، وَ "قَامَ زَيْدٌ" ، وَ يُسَمَّى جُمْلَةً .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د كلام كښې ، كلام داسې لفظ دے چې متضمن وى كلمتين لره په سبب د هغه تضمن باندې چې حاصل وى په نسبت كولو سره . او اسناد نسبت د يو د دوه كلمو دے بلې ته په داسې شان سره چې فائده رسوى مخاطب ته فائده تامه داسې فائده تامه چې صحيح وى سكوت په هغې باندې لكه زيد قائم ، او قام زيد ، او دې ته جمله هم وائى .

تشريح : قوله : **فصل الكلام لفظ** ... د دې ځائ پورې د مقدمې دوه فصلونه ذكر شو چې فصل اول په بيان د تعريف ، موضوع ، او غرض كښې وو . او فصل ثانى په بيان د تعريف د كلمې او د أقسامو د هغې كښې وو او دا فصل ثالث په تفصيل د كلام كښې دے ، په دې فصل كښې به پنځه خبرې كوى : ١ـ تعريف د كلام . ٢ ـ مثال د كلام . ٣ ـ أقسام د كلام . ٤ ـ اعتراض . ٥ ـ جواب . **دويم ربط دا دے** : چې هر كله فارغ شو مصنفؒ د بيانولو د يو قسم د موضوع نه چې كلمه ده نو شروع يې وكړه په بيانولو د بل قسم د موضوع كښې چې كلام دے او وجه د تقديم د كلمې مخكښې ذكر شوې ده .

پس د دينـــــــه : " **كلام** " په لغت كښې " **گفتن** " يعني : « **خبرو كولو** » ته وائى ، عام د دې نه كه په يوه كلمه وى او كه په دوه كلمو وى او كه په موضوع وى او كه په مهمل وى . او په اصطلاح د علم النحو كښې « **لفظ تضمن كلمتين بالاسناد** » ته وائى يعني دا يو لفظ دے چې متضمن وى دوه كلمو لره دا كلمتين عام دى كه حقيقةً وى او كه حكمًا وى او كه لفظًا وى او كه تقديرًا وى . قوله : **بالإسناد** ... په سبب د هغه تضمن باندې چې حاصل وى په نسبت كولو سره . " **لفظ** " د كلام د پاره جنس قريب دے الفاظ مهمله ، كلمات ، مركبات غير كلاميه ټول پكښې داخل شو . او " **تضمن كلمتين** " چې يې اوے نو په دې سره ترې مفرده هغه الفاظ مهمله خارج شو لكه " **ديز** " ، " **جسق** " ، وغيره شو ، او كلمات مفرده ترې خارج شو لكه "

زيد "، " عمرو "، " بكر "، وغيره . او " بالاسناد " ئ چې اوئ : نو په دې سره ترې مركبات ناقصه خارج شو چې هغې ته مركبات غير كلاميه هم وائى ، او مركبات غير تام ورته هم وائى لكه مركب اضافى ، توصيفى ، بنائى ، منع صرف وغيره ، نو صرف مركب تام پاتې شو . په " تضمن كلمتين " كښې مونږ تعميم وكړو چې دا كلمتين عام دى كه حقيقةً وى او كه حكمًا وى په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، اعتراض دا دے : چې تعريف د كلام دې نه دے صحيح ، ځكه دا جامع نه دے او كوم تعريف چې جامع نه وى هغه صحيح نه وى نو دا تعريف صحيح نه دے، كبرى ظاهره ده ؛ ځكه جامعيت او مانعيت په تعريفاتو كښې شرط دے ، او دليل د صغرى دا دے : چې دا تعريف ؛ ځكه جامع نه دے چې " جسق مهمل " ته خلق كلام وائى حالانكه په دې كښې كلمتين نشته ، بلكه يوه كلمه ده پكښې چې مهمل دے ، او " جسق " كلمه نه ده ؛ ځكه كلمه لفظ موضوع ته وائى ، او " جسق " لفظ مهمل دے . دارنګ د دې تعريف نه خارج شو " زيد قائم أبوه " ديته خلق كلام وائى حالانكه په ديكښې كلمتين نشته ، بلكه يوه پكښې كلمه ده او بل پكښې كلام دے نو مونږ جواب وكړو : چې كلمتين عام دى كه حقيقةً وى او كه حكمًا وى نو په دې " جسق مهمل " كښې اګر چې " جسق " حقيقةً كلمه نه ده ليكن حكمًا كلمه ده ؛ ځكه چې دا په تاويل د " هذا اللفظ مهمل " سره دے ، او په " زيد قائم أبوه " كښې هم كلمتين دى ؛ ځكه چې دا په تاويل د " زيد قائم الأب " سره دے نو " زيد " يوه كلمه ده او " قائم الأب " بله كلمه ده . سوال : " قائم الأب " ته كلمه ولې نه دى ويلي ؛ ځكه " قائم " مضاف دے او " الأب " مضاف اليه دے او مضاف مضاف اليه مركب وى ؟ جواب : مضاف اليه خارج وى د حكم نه لكه صفت خارج وى د حكم د موصوف نه او مقصود مضاف او موصوف وى نو دلته دې أب لره څه اعتبار نشته ، بلكه اعتبار دې " قائم " لره دے او هيڅ شك نشته چې " قائم " كلمه ده . بل پكښې مونږ دا تعميم وكړو چې دا كلمتين عام دى لفظًا وى او كه تقديرًا وى په دې سره دفع د بل اعتراض وشوه ، اعتراض دا دے : چې تا كوم تعريف د كلام وكړو دا نه دے صحيح ؛ ځكه دا جامع نه دے ، او كوم تعريف چې جامع نه وى هغه باطل وى نو دا تعريف هم باطل دے ، كبرى ظاهره ده ، او دليل د صغرى دا دے : چې دا تعريف ؛ ځكه جامع نه دے چې خارج شو د دې نه اِضْرِبْ ؛ ځكه چې خلق ديته كلام وائى حالانكه ديكښې كلمتين نشته ، بلكه يوه كلمه ده ؟ جواب : دا كلمتين عام دى كه لفظًا وى او كه تقديرًا وى نو اِضْرِبْ اګر چې په لفظ كښې يوه كلمه ده خو تقديرًا دوه كلمې دى ، يو اضْرِبْ دے او بل پكښې ضمير مستتر دے چې تعبير ترې كولے شي په أَنْتَ سره . سوال : ته وائى چې كلام ديته وائى چې متضمن وى كلمتين لره نو كلام به متضمن وى او كلمتين به متضمَّن وى ، او كلام خو څه بل شے نه دے بلكه دغه كلمتين دى نو دا خو لازم شو اتحاد

په متضمِن او متضمَن كښې او اتحاد بين المتضمِن والمتضمَن ناروا دے بلكه د دې مغائرت ضروري دے؟ **جواب** : په متضمِن او متضمَن كښې فرق شته ؛ ځكه "**زيد قائم**" ته كلام وائى خو په دې حيثيت سره چې د دې دا هيئت مجتمعه واخلې او متضمَن هم دى په دې حيثيت سره چې ځانله ځانله ئې واخلې بغير د هيئت اجتماعيه نه يعني چې انفرادًا انفرادًا ئې واخلې ، يا "**زيد قائم**" ته كلام هله وائى چې دا كلمتين مع الاسناد وى نو په دغه وقت كښې متضمِن دے او كله چې ئې فقط كلمتين واخلې نو بيا متضمَن دے او په دې كښې فرق شته ؛ ځكه چې په يو كښې "**إسنادًا**" قيد شته او په بل كښې نشته .

قوله : **و الإسناد نسبة إحدى الكلمتين** ... "**إسناد**" په لغت كښې ددې لګولو يا نسبت كولو ته وائى ، او د دوې په اصطلاح كښې « **نسبة إحدى الكلمتين إلى الأخرى** » : **ترجمه ئې دا ده** : چې دا نسبت د يو د دوه كلمو دے بلې ته په داسې شان سره چې فائده رسوى مخاطب ته فائده تامه . **د فائدې تامې مقصد دا دے** : چې په مقصود أصلى كښې مخاطب د بل شى منتظر پاتې نشى . قوله : **يصحّ السّكوت عليها** ... او صحيح وى سكوت په دغه فائده باندې سكوت د متكلم يا سكوت د مخاطب . "**نسبة إحدى الكلمتين**" ئې چې ووے : نو په دې سره ئې احتراز وكړو د كلمې نه ؛ ځكه په هغې كښې نسبت نه راځى . او "**تفيد المخاطب فائدةً تامةً**" ئې چې ووے : په دې سره ئې احتراز وكړو د مركب [redacted] نه ؛ ځكه مركب ناقص مخاطب ته فائده تامه نه رسوى بلكه مخاطب منتظر د بلې خبرې وى . او دا "**يصح السكوت**" يا د ماقبل تعريف سره تعلق ساتى او يا د فائدې تامې تفسير دے مثال لكه "**زيد قائم**" چې زيد ځانله كلمه ده ، او "**قائم**" ځانله كلمه ده نو چې د "**زيد**" نسبت "**قائم**" ته وشو ، او "**زيد قائم**" اوئيلے شو نو مخاطب ته ئې فائده تامه ورسيده هغه فائده تامه دا ده : چې مخاطب د دې قول قائل ته صادق يا كاذب وئيلے شى كه په نفس الأمر كښې "**زيد**" ولاړ وو نو صادق او كه نه وو ولاړ نو كاذب شو او مخاطب د بل شى منتظر نه ګرځى او په "**قام زيد**" كښې د "**قام**" نسبت شوے دے "**زيد**" ته نو "**قام**" فعل دے او "**زيد**" فاعل دے "**قام**" يوه كلمه ده او "**زيد**" بله كلمه ده . نو مخاطب ته فائده تامه رسيدلې ده د بل شى منتظر نه ګرځى . او دوه مثالونه ئې ذكر كړل يو مثال د جملې اسمي دے او بل د جملې فعلي دے په خلاف د "**غلام زيد**" نه چې مركب ناقص دے دا مخاطب ته فائده تامه نه رسوى د متكلم د پاره په هغې باندې سكوت نه صحيح كيږى لكه مثلًا ته اوائى : چې "**غلام زيد**" (غلام د زيد) نو مخاطب ته فائده تامه نه رسى ترڅو چې ورسره بل لفظ نه وى ذكر كړے چې "**قائم**" ، "**قاعد**" ، "**ذاهب**" وغيره دى .

قوله : **ويسمى جملة** ... غرض د ماتن‌ﷺ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې تا زيد قائم ته كلام اوے حالانكه خلق خو ديته جمله وائى ؟ نو مصنف‌ﷺ جواب وكړو

، حاصل د جواب دا دے : چې دا اعتراض به تا هله كولے چې د جملې او كلام په مينځ كښې منافات وے يعني دا دواړه جدا جدا وے ، ليكن دا جدا جدا نه دى ، بلكه ديته كلام هم وائى او جمله ورته هم وائى .

پس د دينــــــــه : په دې خبره كښې اختلاف دے چې د كلام او جملې په مينځ كښې ترادف دے او دا مذهب د مصنفؒ هم دے نو كوم شى ته جمله وئيلے كيږى هغې ته كلام هم وائيل كيږى او كوم شى ته چې كلام وئيل كيږى هغه ته جمله هم وئيل كيږى . او بعض وائى : چې د دې په مينځ كښې ترادف نشته ، بلكه جمله عامه ده او كلام خاص دے په دې شان سره چې په كلام كښې كوم اسناد وى نو دا به مقصود لذاته وى ، نو دا كلام أخص مطلق شو ، او په جمله كښې اسناد عام وى كه مقصود لذاته وى او كه نه وى ، نو جمله أعم مطلق شو ؛ لهذا په مابين د جمله او كلام كښې نسبت د عموم خصوص مطلق شو .

تركيب : " **فصل** " خبر د پاره د مبتداء محذوف چې " **هذا** " دے ، " **هذا** " مبتداء او " **فصل** " ئې خبر مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه . " **الكلام** " مبتداء " **لفظ** " موصوف " **تضمن** " صيغه فعل ماضى معلوم ضمير پټكښې دے هغه ئې فاعل " **كلمتين** " مفعول به " **بالإسناد** " جار مجرور په اعتبار د متعلق سره مفعول مطلق شو د پاره د فعل په اعتبار د موصوف محذوفه سره ، تقدير د عبارت داسې شو " **تضمن كلمتين تضمنًا حاصلًا بسبب إسناد إحدى الكلمتين إلى الأخرى** " ، بيا فعل سره د فاعل او مفعول به او مفعول مطلق نه جمله فعليه صفت د " **لفظ** " شو ، بيا موصوف سره د صفت نه دا خبر د پاره د مبتداء چې " **الكلام** " دے ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . " **و الإسناد** " مبتداء " **نسبة** " مصدر مضاف " **إحدى** " مضاف اليه مضاف " **الكلمتين** " مضاف اليه ، بيا مضاف سره د مضاف اليه نه دا مضاف اليه شو د پاره د " **نسبة** " مضاف ، " **إلى الأخرى** " جار مجرور متعلق شو تر مصدر پورې " **باء** " جار " **حيث** " مضاف " **تفيد** " صيغه فعل مضارع معلوم ضمير پټكښې دے هغه ئې فاعل " **المخاطب** " مفعول به " **فائدة** " موصوف تامة صفت ، موصوف سره د صفت نه دا بيا موصوف ، " **يصح** " فعل مضارع معلوم " **السكوت** " فاعل شو " **عليها** " جار مجرور متعلق تر " **يصح** " پورې ، بيا فعل سره د فاعل او متعلق نه دا صفت شو د پاره د موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا مفعول ثانى شو د پاره د " **تفيد** " ، " **تفيد** " فعل سره د فاعل او مفعولين نه دا جمله فعليه مضاف اليه شو د پاره د " **حيث** " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **نسبة** " مصدر پورې ، بيا " **نسبة** " مصدر سره د مضاف اليه او متعلقين نه دا خبر د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه ممثل شو . **نحو** " مضاف " **زيد** " مبتداء " **قائم** " خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه معطوفة عليها ،

واو " حرف عطف " يسمی " فعل مضارع مجهول ضمیر پکښې دے هغه یٔ نائب فاعل ، " جملةً " مفعول به ، فعل سره د نائب فاعل او مفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه معطوفه .

فَعُلِمَ أَنَّ الْكَلَامَ لَا يَحْصُلُ إِلَّا مِنْ إِسْمَيْنِ نَحْوَ : " زَيْدٌ قَائِمٌ " ، وَيُسَمَّى جُمْلَةً إِسْمِيَّةً ، أَوْ مِنْ فِعْلٍ وَ إِسْمٍ نَحْوَ : " قَامَ زَيْدٌ " ، وَيُسَمَّى جُمْلَةً فِعْلِيَّةً إِذْ لَا يُوجَدُ الْمُسْنَدُ ، وَالْمُسْنَدُ إِلَيْهِ مَعًا فِي غَيْرِهِمَا ، وَلَابُدَّ لِلْكَلَامِ مِنْهُمَا .

ترجمه : (هر کله چې کلام دیته وائی چې متضمن وی کلمتین لره په طریقه د اسناد باندې) نو پس معلوم شوه چې کلام نه حاصلیږی مګر د دوه اسمین نه لکه زید قائم او دیته جمله اسمیه وائی ، یا د اسم او فعل نه لکه قام زید او دیته جمله فعلیه وائی ؛ ځکه مسند او مسندالیه په یوځل په غیر د دې دوه ترکیبونو کښې نه موجودیږی ، او د کلام د پاره خود دې مسند او مسند الیه نه لابدی وی .

تشریح : قوله : **فعلم أنّ الکلام لا یحصل** ... دا فاء دلته جزائیه ده او دا جزاء د شرط مقدر ده أی : (**إذا کان الإسناد مأخوذًا فی الکلام فعلم أن الکلام**) الخ لکه ځکه چې مونږ معنی کښې ولیکل . نو غرض د مصنف رحمه الله د دې عبارت نه أقسام د کلام ذکر کول دی او د هغې په مینځ کښې حصر ذکر کول دی په " ما " او " إلّا " سره ، او دا حصر په " ما " او " إلّا " سره ؛ ځکه ذکر کوی چې نفس احتمالات عقلیه په أقسامو د کلام کښې ډیر دی . د شپږو أقسامو احتمال پکښې شته لیکن صحیح او جائز او معتبر پکښې صرف دوه دی باقی څلور نه دی معتبر . هغه شپږ احتمالات داسې دی چې په کلام کښې دوه کلمې وی او کلمه په درې قسمه ده : اسم ، فعل ، حرف . نو درې احتماله دا دی چې کلام جوړ شی د کلمتین موافق الجنس نه او درې دا دی چې د مختلفین نه جوړ شی هغه شپږ احتمالات دا دی :

اسم اسم . فعل فعل . حرف حرف «» اسم فعل . اسم حرف . فعل حرف .

نو مصنف رحمه الله صرف دوه ذکر کوی ؛ ځکه چې دا صحیح دی او دا باقی نه دی صحیح هسې عقلی احتمالات دی په خارج کښې وجود نه لری . هغه دوه احتماله دا دی : ۱ ـ چې کلام مرکب شی د اسمین نه . ۲ ـ چې کلام مرکب شی د اسم او فعل نه . او باقی څلور نه دی صحیح او دلیل یٔ ورسته ذکر کوی ، حاصل یٔ دا دے : چې په کلام کښې لابدی وی د اسناد نه او اسناد خو عبارت دے د نسبت نه په مینځ د مسند او مسند الیه کښې نو په هر کلام کښې به یو جز مسند وی او بل به مسندالیه وی صرف په مسند هم کار نه کیږی او صرف په مسندالیه باندې هم کار نه کیږی نو په دې شپږو أقسامو کښې چې مونږ سوچ وکړو نو د دې دوه قسمونو نه علاوه په نورو کښې دا شرط نه پوره کیږی صرف په دې دوه قسمونو کښې پوره کیږی ؛

ځکه اسم مسند هم واقع کیږی او مسندالیه هم واقع کیږی ، نو کله چې یو کلام مرکب شی د دوه اسمین نه نو یو به مسند وی او بل به مسندالیه وی . او فعل صرف مسند واقع کیږی نو کله چې کلام مرکب شی د اسم او فعل نه نو اسم به مسندالیه وی او فعل به مسند وی . او که دواړه فعلین وی نو هلته مسند شته خو مسند الیه نشته ؛ نو ځکه ساقط شو او چې دواړه حرفین وی نو نه مسندالیه شته او نه مسند شته ؛ ځکه حرف غیر مستقل دے نه مسند واقع کیږی او نه مسندالیه . او چې د اسم او حرف نه مرکب شی نو که اسم مسندالیه شی نو مسند نشته او که اسم مسند شی نو مسند الیه نشته . او که د فعل او حرف نه مرکب شی نو بیا هم یو جز شته چې مسند دے خو بل جز نشته ، نو مصنفؒ ؛ ځکه وائی چې کلام نه حاصلیږی مګر د دوه اسمین نه لکه " **زید قائم** " نو " **زید** " مسندالیه ، او " **قائم** " ورته مسند شو .

قوله : **ویسمی جملة إسمیة** ... او دیته جمله اسمیه وئیلے کیږی ؛ ځکه چې جز اول ئې اسم دے . قوله : **او من فعل و إسم** ... او یا دا کلام جوړیږی د فعل او اسم نه لکه " **قام زید** "، " **قام** " فعل مسند ، او " **زید** " مسند الیه فاعل ، او دیته جمله فعلیه وائی ؛ ځکه چې جز اول ئې فعل دے او هغه باقی أقسام ئې ذکر نه کړل ؛ ځکه هغه نه دی موجود .

قوله : **إذ لایوجد المسند و المسندالیه معًا فی غیرهما** ... ؛ ځکه چې نه موجودیږی مسند او مسند الیه په یوځائې علاوه د دې دواړو نه . قوله : **ولابد للکلام منهما** ... او لابدی ده ، یعنې نشته خلاصے د کلام د دې دواړو نه چې هم به پکښې مسند وی او هم به مسند الیه وی .

ترکیب : " **فاء** " تفصیلیه " **عُلم** " صیغه فعل ماضی مجهول " **أنّ** " حرف د حروف مشبه بالفعل اسم منصوب خبر مرفوع غواړی **الکلام** ورله اسم شو ، " **لا** " نافیه " **یحصل** " صیغه فعل مضارع معلوم ضمیر پکښې دے هغه ئې فاعل شو " **إلا** " حرف استثناء " **من اسمین** " جار مجرور معطوف علیه او حرف عطف " **من فعل و إسم** " دا معطوف ، معطوف علیه سره د معطوف نه دا مستثنی مفرغه شوه د مستثنی منه مقدرې نو تقدیر د عبارت داسې شو چې " لایحصل بشیئ من الأشیاء إلا من إسمین أو من فعل و إسم " ، دا بیا متعلق په " **لایحصل** " پورې ؛ بیا " **لایحصل** " سره د فاعل او متعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر شو د پاره د " **أنّ** " ، " **أنّ** " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسمیه خبریه مفعول به قائم مقام د مفعولین شو که " **عُلِمَ** " په معنی د " یقین کردن " سره شی ، او یا مفعول به شو که " **عُلِمَ** " په معنی د " دانستن " سره شی ، " **عُلِمَ** " فعل سره د مفعولین نه دا جمله فعلیه خبریه شوه . " **نحو** " مضاف " **زید** " مبتداء " **قائم** " خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه مضاف الیه شو د پاره د " **نحو** " مضاف ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا خبر شو د پاره د مبتداء محذوف چې " **مثاله** " دے ، " **مثاله** " مبتداء " **نحو** " الخ خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه . " **و یسمی** " فعل مضارع مجهول

ضمير پټکېنې دے هغه ئ نائب فاعل " جملة " موصوف " إسمية " صفت ، موصوف سره د صفت نه دا مفعول به شوه د پاره د " يسمى " ، " يسمى " فعل سره د نائب فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه . او " من فعل و اسم " دا عطف دے په " إسمين " باندې . " نحو " مضاف " قام " فعل " زيد " ئ فاعل ، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه خبريه مضاف اليه شو د پاره د " نحو " مضاف ، " نحو " مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر د پاره د مبتداء محذوف چې " مثاله " دے ، بيا دا جمله اسميه خبريه شوه . " و يسمى جملة فعلية " ، تركيب هذه الجملة مثل ما مرّ . " إذ " مضاف " لا " نافيه " يوجد " صيغه فعل مضارع مجهول " المسند " معطوف عليه " و المسند اليه " معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا نائب فاعل شو د پاره د " يوجد " ، " معًا " مفعول به " في غيرهما " جار مجرور متعلق دے تر " يوجد " پورې ، " يوجد " فعل سره د فاعل ، مفعول به ، او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه مضاف اليه شو د پاره د " إذ " مضاف ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول فيه شو د " يسمى " فعل ، فعل سره د نائب فاعل ، مفعول به ، او مفعول فيه نه دا جمله فعليه خبريه شوه . " واو " حرف عطف " لا " لنفي الجنس " بدّ " اسم د " لا " ، " للكلام " جار مجرور متعلق دے تر " بدّ " پورې ، " منهما " جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر دے د " لا " ، " لا " سره د اسم او خبر نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

فَإِنْ قِيلَ قَدْ نُوْقِضَ بِالنِّدَاءِ نَحْوُ يَا زَيْدُ ؟ قُلْنَا : حَرْفُ النِّدَاءِ قَائِمٌ مَقَامَ أَدْعُوْ، وَ أَطْلُبُ وَ هُوَ الْفِعْلُ فَلَا نَقْضَ عَلَيْهِ ، وَإِذْ قَدْ فَرَغْنَا مِنَ الْمُقَدِّمَةِ فَلْنَشْرَعْ فِي الْأَقْسَامِ الثَّلَاثَةِ وَ اللهُ الْمُوَفِّقُ وَ الْمُعِيْنُ.

ترجمه : كه اوئيلے شي چې ستا تعريف مات شو په نداء باندې لكه " يازيد " ؟ نو مونږ وائيو چې حرف نداء قائم دے په ځائ د " أدعو " ، او " أطلب " باندې ، او دا " أطلب " (و أدعو) فعل دے نو اعتراض نشته دے . او كله چې مونږ فارغ شو د مقدمې نه نو اراده د شروع مو وكړه په أقسام ثلاثو كښې ، الله غوره توفيق وركونكے دے ، او اعانت كونكے دے .

تشريح : قوله : فان قيل ... غرض د مصنفؒ د دې عبارت نه سوال دے ، **سوال** دا دے : چې نه منم دا خبره چې كلام منحصر دے په دې قسمين كښې ، بلكه زه به درته وښايئم چې د حرف او اسم نه به كلام مركب شوے وى نو تا څنګه په دې قسمين كښې حصر وكړو لكه " يا زيد " ديته خلق كلام وائي او حال دا دے : چې دا مركب دے د اسم نه چې " زيد " دے منادى دے او د حرف نه چې " ياء " حرف نداء ده ؟ په " قلنا " سره دے جواب كوى ؛ حاصل د جواب دا دے : چې نه منم دا خبره چې د دې قسمين نه علاوه نور قسمونه هم شته ، او هر چې يا زيد

دے نو دا اګرچې په ظاهر کښې مرکب دے د حرف او اسم نه لیکن په حقیقت کښې دا مرکب دے د اسم او فعل نه ؛ ځکه یاء حرف نداء قائم دے په مقام د فعل باندې چې " أدعو " ، او " أطلب " دے نو " أطلب " فعل فاعل او " زید " ئې مفعول به دے ، نو کلام أصل کښې مرکب دے د فعل او فاعل نه ، نه د اسم او حرف نه کما هو الظاهر . **سوال** : په یا زید کښې دا فعل ولې نه ذکر کیږي " **أدعو زیدًا** " دې وئیلے شی کنه ؟ **جواب** : دا مقام د آواز کولو دے او په آواز کښې تیز والے مقصود وی او تیز والے په اختصار سره کیږي او اختصار په دې کښې دے چې فعل ذکر نشی . قوله : **و اذا قد فرغنا من المقدمة فلنشرع فی الأقسام الثلاثة** ... دلته یوه معنی کوو : کله چې فارغ شو مونږ د مقدمې نه نو اوس مو اراده د شروع وکړه په أقسامو ثلاثو کښې ، او مراد د مقدمې نه مقدمة الکتاب ده ، په دې معنی سره مونږ دفع د سوال وکړو، **سوال** دا دے : چې ته وائې چې کله مونږ د مقدمې نه فارغ شو نو شروع کوو په أقسام ثلاثو کښې او ورسته وائې : چې « **الباب الأول فی الاسم المعرب وفیه مقدمة** » نو چې د مقدمې نه فارغ شوے نو بیا په مقدمه کښې ولې شروع کوې ؟ نو مونږ **جواب** وکړو : چې مراد زمونږ د مقدمې نه مقدمة الکتاب ده ، مطلق مقدمه نه ده مراد او ورسته چې ئې ذکر کوې نو هغه مقدمه د باب اول ده نه مقدمه د کتاب . او بیا مونږ داسې معنی وکړه چې مونږ اراده د شروع لرو ، په دې سره دفع د بل سوال وشوه ، **سوال** دا دے : چې " **إذا** " حرف شرط دے او په " **فلنشرع** " کښې دا " **فاء** " جزائیه ده ، او قانون دا دے : چې جزاء لازم وی د شرط سره په وجود کښې او په دې مقام کښې شروع نه ده لازم چې دا دې موجود شي پس د فراغت د مقدمې نه متصلًا ؛ ځکه عام طور سره چې مصنفین د یو بحث نه فارغ شي نو په مینځ کښې وقفه کوی او دلته ده " **فلنشرع** " راوړیدے او دا راځي د پاره د وجود متصلًا ؟ نو مونږ **جواب** وکړو ، حاصل ئې دا دے : چې دلته دا **فاء** جزائیه ده خو جزاء مقدره ده تقدیر د عبارت دا دے : چې « **فاردنا الشروع فی الأقسام الثلاثة** » ، او هیڅ شک نشته چې إراده د شروع لازمه ده په وجود کښې د فراغت من المقدمة سره . قوله : **فی الأقسام الثلاثة** ... مصنف رحمه الله چې بحث کوی په أقسام ثلاثو کښې نو دا " **معًا** " نه کوی ، بلکه " **متعاقبًا** " ئې کوی . د " **متعاقبًا** " مقصد دا دے : چې یو بحث ذکر کړی نو بیا ورپسې بل ذکر کړی ، او د " **معًا** " مقصد دا دے : چې بالکل په یوځائې کښې ذکر شی . قوله : **والله الموفق** ... " **موفق** " د توفیق نه صیغه د اسم فاعل ده د باب تفعیل نه ، او " **توفیق** " په لغت کښې " دست دادن بر کارے " ته وائې ، او په اصطلاح کښې « **جعل أسباب العبد موافقًا لمطلوبه الخیر** » ته وائې . قوله : **والمعین** ... " **معین** " صیغه د اسم فاعل ده د باب افعال نه اعانت کونکے . په اصطلاح کښې اعانت ، توفیق ، استطاعت بر مقصد لری ، نو کومه معنی چې په اصطلاح کښې د توفیق ده نو هغه معنی د اعانت هم ده .

ترکیب : " فاء " تفصیلیه " **إن** " حرف شرط " **قیل** " فعل ماضي مجهول ضمیر پکښې دے (چې راجع دے قائل غیر معلوم ته) هغه ئ نائب فاعل ، فعل سره د نائب فاعل نه دا جمله فعلیه قول شو ، " **قد** " حرف تحقیق " **نوقض** " صیغه فعل ماضي مجهول " بالنداء " جار مجرور په اعتبار د متعلق سره دا نائب فاعل شو د پاره د " **نوقض** " ، " **نوقض** " فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه مقوله شوه د پاره د قول ، قول سره د مقولې نه دا جمله فعلیه سوالیه شوه . " **نحو** " مضاف یاء حرف نداء قائم مقام " **أدعو** " ، " **أدعو** " فعل فاعل " زید " ئ مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعلیه مضاف الیه شو د پاره د " **نحو** " مضاف ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا خبر د پاره د مبتداء محذوف چې " **مثاله** " دے ، " **مثاله** " مبتداء سره د خبر نه دا جمله فعلیه خبریه شوه . " **قلنا** " فعل فاعل ، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعلیه قول شو ، " **حرف النداء** " مضاف مضاف الیه مبتداء ، " **قائم** " صیغه د اسم فاعل " **مقام** " مضاف " **أدعو** " معطوف علیه " **واو** " حرف عطف " **أطلب** " معطوف ، معطوف سره د معطوف علیه نه دا مضاف الیه شو د پاره د " **مقام** " مضاف ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول فیه شو د پاره د " **قائم** " ، بیا " **قائم** " اسم فاعل سره د فاعل او مفعول فیه نه شبه جمله خبر د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه مقوله شوه د پاره د قول ، قول سره د مقولې نه دا جمله فعلیه خبریه جوابیه شوه . " **و هو** " مبتداء " **الفعل** " خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله فعلیه خبریه شوه . " فاء " تفصیلیه " **لا** " لنفي الجنس " **نقض** " اسم د " **لا** " ، " **علیه** " په اعتبار د متعلق سره خبر د " **لا** " ، " **لا** " سره د اسم او خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه . " **و إذ** " ظرفیه متضمن دے معنی د شرط لره " **قد فرغنا** " فعل فاعل " **من المقدمة** " جار مجرور متعلق دے تر " **فرغنا** " پورې ، " **فرغنا** " فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعلیه فعل شرط ، " **فاء** " جزائیه " **نشرع** " فعل فاعل " **فی** " جار " **الأقسام** " موصوف " **الثلاثة** " صفت ، موصوف سره د صفت نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق دے تر " **نشرع** " فعل پورې ، فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعلیه جزاء ، فعل شرط سره د جزاء نه دا جمله فعلیه شرطیه شوه . " **و الله** " مبتداء " **الموفق** " معطوف علیه " **و المعین** " معطوف ، معطوف سره د معطوف علیه نه دا خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه .

تنبیـــــه : تر دې ځایه پورې مونږ پوره ترکیب د عبارت ولیکو ، لیکن د خوف طوالت د وجې نه اوس آینده کښې به صرف د مثالونو ترکیب أکثر لیکو إن شاء الله تعالی .

اَلْقِسْمُ الْأَوَّلُ فِي الْإِسْمِ ، وَ قد مَرَّ تَعْرِيفُهُ ، وَ هُوَ يَنْقَسِمُ إِلَى الْمُعْرَب ، وَ الْمَبْنِيِّ فَلْنَذْكُرُ أَحْكَامَهُ فِي بَابَيْنِ ، وَ خَاتِمَةٍ .

ترجمه : قسم اول په بیان د اسم کښې ، او د اسم تعریف مخکښې تیر شوے دے ، او دا اسم منقسم دے قسمین ته چې یو معرب دے او بل مبنی . پس ذکر کوو مونږ أحکام د دې په دوه بابونو او خاتمه کښې .

تشریح : قوله : **القسم الأول في الاسم** ... قسم اول په بیان د اسم کښې دے ، اسم ئې مقدم کړو په باقي قسمینو چې فعل او حرف دي ؛ ځکه چې اسم عمده دے په نسبت سره فعل او حرف ته ، او عمده أولى بالتقدیم وي اوس اسم ولې عمده دے ؟ نو د دې د پاره یوه وجه دا ده : چې اسم هم مسند واقع کیږی او هم مسند الیه واقع کیږی په خلاف د فعل او حرف نه چې فعل فقط مسند واقع کیږی او حرف نه مسند واقع کیږی او نه مسند الیه . دویمه وجه دا ده : چې اسم ؛ ځکه عمده دے چې د دوه اسمین نه کلام جوړیږی او د دوه فعلین او دوه حرفین نه کلام نه جوړیږی . قوله : **وقد مرّ تعريفه** ... غرض د ماتن‌ؒ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې تا ووے : « **القسم الاول في الاسم** » الخ او بیا وائې : چې « **وهُوَ ينقسم** » الخ او قانون دا دے : چې تقسیم کول په یو شی کښې فرع د معرفت د مقسِم به ده یعنې تقسیم هله کولے شی چې مخکښې مقسم وپیژندے شی ، او تعریف ئې وکړے شی او مقسم په دې مقام کښې اسم دے نو پکار وه چې تا اول تعریف د اسم کړے وے او بیا دې تقسیم کړے وے ، نو تا ئې تعریف نه دے کړے او تقسیم دې شروع کړو ؟ نو مصنف‌ؒ جواب وکړو ، حاصل د **جواب** دا دے : چې دا اعتراض به تا هله کولے چې ما د اسم تعریف د سره کړے نه وے حالانکه د اسم تعریف مخکښې تیر شوے دے په مقدمه د کتاب کښې نو بیا ئې ذکر کولو ته حاجت نشته .

قوله : **وهُوَ ينقسم الى المعرب والمبنى** ... او دا اسم منقسم دے قسمین ته چې یو معرب دے او بل مبنی دے . وجه د حصر پکښې دا ده : چې دا اسم به خالی نه وی یا به مرکب مع الغیر وی ، یا به نه وی که نه وو نو مبنی او که مرکب وو نو بیا به خالی نه وی یا به تحقق د عامل ورسره شوے وی ، یا نه که نه وو شوے ؛ نو دا مبنی او که شوے وو ؛ نو بیا به خالی نه وی یا به مشابهت لری د مبنی أصل سره او یا به نه لری که لرلو ئې نو مبنی ، او که نه ئې لرلو نو معرب ، نو حاصل دا شو چې د اسم د پاره درې حالات د بناء شو او یو حالت ـ 'عراب شو نو مجموعه خلور أحوال شو . قوله : **فلنذكر أحكامه في بابين و خاتمة** ... أحکام جمع د حکم ده ، او حکم په لغت کښې " فرمودن کارے " ته وائې ، او د نحاتو په اصطلاح کښې « **الأثر المرتب على الشيئ** »

ته وائی ، « وهو المراد ههنا » . نو معنی دا ده : چې مونږ ذکر کوو آثار مرتبه په دې اسم باندې چې معرب او مبنی دے . په " أحكامه " کښې دا هاء ضمیر راجع دے اسم ته چې معرب او مبنی دے . " فی بابین " د " باب " معنی لغوی او اصطلاحی مخکښې تیره شوې ده[1] . " و خاتمة " " خاتمه " په لغت کښې « ما يختم به الشيئ » ته وائی ، او په اصطلاح کښې هغه کلام چې زائد وی په مقصود باندې ، او مربوط وی د مقصود سره ، نو په باب اول کښې به أحكام د اسم معرب ذکر کړی او په باب ثانی کښې به أحکام د اسم مبنی ذکر کړی او په خاتمه کښې به هغه أقسام ذکر کړی چې مشترک دی په مابین د معرب او مبنی کښې .

اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي الْإِسْمِ الْمُعْرَبِ، وَ فِيْهِ مُقَدِّمَةٌ وَّ ثَلَاثَةُ مَقَاصِدَ، وَ خَاتِمَةٌ أَمَّا الْمُقَدِّمَةُ فَفِيْهَا فُصُوْلٌ.

ترجمه : باب اول په بیان د اسم معرب کښې دے ، او په دیکښې یوه مقدمه ده او درې مقاصد ؛ او یوه خاتمه ده . هر چې مقدمه ده نو په دې کښې څلور فصول دی .

تشريح : قوله : **الباب الأول فی الاسم المعرب** ... معرب ئې مقدم کړو په مبنی باندې ؛ ځکه په اجمال کښې مقدم وو نو په تفصیل کښې ئې هم مقدم کړو چې تفصیل موافق شی د اجمال سره ، اوس په اجمال کښې ولې مقدم وو ؟ نو ځکه چې د هغې ډیر وجوه دی خو دوه پکښې مشهور دی : ١ـ یوه وجه دا ده : چې د اسم معرب أحکام ډیر دی په نسبت سره اسم مبنی ته او « العزة للتكاثر » ، نو اسم معرب عزتمند شو ، او عزتمند أولی بالتقدیم وی . ٢ـ دویمه وجه دا ده : چې اسم معرب عمده دے په نسبت سره اسم مبنی ته او عمده أولی بالتقدیم وی . اوس عمده ولې دے نو د دې هم ډیر وجوهات دی خو یوه وجه پکښې دا ده : چې اسم معرب مشتمل دے په اعراب لفظی او تقدیری حرکتی او حرفی (بخلاف المبنی) او کوم شے چې په دې مشتمل وی هغه عمده وی نو دا عمده شو .

قوله : **و فيه مقدمة و ثلاثة مقاصد و خاتمة** ... او په دې باب اول کښې یوه مقدمه ده او درې مقاصد دی ، اول مقصد په بیان د مرفوعات کښې ، دویم مقصد په بیان د منصوبات کښې ، او دریم مقصد په بیان د دوه مجرورات کښې . او خاتمه په پنځه توابع کښې ده . قوله : أما المقدمة ففيها فصول ... هر چې مقدمه ده نو په دې کښې څلور فصول دی : فصل اول په بیان د تعریف د اسم معرب کښې دے ، فصل ثانی په بیان د حکم د اسم معرب کښې دے ،

---

[1] فی مبحث " مبوبًا و مفصلاً " .

فصل ثالث په بيان د أصنافو د إعراب الإسم كښې دے ، فصل رابع په بيان د تقسيم د اسم معرب كښې دے منصرف او غير منصرف ته .

فَصْلٌ فِيْ تَعْرِيْفِ الْإِسْمِ الْمُعْرَبِ : وَ هُوَ كُلُّ إِسْمٍ رُكِّبَ مَعَ غَيْرِهِ ، وَ لَا يَشْبَهُ مَبْنِيَّ الْأَصْلِ أَعْنِيْ الْحَرْفَ ، وَ الْأَمْرَ الْحَاضِرَ ، وَ الْمَاضِيَ نَحْوُ : " زَيْدٌ " فِيْ " قَامَ زَيْدٌ " ، لَا " زَيْدٌ " وَحْدَهُ لِعَدَمِ التَّرْكِيْبِ ، وَ لَا هٰؤُلَاءِ ؛ لِوُجُوْدِ الشَّبَهِ ، وَ يُسَمّٰى مُتَمَكِّنًا .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د اسم معرب كښې ، او دا هر هغه اسم دے چې مركب وی د غير سره او مشابهت نه لرى د مبنى الأصل سره ، چې حرف ، أمر حاضر ، او ماضى دى ، لكه زيد په قام زيد كښې ، نه زيد يواځې ؛ د وجې د عدم التركيب نه ، او نه هؤلاء ؛ د وجې د وجود د مشابهت نه ، او ديته متمكن وائى .

تشريح : قوله : **فصل فى تعريف الاسم المعرب** ... هر كله چې فارغ شو مصنفؒ د اجمال د مقدمې د باب اول نه نو شروع ئې وكړه په تفصيل د مقدمه د باب اول كښې ، او دا فصل په بيان د تعريف د اسم معرب كښې دے . " **معرب** " صيغه د اسم ظرف ده په لغت كښې په معنى د ځائې د اظهار سره راځى ، او معرب ته هم معرب ؛ ځكه وائى چې دا هم محل دے د پاره د ظهور د معانيؤ مختلفو . يا " **معرب** " صيغه د اسم مفعول ده مأخوذ دے د " **عربت المعدة** " نه چې په معنى د فساد سره راځى چونكه دا باب افعال دے يوه خاصه سلب المأخذ دے نو د معرب معنى ده : « مزال الفساد » ، او معرب ته ؛ ځكه معرب وائى چې ددې نه هم ازاله د فساد كړے شوې وى هغه فساد چې راځى په معانيؤ كښې د وجې د مشابهت د بعض نه د بعض سره ، او په معرب كښې دا فساد ؛ ځكه زائل كړے شوے وى چې اعراب ورباندې راغلے وى يعنې رفع ، نصب ، او جر . نو پته ئې لګى چې دا فاعل دے ، دا مفعول به دے ، دا مضاف اليه دے . او په اصطلاح كښې « **وهو كل اسم** ... » دا هر هغه اسم دے چې مركب مع الغير وى او مشابهت نه لرى د مبنى الأصل سره . دا " **هُوَ** " ضمير اسم معرب ته راجع دے . او " **كُلّ** " ئې راوړے دے د پاره د احاطې او استغراق د أفرادو . " **كُلّ اسم** " ئې چې ووے : نو ټول أسماء پكښې داخل شو . " **ركب مع غيره** " دا عبارت دے د ثبوت مع العامل نه ، او په دې سره ئې احتراز وكړو د هغه اسماؤ نه چې مفرد وى او بالفعل مركب مع الغير نه وى لكه أصوات او أسماء معدوده شو . او " **و لايشبه مبنى الأصل** " سره ئې احتراز وكړو د هر هغه اسم نه چې مركب وى خو مشابهت ساتى د مبنى أصل سره .

پس د دينــــه : په دې اصطلاحى معنى د معرب كښې دوه شرطونه دى : ١ـ يو ركب مع غيره . ٢ـ او دويم لايشبه مبنى الأصل . شرط اول وجودى دے او شرط ثانى عدمى دے . او د

تركيب نه مراد تحقق دے په دې سره رد راغے په هغه چا باندې چې هغه د تركيب نه مراد تركيب اسنادي اخلي . وجه دا ده : چې مراد د تركيب نه تركيب اسنادي شي نو بيا دا تعريف فقط مركب تام ته شامليږي او مركب ناقص ته نه شامليږي لكه مضاف اليه او مفاعيل خمسه شو ، حالانكه هغه هم د معرباتو يو قسم دے . او " **مع غيره** " كښې د " **غير** " نه مراد داسې غير دے چې تحقق د عامل ورسره كيدے شي ، مطلق " **غير** " ترې نه دے مراد ؛ ځكه كه مطلق غير ترې مراد شي نو بيا پكار ده چې " **غلام** " دې معرب شي په " **غلام زيد** " ، " **غلام عمرو** " ، " **غلام بكر** " كښې ؛ ځكه چې مركب مع الغير دے چې " **زيد** " ، " **عمرو** " ، او " **بكر** " دي ، او حال دا دے : چې " **غلام** " په " **غلام زيد** " الخ كښې معرب نه دے په نزد د مصنفؒ باندې ؛ ځكه چې دا مركب مع الغير دے خو تحقق د عامل ورسره نه دے شوے .
او دويم شرط عدى دے چې مشابهت نه لرى د مبنى الأصل سره په منع د اعراب كښې ؛ ځكه كه چرته دا اسم مركب وى او مشابه د مبنى أصل سره وى نو دغې ته بيا هم معرب نه وئيلے كيږى ، بلكه دا به مبنى وى . دلته چې مونږ يو قيد ولګولو په منع د اعراب كښې دا مو دفع د سوال وكړه ، **سوال** دا دے : چې ستا تعريف نه دے صحيح ؛ ځكه خارج شو ترې غير منصرف په دې شان سره چې هغه خو مشابهت ساتى د مبنى الأصل سره چې فعل دے په وجود د فرعيتين كښې ؛ ځكه فعل كښې دوه فرعې دى يو اشتقاق من المصدر ، او بل احتياج الى الفاعل ، او په غير منصرف كښې دوه سببه وى او هر سبب فرع وى . نو لهذا مشابهت پيدا شو د فعل سره ، نو غير منصرف دې مبنى شي ؟

جواب وشو چې دلته زمونږ مشابهت نه مراد هغه دے چې مؤثر وى په منع د اعراب كښې او دلته چې كوم مشابهت دے نو دا مؤثر نه دے په منع د اعراب كښې بلكه صرف په منع د تنوين او كسره كښې مؤثر دے . **دويم جواب** دا دے : چې مشابهت مؤثر دا وى چې دليل د اعراب معارض نه وى واقع شوے د دليل د بناء سره او دلته واقع شوے ؛ ځكه مشابهت د فعل سره شو نو فعل كښې د ماضى سره او د مضارع سره هم شو ، نو مشابهت د ماضى سره تقاضه د بناء كوى ، او مشابهت ئې د مضارع سره تقاضه د اعراب كوى نو ترجيح دليل د اعراب لره وركړے شوه ؛ ځكه أصل په أسماؤ كښې اعراب دے نو غير منصرف معرب پاتې شو .

پس د دينــــه : په شرط عدى كښې دوه خبرې دى : ١ـ يو دا چې د مشابهت د مبنى أصل سره څه مقصد دے ؟ ٢ـ او دويم دا چې مبنى أصل كوم دى ؟ . نو د مشابهت د مبنى أصل مقصد خو دا دے : چې دا اسم چې مركب مع الغير وى دا مشابهت مؤثره نه لرى د مبنى أصل سره . او د دويمې خبرې نه جواب دا دے : چې مبنى أصل مصنفؒ پخپله ذكر كړى

دی : چې حروف ، أمر حاضر ، او ماضي دي [۱] . او مشابهت مؤثره په یو څو طریقو سره راځي : ۱ـ چې دا اسم متضمن شي معنی د مبنی أصل لره لکه " أين " چې متضمن دے معنی د همزې استفهامي لره . ۲ـ چې په معنی د مبنی أصل سره وي لکه أسماء افعال چې په معنی د فعل ماضي او أمر حاضر سره وي . ۳ ـ چې واقع شي په ځایٔ د مبنی أصل باندې لکه " **نزال** " چې واقع دے په ځایٔ د " **انزل** " باندې ، " **انزل** " أمر دے . ٤ـ چې دا مشابه وي د هغه شي سره چې هغه واقع وي په ځایٔ د مبنی أصل باندې لکه " **حضار** " ، " **تمار** " ، " **قطام** " مبنی دي ؛ ځکه دا مشابه دي د " **نزال** " سره او هغه واقع دے په ځایٔ د " **انزل** " باندې . ٥ـ چې مشابه وي د مبنی أصل سره په احتیاج کښې لکه مبهمات شو [۲] . ٦ـ چې واقع وي په ځایٔ د هغه شي چې هغه مشابه وي د مبنی أصل سره لکه منادی مفرده معرفه لکه " **یا زید** " ، چې دا واقع ده په ځایٔ د " **کاف** " اسمی خطابي او " **کاف** " اسمی خطابي مشابه دے د " **کاف** " حرفي خطابي سره . ۷ ـ چې مشابه وي د مبنی أصل سره په وضع کښې لکه بعض مضمرات او باقي ورباندې قیاس دي ، او چې یوه طریقه د دې طریقو پکښې نه وي نو هغه به معرب وي مثال لکه " **زید** " شو په " **قام زید** " کښې چې دا معرب دے ؛ ځکه چې دا یو اسم دے چې متحقق مع العامل دے چې قام دے او مشابهت یې د مبنی أصل سره نشته . قوله : **لا زید وحده** ... نه دے معرب زید یوځایٔ ؛ د وجې د عدم ترکیب نه .

قوله : **ولاهؤلاء فی قام هؤلاء** ... دا هم معرب نه دے ، بلکه مبنی دے اګرچې ترکیب مع العامل پکښې شته خو دا مشابه دے د مبنی أصل سره په پوره کیدلو د معنی خپله کښې په بل چا باندې یعنې دا مشابه دے د حروفو سره په احتیاج کښې کما هو الظاهر .

قوله : **ویسمی متمکنًا** ... غرض د ماتن ﷫ د دې عبارت نه دفع د سوال ده ، **سوال** دا دے : چې تا خو دا مذکور تعریف د اسم معرب وکړو او خلق خو دا تعریف د اسم متمکن کوي نو مصنف ﷫ **جواب** وکړو چې دیته متمکن هم وائي ؛ ځکه متمکن د تمکن نه دے ځایٔ ورکولو ته وائي ، او دا هم ځایٔ ورکوي اعرابات ثلاثو لره .

---

(۱) دا درې مبنی أصل په نزد د جمهورو دي ، نه په نزد د صاحب المفصل ، د صاحب غاثة التحقیق ؛ ځکه د هغه په نزد خلور دي : درې دغه مذکور ، او یوه جمله من حیث هی الجملة .

(۲) مبهمات نه مراد أسماء إشارات ، او موصولات . أسماء إشارات محتاج وي مشارالیه ته ، او موصولات محتاج وي صلّه ته .

فَصلٌ وَ حُكْمُهُ أَنْ يَخْتَلِفَ آخِرُهُ بِاخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ إِخْتِلَافًا لَفْظِيًّا نَحْوُ : " جَاءَنِي زَيْدٌ " ، " رَأَيْتُ زَيْدًا " ، " مَرَرْتُ بِزَيْدٍ " ، أَوْ تَقْدِيرِيًّا نَحْوُ : " جَاءَنِي مُوْسَى " ، " رَأَيْتُ مُوْسَى " ، " مَرَرْتُ بِمُوْسَى " .

ترجمه : دا فصل دے په بیان د حکم د اسم معرب کښې . نو أثر مرتبه په اسم معرب باندې دا دے : چې مختلف کیږی به آخیر د دې په اختلاف د جنس عامل سره ، برابره خبره ده که اختلاف لفظی وی او که تقدیری وی ، لکه " جاءنی زید " ، " رأیت زیدًا " ، " مررت بزیدٍ " . او د تقدیری مثال لکه " جاءنی موسی الخ".

تشریح : قوله : **وحکمه** ... په دې مقام کښې چند مباحث دی : (١) ربط (٢) تعیین د هغه خبرو چې په دې فصل کښې ذکر کیږی (٣) بیا تشریح .

(١) **ربط خو دا دے** : چې کله فارغ شو مصنفؒ د اول فصل د مقدمې نه نو شروع ئې وکړه په دویم فصل د مقدمه باندې . (٢) دویمه خبره : نو په دې فصل کښې لس خبرې ذکر کوی : ١ ـ حکم د اسم معرب . ٢ ـ مثال . ٣ ـ تعریف الاعراب . ٤ ـ مصداق د هغې . ٥ ـ أنواع د اعراب الاسم . ٦ ـ تعریف د عامل . ٧ ـ تعیین د محل د اعراب . ٨ ـ وضاحت بالمثال . ٩ ـ تطبیق د مثال د ممثل سره . ١٠ ـ یوه قاعده کلیه . (٣) دریمه خبره تشریح د عبارت : نو حکم په لغت کښې فرمودن کارے ته وائی ، او په اصطلاح د نحویانو کښې « الأثر المرتب علی الشیئ » ته وائی ، دلته هم معنی اصطلاحی مراد ده ، نو معنی دا شوه چې اثر مرتبه په اسم معرب باندې دا دے : چې مختلف کیږی به آخیر د دې په اختلاف د جنس عامل سره بیا برابره خبره ده که دا اعراب لفظی وی لکه " **جاءنی زیدٌ** " نو په " **زیدٌ** " باندې تنوین دے دغسې په " **رأیت زیدًا** " ، او " **مررت بزیدٍ** " کښې . او که تقدیری وی لکه " **جاءنی موسی** " نو دې " **موسی** " کښې اعراب تقدیری دے او دا آخیر دے مرفوع دے ، دغسې په " **رأیت موسی** " کښې آخیر موسی منصوب دے ، او په " **مررت بموسی** " کښې آخیر مجرور دے خو دې ټولو کښې اعراب تقدیری وو .

سوال : ته وائی چې حکم په معنی د اثر مرتب سره دے نو په دې معنی سره نسبت د حکم اسم معرب ته نه دے صحیح ؛ ځکه دا اختلاف راتلل په آخیر کښې اثر د اسم معرب نه دے ، بلکه دا خو اثر د عامل دے چې عامل رافعه راشی نو رفع ورکړی او چې ناصبه راشی نو نصب ورکړی او چې جاره راشی نو جر ورکړی ؟ **جواب** : په " **حکمه** " کښې چې نسبت د حکم بمعنی اثر مرتبه اسم معرب ته شوے دے ؛ د وجې د ادنی ملابست (مناسبت) نه ، هغه مناسبت دا دے : چې د عامل اثر چې ظاهریږی نو په آخیر د اسم معرب کښې ظاهریږی نو نسبت ورته په اعتبار د محل سره شوے دے نو نسبت د اثر معرب ته دا نسبت دے عامل ته ، بیا دا نسبت د حکم اسم معرب ته یا په واسطه د " **فی** " سره دے ، یا په واسطه د " **لام** " سره دے ، چې په

واسطه د " في " سره شی نو معنی به دا وی چې اثر مرتبه په اسم معرب کښې ، او چې په واسطه د " لام " سره شی نو معنی به دا شی چې اثر مرتبه د اسم معرب د پاره اختلاف د آخیر دے . قوله : أن يختلف آخره ... أی : « صفة آخره » ، دا دفع د سوال ده ، **سوال** دا دے : چې آخیر د اسم معرب نه مختلف کیږی لکه " **جاءنی زيدٌ** " ، " **رأيت زيدًا** " ، " **مررت بزيدٍ** " ، دلته " **زيد** " اسم معرب دے او آخیر د دې " **دال** " دے او په " **دال** " کښې اختلاف نه دے راغلے ؟ نو مونږ **جواب** ورکړو چې دا عبارت په حذف د مضاف سره دے أصل کښې عبارت داسې وو چې « **صفة آخره** » ، او صفت د آخیر رفع ، نصب ، او جر دی ، نو کله رفع راشی او کله نصب او کله جر . قوله : **باختلاف العوامل** ... " **عوامل** " جمع د " **عامل** "-ده دا نقل شوے دے د صفتیت نه اسمیت ته ، او قانون په وزن د فاعل اسمی کښې دا دے : چې جمع کیږی په فواعل سره نو " **عامل** " هم جمع شوے دے په " **عوامل** " سره . **سوال** : " **العوامل** " جمع ده او أقل د جمع درې دی نو مطلب به دا وی چې په اسم معرب به کم از کم درې عوامل داخلیږی نو هله به ئ آخیر مختلف کیږی او که درې عامله پرې نه وو داخل شوی نو هسې به نه مختلف کیږی حالانکه دا خبره نه ده صحیح ؛ ځکه د درې عوامل دخول پرې ضروری نه دے چې دوه عامله داخل شی نو هم ئ آخیر بدلیږی ؟ **جواب** : " **العوامل** " کښې " **ألف لام** " جنسی دی او " **ألف لام** " جنسی چې داخل شی په جمع باندې نو جمعیت باطلوی او مؤل کوی ئ په تاویل جنسیت سره او د جنس اطلاق په لږو او په ډیرو باندې کیږی فلایرد ما یرد . **سوال** : ته وائی چې مختلف کیږی به آخیر د دې په اختلاف د عوامل سره ، نو زه به درته وښائم چې مختلف عوامل به داخل شوی وی په اسم معرب باندې او آخیر به ئ نه وی مختلف شوے لکه " **انّ زيدًا قائمٌ** " ، دلته " **انّ** " داخل شوے دے او " **زيدًا** " منصوب دے ، " **أنا ضارب زيدًا** " کښې " **ضاربٌ** " داخل شوے دے او " **زيدًا** " منصوب دے ، او " **ضربت زيدًا** " بل عامل دے او " **زيدًا** " لره ئ نصب ورکړے دے ؟ **جواب** : زما مراد د اختلاف د عوامل نه اختلاف دے په عمل کښې نه په ذات کښې او تا چې کوم اختلاف د عوامل ذکر کړو دا اختلاف دے په ذات کښې نه په عمل کښې ؛ ځکه په دې کښې هر يو عامل تقاضه د نصب کوی اګر چې ذات د عوامل مختلف دے . او ... چې عوامل مختلف وی په عمل کښې او داخل شی په اسم معرب باندې نو آخیر د اسم معرب مختلف کیږی نحو " **جاءنی زيدٌ** " ، " **رأيتُ زيدًا** " ، " **مررت بزيدٍ** " ، دلته جاء فعل دے او " **زيد** " لره ئ رفع ورکړې ده او " **رأيت** " هم فعل دے خو " **زيد** " لره ئ نصب ورکړے دے او " **مررت بزيدٍ** " کښې " **باء** " حرف جر دے نو جر ئ ورکړے دے .

سوال : زه به درته وښائم چې اسم معرب به وی او آخیر به ئ نه وی مختلف شوے په اختلاف د عوامل سره لکه " **جاءنی موسی** " ، " **رأيت موسی** " ، " **مررت بموسی** " ؟

نو مصنفﷺ **جواب وكړو** : چې اختلاف عام دے كه لفظي وي او كه تقديري وي ، د لفظي مثال لكه " **جاءني زيدٌ ، رأيت زيدًا ، مررت بزيدٍ** " . او د تقديري مثال لكه " **جاءني موسى الخ** " . اوس په دې " **موسى** " كښې اعراب تقديري ولې دے ؟ ؛ نو ځكه چې د دې په آخير كښې " **ألف** " دے او دا ساكن وضعي دے قابل د حركت نه دے لفظًا نو دا مرفوع شو تقديرًا ، او منصوب شو تقديرًا ، او مجرور شو تقديرًا .

اَلْإِعْرَابُ مَا بِهِ يَخْتَلِفُ آخِرُ الْمُعْرَبِ كَالضَّمَّةِ ، وَ الْفَتْحَةِ ، وَ الْكَسْرَةِ ، وَ الْوَاوِ ، وَ الْأَلِفِ ، وَ الْيَاءِ ، وَ إِعْرَابُ الْإِسْمِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَنْوَاعٍ : رَفْعٌ ، وَ نَصْبٌ ، وَ جَرٌّ .

ترجمه : اعراب هغه شے دے چې په سبب د دغه شي سره (داسې سبب چې سبب قريبه وي) مختلف كيږي آخير د اسم معرب لكه ضمه ، فتحه ، او كسره شو ، دغسې واو ، ألف ، او ياء شو ، او اعراب د اسم په درې قسمه دے رفع ، نصب ، او جر .

تشريح : قوله : **الأعراب** ... هر كله چې فارغ شو مصنفﷺ د بيانولو د حكم د اسم معرب نه نو اوس تعريف د اعراب كوي او دا ؛ ځكه كوي چې دا موقوف عليه دے د پاره د عامل ، او تعريف د عامل موقوف عليه دے د پاره د اسم معرب نو تعريف د اعراب هم موقوف عليه شو د پاره د اسم معرب ، او تعريف د اعراب ؛ ځكه موقوف عليه دے چې په تعريف د عامل كښې اعراب مأخوذ دے او تعريف د عامل د معرب د پاره ؛ ځكه موقوف عليه دے چې عامل مأخوذ دے په حكم د اسم معرب كښې ، او معرفت د إسم معرب ماحقه موقوف دے په معرفت د حكم د إسم معرب باندې ؛ نو ځكه تعريف د إعراب موقوف عليه شو د پاره د تعريف د معرب .

پس د دينـــــه : د اعراب دوه لغوي معاني تيرې شوي دي : ۱ـ بمعنى الظهور ، او دې اعراب اصطلاحي ته هم اعراب ؛ ځكه وائي چې په دې سره مختلفې معاني ظاهريږي د فاعليت ، مفعوليت ، اضافت . ۲ـ يا اعراب لغتًا بمعنى فساد دے او همزه پكښې د پاره د سلب المأخذ ده نو معنى دا چې لرې كول د هغه فساد چې راغلے وي په اسم كښې د وجې د اختلاف د معانيو نه ، او اصطلاحي تعريف ئې ماتنﷺ ذكر كړے دے . مونږ ئې بره يوه معنى ليكلې ده ، دلته يوه بله معنى هم ليكو ؛ خو هغه بره معنى هم معاد كوو . نو يوه معنى دا ده : چې اعراب هغه شے دے چې په سبب د دغه شي داسې سبب چې سبب قريبه وي مختلف كيږي آخير د اسم معرب . دويمه معنى دا ده : چې اعراب هر هغه حرف او حركت دے چې په دې حرف او حركت سره مختلف كيږي آخير د معرب . بيا كله چې " **ما** " عبارت شي د شے نه نو د

سبب نه مراد مونږ سبب قريبه واغستو ، په دې سره مونږ دفع د سوال وکړه ، **سوال** دا دے : چې دا تعريف د اعراب دې نه دے صحيح ؛ ځکه دا مانع نه دے د دخول د غير نه او کوم تعريف چې مانع نه وی د دخول د غير نه هغه صحيح نه وی نو دا صحيح نه شو ، کبرى ظاهره ده او دليل د صغرى دا دے : چې دا مانع ؛ ځکه نه دے چې داخليږی پکښې عامل ، او معنى مقتضى ؛ ځکه چې د دې أشياؤ په سبب آخير د معرب بدليږی حالانکه ديته خلق اعراب نه وائی ؟ **جواب** : ۱ ـ دا تعريف مانع دے د دخول د غير نه ؛ ځکه چې د سبب نه مراد سبب قريبه دے او دغه أشياء اسباب بعيده دی . **جواب** : ۲ ـ دا ما عبارت دے د حرف او حرکت نه ، حاصل د جواب دا دے : چې تعريف مانع دے عامل او معنى مقتضى پکښې نه داخليږی ؛ ځکه لفظ د ما عبارت دے د حرف او حرکت نه او دغه أشياء نه حروف دی او نه حرکات دی . په دې دويم جواب باندې اعتراض ورديږی چې صحيح ده چې ما عبارت شی د حرف او حرکت نه نو عامل او معنى مقتضى د اعراب پکښې نه داخليږی خو عامل ترې مطلقًا نه خارجيږی ؛ ځکه بعض عوامل حروف دی لکه حروف جاره حروف مشبه بالفعل ؟

جواب : زما مراد د حروف نه مطلق حروف نه دی مراد ، بلکه حروف مبانى ترې مراد دی؛ ځکه حروف په دوه قسمه دی : ۱ ـ حروف هجاء . ۲ ـ حروف ترکيب . حروف هجاء لکه ألف ، باء ، تاء وغيره نو دې لره څه اعتبار نشته ؛ ځکه چې ځانله ځانله پراته دی په چا کښې کار نه لری . او حروف ترکيب بيا په دوه قسمه دی : ۱ ـ حروف مبانى . ۲ ـ حروف معانى .

حروف مبانى : ديته وائی چې د هغې نه بنا د کلماتو کيږی لکه چې " **الکلمة** " کښې ألف لام ، کاف ، لام ، ميم ، او تاء دی چې د دې نه دا لفظ د " **الکلمة** " جوړ شوے دے .

او **حروف معانى** : هغه حروف دی چې هغه يوه خاصه معنى ورکوی لکه حروف جاره شو چې په دې کښې د باء ځانله معنى ده او د تاء ځانله الخ ، يا لکه حروف مشبه بالفعل شو نو دلته زمونږ مراد د حروف نه حروف مبانى دی نه حروف معانى .

قوله : آخرالمعرب ... په دې سره ئ احتراز وکړو د اول د معرب نه او د وسط د معرب نه ؛ ځکه چې په اول يا وسط کښې چې حروف يا حرکات راشی نو هغې ته اعراب نه وائی . **سوال** : د اعراب د پاره آخير د اسم معرب ولې خاص کړے شو په اول او وسط کښې اعراب ولې نه راځی ؟ **جواب** : ځکه چې اعراب يو صفت دے او صفت مؤخر وی د ذات نه نو په دې وجه آخيرنے حرف د معرب ورله خاص شو .

قوله : کالضمة والفتحة والکسرة و الواو و الألف والياء ... غرض د مصنف رحمه الله د دې عبارت نه مثال او مصداق ذکر کول دی خو اعراب اولًا په دوه قسمه دے : ۱ ـ بالحرکة . ۲ ـ بالحرف . بيا بالحرکة درې قسمه دے : ۱ ـ بالضمة . ۲ ـ بالفتحة . ۳ ـ بالکسرة . بيا هر واحد د دې نه دوه

دوه قسمه دے : ۱ـ لفظي . ۲ـ تقديري . او اعراب بالحرف هم دري قسمه دے : ۱ـ بالواو . ۲ـ بالألف . ۳ ـ بالياء . نو ماتنﷺ هم په دې عبارت مذکوره سره اشاره وکړه اعراب بالحرکة او اعراب بالحرف ته . بيا دلته چې کوم حرکات راځي نو د هغې د پاره د دوی سره تعبيرات دی . مونږ ورته زور ، زير ، او پيښ وائيو . او دوی ورته مختلف نومونه وائی : ۱ـ لکه کله ترې تعبير کوی په رفع ، نصب ، جر ، او جزم سره . ۲ـ کله ترې تعبير کوی په ضمه ، فتحه ، کسره ، او سکون سره . ۳ ـ او کله ترې تعبير کوی په ضم ، فتح ، کسر ، او وقف سره . هر کله چې ترې تعبير وشی په ضم ، فتح ، کسر ، او وقف سره نو دا خاص وی په مبنی پورې . او چې په تاء سره ذکر شی (يعني ضمة ، فتحة ، کسرة ، او سکون) نو دا مشترک وی په مابين د معرب او مبنی کښې ، او چې کله تعبير وشی په رفع ، نصب ، جر ، او جزم سره ، نو دا خاص وی د معرب سره .

قوله : **واعراب الاسم علی ثلاثة أنواع رفع و نصب و جر** ... د دې ځایٔ نه بعد أقسام د اعراب ذکر کوی چې په اسم کوم قسم اعراب راځی .

بيان أنواع إعراب الإسم المعرب

نو دے وائی : چې رفع ، نصب ، او جر پرې راځی خو مراد د اسم نه مطلق اسم نه دے بلکه مراد ترې اسم معرب دے په قرينه د بحث کولو سره د اسم معرب نه ، نو معنی دا شوه چې اعراب د اسم معرب « **علی ثلاثة أنواع** » ، " **أنواع** " جمع د " **نوع** " ده ، او " **نوع** " هغه کلي ته وائی چې صادقيږی په کثيرينو باندې او متفقة الحقيقت وی . او رفع هم يوه نوعه ده لاندې ترې مختلف أفراد دی چې دا رفع په هغې باندې صادقيږی دارنګ د نصب او جر لاندې هم ګڼر أفراد دی . او أنواع د اعراب د اسم درې ؛ ځکه دې چې دا دلالت کوی په معانيؤ معتورؤ باندې ، يعني ېے در ېے پرله پسې چې په اسم کښې کومې معانې راځی نو په هغې باندې دلالت کوی چې هغه فاعليت ، مفعوليت ، او اضافت دی . او هغه مدلولات درې وو نو دوال ئې هم درې شو ؛ ځکه که دوال زيات کړو نو د يوې معنی د پاره به دوه اعرابه راشی نو لازم به شی ترادف . " **ترادف** " وئيلے شی سوريدو ته پس د بل نه نو دلته يوه معنی وه او په هغې دوه اعرابه سواره شول ، او که مونږ دا اعرابات کم کړو د دريؤ نه نو يو اعراب به د دوه معانيؤ د پاره راځی نو لازميږی اشتراک او ترادف او اشتراک او ترادف دواړه خلاف الأصل دی ، نو په دې وجه چې معانې درې وې نو اعرابات هم درې شول .

قوله : **رفع و نصب و جر** ... (۱) دا يا مجرور دی بناء بر بدليت د أنواع نه او بدل خو د توابع نه دے او مبدل منه مجرور وو بناء بر مضاف اليه نو بدل هم مجرور شو . (۲) او يا مرفوع دی بناء په دې چې دا خبر د مبتداء محذوف دے چې أحدها رفع الخ . يا الأول رفع الخ . (۳) او يا منصوب دی بناء په دې چې دا مفعول به شی د پاره د فعل مقدر چې " **أعني** " دے .

پس د دينـــــــه : " **رفع** " په لغت کښې اوچت والی ته وائی ، او په اصطلاح کښې هغه ضمې ته وائی چې آخير د اسم معرب کښې راځی ، يا ضمه او هغه شے چې قائم وی په مقام د ضمه باندې چې دلالت په فاعليت کوی . او دې رفع ته رفع د دوه وجو نه وائی : ۱ـ يو د دې وجې نه چې په وقت د اداء کولو د دې کښې لاندې شونډه اوچتيږی برې ته . ۲ـ د دې وجې نه چې دا اوچته ده او عالی ده په خپلو دوه ملګرو باندې چې نصب ، او جر دی ؛ ځکه چې دا دلالت کوی په فاعليت باندې او فاعل عمده دے په مفعول او مضاف اليه . بيا رفع په پنځه قسمه ده : ۱ـ په ضمه لفظی سره لکه " **جاء زيدٌ** " . ۲ـ ضمه تقديری سره لکه " **جاء موسى** " . ۳ـ په " **واو** " سره لکه " **جاء مسلمون** " . ٤ـ په " **واو** " تقديری سره لکه " **جاء مسلمیّ** " چې په أصل کښې " **مسلمون** " وو . ٦ـ رفع په " **ألف** " سره لکه " **جاء رجلان** " . او " **نصب** " په لغت کښې ودرولو ته وائی ، او په اصطلاح کښې هر هغه فتحه ده چې په آخير د اسم معرب کښې وی ، يا فتحه او هغه شے چې قائم وی په مقام د فتحې باندې چې دلالت کوی په مفعوليت باندې . او " **نصب** " ته " **نصب** " ؛ ځکه وائی چې د دې د اداء کولو په وقت کښې دواړه شونډې په خپل ځائ ولاړې وی . يا د دې وجې نه چې کوم شے فضله وی نو هغه په کلام کښې ودريږی . بيا نصب هم پنځه قسمه راځی : ۱ـ په فتحه لفظی سره لکه " **رأيت زيـدًا** " . ۲ـ په فتحه تقديری سره لکه " **رأيت موسى** " . ۳ـ په کسره لفظی سره لکه **جمع مؤنث سالم** کښې شو لکه " **رأيت مسلمات** " . ٤ـ په ألف سره لکه " **رأيت أباک** " . ٥ـ نصب په ياء لفظی سره لکه " **رأيت مسلمين** " شو .

او " **جر** " په لغت کښې راښکلو ته وائی ، او په اصطلاح کښې هغه کسرې ته وائی چې په آخير د اسم معرب کښې راشی يا کسره او هغه شے چې قائم وی په مقام د کسره چې دلالت کوی په اضافت . او جر ته جر ؛ ځکه وائی چې په حين د اداء کولو د دې لاندې شونډه راښکل کيږی ، يا د دې وجې نه چې د عامل (فعل يا شبه فعل) معنی خپل مدخول ته راکاږی . بيا " **جر** " څلور قسمه راځی : ۱ـ کسره لفظی سره لکه " **مـــررت بزيدٍ** " . ۲ـ په کسره تقديری سره لکه " **مررت بموسى** " .

۳ـ په فتحه لفظی سره لکه غير منصرف کښې " **مررت بأحمد** " . ٤ـ په " **ياء** " لفظی سره لکه " **مررت بمسلمين** " شو . بناء په دې سره د اعراب خوارلس قسمونه شول .

وَالْعَامِلُ مَا بِهِ رَفْعٌ، أَوْ نَصْبٌ، أَوْ جَرٌّ، وَ مَحَلُّ الْإِعْرَابِ مِنَ الْإِسْمِ هُوَ الْحَرْفُ الْآخِيْرُ، مِثَالُ الْكُلِّ نَحْوُ: "قَامَ زَيْدٌ" فَـ "قَامَ" عَامِلٌ، وَ "زَيْدٌ" مُعْرَبٌ، وَ الضَّمَّةُ إِعْرَابٌ، وَ الدَّالُ مَحَلُّ الْإِعْرَابِ، وَ اعْلَمْ أَنَّهُ لَا يُعْرَبُ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ إِلَّا الْإِسْمُ الْمُتَمَكِّنُ، وَ الْفِعْلُ الْمُضَارِعُ، وَ سَيَجِيْئُ حُكْمُهُ فِي الْقِسْمِ الثَّانِيْ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

ترجمه: او عامل هر هغه شے دے چې په سبب د دې سره حاصليږي مقتضی د رفع، يا مقتضی د نصب، يا مقتضی د جر. او ځائ د واقع کيدلو د اعراب په اسم کښې حرف آخير دے، مثال د ټولو لکه قام زيد، نو قام عامل دے او زيد معرب، او ضمه اعراب، او دال ځائ د واقع کيدو د اعراب دے. او پوهه شه: چې معرب نه دی په کلام د عرب کښې سوا د اسم متمکن او فعل مضارع نه، او زر ده چې حکم د فعل مضارع به په قسم ثاني کښې راشي ان شاء الله تعالى.

تشريح: قوله: **والعامل** ... غرض د مصنفؒ تعريف کول دی د عامل، او د عامل تعريف؛ ځکه کوی چې معرفت د حکم المعرب موقوف دے په معرفت د عامل باندې او دا ځکه چې مفهوم د عامل ماخوذ دے په حکم المعرب کښې؛ نو ځکه دے تعريف د عامل کوی. د اعراب تعريف ئ مقدم کړو د تعريف د عامل نه؛ ځکه چې معرفت د عامل حاصليږي پس د حصول د اعراب نه. بيا په تعريف د عامل کښې أقوال د نحويانو مختلف دی. مصنفؒ دا تعريف وکړو چې ما به رفع و نصب و جر، (عامل هر هغه شے دے چې په سبب د دې سره حاصليږي مقتضی د رفع، يا مقتضی د نصب، يا مقتضی د جر. بيا مونږ ووے: چې حاصليږي مقتضی د رفع، نصب، او جر. نو مقتضی د رفع فاعليت دے، او مقتضی د نصب مفعوليت دے، او مقتضی د جر اضافت دے) او ابن حاجب صاحبؒ په کافيه کښې تعريف کړے دے چې عامل ديته وائي چې «**ما به يتقوم المعنى المقتضى للاعراب**» (چې مقتضی وی د معانيو مختلفو). بل تعريف بعض نحويانو دا کوی: چې عامل ديته وائي: چې «**ما به يختلف آخر المعرب بوجهٍ مخصوصٍ**». **سوال**: مصنفؒ دغه دوه تعريفونه ولې ونکړه؟ **جواب**: مصنفؒ دغه دوه تعريفونه ونکړه د چند وجوه نه: ۱ـ د دې وجې نه چې د دې تعريفونو او د دغه تعريف مقصد يو دے صرف د ألفاظو فرق دے چې دا نوی ألفاظ دی بناء په دې چې «**کل جديدٍ لذيذ**». ۲ـ په هغه تعريفونو باندې اعتراضات وارديږي نو مصنفؒ ځکه د هغې نه عدول وکړو او دا تعريف ئ وکړو چې «**العامل ما به رفع او نصب او جر**» ترجمه ئ دا ده: چې عامل ديته وائي: چې حاصليږي په دې سره مقتضی د رفع، نصب، او جر. دلته مونږ د رفع نصب او جر نه مقتضی د رفع نصب جر واغستو، ديته وئيلے کيږي ذکر د لازم او مراد ترينه ملزوم. اوس په دې تعريف باندې **اعتراض** راځي: چې

دا نه دے صحیح ؛ ځکه چې دا نه شاملیږی عامل د فعل لره ؛ ځکه چې په فعل کښې جر نه راځی او نه وائی چې په دې سره رفع ، نصب ، او جر حاصلیږی ؟ د دې نه دوه جوابونه دی یو تسلیمی دے او بل منعی دے .

منعی جواب دا دے : نه منم دا خبره چې دا تعریف شامل نه دے عامل د فعل لره ؛ ځکه چې مونږ ووے : چې حاصلیږی په دې سره رفع ، نصب ، او جر نو دا ضروری نه ده چې درې واړه دې ورباندې حاصلیږی ، نو یا به پرې رفع حاصلیږی ، یا نصب ، او یا جر . نو په دې اسم کښې ورباندې درې واړه حاصلیږی او په فعل کښې ورباندې رفع ، او نصب حاصلیږی . نو دا " أو " په دې مقام کښې د پاره د مانعة الخلو دے .

تسلیمی جواب دا دے : چې که ومنم چې دا تعریف عامل د فعل ته نه شاملیږی نو دا صحیح ده خو زه تعریف د عامل د اسم کوم او قرینه پدې باندې بحث دَ اسم دے .

قوله : و محل الاعراب ... او ځائ د واقع کیدو د اعراب حرف آخیر دے ، او نکته په دیکښې دا ده : چې اعراب صفت دے او کلمه موصوف دے او موصوف مقدم وی او صفت مؤخر وی . دویمه نکته دا ده : چې اعراب راځی د پاره د ازالې د فساد ، او فساد په اول او وسط کښې نه راځی ، بلکه په آخیر کښې راځی . اوس مثال د عامل ، اعراب ، او محل د اعراب: لکه " **قام زید** " نو " **قام** " عامل دے ، او " **زید** " معرب دے ، او دا ضمه اعراب دے ، او دال محل د اعراب دے .

ترکیب ئ دا دے : " **زیدٌ** " مبتداء " **قام** " فعل ضمیر پکښې دے راجع دے " **زید** " ته هغه ئ فاعل ، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعلیه خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه .

قوله : واعلم أنه لایعرب ... اعلم راځی د پاره د یقظت د مخاطب[1] چې ویخ شه ! او د دې ځائ نه أقسام د معرب ذکر کوی چې دوه څیزونه معرب دی : ۱ ـ اسم متمکن . ۲ ـ فعل مضارع چې خالی وی د نون د جمع مؤنث او نون تاکید ثقیله نه ، او باقی هر څه مبنی دی .

سوال : تا خو د فعل مضارع بیان ونکړو ؟

جواب : وسیجیئ حکمها فی القسم الثانی .

سوال : نه څه عالم الغیب ئ چې وائی : چې رابه شی ؟ **جواب** : إن شاء الله تعالی .

---

(۱) د یقظت د پاره په عربئ کښې " اعلم " راځی او په فارسئ کښې " بدان " راځی ، او د دې د راوړلو مختلف وجوه وی تقریباً لس به " وصول جوهری لتوضیح فصول أکبری " صفحه ۴۱ کښې لیکل شوی دی ، او څه به " التقریر الشامی " ، او " سلاح النجاح " کښې هم ذکر دی ؛ فلیراجع الیها .

فصل في أصناف إعراب الإسم ، وهي تسعة أصناف : الأول أن يكون الرفع بالضمة ، و النصب بالفتحة ، و الجر بالكسرة ، و يختص بالمفرد الصحيح ، و هو عند النحاة ما لا يكون في آخره حرف علة كـ " زيد " ، و بالجاري مجرى الصحيح ، و هو ما لا يكون في آخره " واو " ، أو " ياء " ماقبلهما ساكن كـ " دلو " ، و " ظبي " .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د أقسامو د اعراب د اسم کښې ، او دا نهه قسمه دی ، اول دا دے چې رفع ئې په ضمه سره وی ، نصب په فتحه سره ، او جر په کسره سره ، او دا قسم اعراب خاص دے په مفرد صحيح او دا صحيح په نزد د نحات هغه دے چې په آخر کښې ئې حرف علت نه وی (صحيح د صرفيانو نه دے مراد) لکه زيد ، او په جاری مجری د صحيح پورې او دا هغه دے چې په آخر د دې کښې واو ، يا ياء وی او ماقبل ترې ساکن وی لکه " دَلْوٌ " ، او " ظَبْيٌ " .

تشريح : قوله : **فصل في أصناف اعراب الاسم** ... په مقدمه د اسم کښې څلور فصول وو : فصل اول په بيان د تعريف د اسم معرب کښې وو . فصل ثانی په بيان د حکم د اسم معرب کښې وو . او دا فصل ثالث په بيان د أصنافو د اسم معرب کښې دے . چې په دې فصل کښې أصناف د إعراب الإسم المعرب ذکر کوی . " **أصناف** " جمع د " **صنف** " ده صنف ، نوع ، قسم ، او نحو دا ألفاظ مختلفه دی او معنی ئې يوه ده ، د دې په درميان کښې فرق اعتباری دے په اعتبار د ذات سره ورته نوع وائی مثال لکه انسان ، او په اعتبار د أمر خارج سره ورته صنف وائی مثال لکه " **رومی** " شو ، او په اعتبار د عموم سره ورته قسم وائی مثال لکه " **حيوان** " شو . او دا أصناف د اعراب د اسم دی . قوله : **و هی تسعة** ... په " **نحو مير** " کښې ئې شپارس ونيلی دی او دلته ئې نهه ووے ديته فرق د اجمال او تفصيل وائی ، يعنې هغه تفصيل کړے دے او دہ اجمال وکړو ، دارنګ غير مشهور أصناف مصنفؒ نه دی راغستی ، او صاحب د نحو مير راغستی دی نو فرق د مشهور او غير مشهور هم کيدے شی . دلته مصنفؒ دا نهه أقسام ذکر کړی دی مونږ به ئې وجه د حصر ذکر کړو .

وجه الحصر بين أصناف إعراب الإسم

نو وجه د حصر په دغه نهه أقسامو کښې دا ده : چې دا اعراب به خالی نه وی يا به لفظی وی او يا به تقديری وی ، که اول وو نو بيا به خالی نه وی يا به بالحرکة وی او يا به بالحرف وی ، که بالحرکة وو نو بيا به خالی نه وی يا به په أحوال ثلاثو کښې وی او يا به په حالتين کښې وی ، که اول وو نو دا اول قسم شو ، او که ثانی وو نو بيا به خالی نه وی يا به نصب تابع د جر وی او يا به جر تابع د نصب وی ، که اول وو نو دا دويم قسم ، او که ثانی وو نو بيا دريم قسم

شو . او كه اعراب لفظي بالحرف وو نو بيا به خالي نه وي يا به په أحوال ثلاثو كښې وي او يا به په حالتين كښې وي ، كه په أحوال ثلاثو كښې وو نو دا څلورم قسم شو او كه په حالتين كښې وو نو بيا به خالي نه وي يا به ياء ماقبل مفتوح وي او يا به ياء ماقبل مكسور وي ، كه ياء ماقبل مفتوح وو نو دا پنځم قسم شو ، او كه ياء ماقبل مكسور وو نو دا شپږم قسم شو ، او كه اعراب تقديري وو نو بيا به خالي نه وي يا به بالحركة وي يا به بالحرف وي ، كه بالحركة وو نو بيا به خالي نه وي يا به تقديري وي په أحوال ثلاثو كښې او يا په حالتين كښې ، كه په أحوال ثلاثو كښې وو نو دا ووم قسم شو ، او كه په حالتين كښې تقديري وو او په يو حالت كښې لفظي وو نو دا اتم قسم شو ، او كه اعراب تقديري بالحرف وو نو نهم قسم شو .

قوله : **الأول أن يكون الرفع بالضمة ...**

تفصيل أصناف إعراب الإسم

په دې مقام كښې لږ تفصيل : اولًا اعراب د اسم په دوه قسمه دے : ۱ـ اعراب بالحركة . ۲ـ اعراب بالحرف . بيا اعراب بالحركة په درې قسمه دے : ۱ـ په ضمه سره . ۲ـ په فتحه سره . ۳ـ په كسره سره . او اعراب بالحرف هم په درې حروفو سره راځي : په واو سره ، په ألف سره ، او په ياء سره . اعراب بالحركة بيا دوه قسمه دے : ۱ـ لفظي . ۲ـ تقديري .

بل تفصيـــــل : رفع په څلور طريقو سره راځي : ۱ـ په ضمه سره لفظًا لكه " **جاء زيدٌ** " . ۲ـ په ضمه سره تقديرًا لكه " **جاء موسى** " . ۳ـ په واو سره لكه أسماء سته مكبره چې مضاف وي غير د ياء د متكلم ته په حالت رفعي كښې لكه " **جاء أبوك** " . ٤ـ په ألف سره لكه " **جاء رجلان** " . او په " واو " تقديري سره لكه جمع مذكر سالم چې مضاف شي " ياء " د متكلّم ته په حالت رفعي كښې لكه " **جاءني مسلميّ** " .

او " **نصب** " په پنځه طريقو سره راځي : ۱ـ په فتحه لفظي سره لكه " **رأيت زيدًا** " . ۲ـ په فتحه تقديري سره لكه " **رأيت موسى** " . ۳ـ په كسره سره لكه " **رأيت مسلماتٍ** " . ٤ـ په " **ألف** " سره لكه " **رأيت أباك** " . ٥ـ په " **ياء** " سره لكه " **رأيت مسلمين** " .

او " **جر** " هم په څلور طريقو سره راځي : ۱ـ په كسره لفظي سره لكه " **مررت بزيدٍ** " . ۲ـ په كسره تقديري سره لكه " **مررت بموسى** " . ۳ـ په فتحه سره لكه " **مررت باحمد** " . ٤ـ په " **ياء** " سره لكه " **مررت بمسلمين** " . نو ټول څوارلس أقسام شو چې په دې څوارلس أقسامو كښې اعراب بالحركت أصل دے د اعراب بالحرف نه ، او اعراب لفظي أصل دے د اعراب تقديري نه ، او اعراب د حالات ثلاثو أصل دے د اعراب د حالاتينو نه . نو اول اعراب بالحركت چې په حركت لفظي سره وي او په أحوال ثلاثو كښې وي هغه ذكر كوي چې رفع ئې په ضمه سره وي لفظًا او نصب په فتحه سره وي لفظًا او جر ئې په كسره سره وي لفظًا .

قوله : **ويختص بالمفرد الصحيح** ... د مفرد اطلاق (١) يو په مقابل د جمله كيږي لكه په بحث د تميز كښې چې راځي . (٢) دويم په مقابل د مضاف او شبه مضاف ئ هم اطلاق كيږي لكه په بحث د منادى كښې . (٣) كله ئ اطلاق كيږي په مقابل د تثنيه او جمع باندې . (٤) او كله مقابل د مطلق مركب راځي لكه " **الكلمة لفظ وضع لمعنًى مفرد** " . او دلته هم دريمه معنى مراد ده ، يعنې دا خاص دے په مفرد پورې په تثنيه او جمع كښې نه راځي . او مراد د مفرد نه مطلق مفرد نه دے بلكه مفرد صحيح دے په دې سره ئ احتراز وكړو د مفرد غير صحيح نه .

سوال : مصنف‬ رحمه الله د مفرد صحيح د پاره مثال " **زيد** " ذكر كړے دے حالانكه " **زيد** " خو صحيح نه دے ؛ ځكه صحيح خو ديته وائى : چې په مقابله د فاء ، عين ، او لام كښې ئ حرف علت نه وى او په زيد كښې خو ياء راغلې ده نو ديته صحيح وئيل نه دى صحيح ؟

جواب : " **وهو عند النّحاة ما لايكون** " الخ حاصل د **جواب** دا دے : چې زما مراد په دې مقام كښې صحيح د نحاتو دے نه د صرفيانو او صحيح عند النحاة ديته وائى چې په ځائ د "**لام**" كلمه باندې ئ حرف علت نه وى راغلې او د دې په ځائ د لام كلمه هم حرف علت نشته ، او نحات اعتبار لام كلمې لره وركوى ؛ ځكه چې دوى بحث كوى د آخير د كلمې نه او په نزد د صرفيانو باندې صحيح هغه ته وائى چې په ځائ د فاء ، عين ، يا لام كلمه كښې ئ حرف علت ، همزه ، او دوه حرفه د يو جنس نه نه وى راغلې ؛ ځكه صرفيان بحث د ذات د كلمې نه كوى ، او ذات د اول ، وسط ، او آخير تولو سره تعلق لرى . او حروف علت درې دى : واو ، ياء ، او ألف . كما قال الشاعر .

حرف علت نام كردم واو الف يائ را(١) هر كه راه دردِ رسد لاچار گويد وائ را

قوله : **و بالجارى المجرى الصّحيح** ... او دارنګ دا اعراب خاص دے په جارى مجرى د صحيح پورې يعنې هغه اسم چې جارى وى په ځائ د صحيح باندې او جارى مجرى صحيح ديته وائى : چې په آخير كښې ئ واو وى ، او يا ياء وى او ماقبل ترې ساكن وى ؛ ځكه چې واو او ياء ئ په آخير كښې راغلل نو صحيح نه دى خو جارى دى په ځائ د صحيح باندې ؛ ځكه چې ماقبل د " **واو** " او " **ياء** " نه ساكن دے نو ثقل نه پيدا كوى نو داسې دے لكه صحيح ، مثال لكه " **دلوٌ** " او " **ظبي** " شو .

(١) وقال الآخر : در شب هجران ماش حرف خوانى نيك رائ «» حرف علت را كنم تكرار گويم وائ وائ . [كذا في وصول جوهرى]

وَ بِالْجَمْعِ الْمُكَسَّرِ الْمُنْصَرِفِ كَـ " رِجَالٍ " تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَّ دَلْوٌ وَّ ظَبْيٌ وَ رِجَالٌ " ، وَ " رَأَيْتُ زَيْدًا وَ دَلْوًا وَّ ظَبْيًا وَّ رِجَالًا " ، وَّ " مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَّ دَلْوٍ وَّ ظَبْيٍ وَّ رِجَالٍ " . اَلثَّانِيْ أَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ ، وَ النَّصْبُ ، وَ الْجَرُّ بِالْكَسْرَةِ ، وَ يَخْتَصُّ بِجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ السَّالِمِ تَقُوْلُ : " هُنَّ مُسْلِمَاتٌ " وَ " رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ " ، وَّ " مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ " .

ترجمه : او خاص دے دا قسم اعراب په جمع مكسر منصرف پورې لكه " رجال " ، ته به وائى : " جاءنى زيد و دلو و ظبي و رجال " الخ . او دويم قسم د اعراب د اسم دا دے : چې رفع به ئې په ضمه لفظى سره وى او نصب او جر په كسره سره . او دا قسم خاص دے په جمع مؤنث سالم پورې لكه ته وائى : " هنّ مسلمات و رأيت مسلمات و مررت بمسلمات " .

تشريح : قوله : **وبالجمع المكسر المنصرف** ... او دا قسم اعراب مختص دے په جمع مكسر منصرف پورې ، په مكسر سره ئې احتراز وكړو د سالم نه او په منصرف سره ئې احتراز وكړو د غير منصرف نه ؛ ځكه چې د جمع سالم اعراب بالحرف وى نه بالحركت . او جمع غير منصرف چې صيغه د منتهى الجموع ورته وائى د هغې اعراب په حالات ثلاثو كښې نه دے ، بلكه په حالتين كښې دے . اوس دا قسم اعراب ولې خاص شو په دې اسماؤ پورې ؛ نو ځكه چې دا قسم اعراب أصل دے د وجوه ثلاثو نه : ١ـ اعراب بالحركة أصل دے د اعراب بالحرف نه . ٢ـ اعراب لفظى أصل دے د اعراب تقديرى نه . ٣ ـ او اعراب په حالات ثلاثو كښې أصل دے د اعراب نه په حالتين كښې ، او دا درې واړه أسماء هم أصل دى ؛ ځكه مفرد أصل دے د تثنيه او جمع نه ، او منصرف أصل دے د غير منصرف نه او جارې مجرى هم په حكم د مفرد صحيح كښې دے ، او جمع مكسر أصل ده د سالم نه ، او منصرف أصل دے د غير منصرف نه ، نو أصل مو أصل ته وركړو ؛ د پاره د رعايت د مناسبت .

قوله : **تقول جاءنى زيد و دلو وظبي و رجال** ... دا مثال ذكر كوى ، په حالت رفعى كښې " جاء " عامل رافعه دے نو " زيد " له ئې رفع وركړې ده ، او دا مثال د مفرد منصرف صحيح دے او " **دَلْوٌ** " او " **ظَبْيٌ** " مثال د جارى مجرى صحيح دے ، او " **رجال** " مثال د جمع مكسر دے نو په دې ټولو كښې ضمه لفظى ده په حالت رفعى كښې .

تركيب ئې داسې دے : " **جاء** " فعل " **نون** " وقايه " **ياء** " ضمير د واحد متكلم مفعول به " **زيد** " ئې فاعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

قوله : و رأيت زيدًا ... دا مثال د حالت نصبى دے . تركيب ئې دا دے : " رأيت " فعل فاعل " زيدًا " مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

قوله : و مررت بزيد ... دا مثال د حالت جري دے . ترکیب ئې دا دے : " مررت " فعل فاعل " باء " جاره " زيد " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا په اعتبار د متعلق سره مفعول به د پاره د مررت فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

قوله : الثاني أن يكون الرّفع بالضّمّة ... دا " الثـــاني " صفت دے د پاره د موصوف محذوف چې " الصّنف " دے ، يا " القسم " دے . يعني دويم قسم د أصنافو تسعو د اعراب نه دا دے : چې رفع به ئې په ضمه سره وي او نصب او جر به ئې په کسره سره وي (حالت نصبي تابع د جر دے) . او دا هم اعراب بالحرکت دے نو د دې وجې نه ئې د باقي أقسامو نه مقدم کړے دے ؛ ځکه اعراب بالحرکت أصل دے د اعراب بالحرف نه ، او بیا په حرکت لفظي سره دے ، او اعراب په حرکت لفظي سره أصل دے د تقدیري نه لیکن د قسم اول نه ئې وروسته کړو ؛ ځکه هغه په حالات ثلاثو کښې وو او دا په حالتین کښې دے ؛ ځکه چې دلته نصب تابع د جر دے .

قوله : ويختص بجمع المؤنث السالم ... مراد د جمع مؤنث سالم نه هر هغه جمع ده چې جمع شوی وي په " ألف " او " تاء " سره ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، اعتراض دا دے : چې زه به درته وښایم چې جمع مؤنث سالم به وي او دا قسم اعراب به ورباندې نه راځي لکه " سنون " چې جمع د " سنة " ده او " سنةٌ " مؤنث دے حالانکه د هغې اعراب بالحرف دے بالحرکة خو نه دے او دارنګ " قلون " چې جمع د " قلة " ده ، او " أرضون " چې جمع د " أرض " ده وغیره ؟ جواب وشو : چې زما مراد د جمع نه هر هغه جمع ده چې جمع شوی وي په " ألف " او " تاء " سره عام د دې نه که جمع د مؤنث وي او که جمع د مذکر وي . او " سنون " ، " أرضون " ، او " قلون " اګرچې جمع د مؤنث دي لیکن په ألف او تاء سره نه دي جمع شوي . او بل طرف ته چې مرفوعات ، منصوبات ، او مجرورات جمع د مرفوع ، منصوب ، او مجرور ده یعنې جمع د مذکر ده خو په ألف او تاء سره جمع شوې ده نو هغې ته هم جمع مؤنث سالم وئیلے شي . سوال : دا قسم اعراب په دې نوع د اسم کښې ولې راځي او په دې پورې ولې خاص شو پکار خو دا وه چې اعراب بالحرکة په مفرد کښې راتلے ؛ ځکه هغه أصل دے او اعراب بالحرکة هم أصل دے او جمع خو فرع ده نو پکار وه چې په دې کښې اعراب فرعي راتلے چې اعراب بالحرف دے ؟ جواب : ۱ـ صحیح ده چې اعراب بالحرکة أصل دے او دا په مفرد کښې راتلل پکار وو او په جمع کښې اعراب بالحرف پکار وو خو د یو مانع د وجې نه په جمع مؤنث سالم کښې اعراب بالحرف نشي راتلے او هغه مانع دا دے : چې آخر د دې صالح نه دے د اعراب بالحرف ؛ د وجې د عدم وجود د حرف علت نه نو دا اعراب بالحرکة په دې کښې د مجبورئ نه راغلے دے د مستئ نه نه دے راغلے ، او نقصان به هله وے چې د مستئ د وجې نه راغلے

وے . ۲ـ دویم جواب دا دے : چې اعراب بالحركة أصل دے خو په أحوال ثلاثو کښې او په جمع مؤنث سالم کښې په حالتین کښې راغلے دے او دا أصل نه دے . اوس په دې کښې نصب تابع د جر ولې شو عکس ولې نه کیدو ؟ نو دا ځکه چې جمع مؤنث سالم فرع ده د جمع مذکر سالم او په جمع مذکر سالم کښې نصب تابع د جر وو نو په جمع مؤنث سالم کښې هم نصب تابع د جر شو ؛ د دې د پاره چې مخالفت د فرع رانشي د أصل نه .

قوله : **تقول هنّ مسلماتٌ** ... دا په حالت رفعی کښې .

ترکیب ئې دا دے : چې " **هنّ** " مبتداء ، او " **مسلمات** " ئې خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه . " **رأیت مسلماتٍ** " په حالت نصبي کښې .

ترکیب ئې دا دے : چې " **رأیت** " فعل فاعل او " **مسلمات** " ئې مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه شوه . او " **مررت بمسلماتٍ** " په حالت جری کښې .

ترکیب ئې دا دے : چې " **مررت** " فعل فاعل او " **بمسلمات** " جار مجرور په اعتبار د متعلق سره مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه شوه .

اَلثَّالِثُ : أَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ ، وَ النَّصْبُ وَ الْجَرُّ بِالْكَسْرَةِ ، وَيُخْتَصُّ بِغَيْرِ الْمُنْصَرِفِ كَـ " عُمَرَ " تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ عُمَرُ " ، وَ " رَأَيْتُ عُمَرَ " ، وَ " مَرَرْتُ بِعُمَرَ " .

ترجمه : دریم (قسم اعراب د اقسام تسعو نه د اسم معرب) دا دے : چې رفع به ئې په ضمه سره وي ، او نصب او جر به ئې په فتحه سره وي ، او دا قسم خاص دے په غیر منصرف پورې لکه عمرُ ، لکه ته وائې : جاءني عمرُ ، و رأیت عمرَ ، و مررت بعمرَ .

تشریح : قوله : **الثالث أن یکون الرفع بالضمة** ... غرض د مصنف رحمه الله د دې عبارت نه دریم قسم اعراب ذکر کوی د أقسام تسعو نه . دا هم اعراب بالحرکة دے ، او په حالتین کښې دے ، او فرق ئې د دې مخکښې سره دا دے : چې هلته نصب تابع د جر وو او دلته عکس دے یعني جر تابع د نصب دے ، او دا اعراب بالحرکة دے ؛ نو ځکه ئې مقدم کړو د اعراب بالحرف نه ، او لفظی دے نو مقدم ئې کړو د تقدیری نه . قوله : **ویختص بغیر المنصرف** ... او دا قسم اعراب خاص دے په غیر منصرف پورې . د غیر منصرف تعریف او پوره تفصیل ماله و ماعلیه ورسته راروان دے ، خو دلته دا پیژندل پکار دی چې دا قسم اعراب ولې خاص شو په غیر منصرف پورې ؟ نو دا ؛ ځکه چې دا قسم اعراب فرع د اعراب في الأحوال الثلاثة ده ، او غیر منصرف فرع د منصرف ده ، نو هغه أصل اعراب په أصل کښې راتلو ، او دا فرع خاص شوه په فرع پورې . او جر پکښې تابع د نصب ؛ ځکه شو چې غیر منصرف مشابه دے د فعل سره په

وجود د فرعيتين كښې په دې شان سره چې په فعل كښې دوه فرعيته وى د اسم ، يو فرع د اسم ده په اشتقاق (اى اشتقاق الفعل من المصدر) كښې ، او دويم په جوړولو د كلام كښې (چې كلام بغير د اسم نه نه جوړيږى) ، او يا دا چې په صدور كښې فاعل ته محتاج وى ، او په غير منصرف كښې دوه سببه وى او دا هر يو سبب فرع د غير وى ، او په فعل كښې خو كسره او تنوين نه راتلو نو دلته به هم نه راځى . مثال لکه عمرُ شو ، دا غير منصرف دے يو پکښې عدل دے او بل پکښې علميت دے . قوله : **تقول جاءنى عمرُ** ... دا په حالت رفعى كښې .

ترکيب ئې دا دے : " **جاء** " فعل " **نون** " وقايه " **ياء** " ضمير د واحد متكلم مفعول به " **عمرُ** " فاعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه . قوله : **رأيت عمرَ** ... دا په حالت نصبى كښې .

ترکيب ئې دا دے : " **رأيت** " فعل فاعل " **عمرَ** " مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه . قوله : **و مررت بعمر** ... دا مثال د حالت جرى دے .

ترکيب ئې دا دے : " **مررت** " فعل فاعل " **بعمر** " جار مجرور متعلّق دے په " مررت " پورې ؛ دا مفعول به بالواسطه شو د پاره د " **مررت** " فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

الرَّابِعُ : أَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالْوَاوِ ، وَ النَّصْبُ بِالْأَلِفِ ، وَ الْجَرُّ بِالْيَاءِ ، وَ يُخْتَصُّ بِالْأَسْمَاءِ السِّتَّةِ مُكَبَّرَةً مُوَحَّدَةً مُضَافَةً إِلَى غَيْرِ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ ، وَ هِيَ أَخُوْكَ ، وَ أَبُوْكَ ، وَ هَنُوْكَ ، وَ حَمُوْكِ ، وَ فُوْكَ ، وَ ذُوْ مَالٍ تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ أَخُوْكَ "، وَ " رَأَيْتُ أَخَاكَ "، وَ " مَرَرْتُ بِأَخِيْكَ "، وَكَذَا الْبَوَاقِيْ.

ترجمه : څلورم قسم د اعراب الاسم دا دے : چې رفع به واو سره وى ، او نصب به ألف سره ، او جر به ياء سره ، او دا قسم خاص دے په أسماء سته مكبره موحده پورې چې مضاف وى غير د ياء د متكلم ته ، او دا أسماء سته مكبره دا دى : أخوك الخ . لکه چې ته وائى : جاءنى أخوك الخ .

تشريح : قوله : **الرابع أن يكون الرفع بالواو** ... هر كله چې فارغ شو مصنفﷺ د اعراب بالحركة نه نو شروع ئې وكړه په اعراب بالحرف كښې ، او اعراب بالحركة ئې مقدم كړے وو د اعراب بالحرف نه ؛ ځکه هغه أصل وو ؛ ځکه اعراب بالحرف عبارت دے د واو ، ألف ، او ياء نه چې دېته حروف علت هم وائى ، او واو د دوه ضمو نه جوړ دے ، ألف د دوه فتحو نه جوړ دے ، او ياء د دوه كسرو نه جوړه ده . نو ألف ، واو ، او ياء فرع شوه د ضمې ، كسرې ، او فتحې ، او په اعراب بالحرف كښې أصل دا دے : چې په أحوال ثلاثو (يعني رفع به واو سره ، نصب

په ياء سره ، او جر په ياء سره) كښې وى نو دا ئ مقدم كړو په باقي أقسامو باندې ؛ ځكه هغه په حالتين كښې دى .

قوله : **ويختص بالأسماء الستة مكبرة موحدة** ... او دا قسم اعراب خاص دے په أسماء سته مكبره موحده پورې په حال كون د دې أسماؤ كښې چې مضاف وى غير د ياء د متكلم ته ، او مراد د أسماء ستؤ نه أخ ، أب ، حم ، هن ، فم ، او ذومال دى . " **مكبرة** " ئ چې ووے : نو په دې سره ئ احتراز وكړو د هغه أسماؤ نه چې مصغر وى ؛ ځكه چې مصغر وى نو بيا ئ دا اعراب نه وى ، بلكه معرب وى په اعراب بالحركة سره په أحوال ثلاثو كښې لكه " **جاءنى أخيّك ، رأيت أخيّك ، مررت بأخيّك** " . او " **موحدة** " ئ چې ووے : نو په دې سره ئ احتراز وكړو د تثنيه او جمع نه چې كله دا أسماء سته مكبره موحد نه وى ، بلكه مثنى او جمع وى نو بيا به د دې هغه اعراب وى كوم اعراب چې د تثنيه او جمع وى او هغه ورستو راځى چې د تثنيه حالت رفعى په ألف سره وى او نصبى او جرى ئ په ياء ماقبل مفتوح سره وى ، او د جمع حالت رفعى په واو سره وى او نصبى جرى ئ په ياء ماقبل مكسور سره وى . او " **مضافة** " ئ چې ووے : نو په دې سره ئ احتراز وكړو د هغه أسماء سته مكبره نه چې مضاف نه وى ؛ ځكه دا چې مضاف نه وى نو بيا د دې اعراب بالحركت وى لكه جاءنى أبٌ ، رأيت أبًا ، مررت بأبٍ وغير ذلک . او " **الى غير ياء المتكلم** " سره ئ احتراز وكړو د هغې نه چې اضافت ئ شوے وى " **ياء** " د متكلم ته ؛ ځكه چې په هغه وخت كښې بيا د دې دا قسم اعراب نه وى ، بلكه اعراب د دې بالحركت تقديرى وى لكه جاءنى أخى ، رأيت أخى ، مررت بأخى . نو چې كله دا مذكوره شروط موجود وى يعني دا أسماء سته مكبره وى او موحده وى او مضاف وى غير د ياء د متكلم ته نو حالت رفعى به ئ په واو سره وى او حالت نصبى به ئ په ألف سره وى او حالت جرى به ئ په ياء سره وى . اوس دا قسم اعراب په دې أسماؤ پورې ولې خاص شو سره د دې نه چې دا خو مفردات دى او أصل په مفردات كښې اعراب بالحركت دے نو د دې وجه دا ده : چې كه چرته مونږ هر مفرد لره اعراب بالحركت وركولے او تثنيه او جمع لره اعراب بالحرف وركولے نو بيا به منافرت او وحشت كامله په مابين د مفرد او تثنيه و جموع كښې راغلے وے حالانكه دوى يو بل ته احتياج دے په اشتقاق كښې د مشتق او مشتق منه ؛ نو ځكه مو اعراب بالحرف وركړو . **سوال** : دا أسماء ولې خاص شو ؟

جواب : چې دا أسماء سته مكبره چې مضاف وى غير د ياء د متكلم ته نو دا مشابهت لرى د تثنيه او جمع سره په لفظ او په معنى كښې ؛ مشابهت په لفظ كښې خو داسې دے : چې لكه څنګه چې د تثنيه او جمع په آخير كښې حرف صالح للاعراب وى نو د دې أسماؤ په آخير كښې هم حرف صالح للاعراب وى . او په معنى كښې مشابهت دا دے : چې څنګه په تثنيه

او جمع کښې تعدد وی نو دارنګ په دیګښې هم تعدد وی ؛ ځکه " أخ " ورور ته وائی ، او ورور ته ورور هله وائی چې بل ورور ورلره وی . دارنګ " أب " ته أب هله وائی چې ابن ورلره وی ، دارنګ چې شرمګاه وی نو صاحب ورله خامخا وی ، او چې " حم " وی نو ورندار به ئې وی ، او چې خوک د مال خاوند وی نو " مال " به ورلره هم وی نو تعدد پکښې راغلو نو مشابه شو د تثنیه او جمع سره ، او د هغې اعراب بالحرف وو نو دې لره مو هم اعراب بالحرف ورکړو ، او بیا د دې اعراب په أحوال ثلاثو کښې شو ؛ ځکه دا مفردات دی لفظًا او په مفردات کښې چې اعراب بالحرکت راځی نو هغه په أحوال ثلاثو کښې وی نو اعراب بالحرف پکښې هم په أحوال ثلاثو کښې شو . او په " حموک " کښې ئې اضافت مؤنث ته وکړو ؛ ځکه دا خاص دے په مؤنث پورې . او " ذو مال " کښې د ذو اضافت شوے دے مال اسم ظاهر ته ؛ ځکه دا واضع وضع کړے دے د پاره د توصیف د شی په اسم جنس سره ، او جنس ضمیر نه راځی ، بلکه اسم ظاهر وی همیشه .

قوله : **تقول جاءنی أخوک** ... دا په حالت رفعی کښې .

ترکیب ئې دا دے : " **جاء** " فعل " **نون** " وقایه " یاء " ضمیر د واحد متکلم مفعول به " **أخو** " مضاف " **کاف** " ضمیر د خطاب مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا فاعل شو د پاره د فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به دا جمله فعلیه خبریه شوه .

قوله : **و رأیت أخاک** ... دا په حالت نصبی کښې . ترکیب ئې دا دے : " **رأیت** " فعل فاعل " **أخا** " مضاف " **کاف** " ضمیر د خطاب مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول به شو د پاره د " رأیت " فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه شوه .

قوله : **و مررت بأخیک** ... دا په حالت جری کښې .

ترکیب ئې دا دے : " **مررت** " فعل فاعل " **باء** " حرف جر " **أخیک** " مضاف مضاف الیه مجرور شو د پاره د " باء " جاره ، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو تعلق ساتی د " **مررت** " فعل سره ، نو دا مفعول به شو بالواسطه د پاره د " **مررت** " فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به بالواسطه نه دا جمله فعلیه خبریه شوه . قوله : **وکذا البواقی** ... یعنې دغسې دا نور بنځه هم شو لکه " **جاءنی أبوک ، رأیت أباک ، مررت بأبیک** " الخ .

اَلْخَامِسُ : أَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالْأَلِفِ ، وَ النَّصْبُ ، وَ الْجَرُّ بِالْيَاءِ الْمَفْتُوْحِ مَاقَبْلَهَا ، وَيُخْتَصُّ بِالْمُثَنّٰى ، وَكِلَا مُضَافًا إِلٰى مُضْمَرٍ ، وَ اثْنَانِ وَ اثْنَتَانِ تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا ، وَ اثْنَانِ ، وَ اثْنَتَانِ " ، وَ " رَأَيْتُ الرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا ، وَ اثْنَيْنِ ، وَ اثْنَتَيْنِ " ، وَ " مَرَرْتُ بِالرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا ، وَ اثْنَيْنِ ، وَ اثْنَتَيْنِ " .

ترجمه : پنځم قسم د اعراب الاسم دا دے : چې رفع به یې په " ألف " سره وی او نصب او جر به یې په " یاء " ماقبل مفتوح سره وی ، او دا قسم اعراب خاص دے په مثنی ، او کلا چې مضاف وی ضمیر ته ، او په اثنان او اثنتان پورې لکه ته وائی : " جاءنی الرجلان " الخ .

تشریح : قوله : **الخامس أن یکون الرفع بالألف** ... کله چې فارغ شو مصنف ﷫ د هغه اعراب بالحرف نه چې په أحوال ثلاثو کښې وو نو شروع یې وکړه په بیان د هغه اعراب بالحرف کښې چې په حالتین کښې وی ، یعنې مخکښې هم اعراب بالحرف وو ، او اوس هم اعراب بالحرف دے خو مخکښې په أحوال ثلاثو کښې وو او اوس په حالتین کښې دے یعنې نصب پکښې تابع د جر دے (یعنې رفع به یې په ألف سره وی او نصب او جر به یې په یاء ماقبل مفتوح سره وی) ؛ نو مخکه یې هغه مقدم کړے وو ، او د شپږم نه یې دا ؛ ځکه مخکښې کړو چې دا اعراب د تثنیه دے او هغه د جمع دے ، او تثنیه مقدم وی په جمع باندې په طبع کښې ؛ نو ده په وضع کښې هم مقدم کړه . قوله : **ویختص بالمثنی و کلا** ... او دا قسم اعراب خاص دے په مثنی ، کلا ، کلتا وغیره پورې ، یعنې په مثنی او ملحقاتو د مثنی پورې .

پس د د ینـــــــه : " **مثنی** " په لغت کښې ډبل کړے شوی ته وائی ، او په اصطلاح د نحات کښې په مفرد باندې زیاتی کول په آخیر کښې ألف او نون مکسور ، او یا یاء ماقبل مفتوح او نون مکسوره ، مثال لکه " **رجلان** " او " **رجلین** " . نو " **رجلان** " تثنیه ده ؛ ځکه د دې د مفرد په آخیر کښې زیادت د ألف او نون مکسور شوے دے ، او رجلین هم تثنیه ده ؛ ځکه چې د دې د مفرد په آخیر کښې زیادت د یاء او نون مکسور شوے دے .

او **ملحقات د تثنیه** دیته وائی : چې په لفظ کښې تثنیه نه وی او معنی د تثنیه وی ، یا لفظ هم د تثنیه وی او معنی هم د تثنیه وی خو مفرد من لفظه ورلره نه وی لکه **کلا** ، **کلتا** ، او اثنان ، اثنتان . چې د دې کلا او کلتا معنی د تثنیه ده او لفظ یې د تثنیه نه دے ؛ ځکه چې ألف او نون ، او یاء او نون پکښې نشته . او بل دا چې د دې کلا او کلتا د پاره مفرد نشته . او په اثنان او اثنتان کښې اگر چې ألف او نون زیاتی شوی دی خو مفرد ورلره نشته خو چونکه د دې تولو معنی د تثنیه ده ؛ ځکه چې کلا ، کلتا ، او اثنان او اثنتان دوؤ ته وائی او تثنیه هم په دوؤ دلالت کوی ؛ نو ځکه ملحقات د تثنیه شو . بیا په " **کلا** " کښې چې دا قسم اعراب راځی نو د هغې د پاره دوه شرطونه دی : ١ ـ یو دا چې دا به مضاف وی نو که مضاف نه وو نو بیا به یې اعراب بالحرف نه وی ، بلکه بالحرکة به وی . ٢ ـ دویم دا چې مضاف به وی مضمر ته نو که اضافت یې اسم ظاهر ته شوے وو نو بیا به یې هم اعراب بالحرف نه وی ، بلکه بالحرکة به وی ؛ دا ځکه چې لفظ د " **کلا** " مفرد دے او معنی یې د تثنیه ده نو که رعایت د لفظ کوو نو أصل

خو په مفرد کښې اعراب بالحرکة دے نو پکار ده چې اعراب بالحرکة ورباندې راشي او که رعايت د معنی ئ کوو نو أصل په تثنيه کښې اعراب بالحرف دے نو پکار ده چې اعراب بالحرف دې پرې راشي نو مونږ د دواړو لحاظ وکړو نو چې کله ئ اضافت وشي اسم ظاهر ته نو اضافت اسم ظاهر ته أصل دے او اعراب بالحرکة هم أصل دے نو په دغه وخت کښې به په دې اعراب بالحرکة وی ، او اعراب بالحرف فرع ده او اضافت الی الضمير هم فرع ده ، نو فرع مو فرع ته ورکړه ؛ د پاره د رعايت او تناسب . **سوال** : څه وجه ده چې مصنفﷺ " **کلا** " ذکر کړو ، او " **کلتا** " ئ ذکر نه کړو حالانکه دا قسم اعراب خو په کلتا کښې هم راځی ؟ **جواب** : ١ ـ " **کلتا** " ئ ؛ څکه ذکر نکړو چې اکتفاء ئ کړې ده په أذهانو د طلبه باندې . **جواب** : ٢ ـ کلا مذکر دے او کلتا مؤنث دے او مذکر أصل وی او مؤنث فرع وی او ذکر د أصل مستلزم دے ذکر د فرع لره . **سوال**: بيا پکار ده چې ذکر د اثنان هم مستلزم وے ذکر د اثنتان لره ؟ **جواب** : ١ ـ « النکتة للفار لا للقار » . چونکه په " **کلا** " او " **کلتا** " کښې خلاف شوے وو نو نکته بيانول پکار وو او دلته خو په أصل باندې عمل شوے وو نو نکتې ته ضرورت نشته .
جواب : ٢ ـ اثنان او اثنتان اسم عدد دے او استعمال د اسم عدد کيږی خلاف القياس ؛ نو څکه ئ دا ذکر خلاف القياس راغلے دے چې دواړه ذکر شوی دی . **سوال** : دا قسم اعراب ولې خاص شو په دې نوع د اسم پورې ؟ **جواب** : تثنيه فرع د مفرد ده او إعراب بالحرف فرع د اعراب بالحرکة ده نو فرع مو فرع ته ورکړه ؛ د پاره د رعايت او تناسب . **سوال** : چې دا اعراب بالحرف ئ تثنيه لره په دې طريقه ولې ورکړو چې نصب پکښې تابع د جر شو ؟
جواب : څکه چې اعراب بالحرف په درې حروف سره راځی ؛ چې " **واو** " ، " **ألف** " ، او " **ياء** " دی ، او حالات د تثنيه درې دی ، او حالات د جمع هم درې دی نو که دا درې واړه حروف مونږ تثنيه لره ورکړے وے نو جمع بلا اعرابه پاتې کيده ، او که درې واړه مو جمع ته ورکړې وے نو تثنيه بلا اعرابه پاتې کيده ، او که دواړو لره مو ورکولے نو التباس راتلو ، او که دواړو لره مو نه ورکولے نو دواړه بلا اعرابه پاتې کيدل . نو مونږ تقسيم وکړو نو حالت رفعی أصل وو نو په تثنيه او جمع دواړو کښې ورلره مستقل حرف ورکړے شو ؛ په تثنيه کښې " **ألف** " ، او په جمع کښې " **واو** " ؛ څکه چې تثنيه کثير الاستعمال ده ثقل دے پکښې ، او " **ألف** " خفيف دے نو خفيف مو ثقيل ورکړو ؛ للرّعاية . نو حرف يو پاتې شو چې " **ياء** " ده او حالات څلور پاتې دی . نو مونږ تثنيه او جمع ته سوال وکړو چې تاسو خپل حالات لږ کم کړئ نو دوی زمونږ خبره ومنله نو دواړو کښې حالت نصبي تابع د جری شو نو حالت نصبي ترې کټ شو نو حالات د څلورو نه دوه شو . او حرف خو يو وو نو که يو لره مو ورکولے نو بل پاتې کيدو نو " **ياء** " مو دواړو لره ورکړه په حالت نصبي او جری کښې . نو بيا التباس راغلو بينهما نو هغه

داسې ختم شو چې په تثنيه کښې ماقبل د " ياء " نه مفتوح شو او په جمع کښې مکسور شو، ځکه تثنيه کثير الاستعمال ده ثقل دے پکښې ، او جمع قليل الاستعمال ده خفت دے پکښې نو خفيف مو ثقيل ته ورکړو او ثقيل مو خفيف له ورکړو ؛ رعايةً للتعادل . قوله : تقول جاءنى الرجلان کلاهما ... دا په حالت رفعی کښې .

ترکيب ئې دا دے : " جاء " فعل " نون " وقايه " ياء " ضمير د واحد متکلم مفعول به، " الرجلان " دا مؤکد او " کلاهما " ئې تاکيد ، مؤکد سره د تاکيد نه دا معطوف عليه ، واو حرف عطف اثنان معطوف اول او اثنتان معطوف ثانی ، معطوف عليه سره د معطوفين نه دا فاعل شو د پاره د " جاء " فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه شوه .

قوله : و رأيت الرجلين کليهما و اثنين ... دا په حالت نصبي کښې .

ترکيب ئې دا دے : " رأيت " فعل فاعل " الرجلين " مؤکد " کليهما " تاکيد ، مؤکد سره د تاکيد نه دا معطوف عليه ، " واو " حرف عطف " اثنين " معطوف اول " اثنتين " معطوف ثانی ، معطوف عليه سره د معطوفين نه دا مفعول به شوه د پاره د " رأيت " فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه . قوله : **و مررت بالرجلين کليهما و اثنين** ... دا په حالت جری کښې . ترکيب ئې دا دے : " مررت " فعل فاعل " بالرجلين " جار مجرور مؤکد " کليهما " تاکيد ، مؤکد سره د تاکيد نه دا معطوف عليه " واو " حرف عطف " اثنين " معطوف اول " واو " حرف عطف " اثنتين " معطوف ثانی ، معطوف عليه سره د معطوفين نه دا متعلق شو تر " مررت " فعل پورې ، فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه دا مقوله شوه د پاره د قول (کوم چې تقول نه جوړ وو) ، بيا دا جمله فعليه خبريه شوه .

اَلسَّادِسُ أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالْوَاوِ الْمَضْمُوْمِ مَاقَبْلَهَا ، وَ النَّصْبُ وَ الْجَرُّ بِالْيَاءِ الْمَكْسُوْرِ مَاقَبْلَهَا ، وَيَخْتَصُّ بِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ نَحْوَ : " مُسْلِمُوْنَ " ، وَ " أُولُوْ " ، وَ " عِشْرُوْنَ " مَعَ أَخَوَاتِهَا تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ مُسْلِمُوْنَ وَ عِشْرُوْنَ وَ أُولُوْ مَالٍ " ، وَ " رَأَيْتُ مُسْلِمِيْنَ وَ عِشْرِيْنَ وَ أُولِيْ مَالٍ " .

ترجمه : شپږم قسم د اقسامو د اعراب الاسم نه دا دے : چې رفع به ئې په واو ماقبل مضموم سره وی ، او نصب او جر به ئې په ياء ماقبل مکسور سره وی ، او دا قسم اعراب خاص دے په جمع مذکر سالم پورې لکه مسلمون ، الو ، او عشرون سره د أخواتو خپلو نه لکه چې ته وائې : جاءنی مسلمون الخ .

تشريح : قوله : **السادس أن يکون الرفع بالواو المضموم ماقبلها** ... دا شپږم قسم دے د اعراب نه دا هم اعراب بالحرف دے او په حالتين سره دے او په دې کښې هم نصب تابع د جر دے . وجه د تاخير ئې مخکښې تيره شوې ده ، او د مابعد نه ئې مقدم ؛ ځکه کړو چې دا اعراب لفظی

دے او مابعد تقديري دے ، او لفظي أصل وى د تقديري نه . او د دې تعريف دا دے : چې رفع به ئ په واو ماقبل مضموم سره وى ، او نصب او جر به ئ په ياء ماقبل مكسور سره وى .
قوله : و يختص بجمع المذكر السالم ... " **جمع مذكر** " سره ئ احتراز وكړو د جمع مؤنث نه ؛ ځكه د هغې اعراب بالحركة دے ، او " **السالم** " سره ئ احتراز وكړو د جمع مذكر مكسر نه ؛ ځكه د هغې اعراب هم بالحركة دے جمع مذكر سالم هر هغه اسم دے چې زيادت شوے وى په آخير د مفرد د هغې باندې د واو چې ماقبل ترې مضموم وى ، او يا " **ياء** " چې ماقبل ترې مكسور وى او د " **نون** " مفتوحه . مثال لكه " **مسلمون** " او " **مسلمين** " چې دا جمع د " **مسلمٌ** " ده نو د دې مفرد په آخير كښې " **واو** " او " **نون** " مفتوحه ، او " **ياء** " او " **نون** " مفتوحه زيات شوى دى . بيا دا تعريف چې مونږ وكړو نو په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې څه به درته اوښائم چې دا قسم اعراب پرې راغلے وى او جمع مذكر سالم به نه وى لكه " سنون " چې دا جمع مؤنث ده مفرد ئ " سنة " دے ؟ **جواب** : وشو چې مراد د دې نه هر هغه جمع ده چې د مفرد په آخير كښې زيادت د " **واو** " او " **نون** " ، او يا د " **ياء** " او " **نون** " شوى وى نو دغه پكښې داخل ده . او مونږ چې دا ووے : چې د مفرد په آخير كښې زيات شوى وى نو په دې سره مونږ احتراز وكړو د " **الو** " او " **عشرون** " نه ديته جمع نه وائي ، بلكه ملحقات د جمع ورته وائي . او " **الو** " د ملحقاتو د جمع نه ؛ ځكه دے چې معنى ئ د جمع ده ، او عين جمع نه ده ؛ ځكه چې مفرد من لفظه ورلره نشته . او د " **عشرون** " د پاره هم مفرد نشته . **سوال** : د عشرون د پاره خو مفرد شته چې عشر دے ؟ **جواب** : " **عشر** " د " **عشرون** " د پاره مفرد نه دے ؛ ځكه كه مفرد شي نو صحيح به شي اطلاق د عشرون په ثلاثون باندې ؛ دا ځكه چې أقل د جمع ثلاثه وى او درې عشرې چې راجمع شي نو ثلاثون ترې جوړيږى او دا اطلاق صحيح نه دے ، او بل ورته د دې وجې نه جمع نه وائيو چې جمع دلالت نه كوى په يو خاص مقدار باندې او " **عشرون** " دلالت كوى په يو خاص مقدار باندې . **قوله : مع أخواتها** ... مراد د أخوات نه ثلاثون ، أربعون ، خمسون ، ستون ، سبعون ، ثمانون ، تسعون دى . اوس دا اعراب چې بالحرف دے او په حالتين كښې دے ولې جمع لره وركړے شو ؟ نو اعراب بالحرف ئ ؛ ځكه وركړو چې جمع فرع د مفرد ده او اعراب بالحرف فرع د د اعراب بالحركة ده نو فرع مو فرع لره وركړه ، او أصل مو أصل ته وركړو ؛ د پاره د مناسبت . او د حالتين د پاره وجه په تثنيه كښې تيره شوې ده .

قوله : تقول جاءني مسلمون و عشرون ... دا په حالت رفعي كښې . تركيب ئ دا دے : " **جاء** " فعل " **نون** " وقايه " **ياء** " ضمير د واحد متكلم مفعول به " **مسلمون** " معطوف عليه " **واو** " حرف عطف " **عشرون** " معطوف اول " **الو مال** " مضاف مضاف اليه دا معطوف ثاني ، معطوف عليه سره د معطوفين نه دا فاعل د " **جاء** " فعل د پاره ، فعل سره د فاعل او مفعول به

نه دا جمله فعليه خبريه معطوف عليها شوه. قوله : **و رأيت مسلمين** ... دا په حالت نصبي کښې ترکيب ئې واضح دے بار بار تير شو. قوله : **ومررت بمسلمين** ... دا په حالت جرى کښې. او د دې ترکيب هم ډير واضح دے.

وَ اعلَمْ ! أَنَّ نُونَ التَّثْنِيَةِ مَكْسُورَةٌ أَبَدًا ، وَ نُونَ جَمْعِ السَّلَامَةِ مَفْتُوحَةٌ أَبَدًا ، وَ كِلَاهُمَا تَسْقُطَانِ عِنْدَ الْإِضَافَةِ تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ غُلَامَا زَيْدٍ " ، وَ " مُسْلِمُوْ مِصْرٍ " .

ترجمه : پوهه شه ! چې نون د تثنيه مکسور وى هميشه ، او نون د جمع سالمې مفتوح وى هميشه ، او دا دواړه ساقطيږى په وخت د اضافت کښې ، لکه ته وائى : " جاءنى غلاما زيدٍ " و " مسلمو مصر " .

تشريح : قوله : **واعلم أن نون التّثنية مكسورة ابدًا** ... په " **واعلم** " سره غرض د ماتن ﷫ يو تفصيل المقام دے چې نون د تثنيه به مکسور وى هميشه ، او نون د جمع مذکر سالم به مفتوح وى هميشه . او دويم دفع د وهم ده ، وهم دا راځى چې په آخير د تثنيه کښې هم نون راځى او په آخير د جمع کښې هم نون راځى نو دا خو التباس راغے بينهما . نو دے وائى : چې ديکښې فرق شته دے او هغه دا دے : چې نون د تثنيه به مکسور وى هميشه او نون د جمع به مفتوح وى . ۱ـ يو د دې وجې نه چې دا نون د تثنيه عوض راغلے دے د تنوين نه . او تنوين وئيلے شى " **نون ساكنة تتبع حركة آخر الكلمة** " نو دا نون ساکن وو او " **الساكن اذا حرّك حرّك بالكسر** " ؛ نو ځکه دا نون مکسور شو . ۲ـ دويمه وجه دا ده : چې تثنيه متوسطه ده بين المفرد والجمع ، او کسره هم حرکت متوسطه دے بين الضمة والفتحة ، نو متوسط مو متوسط له ورکړو ؛ د پاره د رعايت د مناسبت . او " **نون** " د جمع سالم به ؛ ځکه مفتوح وى چې په جمع کښې ثقل دے معنًى ؛ ځکه چې هم پکښې تثنيه پرته ده او هم پکښې خپله معنى ده نو ثقيل له مو خفيف ورکړو ؛ د پاره د رعايت د تعادل . او بل د دې وجې نه چې که چرته ضمه ورله ورکوو نو لازميږى توالى د اربع ضمات په بعض صورو کښې (چې حالت رفعى دے) ، او دا ثقل پيدا کوى ، او که کسره ورکوو نو التباس راځى د تثنيه سره ، او عکس مو ونکړو ؛ ځکه چې مقام د تثنيه مقدم دے د جمع نه نو پاتې نه شوه مګر فتح نو « فتعيّن البتک للباز کل » . قوله : **وكلاهما تسقطان عند الاضافة** ... او دا نون د تثنيه او جمع ساقطيږى په وخت د اضافت کښې ؛ ځکه چې اضافت تقاضه کوى د اتصال ، او دا نونونه تقاضه کوى د انفصال ، او په انفصال او اتصال کښې منافات دے .

قوله : **تقول جاءنى غلاما زيد** ... دا په أصل کښې غلامان وو چې اضافت ئې زيد ته وشو نو نون ترې حذف شو نو غلاما شو . ترکيب ئې دا دے : " **جاء** " فعل " **نون** " وقايه " **ياء** " ضمير د

واحد متكلم مفعول به " **غلاما** " مضاف " **زيد** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا فاعل د پاره د " **جاء** " فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه . او " **مسلمو مصر** " په أصل كښې " **مسلمون** " وو نو چې اضافت ئې مصر ته وشو نو مسلمو شو . تركيب ئې دا دے : چې " **مسلمو** " مضاف " **مصر** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا عطف دے په " **غلاما زيد** " باندې .

السَّابِعُ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيْرِ الضَّمَّةِ ، وَ النَّصْبُ بِتَقْدِيْرِ الْفَتْحَةِ ، وَ الْجَرُّ بِتَقْدِيْرِ الْكَسْرَةِ ، وَ يَخْتَصُّ بِالْمَقْصُوْرِ ، وَ هُوَ مَا فِيْ آخِرِهِ أَلِفٌ مَقْصُوْرَةٌ كَـ " عَصَا " ، وَ بِالْمُضَافِ إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ غَيْرَ جَمْعِ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ كَـ " غُلَامِيْ " تَقُوْلُ : " هٰذَا عَصَا وَ غُلَامِيْ " ، وَ " رَأَيْتُ عَصَا وَ غُلَامِيْ " ، وَ " مَرَرْتُ بِعَصَا وَ غُلَامِيْ " .

ترجمه : ووم قسم د اعراب الاسم نه دا دے : چې رفع ئې په تقدير د ضمه سره وی او نصب ئې په تقدير د فتحه سره ، او جر په تقدير د كسره سره ، او دا قسم اعراب خاص دے په اسم مقصور پورې ، او اسم مقصور هغه دے چې په آخير د دې كښې ألف مقصوره وی لكه عصا ، او خاص دے دا قسم اعراب په هغه اسم پورې چې مضاف وی ياء د متكلم ته غير د جمع مذكر سالم نه لكه غلامی . ته به وائې : " **هذا عصا وغلامی ورأيت عصا وغلامی و مررت بعصا و غلامی** " .

تشريح : قوله : **السّابع أن يكون الرّفع بتقدير الضّمة** ... هر كله چې فارغ شو مصنف ﷺ د اعراب لفظى نه نو شروع ئې وكړه په اعراب تقديرى كښې . او وجه د تاخير د دې قسم اعراب مخكښې ذكر شوې وه . بيا دا اعراب اولًا دوه قسمه دے : ۱ـ بتقدير الحركة . ۲ـ بتقدير الحرف . بيا حركت پكښې أصل دے نو اول هغه ذكر كوی ، او دا بيا په دوه قسمه دے : ۱ـ چې په أحوال ثلاثو كښې تقديرى وی . ۲ـ په حالتين كښې تقديرى وی ، اول أصل دے د ثانى نه ؛ نو ځكه ئې اول ذكر كوی . چې رفع ئې په تقدير د ضمه سره وی ، نصب ئې په تقدير د فتحه سره وی ، او جر ئې په تقدير د كسره وی . د تقدير مقصد دا دے : چې دا كلمه په درې واړه حالات كښې يو شان وی . نو لفظًا پكښې تغيير نه راځی ، البته دا تقديرًا مرفوع ، منصوب ، او مجرور وی .

قوله : **ويختص بالمقصور** ... په المقصور كښې ألف لام عهدی دی او معهود په دې سره " **اسم مقصور** " دے . قوله : **و هو ما فی آخره ألف مقصورة** ... او دا اسم مقصور هغه اسم دے چې په آخر كښې ئې ألف مقصوره وی مقصور ماخوذ دے د قصر نه او قصر حبس (بمعنى بنديدل) ته وائی ، او ديته هم مقصور وائی ؛ ځكه دا هم بند شوے دے د حركات ثلاثو نه . دلته د اسم په

آخير كښې دوه قسمه ألف راځي : ١ ـ ألف مقصوره . ٢ ـ ألف ممدوده . مقصوره هغه ته وائي : چې مد د صوت پکښې نه وی ، بلکه آواز پکښې لنډيږی لکه موسى ، عيسى وغيره نو ځکه ورته مقصور وائی . او ممدود هغه ته وائی : چې په هغې سره آواز وږديږی لکه حمراء . ممدود د مد نه دے راښکلو ته وائی ، او په ديکښې هم آواز راښکلے کيږی ؛ ځکه ورته ممدود وائی . د مقصور مثال ئې ذکر کړے دے عصا . **سوال** : نه منم چې اسم مقصوره ديته وائی : چې په آخير کښې ئې ألف مقصوره وی ، بلکه زه به درته وښائم چې اسم مقصور به وی او ألف مقصوره به پکښې نه وی لکه عصًى دلته آخير کښې تنوين دے او تنوين خو نون ساکنه دے ؟ **جواب** : ألف مقصوره عام دے حقيقةً وی او که حکمًا وی ؛ حقيقتًا لکه کله چې تنوين نوی او معرف وی لکه " العصا " . او حکمًا تنوين پرې داخل شی نو دلته اگر چې حقيقةً نشته خو حکمًا شته ؛ ځکه چې دلته " ألف " وږ خو حذف شوے دے ؛ د وجې د التقاء الساكنين نه بين الألف والتنوين . **سوال** : عکس به دې کړے وے تنوين به دې ساقط کړے وے او الف به دې نه ساقطولے ؟ **جواب** : تنوين حرف صحيح دے او ألف حرف علت دے او حرف علت أولى بالحذف وی .

قوله : **و بالمضاف الى ياء المتكلم** ... او دارنګ دا قسم اعراب خاص دے په هغه اسم پورې چې مضاف وی ياء د متکلم ته بغير د جمع مذکر سالم نه چې د هغې حکم ورسته راروان دے . **سوال** : دا قسم اعراب ولې خاص کړے شو په دا نوع اسم پورې ؟ **جواب** : دې اسم ته اعراب بالحرکة ؛ ځکه ورکړے شو چې دا مفردات دی او أصل په مفردات کښې اعراب بالحرکة دے . او تقديری شو ؛ د وجې د تعذر د ظهور نه يعنې ظهور د اعراب د دې اسمين په آخير کښې متعذر دے ؛ ځکه چې د مقصور په آخير کښې ألف وی او هغه ساکن وضعی دے حرکت ورباندې نشی راتلے ، او که حرکت ورلره ورکوو نو همزه ترې جوړيږی او چې مضاف وی ياء د متکلم ته نو هلته ياء خپل ماقبل کسره غواړی . نو که مونږ بل اعراب ورکوو نو خلاف راځی د تقاضه د ياء نه ، او دا تعذر په أحوال ثلاثو کښې ؛ نو ځکه په ټولو کښې تقديری شو .

قوله : **تقول هذا عصا وغلامى** ... " **عصا** " مثال د مقصور دے ، او " **غلامى** " مثال د هغې دے چې اضافت ئې شوے وی ياء د متکلم ته ، او دا مثال په حالت رفعی کښې دے .

ترکيب ئې دا دے : " **هذا** " مبتداء " **عصا** " معطوف عليه " **واو** " حرف عطف " **غلامى** " معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . قوله : **و رأيت عصا و غلامى** ... دا په حالت نصبی کښې .

ترکيب ئې دا دے : چې " **رايت** " فعل فاعل " **عصا** " معطوف عليه " **واو** " حرف عطف " **غلامى** " معطوف ، معطوف عليه سره د معطوف نه دا مفعول به شو د پاره د " **رأيت** " فعل ،

فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه . قوله : **و مررت بعصا وغلامي** ... دا په حالت جري كښې .

تركيب ئ دا دے : چې " **مررت** " فعل فاعل " باء " حرف جر " **عصا** " معطوف عليه " واو " حرف عطف " **غلامي** " معطوف ، معطوف عليه سره د معطوف نه دا مجرور د پاره د " باء " جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په مررت پورې ، مررت فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه . نو په دې ټولو حالاتو كښې لفظًا فرق نشته خو تقديرًا شته .

الثَّامِنُ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيْرِ الضَّمَّةِ ، وَ الْجَرُّ بِتَقْدِيْرِ الْكَسْرَةِ ، وَ النَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ لَفْظًا ، وَ يَخْتَصُّ بِالْمَنْقُوْصِ ؛ وَ هُوَ مَا فِيْ آخِرِهٖ " يَاءٌ " مَاقَبْلَهَا مَكْسُوْرٌ كَـ " الْقَاضِيْ " تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ الْقَاضِيْ " ، وَ " رَأَيْتُ الْقَاضِيَ " ، وَ " مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ " .

ترجمه : اتم قسم د اعراب د اسم دا دے : چې رفع ئ په تقدير د ضمه سره وى ، جر ئ په تقدير د كسره سره ، او نصب ئ په فتحه لفظي سره ، او دا قسم اعراب خاص دے په اسم منقوص پورې او دا هغه دے چې په آخير كښې ياء وى او ماقبل ترې مكسور وى لكه " **قاضي ، تقول جاءنى القاضي** " الخ .

تشريح : قوله : **الثامن أن يكون الرفع بتقدير الضمة** ... اوس د دې ځائ نه اتم قسم د اعراب ذكر كوى دا هم اعراب بالحركة دے او تقديرى دے په حالتين كښې او لفظي دے په حالت واحده كښې ، وجه د تاخير ئ مخكښې ذكر شوې ده ، او د مابعد نه ئ ؛ ځكه مخكښې كړو چې دا بالحركة دے او مابعد بالحرف دے او بالحركة أصل وى د بالحرف نه . رفع د دې په تقدير د ضمې سره ، او نصب ئ په فتحه لفظي سره ، او جر ئ په كسره تقديرى سره وى .

قوله : **ويختص بالمنقوص** ... او دا قسم اعراب خاص كړے شوے دے په اسم منقوص پورې . **سوال** : اسم منقوص څه ته وائي ؟ **جواب** : « **و هو مافي آخره ياء ماقبلها مكسور** » يعنې هر هغه اسم دے چې په آخير كښې ئ " **ياء** " وى او ماقبل ترې مكسور وى ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې ته وائي دا قسم اعراب خاص دے په منقوص پورې او منقوص او ناقص خو يو شے دے نو زه به درته وښائم چې اسم منقوص به وى او دا قسم اعراب به ئ نه وى لكه مدعوٌ ؟ نو ماتن‌رحمه الله **جواب** وكړو چې " **و هو ما في آخره ياء ماقبلها مكسور** " حاصل د **جواب** دا دے : چې تا كوم منقوص ذكر كړو نو دا منقوص د صرفيانو دے او زمونږ مراد د لته منقوص د نحويانو دے او هغه دا دے : چې په آخير كښې ئ ياء وى او ماقبل ترې مكسور وى مثال لكه قاضي شو . اوس دا قسم اعراب ولې خاص شو په دا نوع د اسم پورې ؟ نو اعراب بالحركت خو ئ ؛ ځكه وركړو چې منقوص مفرد دے او أصل په مفرداتو

كښې اعراب بالحركة دے ، او تقديري په حالتين كښې ؛ ځكه دے چې كه ظهور ئ كوو نو ثقل لازميږي نو د ثقل د لازميدو د وجې نه حالت رفعي او جري تقديري شو ، او په حالت نصبي كښې ثقل نه وو نو هلته لفظي شو او دا ثقل ؛ ځكه راځي چې " ياء " حرف علت دے او حرف علت په تلفظ كښې ثقيل وي او په بقاء كښې ضعيف وي او ضمه او كسره هم ثقيل حركت دے ؛ نو لازميږي ثقل على الثقل او فتحه أخفه وه نو هغه به لفظي وي . قوله : جاءني القاضي ... دا په حالت رفعي كښې . تركيب ئ دا دے : " جاء " فعل " نون " وقايه " ياء " ضمير د واحد متكلم مفعول به " القاضي " ئ فاعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه ده . قوله : رأيت القاضيَ ... دا مثال د حالت نصبي دے . تركيب ئ دا دے : " رأيت " فعل فاعل ، " القاضي " مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه . قوله : مررت بالقاضي ... دا په حالت جري كښې . تركيب ئ دا دے : چې " مررت " فعل فاعل " باء " حرف جر " القاضي " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " مررت " فعل پورې .

التَّاسِعُ : أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيْرِ الْوَاوِ ، وَ النَّصْبُ وَ الْجَرُّ بِالْيَاءِ لَفْظًا ، وَ يُخْتَصُّ بِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ مُضَافًا إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ " تَقْدِيْرُهُ مُسْلِمُوْيَ اِجْتَمَعَتْ الْوَاوُ وَ الْيَاءُ وَ الْأُوْلَى مِنْهُمَا سَاكِنَةٌ فَقُلِبَتِ الْوَاوُ يَاءً وَ أُدْغِمَتِ الْيَاءُ فِيْ الْيَاءِ وَ أُبْدِلَتِ الضَّمَّةُ بِالْكَسْرَةِ لِمُنَاسَبَةِ الْيَاءِ فَصَارَ " مُسْلِمِيَّ " ، وَ " رَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ " ، وَ " مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ " .

ترجمه : نهم قسم د اعراب الاسم نه دا دے : چې رفع به ئ په تقدير د واو سره وي ، او نصب او جر به ئ به ياء لفظي سره ی ، او دا قسم اعراب خاص دے په جمع مذكر سالم پورې چې مضاف وی ياء د متكلم نه ، لكه ته وائې : جاءني مسلميّ . تقدير ئ مسلمويَ دے بيا اعلال دے الخ .

تشريح : قوله : التاسع أن يكون الرفع ... د دې ځائ نه اوس نهم قسم د اعراب ذكر كوی چې دا اعراب بالحرف دے او تقديري دے او دا اعراب بالحرف تقديري صرف په حالت رفعي كښې راځي او په حالتين كښې به لفظي وی او نصب به پكښې تابع د جر وی او دا قسم اعراب خاص دے په جمع مذكر سالمه پورې چې مضاف وی ياء د متكم ته . اوس دا قسم اعراب ولې خاص كړے شو په دا نوع اسم پورې ؟ نو اعراب بالحرف خو ؛ ځكه وركړے شو چې دا جمع ده او جمع فرع د مفرد ده او اعراب بالحرف فرع د اعراب بالحركة ده نو فرع مو فرع لره وركړه ؛ د پاره د مناسبت ، او په يو حالت كښې تقديري او په دوه حالته كښې لفظي ؛ ځكه دے چې په حالت رفعي كښې واو بدل شوے په ياء سره نو د خپل حقيقت نه وتے دے

نو بخپله تقديري شو . او په حالت نصبي جرى كښې لفظي شو ؛ ځكه ياء د خپل حقيقت نه په ادغام سره وتلې نه ده نو بخپله لفظي شو ، او نصبي تابع د جرى شو ؛ لما مرّ .

قوله : **و يختصّ بجمع المذكر السّالم مضافًا إلى ياء المتكلّم** ... چې كله مضاف وى ياء د متكلم ته نو كه په دې حالت كښې واو ظاهر وو نو خروج راځى د ضمې نه كسرې ته او دا ثقيل دے بخلاف د دې نورو صورتونو نه چې هلته ياء ده نو ثقل نه راځى ؛ ځكه خروج د ضمې نه كسرې ته نه راځى ، بلكه د كسرې نه كسرې ته راځى .

قوله : **تقول جاءنى مسلميّ** ... دا مثال د حالت رفعي دے ، دا " **مسلميّ** " په أصل كښې " **مسلمون** " دے " **نون** " په اضافت سره ساقط شوے دے ، او " **واو** " او " ياء " په آخير د اسم كښې جمع شو ، او اول پكښې ساكن وو نو " **واو** " بدل شو په " **ياء** " او " **ياء** " په " **ياء** " كښې مدغم شوه ، او بيا مو ضمه د ميم بدل كړه په كسره سره نو مسلميّ شو . تركيب ئې آسان دے . قوله : **رأيت مسلميّ** ... دا په حالت نصبي كښې . قوله : **مررت بمسلميّ** ... دا په حالت جرى كښې . تركيبونه ئې آسان دى .

فَصْلٌ الْإِسْمُ الْمُعْرَبُ عَلَى نَوْعَيْنِ : مُنْصَرِفٌ ، وَ هُوَ مَا لَيْسَ فِيْهِ سَبَبَانِ أَوْ وَاحِدٌ يَقُوْمُ مَقَامَهُمَا مِنَ الْأَسْبَابِ التِّسْعَةِ كَـ " زَيْدٍ " ، وَ يُسَمَّى الْإِسْمَ الْمُتَمَكِّنَ ، وَ حُكْمُهُ أَنْ يَدْخُلَهُ الْحَرَكَاتُ الثَّلَاثُ مَعَ التَّنْوِيْنِ تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ زَيْدٌ " ، وَ " رَأَيْتُ زَيْدًا " ، وَ " مَرَرْتُ بِزَيْدٍ " .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د اقسام د اسم معرب كښې چې دا په دوه قسمه دے : منصرف او دا هغه ته وائى : چې نه وى په دى كښې دوه سببه ، يا يو چې قائم وى په مقام د دوؤ د اسبابو تسعۀ نه لكه " زيد " شو ، او ديته اسم متمكن هم وائى . او اثر مرتبه د دې منصرف دا دے : چې داخليږى به په دې حركات ثلاثه مع التنوين . لكه ته وائى : " **جاءنى زيد ، رأيت زيدًا ، مررت بزيد** " .

تشريح : قوله : **فصل الاسم المعرب على نوعين** ... ربط : قسم اول په بيان د اسم كښې وو او په ديكښې دوه بابونه او يوه خاتمه وه او په باب اول كښې يوه مقدمه وه ، درې مقاصد او يوه خاتمه وه ، په مقدمه كښې خلور فصول وو ، درې مخكښې ذكر شو . په اول فصل كښې ئې تعريف د اسم معرب وكړو په دويم كښې ئې حكم د اسم معرب بيان كړو ، په دريم فصل كښې ئې أصناف د اعراب الإسم بيان كړه ، او په دې خلورم فصل كښې د أصناف الإعراب د يو قسم تفصيل كوى . دې مصنف رحمه الله يو قسم اعراب ذكر كړے وو چې رفع ئې په ضمه سره وى او نصب او جر ئې په فتحه سره وى . او دا خاص وو په غير منصرف پورې نو اوس د هغې د پاره مستقل فصل ذكر كوى ؛ ځكه چې د دې أحكام ډير دى . قوله : **منصرف** ... په دې كښې

اعرابات ثلاثه جائز دی : ۱ - چې مجرور شی نو بدل به شی د نوعین نه او بدل د توابع نه دے او هغه خو مجرور وو نو دا هم مجرور شو او دا پکښې أحسن اعراب دے ؛ د وجې د عدم احتیاج نه حذف نه . ۲ - چې مرفوع شی نو دا به خبر شی د مبتداء محذوفې نو تقدیر به داسې شی أحدهما منصرف . ۳ - چې منصوب شی نو دا به مفعول به شی د پاره د فعل محذوف أی : «أعنی منصرفاً » . او منصرف ئې مقدم کړو په غیر منصرف ؛ ځکه چې دا په اعراب کښې أصل دے او غیر منصرف فرع ده ، او أصل أولی بالتقدیم وی . اوس منصرف ولې أصل دے نو د دې د پاره درې وجې دی : ۱ - یو د دې وجې نه چې د دې اعراب په أحوال ثلاثو کښې دے او د غیر منصرف اعراب په حالتین کښې دے او اعراب د حالات ثلاثو أصل دے د اعراب د حالتین نه . ۲ - د دې وجې نه چې د منصرف أقسام او أحکام ډیر دی او د کوم شی چې أقسام او أحکام ډیر وی نو هغه أصل وی د هغې نه چې أحکام او أقسام ئې کم وی ؛ ځکه چې العزة للتکاثر .
۳ - او بل د دې وجې نه چې تعریف د اسم منصرف عدمی دے او تعریف د غیر منصرف وجودی دے او عدمی مقدم وی په وجودی باندې په ممکناتو کښې . **سوال** : د اسم منصرف تعریف په عدمی سره نه دے صحیح ؛ ځکه چې قانون دا دے : چې معرِّف موجودونکے وی معرَّف لره نو چې معرِّف عدمی شو نو دا به معرَّف څه رنګ موجود کړی ؟ **جواب** : نه منم دا خبره چې معرِّف موجودونکے وی معرَّف لره فقط ، بلکه د تعریف دوه مقصده دی : ۱ - یو دا چې معرِّف موجود کړی خو دا هله چې ته تعریف وکړې په ذاتیاتو سره نه په عوارضو سره او دویم غرض ئې امتیاز راوستل دی د معرَّف ، نو دلته هم د پاره د امتیاز راوستو دے د غیر منصرف نه نو دا تا چې کومه قاعده ذکر کړې ده دا کلیه نه ده . او دا اسم معرب منصرف ؛ ځکه واثیو چې اسم معرب مقسم دے او منصرف ئې قسم دے او هر قسم مراد وی په أقسامو خپلو کښې . بیا منصرف صیغه د اسم فاعل ده په لغت کښې په معنی د زیادت سره راځی او دا هم زائد دے په غیر منصرف باندې په تنوین او کسره سره ، او اصطلاح کښې « **مالیس فیه سببان او واحد** » الخ . مثال لکه " **زید** " اسم معرب منصرف دے ؛ ځکه چې دوه سببه پکښې نشته او یو داسې سبب پکښې هم نشته چې قائم مقام د دوه وی .

قوله : **ویسمّی الاسم المتمکن** ... غرض د ماتن ﷺ د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې تا خو دا تعریف د اسم منصرف وکړو او بعض خلق خو دا تعریف د اسم متمکن کوی ؟ نو ماتن ﷺ **جواب** وکړو چې دا اعتراض به تا هله کولے چې د دې دواړو په درمیان کښې منافات او مغائرت وے حالانکه د دې دواړو په مینځ کښې منافات نشته .
منصرف : صیغه د اسم فاعل ده په معنی د زیادت سره او په دیکښې هم زیادت راغلے دے په غیر منصرف باندې چې هغه زیادت د تنوین او کسرې دے . او **متمکن** : د تمکن نه دے

ځائ ورکولو ته وائی او دا هم ځائ ورکوی هر قسم اعراب لره . قوله : **وحکمه** ... او اثر مرتبه د دې دا دے : چې داخليږی به په دې حرکات ثلاثه مع التنوين ؛ ځکه مشابهت ئ د فعل سره نشته دے . قوله : **تقول جاءنی زيد** ... دا په حالت رفعی کښې .

ترکيب ئ دا دے : " **جاء** " فعل " **نون** " وقايه " **ياء** " ضمير د واحد متکلم مفعول به مقدم " **زيد** " فاعل مؤخر . فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

قوله : **رأيت زيدًا** ... دا په حالت نصبی کښې . " **رأيت** " فعل فاعل " **زيدًا** " ئ مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

قوله : **و مررت بزيد** ... دا په حالت جری کښې .

ترکيب ئ دا دے : " **مررت** " فعل فاعل " **بزيد** " جار مجرور متعلق دے په " **مررت** " پورې . " **مررت** " فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

وَ غَيْرُ مُنْصَرِفٍ : وَ هُوَ مَا فِيْهِ سَبَبَانِ ، أَوْ وَاحِدٌ مِّنْهَا يَقُوْمُ مَقَامَهُمَا .

ترجمه : او بل غير منصرف دے ، او دا هغه دے چې په دې کښې دوه سببه يا يو سبب چې قائم مقام د سببين وی .

تشريح : قوله : **و غير منصرف و هو ما فيه سببان او واحد منها يقوم مقامهما** ... په دې " **و غير منصرف** " کښې هم اعرابات ثلاثه جائز دی : ١ـ مجرور شی بناء بر بدليت د نوعين نه . ٢ ـ چې مرفوع شی بناء بر خبريت د مبتداء محذوف ای ثانيهما غير منصرف . ٣ ـ چې منصوب شی او مفعول به د فعل محذوف شی ای أعنی غير منصرف . او د غير منصرف لغوی معنی ده : زيادت نه کونکے او په دې کښې هم کسره او تنوين نه دی زيات شوی . او منع صرف ورته هم وائی يعنې منع د زيادت ، او په دې کښې هم منع د زيادت د کسرې او تنوين ده . او په اصطلاح کښې ئ تعريف ماتنؒ کړے دے مونږ ئ ترجمه مع وضاحت ليکو : " **هو** " دا اسم معرب غير منصرف " **ما** " هغه دے چې دوه سببه وی پکښې ، يا يو وی د دغه نهو أسبابو نه چې قائميږی په ځائ د دوه باندې خو سره د هغه شروطو نه چې هغه ملحوظ دی په دغه نهه أسبابو کښې او دغه سببين او سبب واحده عام دی که حقيقةً وی او که حکمًا وی . **سوال** : زه به درته وښائم چې دوه سببه به وی او بيا به هم غير منصرف نه وی لکه " **ضَرَبَتْ** " کښې يو تانيث دے ، او بل پکښې وزن فعل دے ؟ **جواب** : دا غير منصرف قسم د اسم دے او دا تا چې ذکر کړو دا فعل دے . **سوال** : په اسم کښې به وی لکه " **حضار** " ، " **تمار** " شو ، يو پکښې علميت دے ، او دويم پکښې تانيث دے بيا هم غير منصرف نه دے ؟ **جواب** : دا به

په اسم معرب کښې وی او دغه مبنی دے . **سوال** : اسم معرب کښې به وی لکه ضاربة دیکښې یو تانیث دے دویم پکښې وصف دے بیا هم نه دے ؟
جواب : دغه اسباب به مؤثر وی او دلته مؤثر نه دی . **سوال** : دا تعریف د غیر منصرف دې صحیح نه دے ؛ ځکه چې دا جامع نه دے خپلو أفرادو لره ، او کوم تعریف چې جامع نه وی خپلو أفرادو لره هغه صحیح نه وی نو دا صحیح نه شو ، کبری خو ظاهره ده او دلیل د صغری دا دے : چې دا جامع ځکه نه شو خپلو افرادو لره چې خارج شو تري نه " **نوح** " ځکه چې په هغې کښې دوه سببه د اسباب تسعو نه شته چې یو علمیت دے او بل عجمه ده ، سره د دې نه چې دا غیر منصرف نه دے ؛ ځکه چې کسره او تنوین پرې راځی ؟ **جواب** : دوه سببه یا یو سبب پکښې وی خو سره د هغه شروط نه چې په هغې سره سبب سبب گرځی نفس سببیت کافی نه دے او هغه ټول شرطونه په " **نوح** " کښې نشته ؛ ځکه چې په دې کښې اگرچې عجمه شته لکن عجمه چې سبب د منع صرف گرځی نو د دې د پاره دوه شرطونه دی : ۱ـ زیادت علی الثلاثة . ۲ـ تحرک الأوسط . او دلته یو هم نشته ، بیا مونږ ووے : چې دا سببین حقیقتًا وی او که حکمًا وی په دې سره دفع د سوال وشوه ، **سوال** دا دے : چې دا تعریف ستا نه دے صحیح ؛ ځکه دا مانع نه دے د دخول د غیر نه او کوم تعریف چې مانع نه وی د دخول د غیر نه هغه صحیح نه وی نو دا صحیح نه شو ، کبری ظاهره ده او دلیل د صغری دا دے : چې دا ځکه نه دے مانع چې سراویل پکښې داخلیږی ؛ ځکه دا اسم دے دوه اسبابه پکښې هم نشته او یو پکښې هم نشته چې قائم مقام د دوه وی حالانکه دا غیر منصرف دے کسره او تنوین پرې نه راځی ؟ **جواب** : دا سببین عام دی که حقیقتًا وی او که حکمًا وی نو سراویل که داخل شی په تعریف د غیر منصرف کښې نو خیر دے ؛ ځکه دلته یو سبب حکمًا شته چې قائم دے په مقام د سببین هغه دا چې دا صیغه د منتهی الجموع ده حکمًا .

وَ الْأَسْبَابُ التِّسْعَةُ : هِيَ الْعَدْلُ ، وَ الْوَصْفُ ، وَ التَّانِيْثُ ، وَ الْمَعْرِفَةُ ، وَ الْعُجْمَةُ ، وَ الْجَمْعُ ، وَ التَّرْكِيْبُ ، وَ الْأَلِفُ وَ النُّوْنُ الزَّائِدَتَانِ ، وَ وَزْنُ الْفِعْلِ .

ترجمه : او أسباب تسعه عدل ، وصف ، تانیث ، معرفه ، عجمه ، جمع ، ترکیب ، ألف نون زائدتان ، او وزن فعل دی .
تشریح : قوله : **والأسباب التّسعة** ... او دا أسباب تسعه صاحب د کافیه په شعر کښې جمع کړی دی .

شعـــــر

عدل و وصف و تأنيث و معرفة «» و عجمة ثم جمع ثم تركيب
و النون زائـدة من قبلها ألف «» و وزن فعل و هذا القول تقريب

د « **و هذا القول تقريب** » معنی دا ده : چې دا قول مشهور دے په دې معنی سره مونږ دفع د سوال وکړه ، **سوال** دا دے : چې ته وائی أسباب د منع صرف نهه دی نو زه به درته یو اسم غیر منصرف وښائم چې د دې نهه أسبابو نه به پکښې یو هم نه وی ، بلکه بل سبب به وی پکښې چې هغه " **ألف**" دے چې مشابه وی د " **ألف** " التأنیث سره ، بیا که ممدوده وی لکه " أشیاء " ، او که مقصوره وی لکه " **أرطی** " چې د دې عدم انصراف د وجې د ألف مشابه نه راغلے دے او ألف مشابه په دې نهه أسبابو کښې نشته نو حصر د أسبابو د منع صرف په دې نهه کښې صحیح نه شو؟

جواب : دا داخل دے په ألف مقصوره کښې او هغه قائم مقام د سببین دے .

سوال : ألف مقصوره علامه د تانیث ده او د یو اسم د پاره دوه علامې د تانیث نه راځی حالانکه د دې مؤنث " **أرطاة** " راځی نو که ألف او تاء دواړه علامې د تانیث شی نو راجمع به شی دوه علامې د تانیث په اسم واحده کښې او دا نه دی جائز ؟ نو د هغه اول نه **جواب** دا شو : چې زمونږ مراد أسباب مشهوره دی او ألف مشابه سبب غیر مشهور دے . او دا ألف مشابه په حکم د ألف مقصوره کښې دے او که ته وائی : چې دوه علامې د تانیث راځی؟ نو **جواب** دا دے : چې دوه علامې د تانیث جائز نه دی په یو اسم کښې خو هله چې دا دواړه علامتین مستقلتین وی او دلته دا یوه مستقله ده چې تاء ده ، او ألف مشابه غیر مستقل دے او دا جمع کیدے شی .

وَ حُكْمُهُ ؛ أَنْ لَّا يَدْخُلَهُ الْكَسْرَةُ وَ التَّنْوِيْنُ ، وَ يَكُوْنُ فِيْ مَوْضِعِ الْجَرِّ مَفْتُوْحًا أَبَدًا تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ أَحْمَدُ " ، وَ " رَأَيْتُ أَحْمَدَ " ، وَ " مَرَرْتُ بِأَحْمَدَ " .

ترجمه : او اثر مرتبه په غیر منصرف دا دے : چې نه به داخلیږی په دې باندې کسره او تنوین ، او وی به په ځای د جر کښې مفتوح د همیشه د پاره ته به وائی جاءنی احمد ، رأیت احمد ، مررت باحمد .

تشریح : قوله : **وحكمه أن لا يدخله الكسرة والتنوين** ...

حکم غیر المنصرف

او اثر مرتبه په غیر منصرف دا دے : چې نه به داخلیږی په دې باندې کسره او تنوین ؛ ځکه چې دا غیر منصرف مشابه دے د فعل سره لکه څنګه چې په فعل کښې دوه خبرې (فرعیته) وې : ۱ـ احتیاج مصدر ته په اشتقاق کښې . ۲ـ فاعل ته په صدور کښې . نو په دې کښې هم دوه سببه دی ، او هر سبب فرع د بل شی وی کماسیجیئ . او په فعل خو کسره او تنوین نه راتله نو په دې به هم نه راځی .

قوله : **ویکون فی موضع الجر مفتوحًا ابدًا** ... او وی به په ځائ د جر کښې مفتوح همیشه ، موضع الجر ئ ذکر کړو اشاره ده دیته چې مجرور به وی خو کسره به پرې نه راځی .

قوله : **تقول جاءنی احمد** ... دا په حالت رفعی کښې . **ترکیب** د داسې جملو بار بار تیر شو .

قوله : **رأیت احمد** ... دا په حالت نصبی کښې . او د دې ترکیب هم واضح دے .

قوله : **ومررت باحمد** ... دا په حالت جری کښې . او د دې جملې ترکیب هم واضح دے .

اوس " **احمد** " غیر منصرف دے ؛ ځکه چې یو پکښې علمیت دے او بل پکښې وزن فعل دے نو کسره او تنوین به پرې نه راځی نو " **جاءنی احمدٌ او مررت باحمدٍ** " نه شې وئیلے . **سوال** : زه به درته وښائم چې غیر منصرف به وی او کسره او تنوین به پرې راغلی وی لکه چې راغلی دی په دې قول د شاعر کښې ، او د دې نسبت بعض خلقو فاطمې‬ته کړے دے . چې هغې فرمائیلی دی:

مَاذَا عَلَی[1] مَنْ شَمَّ تُرْبَةَ اَحْمَدٍ[2] « أَنْ لَا یَشُمَّ مَدَی الزَّمَانِ غَوَالِیَا
صُبَّتْ عَلَیَّ مَصَائِبٌ لَوْ أَنَّهَا « صُبَّتْ عَلَی الْأَیَّامِ صِرْنَ لَیَالِیَا[3]

ترجمه ئ دا ده : څه به وشی په هغه چا چې بوئ کړی خاوره د احمد (یعني اتباع ئ اوکړی) ؟ دا چې نه به بوئ کړی تول زمانه کښې خوشبوئ ، والوته په ما باندې مصیبتونه که چرته دا الوتی وے په ورځو باندې نو کرځیدلی به وے شپې . او دا ئ وئیلی وو : په وخت د وفات د نبی ﷺ کښې نو دیکښې دا " **مصائب** " غیر منصرف دے او تنوین پرې راغلے دے ، دغسې په " أحمد " غیر منصرف باندې تنوین راغلے دے.

---

[1] وفی نهایة الأدب: ماضر من قد شم تربة أحمد الخ

[2] احمد علم صرف فنون لضرورة شعریة (قواعد اللغة العربیة)

[3] نسبت د دې علی ﷺ او فاطمې ته شوے دے . [کذا فی " **سبل الهدی والرشاد فی سیرة خیر العباد** " ـ الباب الرابع فی دفنه ـ ، وأیضا فی " **جمع الوسائل فی شرح الشمائل** " ـ باب ما جاء فی وفاة النبی ﷺ] .

فائده: غواليا؛ گمراهئ او يا يو قسم نوم د خوشبو دے، او دا ظاهره ده، او په بل ځاى کښې امام شافعي رحمه الله وائي:

أعد ذكر نعمان لنا ان ذكره «» هو المسك ما كررته يتضوع

ترجمه: واپس کړه ذکر د نعمان بن ثابت چې امام ابو حنيفه رحمه الله دے زمونږ د پاره، بېشک ذکر د دې نعمان مشک دی خومره چې د دې تکرار کوې نو دا خوشبوئی خوروی، نو دلته هم "نعمان" غير منصرف دے او کسره او تنوين پرې راغلی دی؟ جواب: دا د ضرورت شعری د وجې نه راغلی دی. او دا قانون دے چې "الضرورات تبيح المحظورات" ضرورتونه ناروا کارونه هم جائز کوی، او دا رنګ فارسی خوانان وائي: "ضرورت باشد روا باشد".

أَمَّا الْعَدْلُ: فَهُوَ تَغَيُّرُ اللَّفْظِ مِنْ صِيغَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ إِلَى صِيغَةٍ أُخْرَى تَحْقِيقًا، أَوْ تَقْدِيرًا.

ترجمه: هر چې عدل دے نو دا تغير د لفظ دے د صيغې أصليه نه صيغه اخرى ته تحقيقًا يا تقديرًا.

تشريح: قوله: أمّا العدل ...

بيان الأسباب التّسعة لمنع الصرف

تفصيل العدل

په دې مقام کښې يو څو خبرې ضروری دی: (١) ربط (٢) وجه د تقديم د عدل په باقي أقسامو (٣) معنى لغوى (٤) معنى اصطلاحى (٥) اقسام د عدل (٦) احکام د عدل.

(١) ربط دا دے: هر کله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د اسبابو د غير منصرف نه اجمالًا نو شروع ئې وربانديې وکړه تفصيلًا. (٢) وجه د تقديم د عدل دا ده: چې په اجمال کښې مقدم وو، نو په تفصيل کښې هم ئې مقدم کړو چې تفصيل موافق شی د اجمال سره. سوال: په اجمال کښې ولې مقدم وو؟ جواب: ځکه چې عدل په اسبابو تسعو کښې واحد هغه سبب دے چې دا بغير د شرطونو نه سبب ګرځی په خلاف د هغه نورو اسبابو نه چې هغه مشروط دی په شروط سره نو ګويه چې عدل أصل شو او أصل أولى بالتقديم وی. دويمه وجه دا ده: چې مصنف رحمه الله صرف د عدل تعريف کړے دے، او د دې نورو ئې صرف شروط بيان کړی دی او تعريف ئې ضمنًا معلوميږي نو په دې وجه دا أولى بالتقديم ګرځول پکار وو. (٣) د عدل په لغت کښې پنځه معاني راځی، او دا بناء دی په اختلاف د صلې باندې. ١ ـ چې کله د عدل په صله کښې "الى" راشی نو په معنى د ميلان سره راځی لکه عدل اليه اى مال اليه. ٢ ـ او چې کله ئې په صله کښې "من" راشی نو په معنى د بعد سره وی لکه عرب وائي: «عدل الحسن من البعير» اى: بعُد (لرې وتو هالست، لوی نه) ٣ ـ او کله ئې چې په صله کښې "عن" راشی نو

په معنی د اعراض سره لکه " أعدلت عنه " ای : أعرضت عنه . ٤ـ او کله چې ئ په صله کښې " فی " راشی نو په معنی د تصرف سره راځی لکه " عدلت فی الکتاب " . ٥ـ او چې په صله کښې ئ " بین " راشی نو په معنی د مساوات سره وی لکه وئیلے کیږی : په هغه وخت کښې چې خلق راوځی د فیصلې کولو د قاضی نه چې " عدل القاضی بین زید و عمرو " أی : ساوی .

(٤) د عدل اصطلاحی تعریف مصنفؒ کړے دے : « أمّا العدل فهو تغیر اللفظ » دا کون د لفظ دے متغیر کول " عن صیغته الأصلیة " د صیغې أصلې د دې نه بلې صیغې ته بے د قواعد صرفیۀ نه ، او سره د بقاء د مادې أصلې او معنی نه . او دا تغیر عام دے که تحقیقًا وی او که تقدیرًا وی . مونږ وو‌ے : چې د صیغې أصلې د دې نه ، په دې سره دفع د سوال وشوه ، سوال دا دے : چې دا تعریف ستا مانع نه دے د دخول د غیر نه ؛ ځکه چې داخلیږی په دیکښې تغیر د مشتقاتو د مصادرو نه چې ماضی ، مضارع وغیره د مصدر نه جوړیږی حالانکه هغې ته څوک عدل نه وائی ؟ جواب : " من صیغته " د صیغې د دې اسم نه نو مشتقات ترې خارج شو ؛ ځکه چې دا د دې خپلې صیغې نه نه دی راوتی ، بلکه د صیغې د مصدر نه راوتی دی ، او حالانکه شرط دا دے : چې د صیغې خپلې نه به راوتی وی یعنې که معدول اسم وو نو معدول عنه به هم اسم وی دغه شان فعل هم شو . او بیا مونږ وو‌ے : بغیر د قواعد صرفیۀ نه دا هم دفع د سوال ده ، سوال دا دے : چې دا تعریف مانع نه دے د دخول د غیر نه ؛ ځکه چې داخلیږی پکښې قال ، باع وغیره چې په دیکښې تغییر په لفظ کښې شوے دے او د خپلې صیغې أصلې نه شوے دے بلې صیغې ته ؛ ځکه چې دا " قال " په أصل کښې " قَوَلَ " وو تعلیل پکښې وشو نو " قَالَ " ترې جوړ شو ، او " قَوَلَ " هم فعل دے او " قَالَ " هم فعل دے ، او دا دواړه یوه صیغه ده او " قَوَلَ " أصلی صیغه ده او " قَالَ " ترې بله صیغه جوړه شوې ده حالانکه دیته څوک عدل نه وائی ، بلکه اعلال ورته وائی ؟ جواب : زمونږ مراد دا دے : چې بغیر د قواعد صرفیۀ نه وی او په " قَالَ " کښې چې تغییر شوے دے نو دا بناء دے په قواعد صرفیۀ باندې . بل قید مونږ دا لګولے وو چې " سره د بقاء د مادې أصلی او معنی نه " په دې سره دفع د بل سوال وشوه ، سوال دا دے : چې ستا دا تعریف مانع نه دے ؛ ځکه چې داخل شو پکښې أسماء محذوفة الأعجاز لکه " یَدٌ ، دَمٌ " چې په أصل کښې " یَدَوٌ ، او دَمَوٌ " وو . نو په دې کښې تغییر د صیغې أصلی نه راغلو بلې صیغې ته او دا بغیر د قواعد صرفیۀ نه شوے دے حالانکه دیته خلق عدل نه وائی ؟ جواب : مونږ وو‌ے : چې سره د بقاء د مادې أصلی نه او دلته ماده باق نه ده ؛ ځکه لام کلمه پکښې حذف شوې ده . سوال : دا تعریف جامع نه شو خارج شو ترې " ثلث ، او مثلث " ؛ ځکه دا معدول دی د " ثلثة ثلثة " نه

او هغې كښې " ثاء " شته او دايه نشته ؟ **جواب** : مونږ ته د مادې أصلي وائيو او ماده أصليه هغه ده چې په ثلاثي كښې په مقابله د فاء ، عين ، او لام كښې وي . او په رباعي كښې په مقابله د فاء ، عين ، او دوه لامونو كښې وي . او په خماسي كښې په مقابله د فاء ، عين ، او درې لامونو كښې وي . او دلته دا " ثاء " أصلي نه ده ، نو ځكه په " ثلث ، او **مثلث** " كښې حذف شوې ده . **قوله** : **تحقيقًا او تقديرًا** ... غرض د مصنف ﷫ د دې عبارت نه هغه پنځه خبرې ذكر كول دي چې أقسام د عدل دي ، خو په دې مقام كښې خلاصه چند خبرې پكار دي چې وائي : (۱) دا منصوب ولې دي ؟ (۲) غرض د مصنف ﷫ د دې عبارت نه څه دے ؟ (۳) تعريف د عدل تحقيقي ، او تقديري .

(۱) په علت د نصب د دې كښې دير أقوال دي خو راجح پكښې درې دي : ۱ـ دا منصوب دي بناء بر مفعول مطلق د پاره د فعل مقدره نو كيږي تقدير د عبارت داسې " **حقق تحقيقًا و قدر تقديرًا** " (ثابت شوے دے په ثابت كيدو ، مقدر شوے دے په مقدر كيدو) . ۲ـ دويم قول دا دے : چې دا دواړه صفتين د موصوف مقدره دي نو تقدير د عبارت داسې دے : " **تغيرًا تحقيقًا و تغيرًا تقديرًا** " (تغير د لفظ دے هسې تغير چې تحقيقي او هسې تغير چې تقديري وي) . او صفت تابع د موصوف وي په اعراب كښې او هغه منصوب وو نو دا هم منصوب شو بيا موصوف مع الصفة مفعول مطلق شو د تغير د پاره . ۳ـ دريم قول دا دے : چې دا منصوب دي بناء بر اضافت نو أصل عبارت دا دے : " **تغير تحقيق و تغير تقدير** " نو مضاف حذف شو په دواړو كښې او مضاف اليه قائم شو په ځاي د مضاف باندې ، و معرب شو په اعراب د هغې باندې ، او هغه منصوب وو نو دا هم منصوب شو .

(۲) غرض د مصنف ﷫ د دې عبارت نه تقسيم كول دي د عدل قسمين ته چې يو عدل تحقيقي دے او بل تقديري دے .

(۳) **تعريف د هر واحد** : نو عدل تحقيقي دیته وائي : چې په مخرجيت د صيغې أخرى د صيغې أصلي نه علاوه د عدل نه بل دليل هم وي . او عدل تقديري دیته وائي : چې په مخرجيت د صيغې أخرى د صيغې أصلي نه بل دليل موجود نه وي علاوه د عدل نه او أمثله به ئې وروسته راشي .

وَلَا يَجْتَمِعُ مَعَ وَزْنِ الْفِعْلِ أَصْلًا ، وَيَجْتَمِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ كَـ " عُمَرَ " ، وَ " زُفَرَ " ، وَمَعَ الْوَصْفِ كَـ " ثُلَاثَ " ، وَ " مَثْلَثَ " ، وَ " أُخَرَ " ، وَ " جُمَعَ " .

ترجمه : او نه جمع کیږي د وزن فعل سره هرګز ، او جمع کیږي د علمیت سره لکه عمر ، زفر ، او د وصف سره هم جمع کیږي لکه ثلاث ، مثلث ، أخر ، جمع .

تشریح : قوله : **و لایجتمع مع وزن الفعل أصلًا** ... غرض د مصنف رحمه الله د دې عبارت نه شپږمه خبره ده چې أحکام ذکر کول دي د عدل ، نو یو حکم د عدل دا دے : چې نه جمع کیږي د وزن فعل سره ؛ ځکه چې کوم أوزان د عدل دي هغه غیر دي د أوزان د فعل نه او مغائرت د أوزانو مستلزم دے مغائرت د موزونات لره . هغه أوزان د فعل چې سبب واقع کیږي د منع صرف هغه پنځه دي : ١ـ أَفْعَلَ لکه " أکرم " (دا د معلوم صیغه ده) . ٢ـ أُفْعِلَ لکه " أُكْرِمَ " (دا مجهول ده) . ٣ـ فَعْلَلَ لکه " دَحْرَجَ " . ٤ـ تَفَعْلَلَ لکه " تَدَحْرَجَ " (چې معلوم وي) . ٥ـ تُفُعْلِلَ لکه " تُدُحْرِجَ " (چې مجهول شي) . ٦ـ فُعِلَ لکه " ضُرِبَ " (د ثلاثي مجرد نه) . او اوزان د عدل شپږ دي : ١ـ فُعَالَ لکه " ثُلاثَ " . ٢ـ مفعل لکه " مثلث " . ٣ـ فُعَل لکه " عُمَر " . ٤ـ فَعْلِ لکه " أَمْسِ " . ٥ـ فَعَلُ لکه " سَحَرُ " . ٦ـ فَعَالِ لکه " قَطَامِ " . لکه دا صاحب د حاشیه په شعر کښې ذکر کړي دي . شعر

أوزان عـــدل را بتمامي تو شش شمـــر «» مَفْعَلْ فُعَلْ مثالهـما مَثْلَثْ عُمَـرْ
فَعْلِ ست مثل أَمْسِ فُعَال ست چون ثُلث «» مثل فَعَالِ دان تو قطام فَعَلْ سَحَرْ

قوله : **و یجتمع مع العلمیة** ... او دا عدل جمع کیږي د علمیت سره لکه عُمَرُ او زُفَرُ ، دا مثال د پاره د عدل تقدیري دے . عدل تقدیري دیته وائي : چې په مخرجیت د دې صیغې د صیغې أصلې نه بل دلیل نه وي علاوه د منع صرف نه نو دا دواړه مونږ وموندل په کلام عربو کښې غیر منصرف ، او غیر خو منصرف دیته وائي : چې په هغې کښې دوه سببه وي د أسباب د منع صرف نه ، او یا یو وي خو قائم وي په مقام د دوؤ باندې . نو په " عُمَرُ " کښې دوه سببه هم نه وو او یو داسې سبب هم نه وو چې قائم مقام د دوه وے ، بلکه په دیکښې یو سبب وو علمیت ، او دا داسې سبب نه دے چې قائم شي په ځایٔ د سببین باندې نو مونږ مجبورًا دا ووے : چې دویم سبب په دیکښې عدل تقدیري دے چې دا معدول دے د " عَامِرٌ " نه ؛ ځکه تعریف د عدل تقدیري پرې صادقیږي ، ولې چې د دې په راویستو د عامر نه بل څه دلیل نشته سوا د منع صرف نه او دا تعریف د عدل تقدیري دے . او دارنګ " زفر " هم معدول دے د " زافر " نه ، بیا مونږ داسې ووے : چې دا " عُمَرُ او زُفَرُ " مونږ وموندل په کلام د عربو کښې غیر منصرف ؛ دا ځکه وائیو چې نفس موندل د اسم په وزن د عدل بغیر د عدم انصراف نه په دې کښې مونږ محتاج نه یو عدل ته نو هغه **اعتراض** دفع شو چې " بَلَدٌ " په وزن د " سَحَرُ " دے ، او دا د أوزانو د عدل نه دے نو پکار ده چې دا دې معدول شي د " بَالِدٌ " نه حالانکه

دا خو چا نه دی وئیلې . دارنګ " **فُرَدُ** " په وزن د فُعَلُ دے او دیته هم څوک معدول د " **فَارِدٌ** " نه نه وائی ، نو دا ځکه چې په کلام د عربو کښې غیر منصرف نه دی موجود شوی .

قوله : **و مع الوصف کثلث و مثلث** ... او دارنګ جمع کیږی د وصف سره لکه " **ثلث** " او " **مثلث** " چې دا دواړه مثالونه د عدل تحقیقی دی او عدل تحقیقی دیته وائی : چې په مخرجیت د دې صیغې د صیغې أصلی نه د عدل نه علاوه بل دلیل هم موجود وی او دلته هم بل دلیل شته دے هغه دا چې " **ثلث** " او " **مثلث** " غیر منصرف دی او غیر منصرف دیته وائی چې په هغه کښې دوه سببه وی د اسباب د منع صرف نه ، یا یو سبب چې قائم وی په مقام د دوو باندې . او په " **ثلث** " او " **مثلث** " کښې یو سبب د أسباب د منع صرف نه شته چې هغه وصف دے ، او دا کافی نه وو د عدم انصراف د پاره ، نو بل پکښې مونږ عدل تحقیقی معتبر اومنلو ؛ ځکه تعریف د عدل تحقیقی پرې صادقیږی چې په دې عدل باندې بل دلیل شته علاوه د منع صرف نه هغه دا دے : چې " **ثلث** " او " **مثلث** " په معنو کښې تکرار دے ؛ ځکه معنی ئې ده درې درې او تکرار د معنی دلالت کوی په تکرار د لفظ باندې او په لفظ د " **ثلث** " او " **مثلث** " کښې خو تکرار نشته نو معلومه شوه چې دا معدول دی د " **ثلثة ثلثة** " نه . نو عدل ئې هم دا تقاضه کوی چې د دې د پاره دې معدول عنه وی او معنی ئې هم دا تقاضه کوی چې ددې لفظ دی مکرر وی . **سوال** : نه منم دا خبره چې په " **ثلث** " او " **مثلث** " کښې یو عدل دے او بل وصف ؛ ځکه قانون دا دے : چې کوم وصف چې سبب د غیر منصرف کرځی هغه وصف أصلی دے ، وصف عارضی نه دے او په " **ثلث** " او " **مثلث** " کښې وصفیت عارضی دے أصلی نه دے ؟ **جواب** : په " **ثلث** " او " **مثلث** " کښې وصفیت اګر چې عارضی دے خو د عدل په وجه باندې أصلی ګرځیدلے دے نو یو پکښې عدل تحقیقی دے او بل وصف نو غیر منصرف کیدل صحیح دی . **سوال** : نه منم دا خبره چې په " **ثلث** " او " **مثلث** " کښې عدل تحقیقی دے ؛ ځکه د عدل تحقیقی معنی تا دا کړې وه چې په مخرجیت د صیغې باندې د عدم انصراف نه علاوه بل دلیل هم وی او دلته تا دلیل وئیلے دے تکرار د معنی . نو چې تکرار د معنی دلیل د عدل د پاره ګرځی نو بیا خو پکار ده چې تثنیه او جمع دې ټولې غیر منصرف شی ؛ ځکه چې په تثنیه او جمع کښې تکرار وی ؛ ځکه تثنیه وئیلے کیږی یو او یو ته ، نو تکرار پکښې راغلو او جمع درې ، یا د درې نه زیات نو هلته هم تکرار راغلو حالانکه تثنیه او جمع خو په غیر منصرف کښې نه دی داخل ؟ **جواب** : نه منم دا خبره چې په تثنیه او جمع کښې تکرار د معنی راغلے دے ، بلکه دلته تعدد دے ؛ ځکه یو تکرار دے او بل دلالت کول دی په تعدد باندې او دا جدا جدا دی . قوله : **و أخر** ... بل مثال د پاره د عدل تحقیقی " **أخر** " دے ؛ ځکه کله چې دا موجود شو په کلام د عربو کښې غیر منصرف او غیر منصرف دیته وائی : چې

په هغې کښې دوه سببه وی د اسباب د منع صرف نه ، یا یو چې قائم وی په مقام د سببین باندې . او مونږ چې وکتل نو دیکښې یو سبب وو وصف او دا خو کافی نه وو د پاره د منع صرف نو دویم پکښې عدل تحقیقی معتبر کړے شو او دا عدل تحقیقی ؛ ځکه دے چې په مخرجیت د دې د صیغې أصلی نه د عدل نه علاوه بل دلیل شته هغه دا دے چې " أخر " جمع د أخری ده او أخری مؤنث د آخر دے ، او آخر صیغه د اسم تفضیل ده او اسم تفضیل چې په کلام د عربو کښې مستعملیږی نو د هغه د پاره درې طریقې دی : ۱ـ یو دا چې دا مستعمل وی په " مِنْ " سره . ۲ـ په ألف لام سره . ۳ـ په اضافت سره . او په " أخر " کښې استعمال په دې یوه طریقه هم نه وو شوے نو مونږ دا معدول کړو د هغه اسم تفضیل نه چې مستعمل وی په " مِنْ " ، یا " لام " سره . او هغه اسم تفضیل چې استعمال ئې په اضافت سره کیږی د هغې نه نشی معدول کیدے ؛ ځکه د هغې نه چې مضاف الیه حذف شی نو په مضاف کښې یو د طرق ثلاثو کیږی : ۱ـ یا مبنی بر ضمه وی لکه قبلُ او بعدُ . ۲ـ یا په عوض د هغې کښې په مضاف تنوین راغلے وی لکه یومئذٍ او حینئذٍ . ۳ـ یا اضافت ثانی شوے وی په شان د اولی یعنې تکرار د مضاف کیږی لکه یا تیم تیم عدی ، او دا یوه طریقه هم په " أخر " کښې نشته . نو ځکه معدول دے د " الأخر " ، یا " أخر مِنْ " نه . سوال : نه منم چې أخر د اسم تفضیل صیغه ده ؛ ځکه چې " أخر " په معنی د " غیر " سره راځی ، او " غیر " معنی د اسم تفضیل ده یعنی دا معنی تفضیل معنی نه ده ؟ جواب : " أخر " په أصل وضع کښې په معنی د " أشد تاخیرًا " سره دے او دا صیغه د اسم تفضیل ده ؛ ځکه چې په معنی کښې ئې زیادت دے ، او اوس په معنی د غیر سره گرځیدلے دے او دا معنی أصلی نه ده . سوال : چې هر کله " أخر " معدول شو د هغه اسم تفضیل نه چې مستعمل وی په " مِنْ " سره ، یا په " ألف لام " سره نو قانون دا دے : چې معدول متضمن وی معنی د معدول عنه لره او معدول عنه یو " مِنْ " دے ، او بل " لام " دے او دا دواړه حروف دی . او حروف مبنی دی نو دا معدول هم متضمن شو معنی د حرف لره نو پکار ده چې دا هم مبنی وے . او ته خو ورته غیر منصرف وائی او غیر منصرف قسم د معرب دے ؟ جواب : دا متضمن دے معنی أصلی د معدول عنه لره او په معنی أصلی د معدول عنه کښې " مِنْ " او " لام " نشته ، بلکه دا پکښې عارضی راغلی دی . قوله : و جمع ... او ځلورم مثال د پاره د عدل تحقیقی " جمع " دے په دې کښې هم دوه سببه دی د اسبابو د منع صرف نه : یو وصف ، او بل عدل تحقیقی دے ؛ ځکه تعریف د عدل تحقیقی برې صادق دے او هغه دا دے : چې په مخرجیت د اوسنۍ صیغه د صیغې أصلی نه د عدل نه علاوه بل دلیل وی او دلته هم شته دے . هغه دا دے : چې کله " جمع " مونږ وموندو په کلام د عربو کښې غیر منصرف او غیر منصرف دیته وائی چې په هغې کښې دوه سببه وی د اسباب د منع صرف نه ،

یا یو سبب چې قائم وی په مقام د سببین باندې په "جمع" کښې یو سبب ووچې وصف وو او صرف وصف کافی نه وو د پاره د منع صرف نو دویم سبب پکښې مونږ عدل تحقیقی معتبر کړو، لیکن په دې عدل باندې د دې نه علاوه بل دلیل هم شته، هغه دا دے: چې "جمع" جمع د "جمعاء" ده او "جمعاء" مؤنث د "أجمع" دے او "أجمع" (یعني وزن د أفعل) په دوه قسمه دے: ۱ ـ اسمی. ۲ ـ صفتی. او د دې "فعلاء" چې مؤنث د "أفعل" صفتی وی ئ جمع په وزن د "جُمْعٌ" علی وزن فُعْلٌ راځی لکه "حمراء" چې جمع د "حُمْرٌ" ده. او دا "فعلاء" چې مؤنث د أفعل اسمی وی نو د دې جمع په وزن د فعالی او فعلاوات باندې راځی لکه "صحاری"، او "صحراوات" چې جمع د "صحراء" ده نو د "جُمَعُ" جمع به "جُمْعٌ"، یا "جَماعی"، یا "جمعاوات" وی، او د "جُمَعُ" جمع نه "جُمْعٌ" (بر وزن فُعْلٌ) وه، او نه "جَماعی" (بر وزن فعالی) وه، او نه "جمعاوات" (بر وزن فعلاوات) وه؛ نو معلومه شوه چې دا یا معدول دے د "جُمْعٌ" نه، او یا معدول دے د "جُماعی"، یا "جمعاوات" نه.

أَمَّا الْوَصْفُ فَلَا يَجْتَمِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ أَصْلًا، وَ شَرْطُهُ أَنْ يَكُوْنَ وَصْفًا فِيْ أَصْلِ الْوَضْعِ فَـ "أَسْوَدُ"، وَ "أَرْقَمُ" غَيْرُ مُنْصَرِفٍ وَ إِنْ صَارَ إِسْمَيْنِ لِلْحَيَّةِ لِإِصَالَتِهِمَا فِي الْوَصْفِيَّةِ، وَ "أَرْبَعٌ" فِيْ "مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ أَرْبَعٍ" مُنْصَرِفٌ مَعَ أَنَّهُ صِفَةٌ وَ وَزْنُ الْفِعْلِ؛ لِعَدَمِ الْإِصَالَةِ فِي الْوَصْفِيَّةِ.

ترجمه: هر چې وصف دے نو دا نه جمع کیږی د علمیت سره هر گز. او شرط ئ دا دے: چې دا به په أصل وضع کښې وصف وی. پس اسود او أرقم غیر منصرف دی اګر چې دا اوس نومونه ګرځیدلی دی د مار د پاره؛ د وجې د اصالت د دې دواړو نه په وصفیت کښې. او أربع په مررت بنسوة أربع کښې منصرف دے سره د دې نه چې دا صفت، او وزن فعل دے خو منصرف دے؛ د وجې د عدم اصالت د دې اربع نه په وصفیت کښې.

تشریح: قوله: **أمّا الوصف** ... هر کله چې فارغ شو مصنف ﷫ د بیان د تفصیل د سبب اول د اسباب د منع صرف نه نو شروع ئ وکړه په تفصیل د سبب ثانی کښې نو دویم سبب ئ وصف ذکر کړو او دا ئ متصل ذکر کړو په عدل پسې او د باقی اسباب نه ئ مقدم کړو؛ ځکه چې په اجمال کښې ئ دا په عدل پسې متصل ذکر کړو نو په تفصیل کښې ئ هم متصل ذکر کړو؛ د دې د پاره چې د اجمال او تفصیل موافقت راشی. **سوال**: په اجمال کښې ولې په عدل پسې متصل ذکر وو؟ **جواب**: دا ځکه چې په أکثرو مواضع کښې عدل مؤثر واقع کیږی په سبب د وصف سره نو مناسبت وو.

پس د دینــــــه : وصف په لغت کښې بیان کولو ته وائی ، او په اصطلاح کښې وصف په دوه قسمه دے : ۱ـ یو هغه دے چې ورسته په توابع کښې به راشی چې نعت ورته وائی چې دا هغه تابع ته وائی چې معرب وی په اعراب د سابق باندې او راوړے شی د پاره د وضاحت د سابق هغه دلته نه دے مراد . ۲ـ دویم وصف چې دلته مراد دے د هغې تعریف دا دے : چې " **کون الإسم دالًا علی ذات مبهمة ماخوذة مع بعض صفاتها** " دلته دا " **کون الإسم** " په منزله د جنس دے تولو أفرادو ته شامل دے . " **علی ذات** " فصل اول دے احتراز دے د هغه أسماؤ نه چې دلالت کوی په اعراضو باندې لکه مصادر شو . او " **مبهمة** " سره هغه اسماء خارج شو چې دلالت کوی په ذات معین باندې لکه زید شو . او " **ماخوذة مع بعض صفاتها** " په دې سره ترې هغه اسماء خارج شو چې دلالت کوی په ذات مبهم خو مأخوذ مع بعض صفاتها نه وی لکه رجال .

قوله : **فلایجتمع مع العلمیة أصلًا** ... پس نه جمع کیږی دا وصف د علمیت سره هر کز ؛ ځکه علمیت هغه اسم دے چې دلالت کوی په ذات معین باندې او وصف هغه اسم دے چې دلالت کوی په ذات مبهم باندې نو په علمیت کښې تعیین شرط شو او په وصف کښې ابهام ، او دا دواړه نشی جمع کیدے اجتماع د متنافیین ده ؛ ځکه بین التعیین و الابهام منافات دے .

قوله : **وشرطه أن یکون وصفًا** ... او شرط د پاره د تاثیر د وصف په منع صرف کښې (نه د پاره د وجود فی نفسه د وصف) دا دے : چې دا به وصف وی په أصل وضع کښې یعنې دا نوع وصف په دوه قسمه دے : ۱ـ یو وصف أصلی دے . ۲ـ وصف عارضی دے . نو سبب د منع صرف چې واقع کیږی هغه وصف أصلی دے نه وصف عارضی . أصلی دیته وائی : چې اسم دلالت کوی په ذات مبهمه چې ماخوذ وی مع بعض الصفات او دا دلالت د دې اسم بالذات وی یعنې واضع دا اسم وضع کړے وی د دغه ذات مبهمه د پاره . او دا وصف أصلی بیا دوه قسمه دے : ۱ـ چې وصفیت پکښې باقی وی . ۲ـ چې وصفیت پکښې باقی نه وی خو په أصل وضع کښې وصف وی . قوله : **فاسود و أرقم غیر منصرف** ... غرض د مصنفؒ د دې عبارت نه تفریع کول دی ، مخکښې مونږ ووے : چې وصف أصلی بیا په دوه قسمه دے یو چې وصفیت پکښې باقی وی . او دویم چې وصفیت پکښې باقی نه وی خو په أصل وضع کښې وصف وی . مثال د اول لکه " **ضاربٌ** " . او مثال د ثانی لکه هغه أسماء چې اسمیت پکښې غالب شوے وی په وصفیت باندې لکه " **أسود** " او " **أرقم** " . د " **أسود** " معنی ده تور ، او د أرقم معنی ده برګ . نو په أصل وضع کښې أسود ذات من له السواد ته وائی ، او " **أرقم** " ذات من له الرقم ته وائی . نو دا داسې أسماء دی چې دلالت کوی په ذات مبهمه او ماخوذ دی سره د بعض صفات ، اګر چې اوس پکښې وصفیت باقی نه دے ، بلکه د وصفیت نه اسمیت ته تلے دے ؛ ځکه اسود د تور مار

نوم گرځیدلے دے او " أرقم " د برگ مار نوم گرځیدلے دے خو په أصل وضع کښې أوصاف دی . او وصف عارضی دیته وائی : چې اسم بالذات دلالت کوی په ذات معینه باندې خو د عارض په وجه ئ په ذات مبهم کښې استعال وشی نو دغه سبب د منع صرف نه دے لکه " أربع " شو چې دا واضع وضع کړے دے د پاره د هغه مرتبې چې د درې نه بره او د پنځو نه ښکته وی نو بالذات " أربع " دلالت کوی په ذات معینه باندې خو چې استعمال ئ وشی مبهم کښې او داسې وئیلے شی چې مررت بنسوة أربع نو دلته دې أربع دلالت وکړو په څلورو ښځو باندې او دا څلور ښځې معینې نه دی بلکه مبهمې دی نو په ذات مبهمه ئ دلالت وکړو خو د عارض په وجه باندې چې په ترکیب کښې واقع شوے دے . بله خبره په دې مقام کښې دا پیژندل پکار دی چې څه وجه ده چې وصفیت أصلی سبب د منع صرف گرځی او وصفیت عارضی سبب د منع صرف نه گرځی . نو وجه دا ده : چې أصل په أسماؤ کښې انصراف دے او عدم انصراف فرع ده او یو شے چې ته د أصل نه فرع ته اوباسې نو دا ډیر زور او طاقت غواړی او دا طاقت په وصف أصلی کښې شته نه په عارضی کښې .

أَمَّا التَّانِيْثُ بِالتَّاءِ فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُوْنَ عَلَمًا كَـ " طَلْحَةَ " ، وَ كَذٰلِكَ الْمَعْنَوِيُّ ، ثُمَّ الْمَعْنَوِيُّ إِنْ كَانَ ثُلَاثِيًّا سَاكِنَ الْأَوْسَطِ غَيْرَ أَعْجَمِيٍّ يَجُوْزُ صَرْفُهُ وَ تَرْكُهُ لِأَجْلِ الْخِفَّةِ وَ وُجُوْدِ السَّبَبَيْنِ كَـ " هِنْدٍ " ، وَ إِلَّا يَجِبُ مَنْعُهُ كَـ " زَيْنَبَ " ، وَ " سَقَرَ " ، وَ " مَاهَ " ، وَ " جُوْرَ " .

ترجمه : هر چې تانیث بالتاء دے نو شرط د دې دا دے : چې وی به علم لکه طلحة ، او دغسې معنوی هم دے ، بیا تانیث معنوی که چرته ثلاثی وی ساکن الأوسط وی غیر عجمی وی نو د دې منصرف کول او نه منصرف کول دواړه جائز دی ؛ د وجې د خفت او وجود د سببین نه لکه " هند " . او که چرته داسې نه وو نو واجب دے منع صرف د دې لکه " زینب ، سقرَ ، ماهَ ، جورَ " .

تشریح : قوله : **أمّا التانيث بالتاء فشرطه أن يكون علمًا** ... **ربط** دا دے : چې کله فارغ شو مصنف رحمه الله د تفصیل د دوه اسبابو د منع صرف نه نو شروع ئ وکړه په تفصیل د دریم سبب باندې چې تانیث دے ، او دا ئ په وصف پسې متصل ذکر کړو : ۱۔ یو د دې وجې نه چې په اجمال کښې په هغې پسې متصل وو نو په تفصیل کښې ئ هم وریسې ذکر کړو ؛ د دې د پاره چې موافقت راشی په مابین د اجمال او تفصیل کښې . **سوال** : په اجمال کښې ولې وریسې وو یعنې دې مقام کښې ولې ذکر وو ؟ **جواب** : دا وصف او تانیث د یو بل سره مشترک دی په دې خبره کښې چې لکه څنګه چې د تاثیر د منع صرف د پاره وصف أصلی شرط دے نو دارنګ تانیث کښې هم کون د دې أصلی شرط دے . مراد د تانیث نه دلته اسم مؤنث گرځول دی ، دا

عام دے که اطلاق ئ بیا په نر کیږی او که په ښځه . او ماتنؒ دلته " **التانيث بالتاء** " ووے : په دې کښې اشاره ده دیته چې په تانیث کښې أقسام دی .

پس تانیث اولاً په دوه قسمه دے : ۱ـ بالتاء . ۲ـ بغیر التاء . دا بغیر التاء بیا په دوه قسمه دے : ۱ـ په ألف ممدوده سره لکه حمراء . ۲ـ په ألف مقصوره سره لکه لکه " **حبلی** " . او تانیث بالتاء هم په دوه قسمه دے : ۱ـ په تاء ملفوظه سره . ۲ـ په تاء مقدره سره . چې په تاء ملفوظه سره وی هغه بیا په دوه قسمه دے : ۱ـ په تاء ساکنه سره . ۲ـ په تاء متحرکه سره . دا تاء ساکنه په أفعالو کښې راځی او تاء متحرکه په أسماؤ کښې راځی . او هغه چې په تاء مقدره سره وی هغه ته تانیث معنوی وائی ، او مؤنث سماعی ورته هم وائی . دا بیا دوه قسمه دے : ۱ـ چې اوریدلے شوے وی د عربو نه اطلاق د مؤنث په هغې لکه " **زینب** " شو . ۲ـ چې اوریدلے شوے وی د عربو نه اطلاق د مؤنث په جنس د هغې باندې لکه لفظ د نار ، شمس وغیره شو ، او په دې ټولو کښې أصل تانیث بالتاء دے .

قوله : وشرطه أن يكون علمًا ... او شرط د پاره د تاثیر د تانیث په منع صرف کښې دا دے: چې علم به وی هغه اسم چې دا پکښې راغلے وی لکه طلحة شو دا غیرمنصرف دے ؛ ځکه چې دوه سببه پکښې دی د اسبابو د منع صرف نه یو علمیت دے ، او بل تانیث لفظی دے . اوس دا علمیت ولې شرط شو د پاره د تانیث بالتاء ؟ نو دا ځکه چې په دې کښې چې کومه تاء ده دا په معرض د زوال کښې ده نو علمیت ورلره شرط کړے شو ؛ ځکه أعلام محفوظ دی د تغییر او تبدیل نه بقدر الإمکان نو د علمیت د وجې نه دا تاء د اسم سره لازمه ګرځی نو دا سبب قوی کیږی . اوس که د عدم علمیت د وجې نه دا تاء د اسم سره لازمه ونه ګرځی نو دا سبب ضعیف کیږی . او أصل په أسماؤ کښې انصراف دے او عدم انصراف خلاف الأصل دے . او شے نقل کول د أصل نه فرع ته په ضعیف سبب سره نه کیږی بلکه قوی سبب غواړی . **سوال** : نه منم چې اعلام محفوظ دی د تغییر او تبدیل نه بلکه زه به درته وښائم چې اعلام به وی او تغییر به پکښې راغلے وی لکه جبرائیل چې دا د یو ملک مقرب نوم دے او خلق په دیکښې تغییر کوی د جبرائیل په ځائ جبریل وائی ؟ **جواب** : ۱ـ مونږ چې وائیو چې اعلام محفوظ دی د تغییر او تبدیل نه نو اعلام د بشر وائیو او دا خو علم الملک دے . **جواب** : ۲ـ په دیکښې تغییر نه دے راغلے ، بلکه دا د یو ملک دوه نومونه دی . **سوال** : نه منم چې أعلام البشر محفوظ دی د تغییر او تبدیل نه ، بلکه تغییر پکښې کیږی لکه په یا حارث کښې خلق یا حار وائی ، او په یا مالک کښې خلق یا مالُ وائی ؟ **جواب** : مونږ ئ مطلقًا نه وائیو بلکه وائیو چې دا محفوظ دی د تغییر او تبدیل نه بقدر الامکان نو په ترخیم د منادی کښې چې تغییر

راځي هغه د ضرورت د وجې نه دے او هغه ضرورت دا دے: چې په بعض وخت كښې خبره زر كول پكار وى نو د دې وجې نه ترخيم كيږى.

قوله : **و كذلک المعنوىّ** ... او دغه رنګ معنوى هم دے يعنې شرط د پاره د تانيثِ معنوى هم دا دے : چې دا په علم وى ، البته دومره فرق دے چې دا علميت د تانيث لفظى د پاره شرط د وجوب دے او د تانيث معنوى د پاره شرط د جواز دے نو چې تانيث لفظى كښې علميت وى نو د هغې عدم انصراف واجب وى او په تانيث معنوى كښې چې علميَت راشى نو غير منصرف كول ئې جائز دى . مثال لكه " **هندٌ** " شو نو دا مؤنث دے خو لفظًا پكښې علامه د مؤنث نشته چې تاء ساكنه ، تاء متحركه ، ألف مقصوره ، ألف ممدوده دى بلكه علامه د تانيث پكښې تاء مقدره ده ، او دا د يوې ښځې نوم دے . نو ديكښې دا هم جائز دى چې غير منصرف اوئيلے شى لكه " **جاءتنى هندُ** " ، " **رأيت هندَ** " ، " **مررت بهندَ** " ؛ د وجې د علميت او تانيث معنوى نه . او دا هم جائز دى چې منصرف اوئيلے شى لكه " **جاءتنى هندٌ** " ، " **رأيت هندًا** " ، " **مررت بهندٍ** " ؛ ځكه علميت شرط د وجوب نه دے په تانيث معنوى كښې ، بلكه شروط د وجوب د تانيث معنوى نور درې دى چې ورسته ئې ذكر كوى په طريقه د مانعة الخلو سره . ۱ ـ چې رباعى وى يعنې د ثلاثى نه زائد حروف وى پكښې . ۲ ـ يا ثلاثى متحرك الأوسط وى . ۳ ـ يا پكښې عجمه وى او دا درې واړه په هند كښې نشته ، بلكه ساكن الأوسط او عربي دے نو په دې كښې دواړه سببين قوى نه دى نو ثقل پكښې نشته او غير منصرف كرځول خو هله لازم وى چې دواړه سببين ئې قوى وى او ثقل پكښې راشى . نو ديكښې جواز د وجهين شو ؛ ځكه وائى : « **ثم المعنوى ان كان ثلاثيا ساكن الأوسط غير عجمى يجوز صرفه و تركه ؛ لاجل الخفة** » (دا " لاجل الخفة " تعلق د صرفه سره دے يعنې منصرف كول ئې جائز دى ؛ ځكه غير منصرف كولو نه مقصود خفت دے او هغه په ديكښې حاصل دے ؛ ځكه ثلاثى كښې خفت دے په نسبت سره غيرثلاثى ته دغه شان ساكن الأوسط د متحرك الأوسط نه او عربي د عجمى نه) . « **و وجود السببين كهند** » . يعنې كه ديته وګورې چې دوه سببه پكښې شته نو غير منصرف ئې كړه لكه " **هند** " ، يو پكښې علميت دے دويم پكښې تانيث معنوى دے او د دې " **كهند** " تعلق د " **تركه** " سره دے .

قوله : **و إلا يجب منعه** ... ماقبل كلام مقيد وو نو " **إلا** " سره د دغه مقيد كلام نه استثناء ده او هر كله چې مستثنى منه مقيد وى په قيوداتو سره او د هغې نه استثناء وشى نو د هغې دوه صورتونه وى ؛ ۱ ـ يا استثناء كيږى په نفى د جميع قيودات سره . ۲ ـ يا په نفى د بعض قيودات سره . نو دلته هم دواړه قسمه استثناء صحيح ده كه په نفى د جميع قيودات سره شى يعنې چې ثلاثى ساكن الأوسط او عربي درې واړه نه وى ، او چې نفى د بعض قيوداتو شى نو مطلب به

دا وی چې نوی ثلاثي بلکه رباعی وی نو اګر چې ساکن الأوسط او عربي وی خو بیا یې هم صرف نه دے جائز بلکه "**یجب منعه**" (غیر منصرف کول یې واجب دی) ، او یا ثلاثي وی خو ساکن الأوسط نه وی نو هم یې منع واجب ده ، او یا ثلاثي هم دے او ساکن الأوسط هم دے خو عجمي دے نو بیا هم "**یجب منعه**" مثال د هغه چې ثلاثي نه وی لکه "**زینب**" شو یو پکښې علمیت دے بل تانیث معنوی . او چې ثلاثي وی خو ساکن الأوسط نه وی بلکه متحرک الأوسط وی لکه "**سقرَ**" (د جهنم د یوې طبقې نوم دے) ، او چې ثلاثي هم وی او ساکن الأوسط هم وی خو عربي نه وی بلکه عجمي وی لکه "**ماهَ**" او "**جورَ**" (د دوه ښارونو نومونه دی) شو یو پکښې علمیت دے او بل تانیث ، نو دري وارو کښې عدم انصراف واجب دے .

وَ التَّانِيْثُ بِالْأَلِفِ الْمَقْصُوْرَةِ كَـ "حُبْلٰى" ، وَ الْمَمْدُوْدَةِ كَـ "حَمْرَاءَ" مُمْتَنِعٌ صَرْفُهُمَا أَلْبَتَّةَ ؛ لِأَنَّ الْأَلِفَ قَائِمٌ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ التَّانِيْثُ وَ لُزُوْمُهُ . أَمَّا الْمَعْرِفَةُ فَلَايُعْتَبَرُ فِيْ مَنْعِ الصَّرْفِ مِنْهَا إِلَّا الْعَلَمِيَّةُ ، وَ تَجْتَمِعُ مَعَ غَيْرِ الْوَصْفِ .

ترجمه : او تانیث په ألف مقصوره سره لکه "**حبلى**" او په ممدوده سره لکه "**حمراء**" ممتنع دے صرف د دې دوارو خامخواه ؛ ځکه "**ألف**" قائم دے په مقام د سببین ؛ چې تانیث اولزوم التانیث دے . هر چې معرفه ده نو معتبر نه دے په منع صرف کښې د دې معرفې نه مګر علمیت ، او جمع کیږی دا معرفه په دغه اسبابو کښې د هر یو سره علاوه د وصف نه .

تشریح : قوله : **والتّانیث بالألف القصورة** ... یعني کوم تانیث چې په ألف مقصوره او ممدوده سره وی نو د هغې منصرف کول په یو وخت کښې جائز نه دی دا ولې ؟ نو "**لأن ألفه**" سره دلیل پیش کوی چې ألف قائم دے په مقام د سببین باندې او قائم په مقام د سببین ؛ ځکه دے چې ألف ممدوده او مقصوره د کلمې سره لازم وی او جائز نه وی انفکاک د دې د کلمې نه نو دا اګرچې ظاهر کښې یو سبب وی خو پشان د دوه وی چې یو تانیث دے او بل لزوم د تانیث دے نو دا لزوم اګرچې مستقل سبب نه دے خو په شان د سبب دے په خلاف د "**تاء**" نه چې هغه لازمه نه وی د کلمې سره بلکه انفکاک یې جائز وی د کلمې نه .

قوله : **أمّا المعرفة فلایعتبر فی منع الصرف منها إلّا العلميّة** ... کله چې فارغ شو مصنفؒ د دري اسبابو د منع صرف نه نو شروع یې وکړه په تفصیل د سبب رابع باندې چې هغه معرفه ده . معرفه : په لغت کښې پیژندلو ته وائی ، او په اصطلاح کښې هر هغه اسم ته وائی چې وضع شوے وی د پاره د یو شي معین ، دلته مراد د معرفې نه تعریف دے هغه نه ده مراد کومه چې د نکرې مقابل دے ؛ ځکه سبب د منع صرف هغه وصف وی نه ذات او معرفه خو ذات دے

؛ ځکه معرفه دلالت کوی په ذات معيّنه ، نو ذات وصف نه دے نو لهذا مراد دلته تعريف دے . بيا دے وائي : معتبر نه دے په منع صرف کښې د دې نه مګر علميت ، يعني معرفه ووه قسمه ده کما سيجيئ في بحث المبنيات په دې أقسام سبعؤ کښې مؤثر په منع صرف کښې صرف علميت واقع کيږی باق أقسام سته نه واقع کيږی هغه ووه قسمونه دا دی : ١ ـ اعلام لکه زيد ، عمرو ، بکر . ٢ ـ اسماء اشارات لکه ذا ، ذاک ، ذلک . ٣ ـ موصولات لکه الذی ، التی وغيره . ٤ ـ مضمرات لکه هو ، هما ، هم وغيره . ٥ ـ معرّف باللام لکه الرجل ، المرأة وغيره . ٦ ـ چې مضاف وی يو د دې پنځو ته . ٧ ـ معرفه بالنداء لکه يا رجل . په ديکښې سبب د منع صرف صرف علم واقع کيږی او دا باق نه واقع کيږی ؛ ځکه د اعلامو نه علاوه يا اقسام د اسم مبنی دی لکه مضمرات ، موصولات ، أسماء اشارات ، او غير منصرف قسم د اسم معرب دے نو د يو بل ضدين دی . او بعض هغه دی چې دا کله په اسم غيرمنصرف کښې راشی نو هغه ئ منصرف ګرځوی نو سبب د منع صرف به څنګه واقع شی لکه ألف لام او اضافت . او معرفه بالنداء داخل ده په ألف لام کښې ؛ ځکه معرفه په " ياء " سره دا مؤل وی په معرفه باللام سره په نزد د نحات . نو صرف علم پاتې شو ؛ فتعين البتک للباز ګل . **سوال** : چې په معرفه کښې علميت شرط وو نو بيا پکار وه چې داسې ئ وئيلے وے چې " **اما العلميّة** " معرفې ذکر کولو ته څه ضرورت وو ؟ **جواب** : د غيرمنصرف چې کوم اسباب دی نو دا ټول فروع دی لکه مثلاً عدل شو نو دا فرع د معدول عنه ده او وصف فرع د ذات ده او تانيث فرع د تذکير ده نو دارنګ معرفه هم فرع د نکرې ده نو اګر چې سبب د منع صرف پکښې صرف علميت واقع کيږی ليکن د نکرې په مقابله کښې علميت نه راځی بلکه معرفه راځی ؛ نو ځکه ئ تعبير په معرفه سره وکړو .

قوله : **وتجتمع مع غير الوصف** ... او جمع کيږی دا معرفه په دغه اسبابو کښې د هر يو سره علاوه د وصف نه لکه په عُمَر کښې يو عدل دے او بل پکښې علميت دے په " **ابراهيم** " کښې يوه عجمه ده بل علميت دے . په " **طلحة** " کښې يو تانيث دے او بل علميت دے او د وصف سره ؛ ځکه نه جمع کيږی چې وصف دلالت کوی په ذات مبهمه باندې او علميت دلالت کوی په ذات معينه باندې ، او په مابين د دې کښې منافات دے .

أَمَّا الْعُجْمَةُ فَشَرْطُهَا أَنْ تَكُوْنَ عَلَمًا فِي الْعُجْمَةِ ، وَ زَائِدَةً عَلٰى ثَلَاثَةِ أَحْرُفٍ كَـ " إِبْرَاهِيْمَ " ، أَوْ ثُلَاثِيًّا مُتَحَرِّكَ الْأَوْسَطِ كَـ " شَتَرَ " فَـ " لِجَامٌ " مُنْصَرِفٌ ؛ لِعَدَمِ الْعَلَمِيَّةِ ، وَ " نُوْحٌ " مُنْصَرِفٌ ؛ لِسُكُوْنِ الْأَوْسَطِ .

ترجمه : هر چې عجمه ده نو شرط د تاثير د دې په منع صرف کښې دا دے : چې دا به علم وی په عجمه کښې ، او (دا دويم شرط پکښې أحد الأمرين دے) زيادت على ثلاثة أحرف به وی لکه ابراهيم او يا به ثلاثي متحرک الأوسط وی لکه شتَرَ شو . پس " **لجام** " منصرف دے ؛ د وجې د عدم علميت نه ، او " **نوح** " منصرف دے ؛ د وجې د سکون الأوسط نه .

تشريح : قوله : **أمّا العجمة فشرطها أن تكون علميّةً في العجمة** ... غرض د مصنف﷫ بل سبب ذکر کول دی د أسباب د منع صرف نه چې عجمه ده ، عجمه په لغت کښې گونگ ته وائی ، او په اصطلاح کښې هر هغه اسم دے چې وضع کړے وی هغه لره غير د عربو نه او شرط د تاثير د عجمې په منع صرف کښې دا دے : چې دا به علم وی په لغت عجمی کښې يعني دا عجمه به هله سبب د منع صرف واقع کيږی چې علميت وی پکښې ورنه بيا به سبب نه وی . او علميت پکښې ؛ ځکه شرط شو چې د عربو دا عادت دے چې کله يو لفظ په تلفظ کښې گران وی نو تغيير پکښې کوی نو دا خو چونکه عجمی لفظ دے نو عربي ته منتقل شو نو ثقل پکښې وو نو دوی پکښې تغيير او تبديل کوی نو د دې تغيير د حفاظت د پاره مونږ علميت شرط کړو ؛ ځکه اعلام بقدر الامکان محفوظ وی د تغيير او تبديل نه ، نو چې علميت پکښې وی نو ثقل به پکښې باقي وی نو د تخفيف د پاره غير منصرف شو او سبب قوی شو ، بيا دا علم عام دے که حقيقتًا وی لکه ابراهيم ، اسماعيل وغيره . او که حکمًا وی لکه قالون دا په عجمی کښې اسم جنس وو ، هر جيّد کره ته وئيلے کيدو ليکن دا عربئ ته په نقل کيدو سره بغير د تغيير نه په بله معنی جنسی سره مستعمل شو او بيا علم وگرځيدو د يو قاری چې ډير جيّد قراءت والا وو ، نو علميت پکښې حکمًا شو .

قوله : **و زائدة على ثلثة أحرف** ... دا دويم شرط دے دا په طريقه د أحد الأمرين سره دے چې هغه **تحرک الأوسط** دے يا زيادت على الثلاثة دے . زيادت په ثلاثة باندې ؛ ځکه سبب د تاثير گرځي چې دا ثقل پيدا کوی او اسم چې غير منصرف گرځي نو هم د وجې د ثقل نه گرځي ، او که زائد په ثلاثو نه وو نو بيا به **تحرک الأوسط** وی ؛ ځکه متحرک هم ثقيل وی د ساکن نه نو بيا پکښې هم قوت راځي د اول مثال لکه " **ابراهيم** " چې يو پکښې علميت دے او بل پکښې عجمه ده مع شرط تاثيره " **و هو الزيادة على الثلاثة** " . او چې متحرک الأوسط وی لکه " **شتَرَ** " دا عجمی لفظ دے او په عربئ کښې دا د يوې قلعه نوم گرځيدلے دے نو په ديکښې دوه سببه دی ؛ يو علميت ، دويم عجمه سره د تاثير نه چې **تحرک الأوسط** دے . قوله : **فلجام منصرف لعدم العلمية و نوح منصرف لسکون الأوسط** ... غرض د ماتن﷫ په دې شرطونو تفريع کول دی چې دا شرطونه پکښې نه وی نو اگرچې علميت او عجمه

پکښې وی خو هغه به منصرف وی غیر منصرف به نه وی لکه " لجام " چې دا واړې ته وائی . په عربی کښې دیته مونږ غیر منصرف نشو وئیلے اګر چې د دې حروف د درې نه زیات دی ؛ ځکه چې علمیت پکښې نشته ؛ ځکه چې لجام جنس واړې ته وائی ، دا په أصل کښې لګام وو ، خو کاف بدل شو په جیم باندې . او " نوح " هم منصرف دے اګرچې علمیت او عجمه پکښې شته ؛ ځکه چې هغه نور شرطونه پکښې نشته ، بلکه ثلاثی ساکن الأوسط دے .
سوال : دا " **نوح** " دې غیر منصرف وجوبًا نه وی خو غیر منصرف دې وی جوازًا پشان د تانیث معنوی لکه هندٌ کښې چې صَرْف او ترک دواړه جائز وو ؟ **جواب** : د عجمې او د تانیث معنوی په مینځ کښې فرق دے [1] قیاس د عجمې په هغه باندې نه دے صحیح . **پس د دینه** : أسماء د أنبیاؤ علاوه یو خو نه نور ټول غیر منصرف دی کما قال الشاعر :

گر تو میخواہی کہ دانے نام ہر پیغمبرے ٭ تا کدام است اے برادر نزد نحوی منصرف لا منصرف
صالح و ہود و محمد با شعیب و نوح و لوط ٭ ایں ہمہ دان منصرف دیگر ہمہ لا منصرف

أَمَّا الْجَمْعُ فَشَرْطُهُ : أَنْ يَكُونَ عَلَى صِيغَةِ مُنْتَهَى الْجُمُوعِ ، وَ هُوَ أَنْ يَكُونَ بَعْدَ أَلِفِ الْجَمْعِ حَرْفَانِ كَـ " مَسَاجِدَ " ، أَوْ حَرْفٌ مُشَدَّدٌ مِثْلُ " دَوَابَّ " ، أَوْ ثَلَاثَةُ أَحْرُفٍ أَوْسَطُهَا سَاكِنٌ غَيْرُ قَابِلٍ لِلْهَاءِ كَـ "مَصَابِيحَ"، فَـ "صَيَاقِلَةٌ"، وَ "فَرَازِنَةٌ" مُنْصَرِفٌ؛ لِقُبُولِهِمَا الْهَاءَ، وَهُوَ أَيْضًا قَائِمٌ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ الْجَمْعِيَّةُ ، وَ لُزُومُهَا ، وَ امْتِنَاعُ أَنْ يُجْمَعَ مَرَّةً أُخْرَى جَمْعَ التَّكْسِيرِ ، فَكَأَنَّهُ جَمْعٌ مَرَّتَيْنِ .

ترجمه : هر چې جمع ده نو شرط د پاره د تاثیر د جمع په اسبابو د منع صرف کښې دا دے : چې وی به دا جمع په صیغه د منتهى الجموع ، او دا هغه ده چې وی پس د ألف د جمع نه دوه حرفه لکه " مساجد " ، یا یو حرف مشدد لکه " دوابّ " ، یا درې حروف چې اوسط ئې ساکن وی غیر قابل د " **هاء** " وی لکه " **مصابیح** " . پس " **صیاقلة** " او " **فرازنة** " منصرف دی ؛ د وجې د قبلولو د دې دواړو هاء لره ، او دا جمع هم قائم ده په مقام د سببین باندې چې جمعیت او لزوم د جمعیت دے ، او د وجې د منع د دې نه چې بل ځل جمع شی په جمع تکسیر سره نوګویه چې دا دوه ځله جمع شوه .

تشریح : قوله : **و أمّا الجمع فشرطه أن يكون على صيغة منتهى الجموع** ... شپږم سبب د اسبابو د منع صرف نه جمع ده . جمع په لغت کښې یوځائ کیدلو ته وائی ، او په اصطلاح کښې " **ما دل على أحاد بحروف مفرد بتغيّرما** " هر هغه اسم دے چې دلالت کوی په أفرادو باندې په

---

[1] ځکه تانیث په نسبت سره عجمې ته قوی دے ؛ ځکه د تانیث معنوی اثر کله په لفظ کښې ظاهریږی لکه هند چې تصغیر ئې هُنَیْدَةٌ شو ، نو په لفظ کښې ظاهر شو بخلاف د عجمه نه چې د دې اثر په لفظ کښې بالکل نه ظاهریږی نو دواړو کښې فرق شو نو د عجمه قیاس په تانیث معنوی باندې دا قیاس مع الفارق دے .

حروفو د مفرد خپل سره ، سره د څه تغير نه لکه مثلًا " **رجل** " دا يو مفرد دے چې ته په ديکښې تغير وکړې او " **رجال** " ترې جوړ کړې ، دارنګ " **مسلمٌ** " يو تن مسلمان ته وائی چې کله پکښې تغير وشی او " **مسلمون** " شی نو بيا په احادو باندې دلالت کوی په دې مقام کښې مراد د جمع نه هغه معنی وصفی ده . قوله : **فشرطه أن يكون** ... شرط د پاره د تاثير د جمع په منع صرف کښې دا دے : چې وی به دا جمع په صيغه د منتهی الجموع ، اوس صيغه د منتهی الجموع څه ته وائی : نو " **هو أن يكون بعد ألف الجمع** " دلته دا واو استنافيه دے چې واقع شوے دے په جواب د سوال د سائل کښې ، سائل سوال وکړو : چې صيغه د منتهی الجموع څه ته وائی نو ده جواب وکړو : چې " **أن يكون بعد ألف الجمع حرفان** " الخ حاصل دا دے : چې د صيغې د منتهی الجموع د جوړولو د پاره درې طرق شرط دی : ۱ـ چې اول او دويم حرف به مفتوح وی او په دريم ځائ کښې به ألف د جمع وی او د هغې نه بعد به دوه حرفه وی چې اولنے به پکښې مکسور وی لکه مساجد . ۲ـ چې اولنی دوه حروف مفتوح وی او په دريم ځائ کښې ألف د جمع وی او د هغې نه ورسته يو حرف مشدد وی لکه دوابّ چې په أصل کښې دوابِبُ وو ، نو يوه " باء " ساکنه کړے شوه او په بله کښې مدغمه کړے شوه . ۳ـ چې اولنی دوه حروف مفتوح وی او په دريم ځائ کښې ألف د جمع وی او د هغې نه ورسته درې حروف وی اول مکسور وی او درميانه ساکن وی لکه مصابيح شو[1] . خو په دې شرط چې " **غير قابل للهاء** " او مراد په " **هاء** " سره " تاء " مدوره ده . **سوال** : چې مراد د " **هاء** " نه " تاء " مدوره ده نو تعبير ئ په " **هاء** " سره ولې وکړو ؟ **جواب** : ځکه چې دغه " تاء " په حين د وقف کښې " **هاء** " کرځی نو هغه بل **اعتراض** هم دفع شو ، چې مصنف رحمه الله خو د صيغې د منتهی الجموع د پاره دا شرط ولګوو چې په آخير کښې به ئ " **هاء** " نه وی او زه به درته وښائم چې په آخير کښې به ئ " **هاء** " وی او د هغې باوجود به هغه صيغه د منتهی الجموع وی او غير منصرف به وی لکه " **فواره** " چې جمع د " **فارهة** " ده ، دا صيغه د منتهی الجموع ده او په آخير کښې ئ " **هاء** " ده او سره د دې نه هم غير منصرف دے نو د دې اعتراض جواب داسې وشو چې زما مراد د " **هاء** " نه نفس " **هاء** " نه ده ، بلکه مراد هغه " **تاء** " مدوّره ده چې په حالت د وقف کښې " **هاء** " کرځی ، او ديته صيغه د منتهی الجموع ؛ ځکه وائی چې انتهاء او اختتام د جموع شوے وی په دې باندې او نه جمع کيږی په بل ځل جمع تکسير سره ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې ته وائی چې نه جمع کيږی په بلې جمع سره نو زه به درته

---

[1] بل تعريف د منتهی الجموع : هی التی ليس لها نظير فی الأحاد . بل تعريف ئ دا دے : هی التی تكون علی فواعل ، او فواعيل ، او مفاعل ، او مفاعيل .

وښائم چې صيغه د منتهى الجموع به وی او جمع شوی به وی په بل ځل جمع کيدو سره لکه " **صواحب** " چې دا جمع کيږی په " **صواحبات** " سره نو کله چې مونږ دا قيد ولګولو چې نه جمع کيږی خو په جمع تکسير سره نو دغه اعتراض دفع شو ؛ ځکه " **صواحب** " په جمع سالم سره جمع شوے دے نه په جمع تکسير سره . اوس دا صيغه د منتهى الجموع ولې شرط شو د پاره د تاثير د جمع نو دا د دې د پاره چې دا جمع په صيغه د منتهى الجموع سره محفوظ شی د تغيير او تبديل نه او قوت پکښې راشی ؛ ځکه دا داسې صيغه ده چې انتهاء د جمع په دې باندې شوې ده بيا نه جمع کيږی . او که مونږ د منتهى الجموع شرط نکړو او نفس جمع سبب د منع صرف وګرځوو نو په نفس جمع کښې تغيير او تبديل راځی نو بيا دا سبب قوی نه ګرځی ، بلکه سبب ضعيف ګرځی او ضعيف سبب اسم لره د انصراف نه عدم انصراف ته نشی راوبستے . بيا په صيغه د منتهى الجموع کښې مونږ دا شرط ولګولو چې دا به قابل د پاره د " **هاء** " نه وی ؛ نو دا ځکه چې که د دې په آخير کښې دغه " **تاء** " راشی کومه چې په حالت د وقف کښې " **هاء** " ګرځی نو د صيغې د منتهى الجموع اوزان مشابه کيږی د مفرداتو سره نو ضعف راځی په سببيت د دې کښې .

قوله : **فصياقلة و فرازنة منصرف** ... غرض د ماتن ﷫ اوس تفريعات کول دی ، چې دا " **صياقلة** " او " **فرازنة** " منصرف دی ؛ د وجې د قبلولو د دې دواړو نه " **هاء** " لره . اګرچې اوس " **تاء** " ده خو په حالت د وقف کښې " **هاء** " ګرځی . " **صياقلة** " د " **صيقل** " نه مأخوذ دے ريګمال ته وائی ، او " **فرازن** " دا جمع د " **فرازنة** " ده ، په شطرنج کښې وزير ګوټي ته وائی .

قوله : **وهو أيضًا قائم مقام سببين** ... او دا جمع هم قائم ده په مقام د سببين باندې پشان د ألف مقصوره او ألف ممدوده باندې ، او دا ځکه چې يو پکښې جمعيت دے او بل لزوم د جمعيت ، نو ګويه چې دا جمع شوې ده دوه ځله ؛ ځکه قائم شوه په مقام د سببين باندې ، يعنې په دې جمع کښې تکرار وی ، بيا دا تکرار د جمع کله حقيقتًا وی لکه " **أکاليب** " چې جمع د " **أکلب** " ده او " **أکلب** " جمع د " **کلب** " ده ، دغه شان " **أناعيم** " جمع د " **أنعام** " ده ، او " **أنعام** " جمع د " **نُعم** " ده . او کله حکمًا وی لکه " **مساجد** " چې په وزن د " **أکالب** " دے[1] .

أَمَّا التَّرْكِيْبُ فَشَرْطُهُ : أَنْ يَّكُوْنَ عَلَمًا بِلَا إِضَافَةٍ ، وَ لَا إِسْنَادٍ كَـ " بَعْلَبَكّ " ، فَـ " عَبْدُاللهِ " مُنْصَرِفٌ ، وَ " مَعْدِيْكَرِبَ " غَيْرُمُنْصَرِفٍ ، وَ " شَابَ قَرْنَاهَا " مَبْنِيٌّ .

---

(۱) خو دا د مصنف ﷫ او ابن حاجب ﷫ په نزد ، او د ذی مخشری په نزد دا ځکه قائم ده په مقام د سببين چې کله دا داسې جمع شوه چې نظيری ئې په مفردات کښې نه وو نو په ديکښې يو داسې قوت پيدا شوچې د هغې په وجه د جمع ثانی په منزله وګرځيده يعنې ګويه چې دوه ځله جمع شوه .

ترجمه : هر چې ترکيب دے نو شرط د پاره د تاثير د ترکيب منع صرف کېښې دا دے : چې علم به وی بغير د اضافت او اسناد نه ، لکه " **بعلبک** " ، پس " **عبدالله** " منصرف دے ، او " **معديکرب** " غيرمنصرف دے ، او " **شاب قرناها** " مبنى دے .

تشريح : قوله : **أمّا التّركيب فشرطه أن يّكون علمًا** ... ووم سبب د اسبابو د منع صرف نه ترکيب دے . ترکيب په لغت کېښې نفس يوځائ کولو ته وائی ، او په اصطلاح کېښې يو مطلق ترکيب دے او بل هغه ترکيب دے چې په اسبابو د منع صرف کېښې مراد دے . مطلق " **ترکيب** " عبارت دے د " **ضم كلمة الى كلمة أخرى** " نه ، او دلته چې کوم ترکيب مراد دے چې هغه مؤثر واقع کيږی په منع صرف کېښې نو هغه ترکيب امتزاجی دے د هغې مطلب دا دے : چې " **صيرورة كلمتين او أكثر كلمةً واحدة من غير جزئية حرف** " .

پس د دينـــــه : مطلق ترکيب په شپږ قسمه دے : ١ـ ترکيب اسنادی لکه " **زيد قائم** " ، يا لکه " **ضرب زيد عمرًا** " . ٢ـ ترکيب اضافی لکه " **غلام زيد** " . ٣ـ ترکيب توصيفی لکه " **رجل عالم** " . ٤ـ تعدادی ، يا بنائی لکه أحد عشر . ٥ـ صوتی لکه سيبويه دا مرکب دے د " **سيب** " او د " **ويه** " نه ؛ ځکه دے چې ماشوم وړ نو لوبې ئ کولې نو پلار به ئ منړه راواغسته او ورته به ئ وخودله او ورته به ئ وئيل چې " **سيب ويه** " معنی دا چې منړه اے ! نو د هغې نه بعد دے په دې باندې مشهور شو . ٦ـ ترکيب امتزاجی دے تعريف ئ مخکښې تير شو مثال لکه بعلبک ، او ديته ترکيب منع صرف هم وائی . د دې دوه جزه دی : ١ـ بعل . ٢ـ بک . " **بعل** " د " **بت** " نوم وو ، او " **بک** " د بادشاه نوم وو اوس د يو ښار نوم گرځيدلے دے او دا چې مرکب شوے دے نو په مينځ کېښې ئ حرف نه دے واقع شوے او دلته هم دغه مراد دے ؛ نو ماتن﷫ ځکه وائی : چې شرط د تاثير د ترکيب په اسبابو د منع صرف کېښې دا دے : چې علم به وی بغير د اضافت او اسناد نه لکه بعلبک شو دا غير منصرف دے ؛ ځکه يو پکښې علميت دے او بل پکښې ترکيب دے او علميت شرط شو د پاره د تاثير د ترکيب په اسبابو د منع صرف کېښې ؛ ځکه چې ترکيب په معرض د زوال کېښې وی او اعلام محفوظ وی د تغيير او تبديل نه بقدر الامکان نو چې علميت پکښې شرط شی بيا پکښې زوال نه راځی او بغير د علميت نه پکښې زوال دے نو ضعيف گرځی او ضعيف سبب نشی واقع کيدے . او دا بلا اضافة و لا اسناد به ؛ ځکه وی چې اضافت خو غيرمنصرف منصرف گرځوی نو سبب د منع صرف به څنگه واقع شی . او ترکيب اسنادی به ؛ ځکه نه وی چې که ترکيب اسنادی شی نو يا به پکښې علميت وائی ، او يا به نه وائی . که نه وائی نو دوه سببه پکښې نه راځی ، او که وائی نو بيا ترکيب اسنادی مبنی گرځی او غير منصرف قسم د معرب دے . **سوال** : لکه څنگه

چې ترکیب اضافي او اسنادي غیر منصرف نه واقع کیږي نو دارنګ ترکیب توصیفي ، صوتي ، تعدادي هم غیر منصرف نه واقع کیږي نو څه وجه ده چې مصنف رحمه الله د اسنادي او اضافي نفی وکړه او د دې نورو ئې ونکره ؟ **جواب** : ځکه چې په نفی د ترکیب اضافي او اسنادي سره نفی د دغه تراکیبو هم وشوه ؛ ځکه چې ترکیب توصیفي داخل دے په اضافي کښې ؛ ځکه په دواړو کښې جزء ثاني قید وی د جزء اول د پاره او صوتي او تعدادي داخل دی په اسنادي کښې ؛ ځکه ترکیب اسنادي کښې علت د اخراج هغه بناء وه او دغه علت بعینه په مرکب صوتي او تعدادي کښې هم دے ؛ ځکه دواړه مبني دی او غیر منصرف قسم د معرب دے . نو مستقلاً ئې ؛ ځکه ذکر نکړل . قوله : **فعبدالله منصرف** ... عبدالله منصرف دے ؛ ځکه چې ترکیب اضافي دے پکښې او معدیکرب غیرمنصرف دے ؛ ځکه چې ترکیب اضافي او اسنادي پکښې نشته ، بلکه ترکیب امتزاجي دے پکښې ؛ ځکه چې " **معدی** " د سړی نوم وو او " **کرب** " مصیبت ته وائي ، او بیا مجموع د یو قبیلې نوم وګرځیدو .

قوله : **و شاب قرناها مبنی** ... معنی ئې دا ده : چې سپینې شوې دواړه کونځې د هغه ښځې . او دا ځکه مبني دے چې ترکیب اسنادي دے پکښې ، او ترکیب اسنادي چې علم وګرځي نو مبني کیږي او غیر منصرف قسم د معرب دے .

أَمَّا الْأَلِفُ ، وَ النُّوْنُ الزَّائِدَتَانِ إِنْ كَانَتَا فِيْ اسْمٍ فَشَرْطُهُ : أَنْ يَّكُوْنَ عَلَمًا كَـ " عِمْرَانَ " ، وَ " عُثْمَانَ " ، فَـ " سُعْدَانٌ " إِسْمُ نَبْتٍ مُنْصَرِفٌ ؛ لِعَدَمِ الْعَلَمِيَّةِ ، وَ إِنْ كَانَتَا فِيْ صِفَةٍ فَشَرْطُهُ : أَنْ لَّا يَكُوْنَ مُؤَنَّثُهُ عَلَى فَعْلَانَةٍ كَـ " سَكْرَانَ " ، فَـ " نَدْمَانٌ " مُنْصَرِفٌ ؛ لِوُجُوْدِ " نَدْمَانَةٌ " .

ترجمه : هر چې ألف اونون زائدتان دی نو که چرته دا په اسم کښې وو نو شرط ئې دا دے : چې دغه اسم به علم وی لکه " **عمران** " ، او " **عثمان** " ، پس " **سعدان** " چې دا نوم د بوټی دے منصرف دے ؛ د وجې د عدم علمیت نه . او که چرته دا ألف نون زائدتان په صفت کښې وو نو بیا ئې شرط دا دے : چې مؤنث به ئې په وزن د فعلانة نه وی لکه " **سکران** " ، پس " **ندمان** " منصرف دے ؛ د وجې د وجود د " **ندمانة** " نه .

تشریح : قوله : **أمّا الألف والنّون الزّائدتان** ... بل سبب د اسبابو د منع صرف نه ألف او نون مزیدتین دی ، دا که په اسم کښې راځي او که په صفت کښې ؛ ځکه اسم کله مقابل د فعل او حرف واقع کیږي او کله مقابل د مهمل واقع کیږي او کله مقابل د صفت واقع کیږي او دلته هم دغه مراد دے چې مقابل د صفت وی . نو کوم ألف او نون چې په اسم کښې راغلي وی نو شرط ئې دا دے : چې دغه اسم به علم وی ؛ ځکه چې دا په معرض د زوال کښې دی او اعلام محفوظ وی د تغییر او تبدیل نه بقدر الامکان نو چې علم وی نو دا قوی ګرځي او اسم د أصل

نه خلاف الأصل ته وښتے شي مثال لکه عمران ، و عثمان دا غير منصرف دی ؛ ځکه چې يو ېکښې علميت دے او بل پکښې ألف او نون مزيدتين دی . او دوه مثالونه ئ راوړه ؛ ځکه عمران د هغې مثال دے چې مكسور الفاء وی او عثمان د هغه مثال دے چې مضموم الفآء وي د مفتوح الفاء مثال ئ ذکر نکړو ؛ ځکه هغه کثير دے لکه سلمان شو . قوله : **فسعدان إسم نبت منصرف** ... غرض د مصنف تفريع کول دی په دې شرط باندې نو " **سعدان** " کښې اګرچې ألف او نون مزيدتين شته خو دامنصرف دے ؛ د وجې د عدم علميت نه ؛ ځکه دا يو بوټی ته ونيل کيږی نو جنس دے علم نه دے . قوله : **وان كانتا في صفة** ... او که چرته دا ألف او نون زائدتان په صفت کښې وی نو شرط د تاثير د دې په اسبابو د منع صرف کښې دا دے : چې مؤنث به ئ په وزن د فعلانة باندې نه وی ؛ ځکه کوم صفت کښې چې ألف او نون زائدتان راشي نو دا مشابه شو د هغه مؤنث بالألف الممدودة والمقصورة سره لکه " **حمراء** " او " **حبلی** " ، او په هغه مؤنث کښې خو په آخير کښې " تاء " نه راځی نو د دې په آخير کښې به هم نه راځی ؛ د وجې د مشابهت د هغه نه او د هغه په آخير کښې ؛ ځکه نه راتلو چې بيا لازميږی دوه علامې د تانيث په کلمه واحده کښې او دا نه دی جائز. قوله : **كسكران** ... په دې کښې يو وصف دے او بل پکښې ألف او نون زائدتان دی ، او مؤنث ئ په وزن د فعلانة باندې نه دے . او " **ندمان** " منصرف دے ؛ د وجې د وجود د مؤنث د دې نه په وزن د فعلانة چې " **ندمانة** " دے . خو دا هله چې ندمان د نديم بمعنی " **صاحب** " نه ماخوذ شی ، او که چرته " **ندمان** " د " نادم " نه ماخوذ شي بمعنی " **پښيمانه** " نو بيا غيرمنصرف دے ؛ ځکه بيا د دې مؤنث " **ندمی** " دے نه " **ندمانة** " . دغه شان عريان هم صفت دے خو منصرف دے ؛ ځکه مؤنث ئ عريانة دے .

أَمَّا وَزْنُ الْفِعْلِ فَشَرْطُهُ : أَنْ يَّخْتَصَّ بِالْفِعْلِ ، وَ لَايُوْجَدُ فِي الْإِسْمِ إِلَّا مَنْقُوْلًا عَنِ الْفِعْلِ کَـ " شَمَّرَ " ، وَ " ضُرِبَ " ، وَ إِنْ لَّمْ يَخْتَصَّ بِهِ فَيَجِبُ أَنْ يَّكُوْنَ فِيْ أَوَّلِهٖ إِحْدٰى حُرُوْفِ الْمُضَارَعَةِ ، وَ لَايَدْخُلُهُ الْهَاءُ کَـ " أَحْمَدَ " ، وَ " يَشْكُرَ " ، وَ " تَغْلِبَ " ، وَ " نَرْجِسَ " ، فَـ " يَعْمَلٌ " مُنْصَرِفٌ ؛ لِقَبُوْلِهَا الـ " هَاءَ " كَقَوْلِهِمْ : " نَاقَةٌ يَعْمَلَةٌ " .

ترجمه : هر چې وزن فعل دے نو شرط د تاثير د دې په منع صرف کښې دا خبره ده چې خاص به وی دا وزن فعل په فعل پورې او نه به موجوديږی په اسم کښې مګر نقل کړے شوے د فعل نه اسم ته لکه " شَمَّرَ او ضُرِبَ " . او که چرته دا وزن خاص نه وو په فعل پورې نو بيا به واجب وی په اول د دې کښې يو د حروف مضارعت

نه، او نه به داخليږي په ديكښې هاء لكه أحمد، يشكر، تغلب، او نرجس . پس يعملٌ منصرف دے د وجې د قبلولو د دې نه هاء لره لكه دا قول د دوى چې " ناقة يعملة ".

تشريح : قوله : **أمّا وزن الفعل فشرطه أن يختصّ بالفعل** ... دا نهم سبب دے د اسبابو د منع صرف نه چې وزن فعل دے، يعني هر هغه اسم چې په وزن د فعل راغلے وى . او شرط د پاره د تاثير د وزن فعل په منع صرف كښې دا خبره ده چې خاص به وى دا وزن فعل په فعل پورې، او نه به موجوديږي په اسم كښې مگر نقل كړے شوے د فعل نه اسم ته .

پس د دينــــــه : أوزان په درې قسمه دى : ١ـ يو هغه دى چې خاص وى په فعل پورې . ٢ـ چې خاص وى په اسم پورې . ٣ـ چې مشترک وى بينهما . كوم چې په اسم پورې خاص دى دا هغه شپږ أوزان دى چې په عدل كښې ذكر شوى دى، او كوم چې په فعل پورې خاص دى دا هم هغه شپږ أوزان دى چې هلته په بحث د عدل كښې ذكر شوى دى . او د دينه علاوه نور ټول مشترک دى بين الاسم والفعل . او سبب د منع صرف چې واقع كيږي نو دا به هغه وزن وى چې خاص وى په فعل پورې او دا نور به نه واقع كيږي مثال لكه شمّر د فعّل وزن دے او دا وزن خاص دے په فعل پورې . دا په أصل كښې پينځو راپورته كولو ته وائی، او بيا د حجاج بن يوسف د يو اس نوم كرځيدلے وو، او اوس هر تيز رفتار اس ته وائی . په دې كښې دوه سببه دى : علميت، او وزن فعل . او " ضُرِبَ " چې د هغه كس نوم شى چې په مخه وهلے كيږى نو په دې كښې هم دوه سببه دى : يو علميت، او بل وزن فعل . **سوال** : ذكر كول د " **أن يختص بالفعل** " پس د " **أمّا وزن الفعل** " نه مستدرک دے او دا ؛ ځكه چې وزن فعل كښې " **وزن** " مضاف دے " **الفعل** " مضاف اليه دے او اضافت ئې شويدے په واسطه د لام سره او كوم اضافت چې په واسطه د لام سره وى هغه هم د تخصيص د پاره راځى نو معنى د وزن فعل دا شوه چې هغه وزن چې خاص دے په فعل پورې ؟ **جواب** : ١ـ نه منم دا خبره چې ذكر كول د " **أن يختصّ بالفعل** " پس د " **أمّا وزن الفعل** " نه مستدرک دى دا به هله مستدرک وے چې كوم اضافت چې په واسطه د لام سره راځى په دې سره صرف اختصاص راتلے او د دې نه علاوه د بل څه د پاره نه راتلے ليكن اضافت په واسطه د " **لام** " سره چې څنګه د اختصاص د پاره راځى نو دارنګ د اختصاص نه علاوه د نورو أمورو د پاره هم راځى نو " **أمّا وزن الفعل** " چې ئې ووے : نو واهم به دا وهم كوو چې كيدے شى دا اضافت به دلته د نورو أمورو د پاره وى نو چې " **أن يختصّ بالفعل** " ترې ورسته ذكر كړو نو اشاره شوه دې خبرې ته چې دلته اضافت د تخصيص د پاره دے . **جواب** : ٢ـ دا تصريح بما علم ضمنًا د قبيلې نه دے او دا مستدرک نه وى . **سوال** : تا ووے : چې " **أن يختصّ بالفعل** " نو زه ستا نه تپوس كوم چې دا وزن د فعل نه علاوه په اسم كښې راتلے شى كه نشى راتلے . كه ته وائی : چې راتلے شى نو دا

خو خاصه د فعل نشوه ؛ ځکه چې خاصه خو دیته وائی چې " ما یوجد فیه ولا یوجد فی غیره " او دلته خو دا په غیر کښې موجود شوه . او که ته وائی : چې دا په اسم کښې نه راځی ، نو موږ خو په بحث د اسم کښې شروع یو نو ذکر کول د دې په بحث د اسم کښې صحیح نه شول بلکه خروج عن البحث راغلو او بل دا چې دا بیا سبب د عدم انصراف څنګه کرځی ؛ ځکه چې غیر منصرف خو قسم د اسم دے ؟ **جواب** : دا وزن فعل په اعتبار د أصل وضع سره خاص دے په فعل پورې او په اسم کښې موجودیږی په اعتبار د نقل سره نو خاصه هم صحیح شوه او خروج عن البحث هم رانغے . قوله : **وأن لم یختص** ... او که چرته خاص نه وی دا وزن په فعل پورې نو واجب ده دا خبره چې وی دې په اول د دې کښې یو د حروف مضارعت نه چې هغه څلور دی " **حروف اتین** " ورته وائی ، نو پکار ده چې یو ترې په اول کښې راغلے وی .

قوله : ولا یدخلها الهاء ... دا دویم شرط دے چې نه به داخلیږی په دې باندې " **هاء** " (هغه تاء چې په حالت د وقف کښې په هاء سره بدلیږی) . حروف مضارعت خو د دې د پاره شرط شو چې کله دا وزن خاص نه شو په فعل پورې بلکه مشترک شو بین الفعل والاسم نو موږ ورلره حروف مضارعت شرط کړه د دې د پاره چې جانب د فعل راجح شی ؛ ځکه چې حروف مضارعت خاص دی په فعل پورې او " **هاء** " به پکښې نه راځی د دې د پاره چې جانب د اسمیت راجح نه شی ؛ ځکه چې " **تاء** " د خواص الاسم نه دے مثال لکه " **أحمد** " دا هغه دے چې په اول کښې ئې همزه راغلې وی . **یشکر** : دا هغه دے چې په اول کښې ئې " **یاء** " راغلې وی . **تغلب** : دا مثال د هغه دے چې په اول کښې ئې " **تاء** " راغلې وی . **نرجس** : مثال د هغه دے چې په اول کښې ئې " **نون** " راغلے وی . په " **أحمد** " ، او " **یشکر** " کښې یو علمیت دے او بل وزن فعل دے ؛ ځکه دا دواړه د سړو نومونه دی . او په " **تغلب** " کښې یو علمیت دے ؛ ځکه د قوم نوم دے او بل پکښې وزن فعل دے . او په " **نرجس** " کښې هم یو علمیت دے او بل وزن فعل دے .

قوله : فیعمل منصرف ... غرض د مصنف ﷫ په مخکښې شرط باندې تفریع کول دی ، " **یعمل** " منصرف دے ؛ د وجې د قبلولو د دې نه " **هاء** " لره اګرچې په اول د دې کښې " یاء " حرف مضارعت راغلے دے . " **یعمل** " هغه اوښ ته وائی چې ډیر کار کوی لکه خلق وائی : چې " **ناقة یعملة** " نو " **تاء** " ئې قبوله کړه . او وزن فعل ؛ ځکه سبب د منع صرف کرځی چې دا مشابه دے د باق اسبابو سره په فرعیت کښې او هغه اسباب د منع صرف کرځیده ؛ نو دا هم سبب د منع صرف شو لکه دا ماقبل ټول اسباب فروع وو ، او أصول ئې نور أشیاء وو لکه " **عدل** " فرع د معدول عنه وه ، " **وصف** " فرع د ذات وه ، " **تانیث** " فرع د تذکیر وه ، " **تعریف** " فرع د تنکیر وه ، " **عجمه** " فرعه د عربئ وه ، " **جمع** " فرع د مفرد وه ، " **ترکیب** " فرع د عدم

تركيب (يعني مفرد) ، " ألف و نون مزيدتين " فرع د ألف او نون أصليتين وه . نو دغه شان " وزن فعل " فرع د وزن اسم ده ؛ نو ځکه سبب د منع صرف شو .

وَ اعْلَمْ أَنَّ كُلَّ مَا شُرِطَ فِيهِ الْعَلَمِيَّةُ ، وَ هُوَ الْمُؤَنَّثُ بِالتَّاءِ ، وَ الْمَعْنَوِيُّ ، وَ الْعُجْمَةُ ، وَ التَّرْكِيبُ ، وَ الْإِسْمُ الَّذِيْ فِيهِ الْأَلِفُ وَ النُّوْنُ الزَّائِدَتَانِ ، وَ مَا لَمْ يُشْتَرَطْ فِيهِ ذَلِكَ ، وَ اجْتَمَعَ مَعَ سَبَبٍ وَاحِدٍ فَقَطْ ، وَ هُوَ الْعَلَمُ الْمَعْدُوْلُ ، وَ وَزْنُ الْفِعْلِ .

ترجمه : او پوهه شه ! چې هر هغه اسم غيرمنصرف چې شرط شوے وي په هغه کښې علميت چې هغه مؤنث بالتاء ، مؤنث معنوي ، عجمه ، تركيب ، او هغه اسم چې په هغه کښې ألف و نون الزائدتان وي . او هغه اسم غيرمنصرف چې په هغه کښې دغه علميت نه وي شرط شوے او جمع شوے وي د سبب واحد سره فقط چې هغه علم معدول دے او وزن الفعل دے (نو حکم ئې ورسته راروان دے) .

تشريح : قوله : **أنّ كلّ ماشرط فيه العلميّة** ... غرض د ماتنؒ د دې " **و اعلم** " نه د دغه نهه أسبابو تفصيل کول دی په يو بل حيثيت سره هغه دا چې کومو اسبابو کښې علميت راتلے شی او په کومو کښې نشی راتلے او په کومو کښې په طريقه د شرط سره راځی او په کومو کښې بدون الشرط يعني په کومو کښې په طريقه د اثر سره راځی او په کومو کښې بدون الأثر راځی ، او بله دا خبره ذکر کوی چې هر کله په دې نهه اسبابو باندې ألف لام داخل شی ، يا ئې اضافت الى الغير وشی نو څه أثر پرې مرتب کيږی . نو دا نهه اسباب اولاً دوه قسمه دی . ۱ـ يو قسم هغه دی چې علميت پکښې نشی راتلے . ۲ـ چې علميت پکښې راتلے شی . په کومو کښې چې علميت نشی راتلے نو هغه يو سبب دے چې وصف دے او په کومو کښې چې علميت راتلے شی هغه بيا دوه قسمه دی : ۱ـ يو دا چې علميت پکښې راځی بغير د تاثير نه . ۲ـ دويم دا چې علميت پکښې راځی سره د تاثير نه . چې علميت پکښې راځی خو غير مؤثر وی دا دوه دی : ۱ـ تانيث په ألف ممدوده او مقصوره سره . ۲ـ صيغه د منتهى الجموع . نو د دې سره علميت جمع کيږی خو غيرمؤثر وی ؛ ځکه که علميت ورسره وی او که نه وی خو دا غير منصرف وی . او د کومو سره چې علميت جمع کيږی او او مؤثر وی دا دوه قسمه دی : ۱ ـ يو دا چې علميت مؤثر هم وی او د دغه بل سبب د تاثير د پاره هم شرط وی . ۲ـ چې علميت مؤثر وی خو د دغه بل سبب د تاثير د پاره شرط نه وی . هغه اسباب چې علميت ورسره جمع کيږی مؤثر او د دغه سبب د تاثير د پاره هم شرط وی څلور دی : ۱ـ المؤنث بالتاء والمعنوی يعني يو تانيث دے که لفظی وی او که معنوی وی . ۲ـ دويمه عجمه ده . ۳ـ دريم تركيب دے . ۴ـ ألف او نون مزيدتان . او هغه اسباب چې علميت د هغه سره جمع کيږی مؤثر

خو د هغې د تاثير د پاره شرط نه وي نو دا دوه سببه دي : ۱ـ عدل . ۲ـ وزن فعل . مثال د عدل لکه عمر په دېکښې يو عدل دے او بل علميت دے ليکن دا علميت د پاره د عدل په تاثير د منع صرف کښې شرط نه دے ، او که دا مونږ شرط اوانيو نو بيا پکار ده چې " ثلث " غير منصرف نشي ؛ ځکه چې هغې کښې يو عدل دے او بل وصف دے علميت پکښې نشته او سره د دې نه چې غير منصرف دے، او د وزن فعل سره هم جمع کيږي خو د هغې د تاثير د پاره شرط نه دے لکه أحمد چې په دېکښې يو علميت دے او بل پکښې وزن فعل دے خو د تاثير د هغې د پاره شرط نه دے ؛ ځکه که د تاثير د هغې د پاره شرط وے نو بيا پکار وه چې " أحمر " غيرمنصرف نه واقع کيدے ؛ ځکه دېکښې يو وزن فعل دے او بل پکښې وصفيت دے علميت بالکل نشته ، نو معلوم شوه چې علميت د دې دواړو سره جمع کيږي مؤثرًا خو د دې د تاثير د پاره شرط نه دے . بيا ده دلته په دې متن کښې " **فقط** " ذکر دے ، په دې " **فقط** " کښې دا " **فاء** " فصيحيه ده تقاضه د شرط محذوف کوي أصل عبارت داسې دے " **اذا لم يشترط العلمية فى الاسم الغير المنصرف واجتمعت مع سبب آخر فيه بالسببية فقط** . او دا " **قط** " اسم فعل دے بمعنى " **إِنْتَهِ** " أي : " **فانْتَهِ من أن تشترطها له** " .

إِذَا نُكِّرَ صُرِفَ أَمَّا فِي الْقِسْمِ الْأَوَّلِ ؛ فَلِبَقَاءِ الْإِسْمِ بِلَا سَبَبٍ ، وَ أَمَّا فِي الثَّانِيْ ؛ فَلِبَقَائِهِ عَلَى سَبَبٍ وَاحِدٍ تَقُوْلُ : " جَاءَنِيْ طَلْحَةُ وَ طَلْحَةٌ آخَرُ " ، وَ " قَامَ عُمَرُ وَ عُمَرٌ آخَرُ " وَ " ضَرَبَ أَحْمَدُ وَ أَحْمَدٌ آخَرُ " ، وَ كُلُّ مَا لَايَنْصَرِفُ إِذَا أُضِيْفَ أَوْ دَخَلَهُ اللَّامُ يَدْخُلُهُ الْكَسْرَةُ نَحْوُ : " مَرَرْتُ بِأَحْمَدِكُمْ " ، وَ بِـ " الْأَحْمَدِ " .

ترجمه : کله چې دا اسباب نکره شي ؛ نو بيا به منصرف واقع کيږي هر چې په قسم اول کښې دے (چې په هغه کښې علميت شرط شوے وي) نو د وجې د بقاء د اسم نه بغير د سبب نه ، او هر چې په ثاني کښې دے (چې علميت پکښې نه وي شرط شوے خو مؤثر وي) نو د وجې بقاء د دې نه په سبب واحد . ته به وائي جاءني طلحة و طلحة آخر ، وقام عمر و عمر آخر ، وضرب أحمد و أحمد آخر . او هر هغه اسم چې غير منصرف وي او اضافت ئ وشي ، يا برې لام داخل شي ؛ نو په دې به کسره راځي لکه مررت بأحمدكم ، او بالأحمد .

تشريح : قوله : **إذا نكّر صرف** ... غرض د مصنفؒ د دې عبارت نه بيان الحکم دے د دې تولو اسبابو . چې هر کله دا اسباب نکره شي نو بيا به منصرف واقع کيږي يعني د کومو اسبابو سره چې علميت جمع کيږي مؤثر بيا که د هغې د تاثير د پاره شرط وي او که نه وي خو چې دا نکره کړے شي نو منصرف کيږي به ؛ ځکه د کومو اسبابو د تاثير د پاره چې علميت شرط دے هغه خو چې نکره شي نو پاتې کيږي دغه اسم بلاسببه ؛ ځکه بغير د دې علميت نه هغه

سبب نه ګرځي نو د علميت د ختميدو سره د هغه بل سبب هم ختم شو . او په کومو کښې چې علميت مؤثر وي خو شرط نه وي د پاره د تاثير د هغه بل سبب هغه چې نکره شي نو پاتې کيږي يو سبب ، او يو سبب کافي نه دے د پاره د منع صرف لکه چې د " **عمر** " نه علميت لرې شي نو صرف عدل به پاتې شي او صرف عدل سبب نه دے د پاره د منع صرف . او د نکره کولو د پاره يوه طريقه دا ده : چې کوم علم وي د هغې نه مراد وصف مشهوره واخلې لکه " **لکل فرعون موسى** " نو دلته دواړه أعلام دي خو مراد ترې وصف مشهوره دے أي " **لکل مبطل محق** " . او دويمه طريقه دا ده : چې د دغه اسم نه يو ذات غير معين واخلې لکه رأيت أحمد و أحمد آخر ، يا جاءني طلحة و طلحة آخر . دلته دا أحمد او طلحة خو علمين دي خو ته ترې يو ذات غير معين واخلې .

أسباب الإنصـــــــــراف

قوله : **وكلّ ما لاينصرف اذا أضيف** ... غرض د ماتن ﷺ د دې عبارت نه أسباب د انصراف ذکر کول دي . مقصد د عبارت دا دے : چې هر هغه اسم چې غير منصرف وي او مضاف شي يا وروباندې ألف لام داخل شي نو داخليږي به په دې باندې کسره يعنې کسره اسم آخر ته ، ځکه چې په غير منصرف چې کسره او تنوين نه راځي نو دا د دې داخليدل پرې جائز دي ؛ وجې نه چې دا غير منصرف مشابه دے د فعل سره په وجود د فرعيتين کښې کما مرّ ، او په فعل باندې خو کسره او تنوين نه راتلو نو په کوم اسم کښې چې دوه سببه موجود شي په هغې به هم کسره او تنوين نه راځي . اوس هر کله چې ئې اضافت وشو ، يا وروباندې ألف لام داخل شو نو جانب د اسميت راجح شو او جانب د فعليت مرجوح شو ؛ ځکه چې ألف لام او اضافت د خواص معظمؤ مکبرؤ د اسم نه دي هم لفظًا اثر کوي په اسم کښې او هم معنًا په خلاف د نورو خواصو نه چې هغه يا فقط لفظًا اثر کوي او يا فقط معنًا اثر کوي نو د دې وجې نه د دې په دخول سره به په غير منصرف کسره داخليږي .

باتې شوه دا خبره چې غيرمنصرف وروباندې منصرف ګرځي او کنه ؟ نو په دې مسأله کښې اختلاف دے ؛ بعض وائي : چې منصرف ګرځي ، او بعض وائي : چې نه ګرځي . خوک چې وائي : منصرف ګرځي نو ؛ ځکه چې کسره او تنوين د خواص د اسم نه دي په فعل کښې نه راځي نو په دې کښې دا کوم سببين چې دي دا کلا سببين دي نو منصرف ګرځي . او تنوين که پرې نه راځي نو دا د وجې د موانع نه نه راځي چې ألف لام او اضافت دي ؛ ځکه تنوين د دې سره نشي جمع کيدے ، البته په اسم کښې ئې صلاحيت شته دے . او بعض وائي : چې اسم په خپل حال غيرمنصرف دے خو کسره پرې داخليدے شي غيرمنصرف خو ؛ ځکه دے چې هغه دوه سببه پکښې هغه شان موجود دي . او کسره پرې ؛ ځکه راتلے شي چې جانب د

اسميت راجح شو خو دا اختلاف أصل كښې مبنی دے په يو بل اختلاف باندې هغه دا چې څوک د غيرمنصرف تعريف دا کوی چې په هغه کښې دوه سببه وی د أسبابو د منع صرف نه نو د هغوی په نزد که ألف لام ، يا اضافت راشی نو بيا هم غيرمنصرف دے ؛ ځکه دوه سببه پکښې شته ، او څوک چې ئ تعريف دا کوی چې په هغې کښې دوه سببه وی د أسبابو د منع صرف نه او کسره او تنوين پرې نه داخلیږی نو د هغوی په نزد منصرف گرځی ؛ ځکه اگرچې دوه سببه پکښې شته خو کسره پرې داخله شوې ده نو ماتنﷺ که يو مذهب ذکر کولو نو هغه بل پاتې کيدو او که دواړه ئ ذکر کول نو طول راتلو نو د دې وجې نه يو اتفاق حکم ئ ذکر کړو چې " يدخله الكسرة " او دا ئ ونه وئيل چې منصرف گرځی يا نه . **قوله : مررت بأحمدكم** ... دا مثال د اضافت دے . **ترکيب** ئ دا دے : " **مررت** " فعل فاعل " باء " حرف جر " **أحمد** " مضاف " **كم** " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور د جار ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په مررت فعل پورې ، فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه . **قوله : مررت بالأحمد** ... دا مثال د ألف لام دے . " **مررت** " فعل فاعل " باء " حرف جر " **الأحمد** " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په مررت فعل پورې ، فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه .

******



[المقصد الأول في المرفوعات]

مشتمل على ما سيأتي :

- بحث الفاعل
- بحث المبتدأ والخبر
- بحث خبر ان و أخواتها
- بحث اسم كان وأخواتها
- بحث اسم ما ولا المشبهتين بليس
- بحث خبر لا لنفي الجنس

«اَلْمَقْصَدُ الْأَوَّلُ فِي الْمَرْفُوْعَاتِ» اَلْأَسْمَاءُ الْمَرْفُوْعَةُ ثَمَانِيَةُ أَقْسَامٍ : اَلْفَاعِلُ ، وَ مَفْعُوْلُ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ ، وَ الْمُبْتَدَأُ وَ الْخَبَرُ ، وَ خَبَرُ إِنَّ وَ أَخَوَاتِهَا ، وَ إِسْمُ كَانَ وَ أَخَوَاتِهَا ، وَ اسْمُ مَا وَ لَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ ، وَ خَبَرُ لَا الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ .

ترجمه : مقصد اول په بيان د مرفوعات كښې دے . اسماء مرفوعه أته قسمه دى : فاعل الخ.

تشريح : قوله : المقصد الأول فى المرفوعات ...

المقصد الأوّل فى المرفوعات

ربــــط : مصنفؒ په باب اول كښې شروع كړې وه په هغې كښې يوه مقدمه وه او درې مقاصد وو ، د دې ځائ پورې بحث د مقدمې ختم شو اوس ئ شروع وكړه په مقاصدو كښې ، نو مقصد اول په بيان د مرفوعات كښې ، مقصد ثانى په بيان د منصوبات كښې ، مقصد ثالث په بيان د مجرورات كښې . بحث د مرفوعات ئ مقدم كړو په بحث د منصوبات ، او مجرورات باندې ؛ ځكه دا عمده دى په نسبت سره منصوبات او مجرورات ته ؛ ځكه (۱) چې مرفوعات أكثر مسنداليه واقع كيږى او مسند اليه عمده وى . (۲) دويم دا چې مرفوعات مشتمل دى په حركت قويه چې ضمه ده او قوى أولى بالتقديم وى . **سوال** : " **مقصد** " به يا صيغه د مصدر وائى ، او يا به ئ صيغه د ظرف وائى او په دواړو كښې معنى نه صحيح كيږى كه صيغه د مصدر شى نو معنى به ئ داسې شى " **قصد اول په مرفوعات كښې دے** " او دا نه ده صحيح . او كه صيغه د ظرف شى نو يا به زمان وى او يا به مكان وى كه زمان شى نو معنى به ئ دا وى چې " **زمانه د قصد اول په بيان د مرفوعات كښې ده** " او كه مكان شى نو معنى به ئ دا شى چې " **ځائ د قصد اول په بيان د مرفوعات كښې دے** " او دا هم نه ده صحيح ؟ **جواب** : دا صيغه د مصدر ميمى ده خو په معنى د اسم مفعول سره دے أى المقصود الأول فى المرفوعات او علاقه د دواړو په درميان كښې د كليت جزئيت ده چې اسم مفعول كل دے ؛ ځكه په ذات مع الوصف باندې دلالت كوى او مصدر صرف وصف واقع كيږى . او يا صيغه د ظرف ده خو په معنى د اسم مفعول سره أى : « **المقصود الأول فى المرفوعات** » ، او علاقه د دواړو په درميان كښې د فضليت ده چې دواړه په كلام كښې فضله واقع كيږى . بيا مرفوعات ئ جمع راوړه په ديكښې اشاره ده كثرت د أقسامو د مرفوع ته او دويم دفع د وهم كوى ، وهم دا راتلو چې عام خلق د مرفوع تعريف كوى چې " **ما اشتمل على علم الفاعلية** " نو واهم به دا وهم كولو چې مرفوعات صرف په فاعل كښې منحصر دى او د دې نه علاوه نور أقسام به نه وى نو مصنفؒ المرفوعات جمع

راوړه نو دغه وهم ئې دفع کړو چې مرفوعات ګڼړ دي او يو قسم ئې فاعل دے . **سوال** : چې مرفوعات جمع د مرفوع وائی که د مرفوعة يو هم نه ده صحيح . جمع د مرفوعة ؛ ځکه نه ده صحيح چې مرفوعة خو صفت د اسم دے او اسم ئې موصوف دے او په مينځ د موصوف او صفت کښې مطابقت شرط دے په تذکير او تانيث کښې او چه مرفوعة صفت د اسم شی خو مطابقت نه راځی . او که جمع د مرفوع شی نو بين الموصوف والصفة خو مطابقت راغلو ليکن مرفوع خو مذکر دے او په ألف او تاء سره خو جمع د مؤنث راځی نو مطابقت بين المفرد والجمع نشته ؟ **جواب** : دا جمع د مرفوع ده نو مطابقت بين الموصوف والصفة خو راغلو خوکه ته وائی چې د مذکر جمع په ألف او تاء سره نه راځی ؟ نو **جواب** دا دے : چې جمع د هغه مذکر په ألف او تاء سره نه راځی چې هغه عاقل وی او جمع د مذکر لايعقل په ألف او تاء سره راځی ؛ ځکه مذکر لايعقل مشابه دے د مؤنث سره په عدم د عقل کښې يعني په مؤنث کښې عدم د عقل کامل وی او په ديکښې عدم د عقل وی او د مؤنث جمع خو په " **ألف** " او " تاء " سره راتله نو د دې جمع هم راځی په " **ألف** " او " تاء " سره . او د دې بل مثال لکه " **خالی** " مذکر لايعقل دے جمع ئې خاليات راځی لکه خلق وائی : « **الأيام الخاليات** » . قوله : **الأسماء المرفوعة ثمانية أقسام** ... **سوال** : " **أسماء** " موصوف دے او " **المرفوعة** " ئې صفت دے او أسماء جمع ده او المرفوعة مفرد دے نو مطابقت نشته بين الموصوف والصفة ؟

جواب : " **المرفوعة** " اسم مشتق دے او قانون دا دے : چې کله د اسم مشتق اسناد وشی ضمير د جمع ته نو دغه اسم مشتق جمع راوړل هم جائز وی او مفرد راوړل هم جائز وی . مرفوعات أته دی : فاعل ، مفعول مالم يسمی فاعله ، مبتداء ، خبر ، خبر انّ و أخواتها ، اسم کان و أخواتها ، اسم ما ولا المشبهتين بليس ، خبر لاالتی لنفی الجنس .

وجه حصر په أته أقسامو د مرفوعات کښې

په دې اته أقسامو کښې وجه د حصر دا ده : چې د دې أسماؤ مرفوعؤ عامل به خالی نه وی يا به لفظی وی او يا به معنوی وی که معنوی وو نو دا معمول به ئې خالی نه وی يا به مسنداليه وی او يا به مسند وی که مسند اليه وو نو دا مبتداء او که مسند وو نو دا خبر ، او که عامل ئې لفظی وو نو بيا به خالی نه وی يا به فعل شبه فعل وی او يا به حرف او شبه حرف وی که فعل شبه فعل وو نو بيا به خالی نه وی يا به دا فعل شبه فعل په دغه اسم پورې قائم وی او يا به پرې واقع وی که قائم وو پورې نو فاعل او که واقع وو پرې نو مفعول ما لم يسمی فاعله ، او که عامل ئې حرف او شبه حرف وو نو دا معمول به ئې خالی نه وی يا به مسند اليه وی او يا به مسند وی که مسند اليه وو نو بيا به خالی نه وی ، يا به په کلام موجب کښې وی او يا به په کلام غير موجب کښې وی ، که په کلام موجب کښې وو نو دا اسم د کان او د أخوات د دې

علاوه د ليس نه ، او كه په كلام غير موجب كښې وو نو اسم د ليس او د ما ولا مشبهتين بليس ، او كه معمول مسند وو نو بيا به خالي نه وي يا به په كلام موجب كښې وي او يا به په كلام غير موجب كښې وي كه په كلام موجب كښې وو نو خبر د انّ او د أخوات د دې ، او كه په كلام غير موجب كښې وو نو خبر د لا لنفي الجنس .

فَصْلٌ اَلْفَاعِلُ : كُلُّ إِسْمٍ قَبْلَهُ فِعْلٌ ، أَوْ صِفَةٌ أُسْنِدَ إِلَيْهِ عَلَى مَعْنَى أَنَّهُ قَامَ بِهِ لَا وَقَعَ عَلَيْهِ نَحْوَ : " قَامَ زَيْدٌ " ، وَ " زَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًا[٢] " ، وَ " مَاضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا[٢] " .

ترجمه : دا فصل دے (په بيان د فاعل كښې) . فاعل هر هغه اسم دے (دا اسم بيا عام دے كه صراحتًا وي او كه تاويلًا وي) چې مخكښې د دې نه فعل وي او يا شبه فعل وي (په قبليت وجوبي نوعي سره) چې اسناد شوے وي د دې فعل يا شبه فعل دغه فاعل ته (أصالةً) ، او دا اسناد شوے وي په دې معنى چې دا فعل او شبه فعل قائم دي په دې فاعل پورې او واقع شوي پرې نه دي (او دا قيام عام دے كه په طريقه د صدور سره وي او كه په طريقه د حدوث سره وي) لكه " قام زيدٌ " ، " زيد ضارب أبوه عمرًا[٢] " ، و " ماضرب زيد عمرًا[٢] " .

تشريح : قوله : **فصل الفاعل كل اسم قبله فعل او صفة أسند اليه ....**

بحث الفاعل

هر كله چې فارغ شو مصنفؒ د بيان د اجمالي أقسامو د مرفوعاتو نه نو شروع ئې وكړه په تفصيل د هغې كښې ، او بحث د فاعل ئې مخكښې كړو په تفصيل كښې د باقي أقسامو نه ؛ څكه چې په اجمال كښې مقدم وو نو په تفصيل كښې ئې هم مقدم كړو ؛ د دې د پاره چې تفصيل موافق شي د اجمال سره ، او په اجمال كښې ئې ؛ څكه مقدم كړے وو چې فاعل أصل دے عندالمصنفؒ د باقي مرفوعاتو نه .

پس زده كړه دا خبره ! چې په دې مسأله كښې اختلاف دے چې فاعل أصل دے او كه مبتداء ؛ نو په نزد د محققين نحات باندې فاعل أصل دے او دا مذهب د ابن حاجبؒ او د صاحب د " **هداية النحو** " دے ، او په نزد د بعض نحات (چې سيبويه وغيره دي) باندې أصل په مرفوعات كښې مبتداء ده . چونكه د مصنفؒ په نزد فاعل أصل وو نو دا ئې ؛ څكه مقدم كړے دے . او كوم كسان چې فاعل أصل وائي د هغوي يو څو دلائل دي : ١ ـ فاعل څكه أصل دے چې عمل د فاعل چې رفع ده په دخول د نواسخو سره نه ختميږي ، او عمل د مبتداء په نواسخو سره ختميږي ، لكه "**زيد قائم**" (تركيب ئې دا دے : زيد مبتداء او قائم ئې خبر دے ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه) كښې چې " انّ " داخل شي نو " **زيدًا** " به منصوب وي .او په فاعل كښې داسې نه كيږي ، بلكه كه هر قسم نواسخ پرې داخل شي نو عمل ئې نه ختميږي . ٢ ـ دويم

دليل ئ دا دے : چې عامل د فاعل لفظي دے او عامل د مبتداء معنوي دے او عامل لفظي أصل وي د عامل معنوي نه نو معمول ئ هم أصل شو او أصل أولى بالتقديم وي . ٣ ـ دريم دليل دا دے : چې فاعل ځکه أصل دے چې حذف د فاعل جائز نه دے بے د سد مسد (قائم مقام) نه او حذف د مبتداء جائز دے بغير د سد مسد نه نو که چرته مبتداء أصل وے نو پکار وه چې د هغې حذف نه وے جائز بغير د قائم مقام نه . ٤ ـ څلورم دليل دا دے : چې فاعل ؛ ځکه أصل دے چې دا جزء د جملې فعلي دے او جمله فعليه أصل ده د جملې اسمي نه او جزء د أصل أصل وي . او دليل د سيبويه دا دے : چې مبتداء ؛ ځکه أصل ده چې دا په خپل أصل باق ده ؛ ځکه أصل په مسند اليه کښې تقديم دے نو مبتداء مقدم ده بخلاف د فاعل باندې . خو چونکه د مصنف‌رحمه الله په نزد فاعل أصل وو نو ؛ ځکه ئ مقدم کړو . او فاعل په لغت کښې " کار کننده را گويند " ، او په اصطلاح کښې " **کل اسم قبله فعل أو صفة** .... " د دې تعريف ترجمه وضاحت سره مخکښې وشوه . دا " كُلّ اسم " په منزله د جنس دے تول أسماء پکښې داخل شو " **قبله فعل أو صفة** " سره ترې باق تول مرفوعات اوتل سيوا د مفعول ما لم يسمى فاعله نه . " **على معنى أنه قام به** " په دې سره ترې مفعول ما لم يسمى فاعله هم اوتلو ؛ ځکه هغه کښې اسناد په طريقه د وقوع سره وي نه په طريقه د قيام سره ، مثال لکه " **قام زيدٌ** " شو . دا مثال د هغه شو چې د فاعل نه مخکښې فعل راغلے وي . ترکيب ئ دا دے : " **قام** " فعل " **زيدٌ** " ئ فاعل ، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه خبريه شوه . قوله : **زيد ضارب أبوه عمرًا** ... او دا مثال د هغه دے چې مخکښې د فاعل نه شبه فعل راغلے وي .

ترکيب ئ دا دے : " **زيد** " مبتداء " **ضارب** " صيغه د اسم فاعل " **أبوه** " مضاف اليه دا فاعل د پاره د ضارب ، او " **عمرًا** " ئ مفعول به ، نو اسم فاعل سره د فاعل او مفعول به نه دا شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

قوله : **ماضرب زيدٌ عمرًا** ... دا مثال د نفي دے . او ترکيب ئ آسان دے . بيا مونږ ووے : چې دا اسم عام دے که صراحتًا وي او که تاويلًا وي په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا د فاعل کوم تعريف وکړو دا نه دے صحيح ؛ ځکه تا ووے : چې فاعل به اسم وي او زه به درته وښائم چې فاعل به فعل وي او اسم به نه وي لکه أعجبني أن ضربتَ ، دلته دا " **أعجب** " فعل دے او " **ضربت** " فاعل دے او دا خو فعل دے ؟ **جواب** : دا عام دے که صراحتًا وي او که تاويلًا وي دلته تاويلًا دے ؛ ځکه چې " أن " خپل مدخول په تاويل د مصدر سره کرځوي نو داسې شوه چې أعجبني ضربک . بيا مونږ ووے : چې مخکښې ترې فعل او شبه فعل وي په قبليت وجوبي نوعي سره دا دفع د سوال ده ، **سوال** دا دے : چې دا تا د فاعل کوم تعريف وکړو دا نه دے صحيح ؛ ځکه مبتداء پکښې داخليږي په دې ترکيب

کنبي چې " **کريم من يکرمک** " نو " **من يکرمک** " مبتداء مؤخره ده او " **کريم** " خبر مقدم دے ، او دا " **کريم** " صفت مشبه ده نو شبه فعل مخکښې د اسم نه راغلو او اسناد ئې شوے دے اسم ته سره د دې نه چې " **من يکرمک** " ته خلق فاعل نه وائی ، بلکه مبتداء ورته وائی ؟ **جواب** : مراد زمونږ قبليت وجوبي دے او تقديم د " **کريم** " واجب نه دے په " **من يکرمک** " باندې په خلاف د " **قام زيد** " چې تقديم د " **قام** " واجب دے په " **زيد** " باندې . بيا مونږ ووے : په تقديم وجوبي نوعى سره دا هم دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې دا تعريف بيا هم شامليږی مبتداء ته په دې ترکيب کښې چې " **فى الدّار رجل** " دلته دا " **رجل** " مبتداء مؤخره ده ، او " **فى الدّار** " خبر مقدم دے متعلق دے په کائن پورې او هغه شبه فعل دے او اسم راغلے دے مخکښې ترې شبه فعل دے او د دې شبه فعل تقديم واجب دے په دې اسم باندې ، او بيا هم " **رجل** " ته فاعل نه وائی بلکه مبتداء ده ؟ **جواب** : مراد زمونږ تقديم نوعى دے او دلته تقديم شخصى دے ، بيا مونږ وئيلی وو چې اسناد به ئې شوے وی اصالةً نه صورتًا دا هم دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې ستا تعريف مانع نه دے د دخول د غير نه داخليږی پکښې معطوف په دې ترکيب کښې چې " **جاءنى زيد و عمرٌ** " دلته " **زيد** " فاعل دے او " عمرٌ " معطوف دے نو پکار ده چې مونږ " **عمرٌ** " ته فاعل اوائيو ؛ ځکه چې دا اسم دے او مخکښې ترې فعل دے او د دې فعل اسناد شوے دے ديته او حالانکه عمرو ته خلق فاعل نه وائی ، بلکه معطوف ورته وائی ؟ **جواب** : وشو چې مراد د اسناد نه اسناد اصالةً دے او دلته عمرو ته اصالةً اسناد نه دے شوے ، بلکه تبعًا دے ؛ ځکه معطوف د توابع نه دے .

سوال : چې اسناد خو مطلق دے اصالةً او تبعًا دواړو ته شامل دے نو اصالةً اغستل ترې مجاز دے او د مجاز استعمال په تعريفات کښې جائز نه وی ؟ **جواب** : دا هله چې قرينه نه وی په اغستلو معنى مجازی باندې او دلته قرينه شته دے چې مراد دې د اسناد نه اسناد اصالةً شی هغه دا چې معطوف او بدل ورسته ذکر دی په توابع کښې . بيا مونږ ووے : چې دا قيام عام دے که په طريقه د صدور سره وی او که په طريقه د حدوث سره وی په دې سره هم دفع د سوال وشوه ، **سوال** دا دے : چې دا تعريف د فاعل نه دے صحيح ؛ ځکه تا ووے : چې دا فعل او شبه فعل به په دې پورې قائم وی نو په " **مات زيد** " کښې " **مات** " فعل دے او " **زيد** " ئې فاعل دے نو موت خو نه په زيد پورې قائم دے او نه ترې صادر شوے دے ؟ **جواب** : دا قيام عام دے که په طريقه د صدور سره وی او که په طريقه د حدوث سره وی دلته که په طريقه د صدور سره نه دے ليکن په طريقه د حدوث سره دے ، او په " **جاءنى زيد** " کښې په طريقه د صدور سره دے .

وَ كُلُّ فِعْلٍ لَابُدَّ لَهُ مِنْ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٍ مُظْهَرٍ كَـ "ذَهَبَ زَيْدٌ"، أَوْ مُضْمَرٍ بَارِزٍ كَـ "ضَرَبْتُ زَيْدًا"، أَوْ مُسْتَتِرٍ كَـ "زَيْدٌ ذَهَبَ"، وَ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ مُتَعَدِّيًا كَانَ لَهُ مَفْعُوْلٌ بِهِ أَيْضًا نَحْوُ: "ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا".

ترجمه : او هر فعل لره لابدی ده د فاعل نه کله به مظهر وی لکه ذهب زید، او کله مضمر بارز لکه "ضربت زیدًا"، او کله مستتر لکه "زید ذهب". او که چرته فعل متعدی وو نو دې د پاره به مفعول هم وی لکه "ضرب زید عمرًوا".

تشريح : قوله : **و کل فعل لابد له من فاعل مرفوع مظهر** ... ربط دا دے : چې کله فارغ شو د بیانولو د تعریف د فاعل نه نو شروع ئ وکړه په بیان د أحکامو د فاعل باندې. اولنے حکم د فاعل دا ذکر کوی چې هر فعل لره لابدی ده د فاعل نه؛ ځکه (١) چې فعل او شبه فعل مسند واقع کیږی او مسنداليه نه واقع کیږی او کلام نه تامیرږی په مسند باندې، بلکه هله تامیرږی چې مسنداليه ورسره ذکر شی او مسنداليه د فعل د پاره فاعل وو. (٢) هر فعل عرض او وصف وی او دا ذات غواړی د دې د پاره چې په دغه ذات پورې قائم شی؛ ځکه چې دا موجودیږی په وجود د ذات سره نو د دې د پاره ذات پکار دے او هغه نه دے مګر فاعل دے مثال لکه رنګ شو چې دا وصف دے او دیوال ذات دے او رنګ بغیر د دیوال نه نشی قائمیدے نو ځکه وائی : چې « **لابد له من فاعل مرفوع** ». **سوال** : فاعل خو هسې هم مرفوع وی نو ذکر کول د مرفوع مستدرک شو ؟ **جواب** : دا صفت کاشفه او موضحه دے؛ ځکه چې هر صفت احترازی نه وی. اوس فاعل ولې مرفوع وی ؟ نو ځکه چې په مرفوعات کښې عمده فاعل دے او په حرکات کښې عمده حرکت د رفع دے نو عمده عمده لره ورکړے شوے دے د پاره د مناسبت. **سوال** : نه منم دا خبره چې د هر فعل د پاره فاعل وی، بلکه زه به درته وښائم چې فعل به وی او فاعل به ورلره نه وی لکه " ضربتِ " چې فعل دے او فاعل ئ نشته ؟ نو مصنف؈ **جواب** وکړو : چې " **مظهر او مضمر** " حاصل دا دے : چې دا فاعل عام دے که مظهر وی او که مضمر وی. مظهر لکه " **ذهب زید** " شو چې " **زید** " ئ فاعل دے او اسم ظاهر دے. او مضمر په دوه قسمه دے : ١ـ بارز. ٢ـ مستتر. د بارز معنی ده ښکاره یعني په هغه کلمه کښې ورلره څه علامه او نښه وی لکه په " **ضربتُ** " کښې چې دا " تاء " علامه د فاعل ده؛ ځکه دا قائم مقام د " أنَا " دے. او د مستتر مثال لکه " **زید ذهب** " چې " **زید** " مبتداء ده او " **ذهب** " فعل دے ضمیر پکښې مستتر دے چې تعبیر ترې کیږی په " **هُوَ** " سره چې راجع دے " **زید** " ته هغه ورلره فاعل دے، او په ذهب کښې د هغې د پاره څه نښه نشته.

او بیا " كل فعل " چې ئې ووے : نو اشاره شوه عموم ته چې دا فعل عام دے که لازم وی او که متعدی وی ماضی وی او که مضارع خو فاعل به ورلره وی .
قوله : و ان كان الفعل متعديا ... او که چرته فعل متعدی وو نو د دې د پاره به مفعول به هم ذکر کیږی ؛ څکه فعل په دوه قسمه دے : ١ـ لازم . ٢ـ متعدی . لازم دیته وائی : چې په فاعل تامیږی او مفعول ته ئې ضرورت نه وی . او متعدی دیته وائی : چې په فاعل باندې یواځې نه تامیږی ، بلکه مفعول ته ئې ضرورت وی نو مفعول به به ورلره هم ذکر کیږی لکه " ضرب زيدٌ عمرًوا " . ترکیب : " ضرب " فعل دے " زيد " ئې فاعل دے " عمرًوا " ئې مفعول به دے . فعل لازم ته لازم ؛ څکه وائی : چې دا ئختے وی د فاعل سره . او متعدی ته متعدی ؛ څکه وائی : چې متعدی مأخوذ دے د تعدی نه او تعدّی تجاوز ته وائی ، او دې هم تجاوز کړے وی د فاعل نه مفعول به ته .

فَإِنْ كَانَ الْفَاعِلُ مُظْهَرًا وُحِّدَ الْفِعْلُ أَبَدًا نَحْوُ : " ضَرَبَ زَيْدٌ " ، وَ " ضَرَبَ الزَّيْدَانِ " ، وَ " ضَرَبَ الزَّيْدُوْنَ " ، وَإِنْ كَانَ مُضْمَرًا وُحِّدَ لِلْوَاحِدِ نَحْوُ : " زَيْدٌ ضَرَبَ " ، وَ ثُنِّيَ لِلْمُثَنَّى نَحْوُ : "الزَّيْدَانِ ضَرَبَا" ، وَ جُمِعَ لِلْجَمْعِ نَحْوُ : " الزَّيْدُوْنَ ضَرَبُوْا " .

ترجمه : که چرته وو فاعل اسم ظاهر نو فعل به همیشه مفرد وی لکه " ضرب زيدٌ ، ضرب الزيدان ، ضرب الزيدون " . او که فاعل ضمیر وو نو فعل به واحد کیږی د واحد سره لکه " زيد ضرب " ، او تثنیه کیږی به د تثنیه سره لکه " الزيدان ضربا " ، او جمع کیږی به د جمع سره لکه " الزيدون ضربوا " .
تشریح : قوله : فإن كان الفاعل مظهرًا وحّد الفعل أبدًا ... دا دویم حکم دے د فاعل مخکښې ئې تعمیم وکړو په فاعل کښې چې دا کله مظهر وی او کله مضمر وی ، نو اوس وائی : چې دې حالاتو کښې به دا فعل څنګه ذکر کیږی . نو که فاعل اسم ظاهر وی نو فعل به همیشه مفرد ذکر کیږی که فاعل مفرد وی او که تثنیه وی او که جمع وی ؛ دا څکه چې فعل واضع وضع کړے دے د پاره د تعارف د حال د فاعل چې د فاعل حال معلوم کړی چې یو دے او که دوه دی که ډیر دی نو کله چې فاعل ذکر شی او اسم ظاهر وی نو د فاعل حالات په خپله معلومیږی په وحدت ، تثنیت ، او جمعیت کښې . نو د فعل تثنیه کولو او جمع کولو ته ضرورت پاتې نه شو او بل دا چې چرته فاعل اسم ظاهر وی او فعل مونږ د مفرد سره مفرد کوو ، او د تثنیه سره تثنیه ، او د جمع سره ئې جمع کوو نو دوه نقصانه لازمیږی : ١ـ یا لازمیږی تعدد د فاعل چې یو دغه اسم ظاهر شو او بل ألف د تثنیه په تثنیه کښې ، او واو د جمع په جمع کښې . ٢ـ او یا لازمیږی اضمار قبل الذکر کله چې فاعل اسم ضمیر وی او په فعل کښې ذکر وی او

ته وائي چې دا زه مستقل فاعل نه وانم ، بلکه هغه فاعل ته ئې راجع کوم چې ورسته دے نو فاعل مخکښې ذکر نه دے او ته ورته ضمير راجع کوې نو اضمار قبل الذکر لازم شو او دا دواړه ناروا دی ؛ نو ځکه به فعل هميشه مفرد وی لکه ضرب زيد ، ضرب الزيدان ، ضرب الزيدون په دې ټولو صورتونو کښې فعل واحد دے . او ترکيب ئې دا دے : چې " ضرب " فعل دے او " زيد " ئې فاعل دے دغسې به دې نورو کښې . **سوال** : دا خو بحث د اسم دے او مصنف ﷫ شروع وکړه په فعل کښې او دا خو خروج عن البحث دے ؟ **جواب** : دا بحث د فعل دلته بالذات نه دے ، بلکه بالتبع دے او اعتراض به تا هله کولے چې بحث د فعل بالذات مراد وے.

قوله : و إن كان مضمرًا ... دا دريم حکم دے چې که چرته دا فاعل ضمير وو نو فعل به واحد کيږي د واحد سره لکه " **زيد ضرب** " . **ترکيب** : " **زيد** " مبتداء ده ، او " **ضرب** " فعل ضمير پکښې دے راجع دے " **زيد** " ته دا ئې فاعل دے ، او فاعل مفرد وو نو فعل هم مفرد ذکر شو . **قوله : و ثنّى للمثنى** ... او تثنيه کولے به شي د پاره د تثنيه لکه " **الزيدان ضربا** " په " ضربا " کښې دا " **ألف** " ضمير د فاعل دے او راجع دے " **الزّيدان** " ته چې دا تثنيه ده نو فعل تثنيه شو . او جمع کيږي به د پاره د جمع لکه " **الزيدون ضربوا** " دا " **الزيدون** " مبتداء ده ، او " **ضربوا** " ئې خبر دے . دلته دا " **الزيدون** " جمع شوے نو فعل (ضربوا) هم جمع ذکر شو . وجه د دې دا ده : ۱ـ چې د ضمير شدت اتصال دے د فعل سره او نه منفک کيږي د فعل نه ؛ نو ځکه به د مفرد سره مفرد وی ، او د تثنيه سره به تثنيه وی ، او د جمع سره به جمع وی په خلاف د اسم ظاهر نه چې هغه د فعل نه جدا کيدے شي . ۲ـ دوېمه وجه دا ده : چې هر کله فاعل اسم ضمير وی نو ضمير مرجع غواړی نو د دې نه مخکښې به خامخا مرجع ذکر وی نو که مرجع تثنيه وی او ته فعل واحد ذکر کړې نو ضمير مفرد شو او مرجع ئې تثنيه ده نو مطابقت نه راځي بين الراجع والمرجع ، يا مرجع جمع وی او ته ورته ضمير د مفرد راجع کوې نو بيا هم مطابقت نه راځي ، او مطابقت بين المرجع والراجع ضروری دے لکه الزيدان ضربا ، نو " **الزيدان** " تثنيه ده او په " ضربا " فعل کښې ورته ضمير راجع دے که مونږ " **الزيدان ضرب** " ووائيو نو بيا " **الزيدان** " تثنيه ده او په " **ضرب** " کښې به ضمير د مفرد وی نو مطابقت نه راځي . ۳ـ دريمه وجه دا ده : چې موافقت به د فاعل ځکه وی چې په حالت د فاعل باندې دلالت وکړی چې يو دے ، که دوه دی ، او که ډير دی .

وَ إِنْ كَانَ الْفَاعِلُ مُؤَنَّثًا حَقِيْقِيًّا ؛ وَ هُوَ مَا بِإِزَائِهِ ذَكَرٌ مِّنَ الْحَيْوَانِ أُنِّثَ الفِعْلُ أَبَدًا إِنْ لَّمْ تَفْصِلْ بَيْنَ الْفِعْلِ ، وَ الْفَاعِلِ نَحْوُ : " قَامَتْ هِنْدٌ " ، وَ إِنْ فَصَلْتَ فَلَکَ الْخِيَارُ فِي التَّذْكِيْرِ ، وَ التَّانِيْثِ نَحْوُ : " ضَرَبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ " ، وَ إِنْ شِئْتَ قُلْتَ : " ضَرَبَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ " .

ترجمه : او که چرته فاعل مؤنث حقیقي وو ، او دا هغه ته وائي چې په مقابله د دې کښې مذکر من الحیوان وي نو مؤنث کیږي به فعل همیشه که چرې فصل نه وو په مینځ د فعل او فاعل کښې لکه " قامتْ هند " ، او که چرته فصل وو نو بیا تا لره اختیار دے په تذکیر او تانیث کښې لکه " ضرب الیوم هند " ، او که ستا خوښه وي جو " ضربت الیوم هند " ووایه .

تشریح : قوله : **و إن کان الفاعل مؤنثا حقیقیا** ... دا څلورم حکم د فاعل دے چې فاعل د فعل کله کله مؤنث هم وي او په دې کښې یوه ضابطه ده چې هر کله فاعل د فعل مؤنث وي نو دا فاعل به خالی نه وي یا به اسم ظاهر وي او یا به مضمر وي که مضمر وو نو بیا که مؤنث حقیقي وي او که غیر حقیقي وي او که فصل راغلے وي او که نه وي راغلے خو فعل به ورته همیشه مؤنث کیږي ، او که فاعل اسم ظاهر وو نو بیا به خالی نه وي یا به په مابین د فعل او فاعل کښې فصل راغلے وي ، یا به نه وي که راغلے نه وو نو بیا به فعل همیشه مؤنث وي او که فصل راغلے وو نو بیا فعل مؤنث او مذکر ذکر کول دواړه صحیح دي ، او که چرته مؤنث غیر حقیقي وو نو که فصل راغلے وو او که نه وو راغلے خو بیا هم جواز د وجهین دے فعل مذکر ذکر کول او مؤنث ذکر کول دواړه صحیح دي .

قوله : **و هو ما بازائه ذکر من الحیوان** ... غرض د مصنفؒ تعریف کول دي د مؤنث حقیقي چې دا هغه ته وائي : چې په مقابله کښې ئې مذکر د حیوان نه وي . اوس چې فاعل د فعل مؤنث حقیقي وي نو حکم ئې دا دے : چې " **انّث الفعل ابدًا** " خو هله چې فصل نه وي راغلے بین الفاعل والفعل او دا ځکه چې کله فصل نه وي راغلے نو مؤنث حقیقي قوی دے په معرض د زوال کښې نه وي نو دا تاثیر کوي په فعل کښې هم نو ؛ لهذا تانیث ئې سرایت کوي په تانیث د فعل کښې . لکه " **قامتْ هندٌ** " نو دیکښې " **قام هندٌ** " وئیل نه دي جائز ، بلکه همیشه به " **قامت هندٌ** " وائي ، او که فصل راغلے وو بین الفعل والفاعل فلک الخیار فی التذکیر و التانیث لکه " **ضرب الیوم هند** " ، او " **ضربت الیوم هند** " دواړه جائز دي . مؤنث کول خو ئې ؛ ځکه جائز دي چې بین الفعل والفاعل مطابقت راشي او عدم تانیث ئې ؛ ځکه جائز دے چې د دې په مینځ کښې فصل راغلے دے نو مؤنث په معرض د زوال کښې دے نو مطابقت ئې ضروري نه شو ؛ ځکه چې فصل سره پکښې ضعف راغے نو اثر ئې لازم نه دے په فعل کښې .

وَ كَذٰلِکَ فِي الْمُؤَنَّثِ الْغَيْرِ الْحَقِيْقِيِّ نَحْوُ : " طَلَعَتِ الشَّمْسُ " ، وَ إِنْ شِئْتَ قُلْتَ : " طَلَعَ الشَّمْسُ " هٰذَا إِذَا كَانَ الْفِعْلُ مُسْنَدًا إِلَى الْمُظْهَرِ ، وَ إِنْ كَانَ مُسْنَدًا إِلَى الْمُضْمَرِ أُنِّثَ أَبَدًا نَحْوُ : " الشَّمْسُ

طَلَعَتْ "، وَ جَمْعُ التَّكْسِيْرِ كَالْمُؤَنَّثِ الْغَيْرِ الْحَقِيْقِيِّ تَقُوْلُ : " قَامَ الرِّجَالُ "، وَ إِنْ شِئْتَ قُلْتَ : " قَامَتِ الرِّجَالُ "، وَ " الرِّجَالُ قَامَتْ "، وَ يَجُوْزُ فِيْهِ " الرِّجَالُ قَامُوْا ".

ترجمه : او دغه شان مسأله په مؤنث غير حقيقي کښې ده لکه " طلعت الشمس "، او که ستا خوښه وي نو داسې ووايه : " طلع الشمس ". دا خو هله چې کله د فعل نسبت شوے وي اسم ظاهر ته، او که چرته نسبت ئې شوے وو ضمير ته نو فعل به هميشه مؤنث کيږي لکه " الشمس طلعت ". او جمع تکسيره پشان د مؤنث غير حقيقي ده لکه ته وائې : " قام الرجال "، او که ته غواړې نو " قامت الرجال "، او " الرجال قامت " ووايه، او جائز دي په ديکښې " الرجال قاموا ".

تشريح : قوله : **و كذلک فى المؤنث الغير الحقيقى** ... او دغسې مسأله په مؤنث غير حقيقي کښې ده که فعل ورته مؤنث کوې او که مذکر کوې دواړه جائز دي [1] لکه " **طلع الشمس** "، او " **طلعت الشمس** " ؛ ځکه شمس مؤنث غير حقيقي دے مقابله کښې ئې مذکر من الحيوان نشته قمر دے خو هغه حيوان نه دے نو طلعت الشمس ؛ ځکه جائز دے چې دا مؤنث دے مطابقت ئې ورسره پکار دے او که مطابقت رانشي نو هم صحيح ده ؛ ځکه دا مؤنث حقيقي نه دے.

قوله : **هذا اذا كان الفعل مسندا الى مظهر** ... دا خو هله چې اسناد د فعل شوے وي اسم ظاهر ته، او که چرته اسناد ئې شوے وو مضمر ته نو فعل به هميشه مؤنث وي ؛ ځکه چې ضمير د وجې د شدت اتصال نه د فعل سره نه جدا کيږي د فعل نه نو د فاعل تانيث اثر او سرايت کوي په تانيث د فعل کښې او دا سرايت واجب دے.

قوله : **نحو الشمس طلعت** ... دلته په طلعت کښې دا " **تاء** " ضمير دے نو خامخا به طلعت وائې، او طلع نشې وئيلے. قوله : **و جمع التكسير كالمؤنث الغير الحقيقى** ... دا بل حکم د فاعل دے چې فاعل کله کله جمع تکسير واقع کيږي نو د دې به څه حال وي. نو زده کړه دا خبره چې يوه جمع سالمه ده او بله جمع تکسيره ده. جمع سالمه هغه ته وائې : چې بناء د واحد پکښې نه وي ورانه شوې. او جمع مکسره هغې ته وائې : چې بناء د واحد پکښې ورانه شوې وي نو فاعل د فعل چې کله جمع واقع شي نو که چرته جمع سالم وه نو فعل به مذکر کيږي د جمع مذکر سره او مؤنث کيږي به د جمع مؤنث سره ؛ ځکه چې جمع مذکر سالم په تاويل د جماعة سره نه ګرځي ؛ ځکه په ديکښې علامه د مذکر موجوده ده چې " **واو** " دے. او که جمع مکسره وه نو پشان د مؤنث غير حقيقي ده خو چې کله دا جمع مکسر اسم ظاهر واقع شوے وي نو فعل مذکر

[1] ځکه مؤنث غير حقيقي کښې تانيث ضعيف وي نو سرايت ئې په فعل کښې لازم نه دے نو لهذا لک الخيار.

كول او مؤنث كول دواړه جائز دی لکه " قام الرجال "، او " قامت الرجال ". مذکر كول د فعل خو ؛ ځکه جائز دی چې معنی د دې جمع معنی د مذکر ده نو فعل دې ورسره هم مذکر راوړے شی د دې د پاره چې موافقت راشی او مؤنث كول د فعل ؛ ځکه جائز دی چې دا جمع په لفظ كښې په تاويل د جماعة سره مؤنث ده ، نو فعل ورته مؤنث كول پکار دی د دې د پاره چې موافقت راشی بين الفعل والفاعل نو ماتن ﷺ ځکه وائی : چې جمع تکسير پشان د مؤنث غير حقيقی ده ، نو ته به وائی : " قام الرجال "، و ان شئت قلت : " قامت الرجال ". په " قام الرجال " كښې لحاظ د معنی شوے دے او په " قامت الرجال " كښې لحاظ د لفظ دے . او كه چرته اسناد د فعل ضمير د جمع تکسير ته شوے وی نو بيا يو د دوه أمرينو ضروری دے : ١ـ چې فعل كښې " تاء " د تانيث راغلې وی لکه " الرجال قامت " نو " الرجال " مبتداء ده او " قامت " فعل دے او فاعل د دې ضمير د جمع مكسرې دے نو په قامت كښې " تاء " راوړے شوې ده .
٢ـ او كه " تاء " نه وی نو بيا راوړل د واو د جمع ضروری دی نو " الرجال قاموا " به وائی ؛ ځکه چې معنی د دې د جمع ده نو ضمير به ورته هم د جمع راجع كړې .

وَ يَجِبُ تَقْدِيْمُ الْفَاعِلِ عَلَى الْمَفْعُوْلِ إِذَا كَانَا مَقْصُوْرَيْنِ ، وَ خِفْتَ اللَّبْسَ نَحْوُ ضَرَبَ موسٰى عيسٰى ، وَيَجُوْزُ تَقْدِيْمُ الْمَفْعُوْلِ عَلَى الْفَاعِلِ إِنْ لَمْ تَخِفِ اللَّبْسَ نَحْوُ : " أَكَلَ الْكُمَّثْرَى يَحْيَ "، وَ " ضَرَبَ عَمْرًا زَيْدٌ ".

ترجمه : او واجب دے تقديم د فاعل په مفعول باندې كله چې فاعل او مفعول دواړه مقصورين وی او ته ويريږې د التباس نه لکه " أكل الكمثرى يحى "، او " ضرب عمرًوا زيدٌ ".

تشريح : قوله : **ويجب تقديم الفاعل على المفعول** ... دا بل حکم د فاعل ذكر كوی حاصل دا دے : چې د هر فعل د پاره لابدی وی د فاعل نه خو كله د فعل د پاره مفعول هم پکار وی نو د كوم فعل د پاره چې فاعل او مفعول دواړه پکار وی ، يا فقط فاعل نو مسأله دا ده : چې دا فاعل به د فعل سره متصل ذكر وی ؛ ځکه چې دا عمده دے او په دې سره قوام د فعل دے نو د فعل سره ئ ذكر كول متصل پکار دی . اوس كوم فعل چې فقط فاعل غواړی هلته خو اتصال ظاهر دے ليكن كوم فعل چې فاعل او مفعول دواړه غواړی نو مفعول هم تقاضه كوی چې زه دې د فعل سره يوځائ ذكر شم او فاعل هم دغه تقاضه كوی خو متصل كول د فاعل د فعل سره أولی دی د متصل كولو د مفعول نه د فعل سره ؛ ځکه چې فاعل عمده دے او عمده أولی بالتقديم وی (هغه تقديم چې د هغې په وجه اتصال راځی د فعل سره) او مفعول فَضله دے او د فَضله مؤخر كول أولی دی . د دينه دا معلوم شوه چې فاعل ورسته او مفعول مخکښې ذكر كول

هم جائز دی چې کله مانع نه وی که مانع وو یعنې نه قرینه لفظیه وی او نه مقالیه وی او نه حالیه وی نو دغه مواضع اوس ذکر کوی په " **ويجب تقديم الفاعل** " سره . واجب دی مقدم کول د فاعل په مفعول باندې کله چې دا فاعل او مفعول اسمین مقصورین وی او ته ویریږی د التباس نه . اسم مقصور هغه اسم ته وائی : چې آخیر کښې ئې ألف مقصوره راغلے وی لکه " **موسى** " او " **عيسى** " ؛ ځکه چې قرینه لفظیه ، حالیه ، او مقالیه نه وی په تعیین د فاعل او په تعیین د مفعول باندې نو تقدیم د فاعل واجب دے ؛ د پاره د دې چې التباس رانشی لکه " ضرب **موسى عيسى** " ، نو که " **موسى** " مقدم نکړے شی نو پته به نه لګی چې " **موسى** " فاعل دے که " **عيسى** " ؛ ځکه قرینه حالیه او مقالیه او لفظیه درې واړه نشته دے نو حاصل داشو چې مقدم کول د فاعل په داسې وخت کښې واجب دی نو کوم چې مخکښې وو هغه به فاعل وی او کوم چې ورسته وو هغه به مفعول وی ؛ ځکه فاعل عمده دے او عمده أولى بالتقديم وی . او که چرته دواړه اسمین مقصورین وو خو خوف د التباس نه وو ؛ د وجې د قرینې حالې نه چې دلالت ئې کوو په تعیین د فاعل او مفعول باندې نو بیا تقدیم د فاعل واجب نه دے ، بلکه جائز أولى دے ، او د مفعول هم جائز دے مثال لکه " **أكل الكمثرى يحى** " کمثرى یوه میوه ده (چې ناشپاتئ ورته وائی) نو معنی دا ده : اوخوړه ناشپاتئ لره یحی نو " **كمثرى** " او " **يحى** " دواړه اسمین مقصورین دی خو قرینه حالیه موجوده ده په تعیین د فاعل او مفعول ، او هغه دا چې میوه آکله نه وی بلکه مأکوله وی ، او یحی مأکول نه وی بلکه آکل وی نو دیکښې تقدیم د هر یو جائز دے . او یا قرینه مقالیه موجوده وی په تعیین د فاعل او مفعول باندې نو بیا هم تقدیم د فاعل جائز دے او هم تقدیم د مفعول ؛ ځکه خوف د التباس نشته لکه ضربت حبلى موسى نو " **حبلى** " او " **موسى** " دواړه اسمین مقصورین دی خو په کلام کښې داسې قرینه شته چې دلالت کوی په تعیین د فاعل او مفعول باندې هغه دا چې " ضربتْ " صیغه د مؤنث ده دا دلالت کوی په دې چې فاعل مؤنث پکار دے نو هر یو چې مخکښې وی خو " **حبلى** " به فاعل وی . قوله : **وضرب عمرًوا زيدٌ** ... دلته قرینه لفظیه ده ؛ ځکه چې " **عمرًوا** " منصوب دے او " **زيدٌ** " مرفوع دے ؛ ځکه په لفظ کښې په " **زيدٌ** " رفع ده ، او په " **عمرًوا** " نصب دے نو " **زيد** " اګر چې مؤخر دے خو دا فاعل دے ، او " **عمرًوا** " ئې مفعول دے .

وَيَجُوْزُ حَذْفُ الْفِعْلِ حَيْثُ كَانَتْ قَرِيْنَةٌ نَحْوُ : " زَيْدٌ " فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ : " مَنْ ضَرَبَ " ، وَ كَذَا يَجُوْزُ حَذْفُ الْفِعْلِ ، وَ الْفَاعِلِ مَعًا كَـ " نَعَمْ " فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ : " أَقَامَ زَيْدٌ " ، وَ قَدْ يُحْذَفُ الْفَاعِلُ ، وَ يُقَامُ الْمَفْعُوْلُ مَقَامَهُ إِذَا كَانَ الْفِعْلُ مَجْهُوْلًا نَحْوُ : " ضُرِبَ زَيْدٌ " ، وَ هُوَ الْقِسْمُ الثَّانِيْ

مِنَ الْمَرْفُوْعَاتِ .

ترجمه : او جائز دے حذف د فعل کله چي قرينه وى لکه ته " زيد " وائى په جواب د هغه چا کښي چي هغه ووائى : " من ضرب " (نو ته وائى زيد نو دلته فعل چي ضرب دے حذف شوے دے) . دغسي حذف د فعل او فاعل دواړو جائز دے لکه تا ته څوک ووائى : چي " أقام زيد " نو ته ورته په جواب کښي ووائى : چي " نعم " (نو دلته فعل او فاعل دواړه حذف شو) . او کله فاعل حذف کيږى او مفعول د هغه په ځائ قائميږى کله چي فعل مجهول وى لکه " ضُرِبَ زيدٌ " ، او دا قسم ثانى د مرفوعات نه دے .

تشريح : قوله : **و يجوز حذف الفعل حيث كانت قرينة** ... دا بل حکم د فاعل ذکر کوى معنى دا ده : چي ممتنع نه دے حذف کول د عامل رافعه د فاعل کله چي قرينه موجود وى ، په دې معنى سره دفع د اعتراضونو وشوه . اول **اعتراض** دا دے : چي ته وائى حذف د فاعل جائز دے نو جائز خو ديته وائى : چي ذکر کول او نه ذکر کول ئې على السّويه وى او کله خو ذکر کول د فاعل نه وى صحيح ، بلکه حذف ئې واجب وى ؟ **جواب** : د " **يجوز** " معنى دا ده : چي حذف ئې ممتنع نه وى بيا عام دے که جائز وى او که واجب . **سوال** : چي دا خو بحث د فاعل وو او مصنفؒ خو دلته د فعل متعلق خبره ذکر کړه دا خو خروج عن البحث دے ؟ **جواب** : خروج عن البحث نه دے ؛ ځکه مراد هغه فعل دے چي رافع د فاعل وى نه مطلق فعل .

سوال : حذف خو چي څنګه د فعل کيږى داسي د شبه فعل هم کيږى نو مصنفؒ يواځي فعل ولي ذکر کړو ؟ **جواب** : ذکر د فعل دے خو مراد ترې مطلق عامل رافعه دے او فعل ئې ذکر کړے دے ؛ د وجي د اصالت او قوّت نه په عمل کښي . **سوال** : چي فعل خو جزء د جملي دے نو څنګه ئې حذف کوې ؟ **جواب** : " **حيث كانت قرينة** " يعني دا مطلقًا نه دے بلکه هله دے چي قرينه موجوده وى ، او دا حذف د فعل دوه قسمه دے : ١ ـ جوازًا . ٢ ـ وجوبًا . که صرف قرينه موجوده وه په تعيين د محذوف او سد مسد نه وو نو جوازًا دے او که قرينه او سد مسد (قائم مقام) دواړه وو نو واجب دے .

قوله : **نحو زيد فى جواب من قال من ضرب**... دا مثال د حذف جوازى دے چي څوک ووائى: چي " **من ضرب** " او ته ورته ووائى : چي " **زيد** " اى ضرب زيد ، دلته قرينه دا سوال د سائل دے ؛ ځکه مذکور فى السوال معاد فى الجواب وى خو دا سوال محقق دے يعني مذکور فى اللفظ دے او کله سوال مقدر وى کما فى قول الشاعر :

شعـــر

ليبك يزيد ضارع لخصومة «» و مختبط مما تطيح الطوائح

ترجمه : ژرا دې وکړے شي په يزيد (يا ردې ژاړى) فقير د وجې د جګړې کولو د خلقو نه د ده سره ، او هغه بدحاله د وجې د إهلاک د هلاکونکي نه مال د هغه او جان د هغه لره ، دلته " ضارع " فاعل دے او فعل ئ حذف دے قرينه پرې سوال د سائل دے خو مقدر دے چې " من يبكيه " څوک ورباندې وژاړى ؟ نو ده په جواب کښې ووے : چې " ضارع " .

او مثال د هغې چې محذوف وى په حذف وجوبي سره لکه په دې قول د الله تعـــالى کښې « و إن أحد من المشركين استجارك[1] » دلته أصل کښې " و إن استجارك أحد " وو ، بيا دا اول "استجارك" حذف شو قرينه ورباندې دا ده : چې دلته " إن " ذکر دے او دا په فعل داخليږى نه په اسم نو معلومه شوه چې فعل دلته حذف دے او سد مسد ورسته " استجارك " دے ؛ ځکه دا د هغې مفسِر دے نو که هغه هم ذکر شى نو جمع بين المفسَّر و المفسِّر به راشى او دا ناروا ده .

قوله : **وكذا يجوز حذف الفعل و الفاعل معًا كنعم** ... دا بل حکم دے د أحکامو د فاعل نه چې کله حذف د فعل او فاعل دواړو کيږى چې کله قرينه موجود وى لکه يو کس ووائى : چې " أقام زيد " او ته ورته ووائى چې " نعم " ، او مراد د دينه هر هغه ترکيب دے چې قرينه پکښې موجود وى او دلته هم قرينه شته چې سوال د سائل دے ؛ ځکه مذکور فى السوال معاد فى الجواب وى .

سوال : چې دلته خو قرينه هم شته چې سوال دے ، او سد مسد هم شته چې " نعم " دے نو پکار ده چې دا دې حذف وجوبي شى ته ورته جوازى ولې وائى ؟

جواب : " نعم " قائم مقام د " قام زيد " دے ، خو دا نشى ادا کولے مؤدّى د جملې ، پشان د ادا کولو د د مفسّر مؤدى او مفاد د هغې لره ، او د دې وجې ذکر د مفسر مستدرک دے ، نه ذکر کول د جملې سره د " نعم " نه .

سوال : " يا زيد " کښې خو دا " ياء " قائم مقام د " أدعو " ده او هغه فعل فاعل دى ؟

جواب : دا أمر سماعى دے ، غير پرې نشى قياس کيدے .

فَصْلٌ إِذَا تَنَازَعَ الْفِعْلَانِ فِيْ اسْمٍ ظَاهِرٍ بَعْدَهُمَا أَيْ أَرَادَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنَ الْفِعْلَيْنِ أَنْ يَّعْمَلَ فِيْ ذٰلِكَ الْإِسْمِ فَهٰذَا إِنَّمَا يَكُوْنُ عَلٰى أَرْبَعَةِ أَقْسَامٍ : **الْأَوَّلُ** أَنْ يَّتَنَازَعَا فِي الْفَاعِلِيَّةِ فَقَطْ **نَحْوُ** : " ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ " . **الثَّانِيْ** أَنْ يَّتَنَازَعَا فِي الْمَفْعُوْلِيَّةِ فَقَطْ **نَحْوُ** : " ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُ زَيْدًا " . **الثَّالِثُ** أَنْ

---

[1] سورة التوبة : ٦ .

يَتَنَازَعَا فِي الْفَاعِلِيَّةِ ، وَ الْمَفْعُوْلِيَّةِ ، وَ يَقْتَضِي الْأَوَّلُ الْفَاعِلَ ، وَ الثَّانِي الْمَفْعُوْلَ نَحْوُ : " ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُ زَيْدًا " . الرَّابِعُ عَكْسُهُ نَحْوُ : " ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ " .

ترجمه : كله چې تنازع راشي د دوه عاملان په يو اسم ظاهر كښې چې دغه اسم ظاهر پس د دغه دوه فعلانو نه وی ، يعني غواړی هر يو د دغه فعل نه چې عمل وكړی په دغه اسم كښې ، پس دا تنازع چې كومه په فعلين كښې راځی په څلور قسمه ده : يو قسم دا چې تنازع وی په فاعل كښې فقط لكه " ضربني و اكرمني زيد " ، دويم قسم دا چې تنازع وی په مفعول كښې فقط لكه " ضربت و أكرمت زيدًا " ، او دريم قسم دا چې تنازع وی په فاعليت او مفعوليت كښې خو اول تقاضه كوی د فاعل او ثاني تقاضه كوی د مفعول لكه " ضربني و اكرمت زيدًا " ، او څلورم قسم د دې عكس دے لكه " ضربت و اكرمني زيد " .

تشريح : قوله : **فصل إذا تنازع الفعلان** ...

بيـــان تنـــازع الفعلان

هر كله چې فارغ شو ماتن ﷺ د بيان د هغه فاعل نه چې عوامل پكښې تنازع نه وی كړی نو شروع ئ وكړه په بيان د هغه فاعل كښې چې عواملو پكښې تنازع كړی وی . د تنازع مطلب دا دے : چې د دې فاعل نه مخكښې دوه عاملان وی او هر يو دا غواړی چې دا دې زما فاعل شی ، يا يو وائی چې زما دې فاعل شی او بل وائی چې زما دې مفعول شی .

قوله : **في اسم ظاهر بعدهما** ... كله چې تنازع راشي د دوه عاملان په يو اسم ظاهر كښې چې دغه اسم ظاهر پس د دغه دوه فعلان نه وی . **سوال** : چې تا تخصيص د فعلان ولې وكړو؟ څكه دا تنازع خو د أسماء مشتقو هم راځی په فاعل كښې لكه " **زيد معط و مكرم عمرًوا** " ، دلته دا " **معطٍ** " هم اسم فاعل دے او " **مكرم** " هم اسم فاعل دے او په " **عمرًوا** " كښې ئ تنازع كړې ده ؟ **جواب** : دلته ذكر د فعلان دے او مراد ترينه عاملان دی نو أسماء مشتقاتو ته هم شامل دی . **سوال** : چې مراد عاملان دی نو بيا ئ " **إذا تنازع العاملان** " ولې نه وئيل ؟

جواب : په دېكښې اشاره ده عمده والی د عمل د فعل ته او ديته وئيل كيږی تسمية الكل باسم جزئه الأعظم . **سوال** : فعلان چې څنګه تنازع كوی په فاعل كښې نو دارنګ تنازع په مفعول كښې هم كوی نو مصنف ﷺ دا تنازع په بحث د فاعل كښې ولې راوړو يا به ئ ورسته د منصوبات نه ذكر كړے وے چې فاعل او مفعول دواړو ته شامل شوے وے ، او يا به ئ په آخير د مرفوعاتو كښې ذكر كړی وے چې د ماقبل او مابعد دواړو سره ئ تعلق وے ؟

جواب : أصل كښې تنازع په فاعل كښې وی او تنازع په مفعول كښې بالتبع ده ؛ نو څكه ئ په بحث د فاعل كښې ذكر كړو . بيا ئ دلته اسم ظاهر ووے : په دې سره احتراز دے د مضمر نه كه مستتر وی او كه بارز وی ؛ څكه ضمير بارز اګر كه يو قسم اسم ظاهر دے

ليکن په حقيقت کښې ضمير دے نو تنازع د فعل پکښې متصوره نه ده مثلاً چې يو ضمير ورسته د فعلان نه ذکر شي نو تفصيل په هغې کښې دا دے : چې دا مضمر به خالي نه وي يا به متصل وي او يا به منفصل وي نو که متصل وو نو تنازع پکښې نه ده متصور ؛ څکه چې د کوم فعل سره متصل ذکر وي نو د هغه عمل پکښې متعين دے او که منفصل وو نو په هغه کښې دوه صورته دي : ١ ـ يو دا چې رفع د تنازع نه کيږي مثال " ما ضرب و اکرم الآ أنا " په دې " أنا " ضمير کښې د " ضرب " او " أکرم " جګړه ده ، نو که مونږ " أنا " د هر يو فاعل وګرځوو نو په دې بل فعل کښې به يا مونږ حذف د فاعل وائيو نو دا صحيح نه دے ؛ څکه دا خو حذف د عمده دے او حذف د عمده ناجائز دے نو مستتر به ئې وائيو نو دا هم نه دے صحيح ؛ څکه يا به " أنا " سره د " الآ " نه مستتر وائي ، او يا به بغير د " الآ " نه وائي ، که " الآ " هم مستتر شي نو دا " الآ " خو حرف دے او د حرف استتار خو نه دے صحيح او که بغير د " الآ " نه وائي نو بيا معنى مقصوده حاصله نشوه ؛ څکه دلته مقصود حصر دے او هغه نه حاصليږي نو لهذا رفع د تنازع نشي کيدے . ٢ ـ او بل دا چې رفع د تنازع کيږي نو تنازع صرف په يو صورت کښې رفع کيږي مثال " ماضربت و أکرمت إلا إيّاک " دلته په "اياک" مفعول به کښې دواړو جګړه ده خو رفع د تنازع ئې کيږي ؛ څکه که د هر يو د پاره مفعول به شي نو که په مذهب د بصريانو عمل ثاني لره ورکړے شي نو په فعل اول کښې به مفعول حذف وائي او دا جائز دے ؛ څکه مفعول به فَضله وي او حذف د فَضله جائز دے ، او که په مذهب د کوفيين باندې عمل فعل اول لره ورکړې نو په فعل ثاني کښې به ئې مفعول حذف وائي ، او دا جائز دے ؛ څکه حذف د فضله دے خو دا يو جزی صورت دے او دلته بحث د کليات دے نه د جزئيات ؛ نو څکه ئې ذکر نکړو . " بعدهما " ئې چې ووے : په دې سره احتراز وکړو د هغه نه چې فاعل پس د فعلان نه نه وي ، بلکه پس د يو فعل نه وي نو چې په وسط کښې وي نو د څکښې فعل د پاره عمل متعين دے . سوال : تا ووے : چې " إذا تنازع الفعلان " نو د دې نه معلومه شوه چې که چرته د فعلان نه زيات وي نو هغې کښې به تنازع نه وي حالانکه کله د دوه نه زيات وي او تنازع پکښې راغلي وي لکه " اللّهم صل على محمد و على آل محمد کما صلّيت و سلّمت و بارکت و رحمت و ترحمت على ابراهيم " دلته په دې " على ابراهيم " کښې د فعلين نه د زيات جګړه ده ؟ جواب : دوه أقل مقدار د تنازع دے نو که چرته د دوؤ نه کم وو نو تنازع پکښې نه ده متصور او زيات چې هر څومره وي .

قوله : اى أراد کل واحد من الفعلين ... غرض د ماتن ﷺ په دې عبارت سره دفع د سوال ده ، سوال دا دے : چې تا ووے : " اذا تنازع الفعلان " کله چې جګړه وکړي "فعلان" نو جګړه خو ذوي الأرواح کوي او "فعلان" خو ذوي الأرواح نه دي ؟ جواب : " أي : « أراد کلّ واحد

من الفعلين » حاصل دا دے : چې مراد د تنازع نه اراده ده او اراده په معنی د اقتضاء سره ده يعني دا هر يو دا تقاضه کوي چې دا دې زما فاعل شي .
پس زده کړه دا خبره ! چې په "**فعلين**" کښې چې تنازع راځي نو دا څلور قسمه ده : ١ـ يو قسم دا دے : چې تنازع وي په فاعل کښې يعني د "**فعلين**" نه ورسته اسم ظاهر ذکر شي او هر واحد د دې "**فعلين**" نه دا تقاضه کوي چې دا دې زما فاعل شي لکه " **جاء و ذهب زيد** ". نو " **جاء** " او " **ذهب** " دواړه "**فعلين**" دی هر يو د دې تقاضه کوي چې " **زيد** " دې زما فاعل شي . ٢ـ دويم دا چې تنازع راغلې وي په مفعول کښې لکه." **ضربت و أكرمت زيدًا** " ، دلته د " **ضربت** " او " **أكرمت** " دواړو د پاره فاعل شته چې دا " **تُ** " ضمير دے او هر يو تقاضه کوي چې " **زيد** " دې زما د پاره مفعول شي . ٣ـ دريم دا چې فعل اول تقاضه کوي چې دا اسم ظاهر دې زما د پاره فاعل شي او فعل ثانی وائی :چې زما د پاره د ي مفعول شي لکه " **ضربني و أكرمت زيدًا** " . ٤ـ څلورم د دې عکس دے يعني چې اول تقاضه د مفعول او ثانی تقاضه د فاعل کوی لکه " **ضربت و أكرمني زيد** " .

وَ اعْلَمْ أَنَّ فِيْ جَمِيْعِ هَذِهِ الْأَقْسَامِ يَجُوْزُ إِعْمَالُ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ ، وَ إِعْمَالُ الْفِعْلِ الثَّانِيْ خِلَافًا لِلْفَرَّاءِ فِي الصُّوْرَةِ الْأُوْلَى ، وَ الثَّالِثَةِ إِنْ أُعْمِلَ الثَّانِيْ ، وَ دَلِيْلُهُ لُزُوْمُ أَحَدِ الْأَمْرَيْنِ إِمَّا حَذْفُ الْفَاعِلِ ، أَوِ الْإِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ ، وَ كِلَاهُمَا مَحْظُوْرَانِ ، وَ هَذَا فِي الْجَوَازِ .

ترجمه : پوهه شه ! چې په دې ټولو أقسامو کښې جائز دے عمل ورکول فعل اول ته ، او عمل ورکول فعل ثانی ته خلاف ثابت دے فراء لره په اولنی او دريم صورت کښې چې د ده په نزد په دې دوه صورتونو کښې عمل د فعل ثانی نه دے جائز ، او دليل ئې په دې لزوم د يو د أمرين دے ، يا حذف د فاعل ، او يا اضمار قبل الذکر او دا دواړه ناروا دی، او دا خبره په جواز کښې ده.

تشريح : قوله : **و اعلم أنّ فى جميع هذه الأقسام** ... دا " **اعلم** " په دې مقام کښې د پاره د يقظت د مخاطب دے د پاره د متوجه کولو د ذهن د ما سيأتی ته ، کله چې دا مخکښې څلور أقسام د تنازع ذکر شو نو په دې کښې دا هم جائز دی چې أولنے فعل عمل وکړی او دويم لره عمل ورنکړے شی ، او عکس هم جائز دے ، البته فراء خلاف کړے دے په صورت أولی او ثالثه کښې ؛ چې د ده په نزد په دې دوه صورتونو کښې عمل د فعل ثانی نه دے جائز ، او دليل ئې په دې لزوم د يو د أمرين دے ، که چرته ثانی لره عمل ورکړو نو په فعل اول کښې به يو د دوه أمرين راځی ، يا به حذف د فاعل کيږی ، او يا اضمار قبل الذکر او دا دواړه ناروا دی لکه " **ضربني و اكرمني زيدٌ** " ، دلته چې دا " **زيد** " فاعل د " **أكرمني** " شی نو " **ضربني** " به څه

كوي، كه ته وائې: چې فاعل ئې حذف دے نو دا خو حذف د عمده راځي او دا ناجائز دے او که ته وائې: چې ضمير ورته راجع كوو نو اضمار قبل الذكر راځي او دا نه دے جائز؟

جواب: فراء صاحب ته جواب دا دے: چې كله په دې كښې عمل فعل ثاني وكړو نو زه فعل اول كښې ضمير راجع كوم، او كه ته وائې چې اضمار قبل الذكر راځي نو زه وائم: چې اضمار قبل الذكر مطلقًا ناروا نه دے، بلكه اضمار قبل الذكر دوه قسمه دے: ١ـ يو په عمده كښې. ٢ـ او دويم په فضله كښې، نو په عمده كښې روا دے او په فضله كښې ناروا دے، او دلته په عمده كښې دے، او بل اضمار قبل الذكر على شريطة التفسير هم جائز دے، او بل اضمار قبل الذكر مخكښې د لفظ د " **الله** " نه هم جائز دے په نزد د أهل إيمان، او په " **فرس** " كښې هم جائز دے په نزد د شجاعو باندې، او چې عاشق معشوقې ته مخكښې د ذكر نه ضمير راجع كوي نو هم صحيح دے. فبطل مذهب الفرّاء نو عمل د فعل ثاني او اول دواړو جائز دے.

قوله: **و هذا في الجواز** ... او دا عمل وركول هر واحد د فعل نه يو ته دا جائز ده په څلورو واړو صورتونو كښې د بصريين او د كوفيين په مابين كښې بغير د اختلاف نه، سوا د فراء نه چې د هغه اختلاف په اول او دريم صورت كښې دے د جمهورو سره.

وَ أَمَّا الْإِخْتِيَارُ فَفِيْهِ خِلَافُ الْبِصْرِيِّيْنَ فَإِنَّهُمْ يَخْتَارُوْنَ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الثَّانِيْ ؛ إِعْتِبَارًا لِلْقُرْبِ وَ الْجَوَارِ، وَ الْكُوْفِيُّوْنَ يَخْتَارُوْنَ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الْأَوَّلَ ؛ مُرَاعَاةً لِلتَّقْدِيْمِ، وَ الْإِسْتِحْقَاقِ. فَإِنْ أَعْمَلْتَ الثَّانِيَ فَانْظُرْ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ يَقْتَضِي الْفَاعِلَ أَضْمَرْتَهُ فِي الْأَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ: فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ "ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ"، وَ "ضَرَبَانِيْ وَ أَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ"، وَ "ضَرَبُوْنِيْ وَ أَكْرَمَنِي الزَّيْدُوْنَ"، وَ فِي الْمُتَخَالِفَيْنِ "ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُ زَيْدًا"، وَ "ضَرَبَانِيْ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ"، وَ "ضَرَبُوْنِيْ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ".

ترجمه: او هر چې اختيار (أولى او غير أولى) دے نو په دې كښې خلاف دے د بصريين؛ ځكه دوى غوره كوي عمل وركول فعل ثاني ته؛ د وجې د اعتبار وركولو نه قرب او جوار ته. او كوفيين غوره كوي عمل وركول فعل أوّل ته؛ د وجې د اعتبار نه لحاظ ساتلو د تقديم او استحقاق لره. پس كه عمل دې وركړو فعل ثاني ته نو اول ته وكوره! كه چرې فعل اول تقاضه كوله د فاعل نو مضمر به ئې كړې په اول كښې لكه ته وائې په موافق صورتونو كښې " ضربني و اكرمني زيد " الخ، او په مخالف صورتونو كښې " ضربني و اكرمت زيدًا " الخ.

تشريح: قوله: **و أمّا الإختيار ففيه خلاف البصريّين** ... دا مخكښې اختلاف په جواز او عدم جواز كښې وو، او دا اختلاف په أولى او غير أولى كښې دے چې آيا كوم فعل لره عمل وركول أولى دى نو بصريين وائې: چې عمل وركول فعل ثاني لره غوره دى؛ ځكه چې دا قريب دے معمول ته او قريب أولى بالعمل وي. او كوفيين وائې: چې اول فعل لره عمل وركول غوره دى؛

ځکه چې هغه مقدم دے او " **الفضل للمتقدم** " ليکن مختار عند الماتنؒ عمل ورکول دي فعل ثاني لره . قوله : **فان أعملت الثاني** ... اوس تفصيل کوی د مذهب د بصريين ؛ ځکه د دوی دا مذهب په اجمال کښې اول وو ، او په اجمال کښې اول ؛ ځکه وو چې د ماتنؒ په نزد مختار مذهب د بصريين وو . حاصل د دې تفصيل دا دے : چې کله تا عمل ورکړو فعل ثاني ته نو فعل اول ته وګوره ! چې تقاضه د فاعل کوی او که د مفعول ، که تقاضه ئې د فاعل کوله نو ضمير به ورته راجع شی ؛ ځکه چې د دفع د تنازع د پاره طرق ثلاثه دی : حذف ، اضمار ، ذکر . نو دلته حذف هم نه دے جائز او ذکر هم نه دے جائز . حذف خو ؛ ځکه نه دے جائز چې دا حذف د عمده دے او حذف د عمده بدون القرينة نشی کيدے ، او ذکر ؛ ځکه نه دے جائز چې تعدد د فاعلين راځی نو ځکه به اضمار کوو ؛ ځکه اضمار قبل الذکر په عمده کښې جائز دے . قوله : **فی المتوافقين** ... د متوافقين مطلب دا دے : چې دواړه تقاضه د فاعل کوی مثال لکه " **ضربنی و أکرمنی زيد** " ، نو دا " **ضربنی** " او " **أکرمنی** " دواړه واځی : چې " **زيد** " دې زمونږ فاعل شی ؛ ځکه چې مفعول د دواړو " **ياء** " ضمير د متکلم دے (چې ترکيب بنا شی به مذهب د بصريين ، نو په فعل أوّل کښې فاعل ضمير دے چې راجع دے ورسته " زيد " إسم ظاهر ته ، او " زيد " فاعل د فعل ثاني دے) ، او ترکيب ئې هم داسې شو چې " **ضرب** " فعل " **نون** " وقايه " **ياء** " ضمير د واحد متکلم مفعول به ، او " **أکرمنی** " هم دغسې ، او دا " **زيد** " فاعل شو د دواړو بناء بر تنازع .

قوله : **و فی المتخالفين** ... د دې مقصد دا دے : چې اول تقاضه د فاعل کوی ، او ثاني تقاضه د مفعول کوی لکه " **ضربنی و أکرمت زيدًا** " ، نو دلته دا " **ضرب** " فعل اول دے " **نون** " وقايه " **ياء** " ضمير د واحد متکلم مفعول به دے ، او دا تقاضه کوی چې دا " **زيدًا** " دې زما فاعل شی ، او " **أکرمت** " فعل فاعل دی دا تقاضه کوی چې دا " **زيدًا** " دې زما مفعول شی (او دلته جو دې فعل ثاني ته عمل ورکړے شوے دے) . دغسې په دې نورو مثالونو کښې چې ضرباني و أکرمت زيدًا دلته په دې " **ضرباني** " کښې ضمير منلے شوے دے ، او " **أکرمت** " لره عمل ورکړے شوے دے چې دا " **زيدًا** " ورلره مفعول به دے . دغسې دا بل مثال دے .

وَ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ الْأَوَّلُ يَقْتَضِي الْمَفْعُوْلَ وَ لَمْ يَكُنِ الْفِعْلَانُ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ حَذَفْتَ الْمَفْعُوْلَ مِنَ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ : فِيْ الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُ زَيْدًا ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ ، وَ فِيْ الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمَنِيْ الزَّيْدَانِ ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمَنِيْ الزَّيْدُوْنَ . وَ إِنْ كَانَ الْفِعْلَانِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ يَجِبُ إِظْهَارُ الْمَفْعُوْلِ لِلْفِعْلِ الْأَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ : حَسِبَنِيْ مُنْطَلِقًا وَ حَسِبْتُ زَيْدًا مُنْطَلِقًا إِذْ لَا يَجُوْزُ حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ ، وَ إِضْمَارُ الْمَفْعُوْلِ قَبْلَ الذِّكْرِ هٰذَا هُوَ مَذْهَبُ الْبَصْرِيِّيْنَ .

ترجمه : او که چرته فعل اول تقاضه د مفعول کوی او دا فعلین د أفعال القلوب نه نه وی نو مفعول به حذف کړې د فعل اول نه لکه چې ته وائې : په موافق صورتونو کښې " ضربت و أکرمت زیدًا " الخ . او که چرته دا فعلین د أفعال القلوب نه وو نو واجب دی ظاهرول د مفعول د پاره د فعل اول لکه چې ته وائې : " حسبنی منطلقًا و حسبت زیدًا منطلقًا " ؛ ځکه جائز نه دی حذف کول د مفعول د أفعال القلوب نه ، او اضمار قبل الذکر هم نه دے جائز .

تشریح : قوله : و إن کان الفعل الأوّل یقتضی المفعول ... اوس که چرته تا عمل ورکړو فعل ثانی لره او فعل اول تقاضه د مفعول کوله نو دا فعل به خالی نه وی یا به د أفعال قلوب نه وی او یا به نه وی که وو نو د هغې حکم ورسته ذکر کیږی او که نه وو نو بیا به د اول د پاره مفعول حذف کړو ؛ ځکه د دفع د تنازع د پاره درې طریقې دی : حذف ، ذکر ، او اضمار . نو که ذکر کوو ئ نو تکرار د مفعولین راځی او دا شنیع دی ، او که مضمر کوو ئ نو اضمار قبل الذکر راځی په فَضله کښې او دا ناروا دے نوصرف حذف پاتې شو " فتعین البتک للباز گل " او حذف د فَضله جائز دے .

قوله : فی المتوافقین ... یعنې چې دواړه تقاضه د مفعول کوی لکه ضربت و اکرمت زیدًا دلته د " ضربت " مفعول حذف دے ، او " زیدًا " مفعول به د " أکرمت " شی ، دغسې دا نور مثالونه هم دی . قوله : و فی المتخالفین ... یعنې چې فعل ثانی تقاضه د فاعل کوی لکه ضربت و أکرمنی زیدٌ . " أکرمنی " عمل وکړو په " زید " کښې او د " ضربت " مفعول حذف شو .

قوله : و إن کان الفعلان من أفعال القلوب ... دا هغه أفعال دی چې دوه مفعوله غواړی ، او اکتفاء ئ په یو مفعول باندې نه وی صحیح . په هغې کښې چې فعل اول تقاضه د مفعول کوی نو اظهار پکښې واجب دے ؛ ځکه د دفع د تنازع درې طریقې دی کما مرّ . نو که اضمار کوو نو اضمار قبل الذکر هم په فضله کښې نه دے جائز او حذف د مفعول د أفعال قلوب هم نه دے جائز نو اظهار به کوو . نو حاصل دا شو چې کله د أفعال قلوبو نه علاوه وی نو درې واړه طرق پکښې شنیع دی ، او په أفعال قلوب کښې هم شنیع دی خو دومره خبره ده چې په غیر د أفعال قلوب کښې اظهار او اضمار قبل الذکر ډیر شنیع دے ، او حذف ډیر نه دے شنیع ، او په أفعال قلوب کښې حذف او اضمار ډیر شنیع دے او قانون دا دے : چې کله دوه مصیبتونه راغلـه نو چې کوم سپک وی هغه ترې واخله . لکه " حسبنی و حسبت زیدًا منطلقًا " ، دلته د " حسبنی " او " حسبت " اول تنازع راغله په " زید " کښې " حسبنی " ووے : چې دا دې زما فاعل شی ، او " حسبت " ووے : چې دا دې زما مفعول شی ، او " حسبت " فعل ثانی وو او د بصریین په نزد عمل فعل ثانی لره غوره دے نو مونږ عمل ورکړو " حسبت " لره

، او د " **حسبني** " د پاره فاعل مضمر شو ؛ ځکه اضمار قبل الذکر په عمده کښې جائز دے ، بیا ئ تنازع وکړه په منطلقًا کښې هر یو وئیل چې دا دې زما مفعول ثانی شی نو په دیکښې مو هم عمل فعل ثانی له ورکړو ، او " **حسبني** " له مو مفعول بل راوبستو چې منطلقًا دے نو عبارت داسې شو چې " **حسبني منطلقًا و حسبت زيدًا منطلقًا** " .

قوله : **إذ لايجوز حذف المفعول من أفعال القلوب** ... دا ځکه نه دے جائز چې دا دوه مفعولين د أفعال قلوب مبتداء او خبر دی (ځکښې د دخول د دې أفعال نه) ، او دا په حقيقت کښې مضمون د جملې دے ، او مضمون د جملې مضاف مضاف اليه وی ، او مضاف مضاف اليه يوه کلمه وی نو حذف د يو داسې دے لکه حذف د جزء د کلمې نه ؛ ځکه " **زيدًا منطلقًا** " په تاويل د « **انطلاق زيدٍ** » سره دے نو چې يو ترې حذف شی نو لازميږی حذف د جزء د کلمه او دا جائز نه دے لکه " **زيد** " چې يوه کلمه ده نو د دې نه حذف د يو جزء جائز نه دے ، د دې أجزاء زاء ، ياء ، او دال دی نو که د دې نه " **زاء** " حذف شی نو " **يد** " به پاتې شی، او د دې معنی بالکل غلطيږی[1].

وَ أَمَّا إِنْ أَعْمَلْتَ الْفِعْلَ الْأَوَّلَ عَلَى مَذْهَبِ الْكُوْفِيِّيْنَ فَانْظُرْ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ الثَّانِيْ يَقْتَضِيْ الْفَاعِلَ أَضْمَرْتَ الْفَاعِلَ فِيْ الْفِعْلِ الثَّانِيْ كَمَا تَقُوْلُ : فِيْ الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ ، وَ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمَانِيْ الزَّيْدَانِ ، وَ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمُوْنِيْ الزَّيْدُوْنَ . وَ فِيْ الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمَنِيْ زَيْدًا ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمَانِيْ الزَّيْدَيْنِ ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمُوْنِيْ الزَّيْدِيْنَ . وَ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ الثَّانِيْ يَقْتَضِيْ الْمَفْعُوْلَ وَ لَمْ يَكُنِ الْفِعْلَانِ مِنَ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ جَازَ فِيْهِ الْوَجْهَانِ حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ وَ الْإِضْمَارُ ، وَ الثَّانِيْ هُوَ الْمُخْتَارُ ؛ لِيَكُوْنَ الْمَلْفُوْظُ مُطَابِقًا لِلْمُرَادِ ، أَمَّا الْحَذْفُ فَكَمَا تَقُوْلُ : فِيْ الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُ زَيْدًا ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ . وَ فِيْ الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُ زَيْدٌ ، وَ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدَانِ ، وَ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُ الزَّيْدُوْنَ ، وَ أَمَّا الْإِضْمَارُ فَكَمَا تَقُوْلُ : فِيْ الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُهُ زَيْدًا ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَيْنِ ، وَ ضَرَبْتُ وَ أَكْرَمْتُهُم الزَّيْدِيْنَ . وَ فِيْ الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُهُ زَيْدٌ ، وَ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَانِ ، وَ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمْتُهُم الزَّيْدُوْنَ .

---

[1] سوال : په " لايحسبن الذين يبخلون بما آتهم الله من فضله هو خيرًا لهم " الأية کښې دا " خيرًا " مفعول ثانی دے او مفعول اول ئ حذف دے چې " بخلهم " دے او حالأنکه " يحسبن " د أفعال قلوب نه دے نو اکتفاء څو په يو مفعول وشوه ؟ جواب : حذف جائز دے په وخت د وجود د قرينه کښې ، او دلته قرينه شته دے چې هغه " الذين يبخلون " دے .

ترجمه : او كه ته عمل وركړې فعل اول لره په داسې حال كښې چې ته روان ئې په مذهب د كوفيين باندې نو فعل ثاني ته وګوره ! كه چرې فعل ثاني تقاضه د فاعل كوله نو فاعل به په فعل ثاني كښې مضمر كړې لكه چې ته په موافق صورتونو كښې وائې : ضربني و أكرمني زيد و ضربني و أكرماني الزيدان و ضربني و أكرموني الزيدون الخ . او كه چرې فعل ثاني تقاضه كوله د مفعول او دا فعلين د أفعال القلوب نه نه وو نو جائز دى په دې كښې دوه وجهې : حذف د مفعول او اضمار ، او دا دويم مختار دے ؛ د دې د پاره چې ملفوظ مطابق شي د مراد سره ، هر چې حذف دے نو لكه چې ته وائې : په موافق صورتونو كښې ضربت و أكرمت زيدًا الخ . او هر چې اضمار دے نو لكه چې ته وائې په موافق صورتونو كښې : ضربت و أكرمته زيدًا الخ .

تشريح : قوله : **و أمّا إن أعملت الفعل الأول على مذهب الكوفيين** ... دا اوس د مذهب د كوفيين تفصيل كوى چې كه ته عمل وركړې فعل اول لره په داسې حال كښې چې ته په مذهب د كوفيين باندې روان ئې نو فعل ثاني ته وګوره ! كه تقاضه د فاعل ئې كوله نو په دې فعل ثاني كښې به ضمير مستتر كړې ؛ ځكه د دفع د تنازع د پاره درې صورتونه دى : ١ـ چې د فعل ثاني فاعل حذف كړې . ٢ـ چې ضمير ئې كړې . ٣ـ چې اسم ظاهر ذكر كړې . نو حذف خو نه دے جائز ؛ ځكه چې دا حذف د عمده دے او حذف د عمده ناجائز دے او اظهار ئې هم نه دے جائز ؛ ځكه چې تكرار د فاعل راځي او دا هم شنيع دے نو ځكه وائى : " **أضمرت الفاعل في الفعل الثاني** " ، او كه ته وائې : دا خو لازميږي اضمار قبل الذكر او دا نه دے جائز ؟

جواب : كوم اضمار قبل الذكر چې ناروا دے هغه دلته نه دے راغلے او كوم چې راغلے دے هغه ناروا نه دے ، ناروا هغه اضمار قبل الذكر دے چې هم لفظًا وى او هم رتبتًا وى ، او دلته فقط لفظًا راغلے دے نه رتبتًا مثال لكه "**ضربني و أكرمني زيد**" ، دلته د "**ضربني**" او د "**أكرمني**" تنازع راغلې ده په " **زيد** " كښې او مونږ عمل " **ضربني** " لره وركړو نو دا " **زيد** " اګر چې په لفظ كښې ورسته دے خو په مقام كښې د "**أكرمني**" نه مقدم دے ؛ ځكه چې " **ضربني** " پكښې عمل كړے دے (يعني دا فاعل د ضربني دے او هغه مقدم دے) دا خو په متوافقين كښې ور چې دواړه تقاضه د فاعل كوى . قوله : **و في المتخالفين** ... يعني چې فعل اول تقاضه د مفعول كوى او فعل ثاني تقاضه د فاعل كوى لكه "**ضربت و أكرمني زيدًا**" نو دلته " **ضربت** " عمل كړے دے په " **زيد** " كښې او د " **أكرمني** " د پاره فاعل مضمر شو ، او اضمار قبل الذكر دلته هم لفظًا راغلے دے رتبتًا نه دے راغلے . او چې فعل ثاني تقاضه د مفعول كوى او دا فعلين د أفعال قلوبو نه نه وى نو په دېكښې دوه وجې جائز دى : ١ـ حذف د مفعول . ٢ـ او اضمار . او اضمار بهتر دے د دې د پاره چې ملفوظ موافق شي د مراد او مقصود سره ، او دلته هم اضمار قبل الذكر صرف لفظًا دے نه رتبتًا ؛ ځكه چې فعل كله په دغه معمول كښې عمل

وكړو نو دغه معمول د دې فعل ثانی نه مخکښې شو او حذف خوئ؛ ځکه جائز دے چې دا فضله دے او حذف د فضله جائز دے.

قوله : كما تقول فی المتوافقين ... يعني چې دواړه تقاضه د مفعول کوی.

قوله : ضربت و أكرمت زيدًا ... نو دلته ضربت وائی : چې " زيدًا " دې زما مفعول شی، او " أكرمت " وائی : چې زما مفعول دې شی نو مونږ عمل " ضربت " له ورکړو، او د " أكرمت " مفعول حذف شو؛ ځکه چې حذف د فضله جائز دے، او دارنګ نور مثالونه هم دی چې کوم په دې کتاب کښې دی.

قوله : و فی المتخالفين ... يعني چې فعل اول تقاضه د فاعل کوی او ثانی د مفعول کوی لکه : "ضربنی و أكرمت زيد"، دلته " ضربنی " په " زيد " کښې عمل وکړو او د " أكرمت " مفعول حذف دے . "و ضربنی و أكرمت الزيدان"، دلته هم " الزيدان " فاعل د " ضربنی " شو، او د " أكرمت " مفعول حذف شو. دا خو هله چې ته د فعل ثانی معمول حذف کړې.

قوله : و أما الاضمار فكما تقول فی المتوافقين ... يعني چې دواړه تقاضه د مفعول کوی لکه "ضربت و أكرمته زيدًا"، نو " ضربت " عمل وکړو په " زيدًا " کښې او د " أكرمت " د پاره مفعول دا " هٗ " ضمير شو. قوله : و فی المتخالفين ... چې فعل اول تقاضه د فاعل کوی او فعل ثانی تقاضه د مفعول کوی لکه "ضربنی و أكرمته زيد"، نو " ضربنی " عمل وکړو په " زيد " کښې او د " أكرمت " د پاره مفعول دا " هٗ " ضمير شو، و قس عليه البواقی.

وَ أَمَّا إِذَا كَانَ الْفِعْلَانِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ فَلَا بُدَّ مِنْ إِظْهَارِ الْمَفْعُوْلِ كَمَا تَقُوْلُ : حَسِبَنِيْ وَ حَسِبْتُهُمَا مُنْطَلِقَيْنِ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا ، وَ ذٰلِكَ لِأَنَّ حَسِبَنِيْ وَ حَسِبْتُهُمَا تَنَازَعَا فِيْ مُنْطَلِقًا وَ أَعْمَلْتَ الْأَوَّلَ ، وَ هُوَ حَسِبَنِيْ ، وَ أَظْهَرْتَ الْمَفْعُوْلَ فِي الثَّانِيْ فَإِنْ حَذَفْتَ مُنْطَلِقَيْنِ ، وَ قُلْتَ : حَسِبَنِيْ وَ حَسِبْتُهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا ؛ يَلْزَمُ الْإِقْتِصَارُ عَلَى أَحَدِ الْمَفْعُوْلَيْنِ فِيْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ ، وَ هُوَ غَيْرُ جَائِزٍ ، وَ إِنْ أَضْمَرْتَ فَلَا يَخْلُوْ مِنْ أَنْ تُضْمِرَ مُفْرَدًا ، وَ تَقُوْلُ : حَسِبَنِيْ وَ حَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا ، وَ حِيْنَئِذٍ لَايَكُوْنُ الْمَفْعُوْلُ الثَّانِيْ مُطَابِقًا لِلْمَفْعُوْلِ الْأَوَّلِ ، وَ هُوَ هُمَا فِيْ قَوْلِكَ حَسِبْتُهُمَا ، وَ لَايَجُوْزُ ذٰلِكَ أَوْ أَنْ تُضْمِرَ مُثَنًّى ، وَ تَقُوْلُ : حَسِبَنِيْ وَ حَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا ، وَ حِيْنَئِذٍ يَلْزَمُ عَوْدُ الضَّمِيْرِ الْمُثَنَّى إِلَى اللَّفْظِ الْمُفْرَدِ ، وَ هُوَ مُنْطَلِقًا الَّذِيْ وَقَعَ فِيْهِ التَّنَازُعُ ، وَ هٰذَا أَيْضًا لَايَجُوْزُ ، وَ إِذَا لَمْ يَجُزِ الْحَذْفُ وَ الْإِضْمَارُ كَمَا عَـرَفْتَ وَجَبَ الْإِظْهَـــارُ .

ترجمه : او هر چې وی دا فعلين د أفعال قلوب نه نو په دې کښې به لابدی وی د اظهار د مفعول نه لکه نه چې وائی : " حسبنی و حسبتهما منطلقين الزيدان منطلقا "، او دا ځکه چې " حسبنی " او " حسبتهما " تنازع

وکړه په " منطلقا " کښې ، او تا عمل ورکړو اول فعل ته چې " حسبنی " دے او په ثانی فعل کښې دې مفعول ظاهر کړو ، اوس که ته " منطلقين " حذف کړې او داسې ووائې : چې " حسبنی و حسبتهما الزيدان منطلقا " نو لازميږی اقتصار په يو د مفعولين په أفعال قلوب کښې او دا نه دے جائز . او که ته په فعل ثانی کښې ضمير روائې : نو ته به خالی نه ئې يا به مفرد مضمر کوې او داسې به وائې : چې " حسبنی و حسبتهما إيّاه الزيدان منطلقا " ، او په دغه وخت کښې مفعول ثانی مطابق نه دے د پاره د مفعول اول چې هغه هما دے په حسبتهما کښې ، او دا جائز نه دی . او يا به مضمر کوې مفعول لره مثنّى او داسې به وائې : چې " حسبنی و حسبتهما اياهما الزيدان منطلقا " ، او په دې وخت کښې به لازم شی راجع کول د تثنيه ضمير مفرد لفظ ته چې هغه منطلقا دے په کوم کښې چې تنازع واقع شوې ده، او دا هم نه ده جائز، او هرکله چې حذف او اضمار جائز نشولکه چې تا وپيژنده نو واجب شو اظهار.

تشريح : قوله : **و أما إذا كان الفعلان من أفعال القلوب** ... دا خو هله چې تا عمل فعل اول لره ورکړو او فعل ثانی تقاضه د مفعول کوله او د أفعال قلوب نه نه وو اوس که چرته دې فعل ثانی تقاضه د مفعول کوله او دا فعلان د أفعال قلوبو نه وی نو په هغې کښې به د فعل ثانی د پاره مفعول لفظًا ذکر کوې ؛ ځکه چې أفعال قلوب دوه مفعوله غواړی او اکتفاء په يو باندې نکوی نو حذف ئې جائز نه دے ؛ ځکه لازميږی حذف د جزء د کلمې او نه ئې اضمار جائز دے ؛ ځکه چې مطابقت نه راځی بين المرجع و الضمير ، او يا په مابين د مفعول اول او د مفعول ثانی کښې ، او مطابقت په مابين د مرجع او ضمير کښې هم ضروری دے او په مابين د مفعول اول او مفعول ثانی کښې هم ضروری دے نو "**فتعيّن الإظهار**" .

قوله : **كما تقول حسبنی و حسبتهما منطلقين الزيدان منطلقا** ... چې أصل عبارت داسې وو حسبنی و حسبتهما الزيدان منطلقا ، حسبنی او حسبتهما يو ځل جګړه وکړه په " الزيدان " کښې نو مونږ عمل ورکړو فعل اول لره چې " زيدان " فاعل شو د " حسبنی " د پاره او د " حسب " د پاره فاعل " تُ " ضمير شو ، او بيا ئې جګړه وکړه په " منطلقا " کښې هر يو وئيل چې دا دې زما د پاره مفعول ثانی شی نو مونږ عمل " حسبنی " لره ورکړو په مذهب د کوفيين باندې ، او د " حسبتهما " د پاره که مفعول حذف کوو نو لازميږی حذف د جزء د کلمې او که اضمار کوو نو چې د " حسبتهما " نه ورسته مونږ ضمير ذکر کوو نو يا به ضمير د مفرد راوړو ، او يا د تثنيه که د تثنيه راوړو او " اياهما " وائيو نو مطابقت به راشی د " هما " مفعول اول او " اياهما " مفعول ثانی د " حسبتهما " په مينځ کښې ، ليکن دا " اياهما " ضمير راجع دے ورسته " منطلقا " ته هغه مفرد دے مطابقت ورسره نشته ، او که " اياه " ووائيو نو مطابقت به ئې راشی د "منطلقا" سره (يعنې د راجع او مرجع) خو مطابقت ئې نه راځی د مفعول اول سره ؛ ځکه هغه تثنيه ده او دا مفرد دے او مطابقت خو ضروری دے نو مجبورًا به ئې ذکر کوو لفظا نو

داسې به وائيو : "**حسبني و حسبتهما منطلقين الزيدان منطلقا**" . معنی ئ دا ده : گمان وکړو په ما باندې زيدانو د تلونکي او ما هم گمان وکړو په هغو دوارو چې دا تلونکی دی ، او د دې نه علاوه په هره طريقه معنی غلطيږي .

قوله : **فحينئذ لايكون المفعول الثاني مطابقًا للمفعول الأوّل** ... په دغه وخت کښې مفعول ثاني د أول سره نه مطابق کيږي حالانکه په مينځ د مفعولين د أفعال قلوبو کښې مطابقت ضروري دے ؛ ځکه دا په أصل کښې مبتداء او خبر دی ، او د دې په مينځ کښې مطابقت ضروري وی .

فَصْلٌ مَفْعُوْلُ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ: وَهُوَ كُلُّ مَفْعُوْلٍ حُذِفَ فَاعِلُهُ، وَأُقِيْمَ هُوَ مَقَامَهُ نَحْوُ: "ضُرِبَ زَيْدٌ" ، وَ حُكْمُهُ فِيْ تَوْحِيْدِ فِعْلِهِ ، وَ تَثْنِيَتِهِ ، وَ جَمْعِهِ ، وَ تَذْكِيْرِهِ ، وَ تَانِيْثِهِ عَلَى قِيَاسِ مَاعَرَفْتَ فِي الْفَاعِلِ.

ترجمه : فصل دويم په بيان د مفعول د هغه فعل او شبه فعل کښې دے چې نه وی ذکر شوے فاعل د دغه فعل او شبه فعل ، او دا هر هغه مفعول دے چې حذف شوے وی فاعل د دې ، او قائم شوے وی دے په ځائ د هغه باندې لکه " **ضُرِبَ زيدٌ** " ، او حکم د دې په يو والی د فعل ، تثنيت ، جمعيت ، تذکير ، او تانيث کښې قياس دے په هغه چې کوم تا په بحث د فاعل کښې وپيژندل .

تشريح : قوله : **فصل مفعول ما لم يسم فاعله** ... هر کله چې فارغ شو مصنفﷺ د بيان د قسم اول د مرفوعاتو نه چې فاعل وو نو شروع ئ وکړه په بيان د قسم ثاني کښې چې " **مفعول ما لم يسم فاعله** " دے ، او دا ئ په مستقل فصل کښې ذکر کړو اشاره ئ وکړه ديته چې دا هم د مرفوعاتو يو مستقل قسم دے او په أقسامو د فاعل کښې نه دے داخل . او د دې بحث ئ مقدم کړو په مبتداء او خبر باندې ؛ ځکه چې په أحکام أکثريو کښې ئ مناسبت وو د فاعل سره ؛ نو ځکه ئ د مبتداء او خبر نه مقدم کړو چې د فاعل او مفعول ما لم يسم فاعله په درميان کښې فصل رانشی ؛ ځکه که فصل راغلے وے نو بيا به د دغه أحکامو استحضار ذهن ښه نه شو کولے .

د مصنفﷺ د عبارت معنی کوو : فصل دويم په بيان د مفعول د هغه فعل او شبه فعل کښې دے چې نه وی ذکر شوے فاعل د دغه فعل او شبه فعل ، دلته د " **لم يسم** " معنی مونږ وکړه چې نه وی ذکر شوے په دې سره مونږ دفع د سوال وکړه ، **سوال** دا دے : چې دا تعريف د " **مفعول ما لم يسم فاعله** " نه دے صحيح ؛ ځکه د دې تعريف او معرّف په مينځ کښې منافات دے ؛ ځکه معرّف خو دا وو چې " **لم يسم فاعله** " يعني فاعل به ئ د سره مسمی شوے نه وی يعني بالکل وی به نه ، او د تعريف نه دا معلومه شوه چې فاعل به ئ وی خو ذکر

شوے به نه وی ؟ **جواب** : دا اعتراض به تا هله کولے چې " لم يسم " په معنى د " **لم يوجد** " سره وے حالانکه دا په معنى د " **لم يذكر** " سره دے "**فلا يرد ما يرد**".

قوله : و هو كل مفعول ... او دا " مفعول ما لم يسم فاعله " هر هغه مفعول دے چې حذف شوے وی فاعل د هغې او قائم شوے وی دا مفعول په ځائ د هغې باندې . " **كل مفعول** " ئ چې ووے : نو تعميم ئ وکړو په ديکښې اشاره ده دې خبرې ته چې که دا قائم مقام مفعول مطلق وی ، که مفعول به وی ، او که مفعول فيه وی خو دا شرط دے پکښې چې دا مفعول معه نه وی ؛ ځکه چې مفعول معه هغه دے چې پس د " **واو** " نه وی چې دغه " **واو** " په معنى د " **مع** " سره وی ، نو چې مفعول معه نائب فاعل واقع کوې نو يا به ئ سره د " **واو** " نه واقع کوې ، يا بدون الواو ، که سره د " **واو** " نه شی نو بيا خو فصل راغے په " **واو** " سره د نائب فاعل او فعل او حالانکه نائب فاعل پشان د فاعل باندې متصل وی د فعل سره ، او که بدون الواو واقع شی نو بيا خو مفعول معه نه شو . او مفعول له په نه وی ؛ ځکه مفعول له کښې نصب دليل بالعلية وی نو که نائب فاعل شی نو دليل بالعلية ختميږی . او مفعول ثانی د باب " **علمت** " او مفعول ثالث د باب د " **أعلمت** " به نه وی ؛ ځکه دا دواړه مسند وی او نائب فاعل مسند اليه وی نو لازم به شی کون د شے واحد هم مسند اليه او هم مسند . **سوال** : حذف د فاعل خو نه دے جائز ؛ ځکه دا حذف د عمده دے او حذف د عمده نه دے جائز ؟

جواب : " **أقيم هو مقامه** " حاصل دا دے : چې حذف د عمده په دوه قسمه دے : ۱ـ چې عمده حذف شی او د هغه قائم مقام او سد مسد نه وی نو دا جائز نه دے خو دلته دا مراد نه دے . ۲ـ دويم حذف د عمده هغه دے چې عمده حذف شی او د هغه قائم مقام او سد مسد وی ؛ او دا حذف جائز دے "**و هو المراد ههنا**" نو دے ځکه وائی : چې قائم شوے وی مفعول په مقام د هغه . بيا د حذف د فاعل د پاره ډير وجوه دی ، بعض لفظی دی او بعض معنوی دی . معنوی وجوه څه دا دی : ۱ـ کله حذف کيږی د وجې د شهرت نه لکه " **قُطِعَ يَدُهُ** " ، دلته فاعل مشهور دے نو ؛ ځکه حذف شوے دے . ۲ـ د وجې د جهالت نه لکه " **سرق المتاع** " ، اوس چا پته کړو نو فاعل ئ نه دے معلوم . ۳ـ د وجې د خساست نه لکه " **شُتم الأمير** " ، أمير ته کنځل شوی دی ، اوس چا ورته کړی دی نو فاعل ئ نه دے ذکر شوے ؛ ځکه چې خسيس دے . ٤ـ د وجې د ابهام راوستو نه په مخاطب باندې مثال لکه " **ضُرِب زيدٌ** " . ٥ـ د وجې د بد کنړلو نه چې په خُله باندې د هغې نوم واغستے شی لکه " **قُتِلَتْ أمُّهُ** " شو . ٦ـ کله د پاره د حفاظت د فاعل يعنې چې خوک ورته نقصان ونه رسوی لکه " **قتل عمرٌو** " ، نو فاعل حذف شوے دے ؛ ځکه که ذکر شی نو د عمرو ورثه ئ بيا وژنی . او وجوه لفظی ئ دا دی : ۱ـ کله د

ضرورت شعري د وجې نه حذف کيږي . ۲ـ کله د فواصلو د برابرولو د پاره حذف شي لکه : { وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ }[1] .

قوله : و حکمه ... او حکم د دې " **مفعول ما لم يسمى فاعله** " په يو والي د فعل ، په تثنيه کولو ، جمع کولو ، او مذکر کولو او مؤنث کولو د فعل کښې علی قياس ماعرفت فی الفاعل ، په فاعل کښې يې ونيلي وو چې اسناد د فعل وشي اسم ظاهر ته نو وحّد الفعل أبدًا ، او چې اسناد يې شوے وو ضمير ته نو وحد للواحد و ثنی للمثنی و جمع للجمع ، او دغسې فاعل که مؤنث وو او ضمير هم وو نو فعل به مؤنث وي هميشه . او که اسم ظاهر وو نو يا به مؤنث حقيقي وي او يا به غير حقيقي وي که حقيقي وو نو فصل به يا وي يا نه ، که نه وو نو مؤنث به وي هميشه ، او که وو نو بيا تا لره اختيار دے ، او که مؤنث غير حقيقي وو نو هم ستا اختيار دے ، نو دغسې حکم د " **مفعول ما لم يسم فاعله** " هم دے .

فَصْلٌ اَلْمُبْتَدَأُ وَ الْخَبَرُ : هُمَا إِسْمَانِ مُجَرَّدَانِ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ أَحَدُهُمَا مُسْنَدٌ إِلَيْهِ ، وَ يُسَمَّى الْمُبْتَدَأَ ، وَ الثَّانِيْ مُسْنَدٌ بِهِ ، وَ يُسَمَّى الْخَبَرَ نَحْوُ : "زَيْدٌ قَائِمٌ" وَ الْعَامِلُ فِيْهِمَا مَعْنَوِيٌّ وَ هُوَ الْإِبْتِدَاءُ.

ترجمه : دا فصل په بيان د مبتداء او خبر کښې دے . دا دواړه اسمونه دي چې خالي وي د عوامل لفظيو نه ، يو د دې دواړو نه مسنداليه دے او ديته مبتداء هم وائي ، او دويم مسندبه دے ، او ديته خبر وائي لکه " زيد قائم " ، او عامل په دې دواړو کښې معنوي دے چې هغه ابتداء ده .

تشريح : قوله : **فصل المبتداء والخبر** ...

بحث المبتدأ و الخبر

هر کله چې فارغ شو د بيان د قسم ثاني د مرفوعاتو نه چې " **مفعول ما لم يسم فاعله** " وو نو شروع يې وکړه په قسم ثالث او رابع کښې چې مبتداء او خبر دي او دا يې د باقي مرفوعات نه مقدم کړه ؛ ځکه چې پس د فاعل نه أصل په مرفوعات کښې مبتداء او خبر دي ، او وجه د هغې دا ده : چې په دې مسأله کښې اختلاف دے چې أصل په مرفوعات کښې فاعل دے عند الجمهور ، او په نزد د بعض باندې (چې سيبويه دے) أصل مبتداء ده ، ليکن مختار د ماتن رحمه الله په نزد اول دے نو د دې وجې نه يې فاعل مقدم کړو په باقي أقسامو ، او مبتداء او خبر يې پسې متصل ذکر کړه ؛ ځکه چې په هغه نورو کښې اختلاف نه دے شوے ، بلکه ټول په نسبت سره ديته فروع دي ، او مفعول ما لم يسم فاعله يې د فاعل سره ؛ ځکه متصل ذکر کړے وو

---

[1] سورة الليل، الآية: ۱۹

چې فاعل ملحق به وو د هغه دِ پاره ، بیا مبتداء او خبرئ په یو فصل کښې ذکر کړه اګر چې دواړه مستقل قسمونه دی د دوؤ وجو نه : ۱ ـ یوه وجه دا ده : چې دا متلازمین دی ، مبتداء بغیر د خبر نه نه راځي او خبر بغیر د مبتداء نه نه راځي نو دا په تحقق کښې د یو بل سره لازم او ملزوم دی نو په ذکر کښې ئې هم یو ځایئ کړه د دې د پاره چې موافقت د ذکر راشي د تحقق سره . ۲ ـ دویمه وجه دا ده : چې مبتداء او خبر په عامل معنوی کښې مشترک دی ؛ ځکه ده تعریف داسې کړے دے چې " **هما اسمان مجردان عن العوامل اللّفظية** " دا مبتداء او خبر دوه اسمونه دی حقیقتًا وی او که تاویلًا وی چې خالی وی د هر قسم عامل لفظی نه هسې عامل لفظي چې مؤثر في العمل وی مونږ په دې اسمین کښې عموم وکړو چې حقیقتًا وی او که تاویلًا وی ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا کوم تعریف د مبتداء او خبر کړے دے دا نه دے صحیح ؛ ځکه چې مانع نه دے د دخول د غیر نه داخلیږی پکښې نعل ؛ ځکه چې زه به درته وښائم چې فعل به وی مبتداء به واقع شوې وی او فعل به وی او خبر به واقع شوے وی ، مثال د فعل چې مبتداء واقع شوی وی لکه الله تعالی فرمائی : " **وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ** [1] " دا " **تصوموا** " فعل دے او مبتداء ده ، او " **خير لكم** " ورلره خبر دے . او مثال د فعل چې خبر واقع شوے وی لکه "زيد ضرب" ، "زيد يضرب" ، دلته دا " **زيد** " مبتداء ده ، او " **ضرب او يضرب** " خبرین دی او دا "**ضرب او يضرب** " خو فعلین دی ؟ **جواب** : دا " **اسمان** " عام دی که حقیقتًا وی او که تاویلًا وی حقیقتًا خو ظاهر دی لکه "**زيد قائم**" چې " **زيد** " هم اسم دے ، او " **قائم** " هم اسم دے ، او مثال د تاویلًا لکه " **أن تصوموا** " په تاویل د " **صومكم** " سره دے ؛ ځکه " **أن** " خپل مدخول په تاویل د مصدر سره کرځوی ، او دا " **صوم** " مصدر دے او مصدر اسم وی . او " **زيد ضرب ، او زيد يضرب** " په تاویل د " **ضارب** " سره دی ، او "ضارب" اسم دے . دویم دا چې " **زيد ضرب او زيد يضرب** " کښې دا فعل مع الفاعل جمله خبر واقع شوے دے ، او جمله خبر واقع کیدے شی خو یواځې فعل نشی واقع کیدے دا وجه د هغه چا په نزد شوه چې جمله خبر بلا تاویله واقع کوی . بیا مونږ د مجردان معنی وکړه چې خالی وی په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تجرید سبق وجود غواړی ؛ ځکه معنی د تجرید دا ده : چې یو شے د مخکښې نه وو او بیا ترې لرې کړے شو ، او دلته خو په مبتداء او خبر کښې دَ ابتداء نه عامل نشته داسې خو نه ده چې اول وو او بیا ترې لرې شو نو دلته مونږ معنی وکړه چې خالی وی ؛ ځکه ډیر کرته په یو شی حکم د تجرید کیږی اګر چې هغه شے پکښې نه وی لکه " **سبحن الله الذى صغر البعوض و كبر الفيل** " نو صحیح ده

[1] سورة البقرة : ۱۸٤ .

چې " فیل " اول وړوکے وو ، او بیا ئ غټ کړو لیکن ماشے خو د اول نه وړوکے وو خو دا خلق هسې مجازًا او تاویلًا وائی ؛ ځکه چې احتمال د غټ والی پکښې وو خو وړوکے ئ پیدا کړو ، دارنګ دلته هم په مبتداء او خبر کښې احتمال د عواملو د راتلو وو خو چې هر کله مجرد ذکر شی نو هغه احتمال ختم شو نو ګویه چې هغه احتمال ئ فرض کړے وو په منزله د موجود باندې ؛ ځکه ئ لفظ د مجرد ذکر کړو .

قوله : **عن العوامل اللفظية** ... د هر قسم عامل لفظی نه ، په دې سره دفع د یو اعتراض وشوه ، اعتراض دا دے : چې عوامل جمع د عامل ده او أقل د جمع ثلاثه وی نو مطلب به دا وی چې مبتداء به درې یا زیاتو عوامل نه خالی وی او که یو یا دوه پکښې وی نو خیر دے حالانکه دا خبره خو نه ده صحیح ؟ **جواب** : چې " **العوامل** " کښې " **ألف لام** " جنسی دی او مراد جنس عامل دے ، خو داسې عامل لفظی چې مؤثر وی په عمل کښې ، په دې سره دفع د بل اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا چې د مبتداء کوم تعریف وکړو دا نه دے صحیح ؛ ځکه دا جامع نه دے خپلو أفرادو لره ، او هر هغه تعریف چې جامع نه وی هغه صحیح نه وی نو دا هم صحیح نه شو ، او جامع ؛ ځکه نه دے چې زه به درته وښائم چې مبتداء به وی او عامل لفظی به ورباندې داخل شوے وی لکه " **بحسبک درهم** " دلته دا " **بحسبک** " مبتداء ده ، او درهم ئ خبر دے او په " **بحسبک** " باندې " باء " داخله شوې ده ، او دا عامل لفظی دے ؟ نو مونږ جواب وکړو : چې مراد هغه عامل لفظی دے چې مؤثر فی العمل وی او دلته دا " باء " مؤثر فی العمل نه ده ، بلکه زائده ده .

قوله : **احدهما مسند اليه ويسمى مبتداء و الثانى مسندبه و يسمى خبرا** ... یو د دې نه به مسند الیه وی او هغې ته مبتدأ وائی ؛ ځکه چې کلام په دې سره شروع کیږی ، او مسندالیه ورته ؛ ځکه وائی : چې نسبت کړے شوے وی د حکم دیته ، او **محکوم علیه** ورته هم وائی ؛ ځکه حکم کړے شوے وی په دې باندې ، او مخبر عنه ورته هم وائی ؛ ځکه د دینه خبر واقع کړے شوے وی ، او مناطقه ورته موضوع وائی ؛ ځکه دا موضوع ده او ورسته بل جزء چې ذکر شی نو هغه حملیږی په دې باندې ، او دې دویم جزء ته مسندبه او خبر وائی ، مسندبه ورته ؛ ځکه وائی چې حکم کړے شوے وی د دې په سبب باندې یعنې د دې نسبت بل ته کړے شوے وی ، او مخبربه ورته هم وائی ؛ ځکه په دې سره خبر ورکړے شوے وی ، او محکوم به ورته هم وائی ؛ ځکه چې حکم په دې سره شوے وی ، او خبر ورته ؛ ځکه وائی چې د دې په وجه باندې انسان ته خبر او فائده میلاویږی او مناطقه ورته محمول هم وائی ؛ ځکه د محمول معنی ده سور کړے شوے ، او دا هم سور کړے شوے وی په مبتداء باندې لکه "**زید قائم**" نو " **زید** " مبتداء ده او " **قائم** " خبر دے ، او دا نور نومونه ورته هم وائی .

قوله : **والعامل فيهما معنوی** ... او عامل په مبتداء او خبر کښې معنوی دے ، په دې مسأله کښې اختلاف دے څلور مذهبه دی پکښې : ۱ ـ یو مذهب د بصریین دے د هغوی په نزد باندې په مبتداء او خبر دواړو کښې عامل معنوی دے چې هغه ابتداء ده او ابتداء عبارت دے د خُلو د عوامل لفظیۀ نه . ۲ ـ دویم مذهب د عام نحات دے د هغوی په نزد عامل په مبتداء کښې معنوی دے چې ابتداء ده او عامل په خبر کښې مبتداء ده ، نو عامل د خبر لفظی شو . ۳ ـ او دریم مذهب د کوفیین دے د هغوی په نزد باندې مبتداء عامل دے په خبر کښې او خبر عامل دے په مبتداء کښې نو په دواړو کښې عامل لفظی شو . ٤ ـ څلورم مذهب د مبرد دے چې په مبتداء کښې عامل ابتداء ده ، او په خبر کښې عامل ابتداء او مبتداء دواړه دی ، یعنې خبر کښې هم عامل لفظی دے او هم معنوی دے ، او مختار په نزد د ماتن ﷺ باندې مذهب د بصریین دے ؛ نو ځکه ئې ووے : چې " **و العامل فیهما معنوی و هو الإبتداء** " .

وَأَصْلُ الْمُبْتَدَأِ أَنْ يَكُوْنَ مَعْرِفَةً ، وَ أَصْلُ الْخَبَرِ أَنْ يَكُوْنَ نَكِرَةً ، وَ النَّكِرَةُ إِذَا وُصِفَتْ جَازَ أَنْ تَقَعَ مُبْتَدَأً نَحْوُ : قَوْلِهِ تَعَالَى : « وَ لَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ » ، وَ كَذَا إِذَا تُخَصَّصَتْ بِوَجْهٍ آخَرَ نَحْوُ : " أَرَجُلٌ فِي الدَّارِ أَمِ امْرَأَةٌ " ، وَ " مَا أَحَدٌ خَيْرٌ مِنْكَ " ، وَ " شَرٌّ أَهَرَّ ذَا نَابٍ " ، وَ " فِي الدَّارِ رَجُلٌ " ، وَ " سَلَامٌ عَلَيْكَ " .

ترجمه : او أصل په مبتداء کښې دا ده : چې دا به معرفه وی ، او أصل په خبر کښې دا ده : چې دا به نکره وی ، او نکره چې کله موصوف شی په یو صفت باندې نو جائز ده چې دا مبتداء واقع شی لکه دا قول د الله تعالی شو : {وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ} [البقرة:۲۲۱] ، دغسې کله چې دا مبتداء نکره مخصَّصه شی په بوه بله رجه باندې نو هم مبتداء واقع کیږی لکه " **أرجل فی الدار أم امرأة** " ، او " **و ما أحد خیر منک** " ، او " **شرّ أهر ذا ناب** " ، او " **فی الدار رجل** " ، او " **سلام علیک** " .

تشریح : قوله : **وأصل المبتدأ أن یکون معرفة** ... هر کله چې فارغ شو ماتن ﷺ د بیانولو د تعریف د مبتداء او د خبر نه ، او د بیان د عواملو د هغې نه نو شروع ئې وکړه په باقی أحکامو د دې کښې ، نو یو حکم ئې دا دے : چې أصل په مبتداء کښې دا ده : چې دا به معرفه وی . او د أصل ډیرې معانې دی خو دلته په معنی د أولی او د راجح سره دے یعنې أولی او راجح دا ده : چې مبتداء به معرفه وی ، او بل أولی دا ده : چې مبتداء به مقدم وی او دا ماتن ﷺ نه ده ذکر کړې . او أصل په مبتداء کښې تعریف ؛ ځکه دے چې دا محکوم علیه واقع کیږی او حکم کول په یو شی باندې فرع د معرفت د محکوم علیه ده ؛ نو خبر حکم دے او مبتداء محکوم علیه دے نو دا خبر به دې مبتداء له هله ثابتیږی چې دا معرفه وی او که معرفه نه وی نو بیا

ورباندې حکم کول ناروا دی ؛ ځکه چې حکم راځي په مجهول باندې . او أصل په مبتداء کښې تقدیم ؛ ځکه دے چې مبتداء ذات دے او خبر وصف دے او ذات مقدم وی په وصف باندې په طبع کښې نو په وضع کښې به هم مقدم کولے شي ؛ د دې د پاره چې وضع موافق شي د طبع سره .

قوله : **وأصل الخبر أن يَكون نكرة** ... او أصل په خبر کښې دا ده : چې دا به نکره وی ؛ ځکه خبر واضع وضع کړے دے د پاره د دې چې مخاطب ته فائده ورسوی او فائده هله مخاطب ته رسوی چې نکره وی او چې معرفه شي نو بیا فائده نه رسوی ؛ ځکه چې هغه خو هسې هم معلوم ده نو ذکر کوې ئې ولې ؟ . **دویمه وجه** دا ده : چې خبر هم صلاحیّت د دې لری چې معرفه واقع شي او هم صلاحیّت د دې لری چې نکره واقع شي نو مونږ ئې نکره واقع کوو ؛ ځکه چې أصل په أسماؤ کښې نکارت دے ، او تعریف فرع ده نو چې په أصل اتیان کیدے شي نو فرع ته څه ضیرورت کوې ؟ ، او أصل په خبر کښې تاخیر دے د مبتداء نه ؛ ځکه خبر وصف دے او مبتداء ذات دے او وصف ورسته وی د ذات نه .

قوله : **والنّكرة إذا وصفت جاز أن تقع مبتدأ** ... غرض د ماتن﷫ د دې عبارت نه دفع د سوال ده ، **سوال** دا دے : چې زه دا نه منم چې أصل په مبتداء کښې دا ده : چې دا به معرفه وی بلکه زه به درته وښائم چې مبتداء به وی او نکره به وی لکه راغلی دی په دې قول د الله تعالی کښې " **ولعبد مؤمن خير من مشرک** " دلته دا " **عبدٌ** " مبتداء ده او دا خو نکره ده ؟ **جواب** : زه چې وائم چې مبتداء به نکره نه وی نو زما مراد د نکرې نه نکره محضه ده او تا چې کوم مثال ذکر کړو دا نکره ده خو نکره محضه نه ده ، بلکه مخصصه ده ؛ ځکه چې تخصیص ئې موندلے دے په وصف سره ، او هر کله چې نکره موصوف شي په یو وصف باندې نو بیا جائز دی د هغې مبتداء واقع کول ؛ ځکه چې په دې صفت سره په دې نکره کښې تخصیص راشي او تخصیص قریب دے معرفې ته او قریب د شي لره حکم د عین شي وی ، نو دلته " **عبدٌ** " اګر چې نکره ده خو موصوفه شوې ده په " **مؤمن** " سره .

ترکیب ئې دا دے : " **واو** " کما وقع في القرآن " **لام** " ابتدائیه " **عبد** " موصوف " **مؤمن** " صفت ، موصوف سره د صفت نه دا مبتداء " **خير** " اسم تفضیل ضمیر پکښې راجع دے " **عبد مؤمن** " ته هغه ئې فاعل " **من مشرک** " جار مجرور متعلق شو په " **خير** " اسم تفضیل پورې ، اسم تفضیل سره د فاعل او متعلق خپل نه دا شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه .

قوله : **و كذا إذا تخصّصت بوجه آخر** ... دا اوس نور وجوه د تخصیص ذکر کوی ، او دارنګ چې دا مبتداء نکره مخصّصه شي په یو بله وجه باندې نو هم مبتداء واقع کیږی لکه " أرجل

في الدار أم امرأة " دلته "**رجل**" نكره ده او مبتداء واقع شوې ده ، او " **في الدار** " ورلره خبر دے او په دې نكره كښې تخصيص راغلے دے په يوه وجه د وجوه باندې چې هغه استفهام دے او په استفهام سره هم تخصيص راځي ؛ ځكه د متكلم په ذهن كښې چې كوم شِقَّيْن وي نو د هغه خيال دا وي چې د دې نه علاوه بل شق نشته خو تپوس كوي د تعيين لكه مثلًا په دې مثال مذكور كښې ورته دا پته ده چې دې كور كښې يو كس شته خو تعيين ئ نشته چې آيا سړے دے او كه ښځه ده ، نو دې " **رجل** " تخصيص وموندو په علم د متكلم سره . **سوال** : چې په دې مثال كښې خو تخصيص راغلو په علم د متكلم سره او علم د متكلم كافي نه دے د پاره د تخصيص راوستو په نكره كښې چې ثالثه شي دپاره د ابتدائيت ؛ ځكه چې متكلم ته به دا خبره معلومه وي خو مخاطب ته به نه وي معلومه؟ **جواب** : هر كله چې نكرې تخصيص وموندو په علم د متكلم سره او د متكلم په نزد پكښې تخصيص راغلو نو مخاطب ته به په طريقه أولى سره علم وي ؛ ځكه چې متكلم تپوس كوي د مخاطب نه نو په ام او همزه سره كوي او په دې سره چې سوال وشي نو مخاطب ته هم پته وي چې دا سائل په أحدالامرين لا على التعين په وجه دے تپوس د تعين كوي . **سوال** : دا علم د متكلم خو يو أمر معنوي دے او " **أرجل في الدار أم امرأة** " أمر لفظي دے نو په أمر لفظي كښې څنګه تخصيص راغلو په أمر معنوي سره ؟ **جواب** : علم د متكلم اګر چې حقيقتًا أمر معنوي دے ليكن دا مؤول دے په تاويل د أمر لفظي سره هغه دا چې " **أحد الأمرين متحقق** " يو د أمرين نه متحقق دے چې يا به "**رجل**" وي او يا به "**امرأة**" وي او أحد الأمرين متحقق لفظ دے .

تركيب د دې مثال دا دے : چې " **همزه** " استفهاميه " **رجل** " معطوف عليه " **ام امرأة** " معطوف ، معطوف سره د معطوف عليه نه دا مبتداء شوه ، او " **في الدار** " په اعتبار د متعلق سره خبر شو ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . قوله : **و ما أحد خير منك** ... دا دريم مثال ذكر كوي د پاره د دې چې نكره مبتداء واقع شوې وي او تخصيص ئ موندلے وي په يو وجه د وجوه سره لكه دلته " **أحد** " نكره ده او مبتداء واقع شوې ده او تخصيص پكښې راغلے دے په وقوع سره پس د نفي نه ؛ ځكه قانون دا دے : چې هر كله يو شے واقع شي په سياق د نفي كښې نو عموم فائده كوي او هر كله چې په يو شے كښې عموم راغلو نو خصوص پكښې هم راغلو ؛ ځكه په دې " **أحد** " كښې مخكښې د وقوع د دې نه په سياق د نفي كښې تعيين نه وو او اوس پكښې تعيين راغلو چې هيڅوك نشته، غوره ستا نه نو حكم خاص شو په مخاطب پورې نو ؛ ځكه نحاة وائي : چې " **النكرة اذا تعممت، تخصصت** " . **سوال** : ستا په أقوالو كښې تضاد دے ؛ ځكه ته وائي : چې نكره واقع شي په سياق د نفي كښې نو عموم فائده كوي او چې عموم پكښې راشي نو خصوص پكښې راځي .نو په عموم او خصوص كښې خو

منافات دے ؛ ځکه په عموم کښې کثرت د شرکاؤ وی او په خصوص کښې قلّت د شرکاؤ وی ؟
جواب : د تخصيص دوه معانی دی : ۱ـ يو په معنی د قلّت د شرکاؤ ، او تقليل الشيوع سره . ۲ـ او بل په معنې د " **التفرد** " يو والی سره ، او دلته مراد معنی اول ده ، او دَ تقليل الشيوع او د عموم څه منافات نشته منافات ئ د معنی ثانی سره دے او هغه دلته مراد نه ده ، نو چې نکره واقع شی په سياق د نفی کښې نو عموم پکښې راځی او بيا پکښې تخصيص راځی په رفع د ابهام سره.

ترکيب د دې مثال دا دے : " **وما** " نافيه " **أحد** " مبتداء " **خير** " اسم تفضيل ضمير پکښې دے راجع دے " **أحد** " ته هغه ئ فاعل " **منک** " جار مجرور متعلق شو په " **خير** " پورې ، " **خير** " اسم تفضيل سره د فاعل او متعلق نه خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . قوله : و شر أهر ذا ناب ... دا بل مثال دے د پاره د نکرې چې مبتداء واقع شوی وی او تخصيص ئ موندلے وی په يو وجه د وجوه سره ، او دلته ئ تخصيص موندلے دے په تقديم د ما حقه التاخير سره ؛ ځکه حق د دې دا وو چې ورسته ذکر شوے وے او دا مخکښې ذکر شو ، او قانون دا دے : چې د کوم شی حق دا وی چې ورسته دې ذکر شی او ته ئ مخکښې ذکر کړې نو دا حصر او اختصاص پيدا کوی ، دلته أصل عبارت داسې وو چې " **أهر شرّ ذا ناب** " په دې کښې دا " **أهرّ** " فعل دے (اهرار وئيلے شی د سپی غپولو ته) ، او " **شر** " ئ فاعل دے ، او " **ذا ناب** " ئ مفعول به ده (معنی ئ دا ده : خاوند د داړو) نو معنی دا شوه چې غپولے دے شر خاوند د داړو لره دا به عربو په هغه اوقاتو کښې وئيل : چې کله به يو طاقتور انسان د کمزوری د لاس نه په مصيبت کښې گرفتار شو . نو " **شر** " ورسته وو ؛ ځکه په " **أهرّ** " کښې ضمير دے هغه مبدل منه دے او " **شر** " ترېنه بدل دے او هغه ضمير فاعل وو ، او بدل د فاعل نه هم په حکم د فاعل کښې وی ، او حق د فاعل دا دے : چې دا دې ورسته ذکر شی د فعل نه ، او دلته مخکښې شو ؛ ځکه مبتداء واقع شوې ده . نو دلته ئ حصر او اختصاص په دوه طريقو سره پيدا کړو : ۱ـ تقديم د ما حقه التاخير دا فائده کوی اختصاص لره . ۲ـ دا چې سپے کومه غپا کوی نو دا يا معتاده وی او يا غير معتاده وی نو چې معتاده وی نو احتمال د شر او خير دواړو لری نو چې " **شر أهر ذا ناب** " اوئيل شو نو د دې معنی دا ده : چې دا غپا د شر ده او د خير نه ده ، او کومه غپا چې غير معتاده وی نو هغه شر وی او خير پکښې نه وی نو که مراد د غپا نه غير معتاد شی نو بيا پکښې حصر او اختصاص داسې راغلے دے چې دا " **شر** " موصوف دے او صفت ئ مقدر دے ای " **شر عظيم لاحقير أهرّ ذا ناب** " يو لوې شر دے چې غپولے ې دے خاوند د داړو نو تخصيص راغلو په نسبت سره وړوکی ته ، او يا پکښې تنوين د پاره د تعظيم دے ای "**شر عظيم**" . نو د دې په وجه پکښې تخصيص راغلو . **سوال** : تقديم د "

شر " په " أهرّ ذا ناب " باندې صحيح نه دے ؛ ځکه تا اوے : چې " شرّ " بدل دے د ضمير د " أهرّ " او هغه فاعل دے او بدل د فاعل نه په حکم د فاعل کښې وى ، او تقديم د فاعل په فعل باندې نه وى صحيح ؟ بل دا چې ضمير دَ " أهرّ " مبدل منه دے " شر " ترينه بدل دے او بدل د توابع څخې دے ، او مبدل منه متبوع وى او تقديم د بدل په مبدل منه جائز نه دے نو تا ولې مقدم کړو ؟ **جواب** : فاعل په دوه قسمه دے : ۱ ـ فاعل حقيقى . ۲ ـ فاعل حکمى ، نو تقديم د فاعل حقيقى نه دے جائز په فعل باندې او " شر " فاعل حکمى دے او د دې تقديم جائز دے ، او تقديم د تابع په متبوع باندې هله نه دے جائز چې تابع په خپل تابعيت باندې باقى وى او متبوع په خپل متبوعيت باندې باقى وى او دلته تابع د تابعيت نه وتلے دے او متبوع د متبوعيت نه وتلے دے ، بلکه " شرّ " دلته اوس مبتداء ده ، او حصر او اختصاص ئ موندلے دے نو مبتداء واقع کول صحيح دى .

ترکيب د دې مثال دا دے : " **واو** " حرف عطف " **شرّ** " مبتداء " **أهرّ** " فعل ماضى معلوم ضمير پکښې دے راجع دے " **شرّ** " ته هغه ئ فاعل " **ذا** " بمعنى صاحب مضاف " ناب " مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول به شو د پاره د " **أهرّ** " فعل ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا خبر د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه معطوفه و معطوفة عليها شوه . قوله : **و فى الدار رجل** ... دا بل مثال دے د پاره د دې چې نکره مبتداء واقع شوى وى او تخصيص پکښې راغلے وى په يوه وجه د وجوه سره ، او دلته تخصيص راغلے دے په تقديم د خبر سره ؛ ځکه " **فى الدار** " خبر مقدم دے او " **رجل** " مبتداء مؤخره ده ؛ ځکه دلته چې " **فى الدار** " ذکر شو نو د مخاطب په ذهن کښې دا خبره راغله چې د دې نه ورسته به داسې شے ذکر کوې چې هغه استقرار لرى په " **دار** " کښې ، نو " **رجل** " نکره مخصصه ده نو ابتدائيت ئ صحيح دے . **ترکيب** د دې مثال دا دے : " **واو** " حرف عطف " **فى الدار** " جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم " **رجل** " مبتداء مؤخره ، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر نه دا جمله اسميه خبريه معطوفه و معطوفة عليها .

قوله : **و سلام عليک** ... دا شپږم مثال دے د پاره د دې چې نکره مبتداء واقع شوى وى او تخصيص پکښې راغلے وى . نو " **سلام** " مبتداء ده ، او " **عليک** " ئ په اعتبار د متعلق سره خبر دے ، او په ديکښې تخصيص راغلے دے ؛ ځکه دا جمله اسميه ده او نقل شوې ده د جملې فعلې نه ، په أصل کښې " **سلمت سلامًا عليک** " وو ، بيا فعل حذف شو ، او " **سلامًا عليک** " باتې شو ، بيا دا " **سلامٌ** " مرفوع شو ، نو " **سلامٌ عليک** " شو . او دا په تاويل د " **سلامى عليک** " سره دے نو تخصيص پکښې راغے په نسبت سره متکلم ته . او نقل ئ د جملې فعليه نه اسميه ته ؛ ځکه وشو چې جمله فعليه دلالت کوى په تجدد باندې ، او اسميه دلالت

کوی په دوام او استمرار باندې . ترکیب د دې مثال دا دے : " واو " حرف عطف " سلام " مبتداء " علیك " ئ خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه معطوفه .

وَ إِنْ كَانَ أَحَدُ الْإِسْمَيْنِ مَعْرِفَةً وَ الْآخَرُ نَكِرَةً فَاجْعَلِ الْمَعْرِفَةَ مُبْتَدَأً وَ النَّكِرَةَ خَبَرًا أَلْبَتَّةَ كَمَا مَرَّ وَ أَيُّهُمَا كَانَا مَعْرِفَتَيْنِ فَاجْعَلْ أَيُّهُمَا شِئْتَ مُبْتَدَأً وَ الْآخَرَ خَبَرًا نَحْوُ اللهُ إِلٰهُنَا وَ مُحَمَّدٌ نَبِيُّنَا وَ آدَمُ أَبُوْنَا.

ترجمه : او که چرته یو د اسمین نه معرفه وی او بل نکره وه ، نو وګرځوه معرفې لره مبتداء او نکرې لره خبر خامخا لکه چې مخکښې تیر شو . او که چرته دواړه معرفې وې نو وګرځوه کوم یو چې دې خوښ وی مبتداء او بل خبر لکه په دې مثال کښې الله الهنا ، و محمد نبیّنا ، و آدم أبونا.

تشریح : قوله : **و إن کان أحد الإسمین معرفة و الآخر نکرة** ... مصنفﷺ أحکام د مبتداء او خبر ذکر کول نو دا ئ اووے : چې أصل په مبتداء کښې دا ده : چې دا به معرفه وی او أصل په خبر کښې دا ده : چې دا به نکره وی نو چې کله دوه اسمین راغله او تا پکښې ترکیب په طریقه د مبتداء او خبر سره کوو نو چې کوم یو معرفه وه نو هغه به مبتداء وګرځوې او چې کوم یو نکره وه نو هغه به خبر وګرځوې لکه " **زید قائم** " کښې " **زید** " معرفه ده ، او " **قائم** " نکره ده نو " **زید** " مبتداء ده ، او " **قائم** " خبر دے . قوله : **و ان کانا معرفتین** ... او که دواړه اسمین معرفې وې او ته اراده لرې چې ترکیب پکښې وکړې په طریقه د مبتداء او خبر سره نو وګرځوه کوم چې دې خوښه وی مبتداء او بل خبر ؛ ځکه دواړه معرفې دی ، او أصل په مبتداء کښې هم دا ده : چې دا به معرفه وی او خبر هم معرفه واقع کیدے شی او نکره هم .
خو په دیکښې دوه شرطه دی : ۱ـ یو دا چې خوف د التباس نه وی نو که خوف د التباس وو نو بیا به مبتداء هغه اسم وی چې مخکښې وی او خبر به هغه اسم وی چې ورسته وی . ۲ـ او بل دا چې یو پکښې أعرف المعارف نه وی ، بلکه دواړه په تعریف کښې مساوی وی ، او که یو په تعریف کښې قوی وو نو بیا به أولی دا وی چې هغه مبتداء وګرځوې ، او هغه بل به خبر وګرځوې لکه " **الله الهنا** " دلته دواړه معرفې دی خو په جدا جدا حیثیتونو سره ، چې " **الله** " علم دے ، او " **الهنا** " کښې تعریف بالاضافة راغلے دے نو غوره دا ده : چې " **الله** " مخکښې شی ، او " **الهنا** " ورسته شی ؛ ځکه أعرف د معارفو نه لفظ د " **الله** " دے اګرچې عکس هم جائز دے . **ترکیب** د دې مثال دا دے : " **الله** " مبتداء " **الهنا** " مضاف مضاف الیه دا ئ خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه . قوله : **و محمد نبیّنا** ... دلته هم دواړه معرفې دی نو ستا خوښه ده چې کوم یو مبتداء ګرځوې او کوم یو خبر .

ترکیب د دې مثال دا دے : " **محمد** " مبتداء " **نبيّنا** " ئې خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه . قوله : **و آدم أبونا** ... دا هم دواړه معرفې دی نو هر يو مبتداء او بل خبر ګرځول صحيح دی ؛ ځکه په هر يو کښې صلاحيت د مبتداء شته دے نو هر يو مبتداء او خبر شې ګرځولے خو چې کوم يو دې مبتداء وګرځوو نو هغه به مخکښې کوی او هغه بل اسم خبر به وروسته کوې ؛ د پاره د دفع د التباس او چې خبط په ذهن د سامع رانشی .

ترکیب د دې مثال دا دے : " **واو** " حرف عطف " آدم " مبتداء " **أبونا** " مضاف مضاف اليه دا ئې خبر ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

وَ قَدْ يَكُوْنُ الْخَبَرُ جُمْلَةً إِسْمِيَّةً نَحْوُ : " زَيْدٌ أَبُوْهُ قَائِمٌ " ، أَوْ فِعْلِيَّةً نَحْوُ : " زَيْدٌ قَامَ أَبُوْهُ " ، أَوْ شَرْطِيَّةً نَحْوُ: "زَيْدٌ إِنْ جَاءَنِيْ فَأَكْرَمْتُهُ" ، أَوْ ظَرْفِيَّةً نَحْوُ: "زَيْدٌ خَلْفَكَ ، وَعَمْرٌو فِي الدَّارِ"، وَالظَّرْفُ مُتَعَلِّقٌ بِجُمْلَةٍ عِنْدَ الْأَكْثَرِ، وَهِيَ "إِسْتَقَرَّ" مَثَلًا تَقُوْلُ : "زَيْدٌ فِي الدَّارِ" تَقْدِيْرُهُ زَيْدٌ اسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ .

ترجمه : او کله خبر جمله اسميه واقع کيږی لکه " **زيد أبوه قائم** " ، او کله جمله فعليه واقع کيږی لکه " **زيد قام أبوه** " ، او کله شرطيه واقع کيږی لکه " **زيد إن جاءنی فأکرمته** " ، او کله ظرفيه واقع کيږی لکه " **زيد خلفک و عمرو فی الدار** " ، او ظرف متعلق کيږی په جمله پورې په نزد د أکثرو چې هغه " **استقر** " دے مثلا ته وائې: " **زيد فی الدار** " نو تقدير ئې داسې دے چې " **زيد استقر فی الدار** " .

تشریح : قوله : **و قد يکون الخبر جملة إسمية** ... أصل په خبر کښې دا ده : چې دا به مفرد وی خو کله کله جمله هم واقع کيږی ، او أصل په خبر کښې افراد ؛ ځکه دے چې د خبر ربط د مبتداء سره ضروری دے ، او چې کله خبر مفرد وی نو د دې ارتباط د مبتداء سره بغير د عائد نه راځی په خلاف د جملې نه ؛ ځکه جمله کښې عائد ضروری وی . دويمه وجه دا ده : چې مبتداء خو هميشه مفرد وی نو خبر ورسره هم مفرد ذکر کول پکار وی ؛ د دې د پاره چې موافقت راشی په رکنين د کلام کښې . خو کله جمله هم خبر واقع کيږی ؛ ځکه کوم غرض چې په مفرد حاصليدو چې حکم کول وو په مبتداء باندې نو دا په جمله سره هم حاصليدے شی ، خو شرط پکښې دا دے : چې دا به جمله خبريه وی ، انشائيه به نه وی ، او دا ؛ ځکه چې خبر ربط غواړی د مبتداء سره او ربط په جمله خبريه کښې راځی په انشائيه کښې نه راځی ؛ ځکه هغه خو ايجاد د ما لم يوجد وی (پخپله موجود نه ده نو د بل سره به څنګه مربوط شی ، او بل دا چې د بل نه خبر څنګه وګرځی) . او جمله خبريه بيا په څلور قسمه ده : ۱ـ اسميه . ۲ـ فعليه . ۳ـ شرطيه . ٤ـ ظرفيه . نو دا هره يوه واقع کيدے شی لکه ده ئې دا آينده مثالونه ذکر کړی دی .

قوله : **اسمية نحو زيد أبوه قائم** ... دا مثال د جملې اسميه دے ؛ ځکه " **زيد** " مبتداء ده ، أبوه مبتدأ ثاني " **قائم** " صيغه د اسم فاعل ضمير پټکښې دے هغه ئ فاعل ، اسم فاعل سره د فاعل نه دا شبيه جمله خبر دے د پاره د مبتداء د أبوه دے ، مبتدأ سره د خبر شو دپاره د "**زيد**" مبتدأ ، تركيب ئ هم دغه دے .

قوله : **او فعلية** ... او يا به خبر جمله فعليه وى لكه " **زيد قام أبوه** " دلته دا " **زيد** " مبتداء ده ، او " **قام** " فعل " **أبوه** " مضاف مضاف اليه دا ئ فاعل ، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه خبريه خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

او تركيب ئ هم دغه دے . قوله : **او شرطية** ... او يا به شرطيه وى لكه " **زيد إن جاءني فأكرمته** " دلته دا " زيد " مبتداء ده او " **إن** " حرف شرط دے " **جاء** " فعل " **نون** " وقايه " ياء " ضمير د واحد متكلم مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا فعل شرط شو د پاره د حرف شرط ، حرف شرط سره د فعل شرط نه دا شرط شو " **فاء** " جزائيه " **أكرم** " فعل " **تُ** " ضمير د فاعل " **هُ** " مفعول به ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه جزاء شوه د پاره د شرط ، شرط سره د جزاء نه دا جمله فعليه شرطيه خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه . نو دلته دا " **إن جاءني فأكرمته** " خبر دے خو داسې خبر دے چې جمله ده ، او جمله شرطيه ده . تركيب ئ هم دغه دے (مونږ به د مثال د تركيب د پاره جدا عنوان وركولو ليكن دلته به دې څو مثالونو كښې په تشريح كښې دا تركيب راغے ؛ لهذا مستقل عنوان ته ضرورت رانغے) .

بيا په دې كښې اختلاف دے چې جمله شرطيه چې خبر واقع كيږى د مبتداء د پاره نو آيا صرف شرط خبر واقع كيږى كه صرف جزاء خبر واقع كيږى او كه دواړه ، نو په دې كښې درې واړه أقوال شته : ۱ ـ بعض وائى : صرف شرط خبر واقع كيږى . ۲ ـ بعض وائى : صرف جزاء خبر واقع كيږى . ۳ ـ بعض وائى : چې دواړه خبر واقع كيږى او راجح دريم قول دے .

قوله : **أو ظرفية** ... او يا به ظرفيه وى لكه "**زيد خلفك**" ، " **زيد** " مبتداء ده ، او " **خلفك** " په اعتبار د متعلق سره جمله ظرفيه ورلره خبر دے ، او بيا په دې كښې دغسې اختلاف دے چې خبر د مبتداء د پاره هغه فعل متعلق مقدر واقع كيږى ، او كه د هغې قائم مقام دا ظرف واقع كيږى نو په دې كښې هم درې أقوال دى خو راجح قول دا دے : چې دواړه واقع كيږى . تركيب د دې مثال مخكښې وشو . قوله : **و عمرو في الدار** ... دا مخكښې مثال د ظرف حقيقى وو او دا مثال د جار مجرور دے ؛ ځكه جار مجرور ته هم مجازًا ظرف وئيلے شى .

قوله : **والظّرف متعلق بجملة عند الأكثر** ... غرض د مصنفﷺ د دې عبارت نه يو خو ظرف او جار مجرور متعلق ذكر كول دى ؛ ځكه چې ظرف او جار مجرور بغير د متعلق نه فائده نه وركوى ، او دويم غرض د ماتنﷺ د دې عبارت نه دفع د يو اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے :

چې تا د جملې څلور أقسام ذکر کړل او يوه دې پکښې جمله ظرفيه ذکر کړه حالانکه جمله ظرفيه خو نشته ؛ ځکه ظرف خو متعلق کيږي په مفرد پورې نو متعلق سره د متعلق نه شبه جمله وی ، جمله خو نه وی ؟ جواب : " **والظّرف متعلق بجملة** " حاصل د جواب دا دے : چې دا خبره زما بناء ده په مذهب د هغه چا باندې چې هغه متعلق د ظرف جمله وائی ، نه په مذهب د هغه چا چې هغه ورلره متعلق مفرد وائی .

تفصيل المقـــــام : زده کړه دا خبره چې د ظرف او د جار مجرور د پاره لابدی وی د متعلق نه ، دا متعلق د دې کله مذکور وی او کله محذوف وی او مقدر وی که مذکور وو نو ديته ظرف " **لغو** " وائی ؛ ځکه " **لغو** " بے پروا کولو ته وائی ، او دې هم ته بے پروا کړې د راويستلو د متعلق نه [۱] ، او که متعلق د دې مذکور نه وو ، بلکه مقدر وو نو بيا ورته ظرف مستقر وائی . " **مستقر** " د " **استقرار** " نه دے ثبوت ته وائی ، او دې هم ته ثابت کړې په راويستلو د متعلق باندې . اوس دا متعلق محذوف چې مونږ راوباسو نو آيا دا به د قبيلې د أفعال عامؤنه راوباسو که د أفعال خاصؤ نه ، نو که قرينه موجود وه په فعل خاص باندې نو د قبيلې د خاص نه به ئې راوباسو ، او که قرينه د خصوص نه وه نو د قبيلې د أفعال عامؤ نه به ئې راوباسو . او أفعال عامّه مشهور څلور دی : کون ، ثبوت ، وجود ، حصول کما جاء فی قول الشاعر

افعال عامہ نزد ارباب عقول «» کون ست وجود ست ثبوت ست حصول

اوس دويمه خبره دا ده : چې دا متعلق چې مونږ راوباسو نو دا به فعل راوباسو که شبه فعل، فعل خو ظاهر دے چې مضارع ، ماضی ، أمر ، نهی وغيره دی او شبه فعل اسم فاعل ، اسم مفعول ، صفت مشبه ، اسم تفضيل وغيره دی ، نو په ديکښې اختلاف دے ؛ د بصريين په نزد به متعلق فعل راوباسو او د کوفيين مسلک دا دے : چې شبه فعل به راوباسو . دليل د بصريين دا دے : چې فعل به ؛ ځکه راوباسو چې هر متعلّق عامل وی په متعلّق کښې او أصل په عمل کښې فعل دے . او دليل د کوفيين دا دے : چې شبه فعل به راوباسو ؛ ځکه چې دا مونږ راوباسو ؛ د وجې د ضرورت نه چې کلام صحيح شی او تقدير په قدر د حاجت کافی وی او حاجت په شبه فعل باندې پوره کيږی نو فعل راويستو ته ضرورت نشته ؛ ځکه فعل جمله ده نو زيادت فی التقدير راځی ، او شبه فعل جمله نه ده نو زيادت فی التقدير نه راځی ، او قلّت فی التقدير أولی دے د زيادت فی التقدير نه . خو چونکه مختار په نزد د مصنف رحمه الله باندې مذهب د بصريين وو نو ؛ ځکه ورے : چې " **والظّرف متعلّق بجملة عند الأکثر** " او جمله هله

---

[۱] يا ظرف " لغو " ته " لغو " ؛ ځکه وائی : چې دا " لغو " کرځيدلے دے په کلام کښې ، ولې چې خبر ، يا صفت ، يا حال هغه متعلّق دے ، او مستقر ته ؛ ځکه مستقر وائی : چې ده قرارے نيولے دے په کلام کښې ؛ ځکه کله چې متعلّق محذوف شو ، نو دے قائم مقام د هغې شو ؛ نو دا به صفت ، خبر ، او حال واقع کيږی . منه .

جوړيږي چې فعل راوباسو ؛ ځکه د فعل د پاره لابدی وی د فاعل نه او فعل سره د فاعل نه جمله فعليه وی . قوله : استقر مثلًا ... او هغه فعل لکه " استقر " شو ، او دا مثلًا ؛ ځکه وائی : چې دا يواځې په " استقر " پورې خاص نه دے ، بلکه دا صرف يو مثال دے .

قوله : تقول زيد فى الدار ... ترکيب د دې په نزد د بصريين باندې داسې دے چې " زيد " مبتداء " فى " جار " الدار " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نيسى په " استقرّ " مقدر پورې " استقر " صيغه د فعل ماضى ضمير پکښې مستتر دے چې تعبير ترې کيږی په " هُو " سره چې راجع دے مبتداء ته هغه ورلره فاعل ، فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعليه ظرفيه خبر د پاره د مبتداء شوه ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه .

مصنفؒ هم اووے : " تقديره زيد استقر فى الدار " . او عند الکوفيين ترکيب داسې دے " زيد " مبتداء " فى " جار " الدار " مجرور ، جار سره د مجرور نه متعلّق دے په " مستقر " مقدر پورې ، مستقر صيغه د اسم فاعل ضمير پکښې مستتر دے چې معبر دے په " هو " سره چې راجع دے " زيد " ته هغه ورلره فاعل ، اسم فاعل سره د فاعل او متعلق نه شبه جمله خبر د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه .

وَ لَابُدَّ فِى الْجُمْلَةِ مِنْ ضَمِيرٍ يَعُوْدُ إِلَى الْمُبْتَدَأِ كَـ " الْهَاءِ " فِىْ مَا مَرَّ ، وَ يَجُوْزُ حَذْفُهُ عِنْدَ وُجُوْدِ قَرِيْنَةٍ نَحْوُ : " السَّمْنُ مَنَوَانِ بِدِرْهَمٍ " ، وَ الْبُرُّ الْكُرُّ بِسِتِّيْنَ دِرْهَمًا ، وَ قَدْ يَتَقَدَّمُ الْخَبَرُ عَلَى الْمُبْتَدَأِ نَحْوُ : " فِى الدَّارِ زَيْدٌ " ، وَ يَجُوْزُ لِلْمُبْتَدَأِ الْوَاحِدِ أَخْبَارٌ كَثِيْرَةٌ نَحْوُ : " زَيْدٌ قَائِمٌ فَاضِلٌ عَاقِلٌ " .

ترجمه : او لابدی ده په (هغه) جمله کښې (چې خبر واقع شوے وی) د ضمير نه چې راجع به وی مبتداء ته لکه (ارجاع د) " هاء " چې مخکښې تير شو (په زيد أبوه قائم کښې) . او جائز دی حذف کول د عائد د هغه جملې نه چې خبر واقع شوې وی په وخت د وجود د قرينه کښې ، لکه " السّمن منوان بدرهم " ، او " الکرّ بستّين درهما " ، او کله کله خبر مقدم کيږی په مبتداء باندې لکه " فى الدار زيد " ، او جائز دی د يوې مبتداء د پاره واقع کيدل د أخبارکثيرۀ لکه " زيد قائم ، فاضل ، عاقل " .

تشريح : قوله : و لابد فى الجملة من ضمير يعود إلى المبتدأ ... دا خبر چې کله جمله واقع شی نو په دې کښې عائد ضروری دے ، دلته چند سوالات راغلل چې نفس عائد ولې غواړی ؟ ۲ـ عائد به څه شے وی ؟ ۳ـ دا عائد به مبتداء ته ولې راجع وی ؟ **د أول سوال جواب** : چې قانون دا دے چې خبر د مبتداء سره مربوط وی ، اوس کله چې مفرد خبر واقع شوے وی نو د هغې ربط خو ظاهر وی ؛ ځکه مفرد محتاج وی او ربط غواړی بلا عائده ، ليکن کله چې خبر جمله وی نو جمله من حيث الجملة خو مستقله وی چا ته ئ حاجت نه وی ، وحشت او

منافرت وى پكښې نو دا غورندے غوارى چې په هغې باندې ئ د مبتداء سره وتړو. او دغه غورندى ته ئ عائد وائى .

د دويم سوال نه جواب : دا عائد به ضمير وى . قوله : **كالهاء فيما مرّ** ... لكه په " **زيد أبوه قائم** " كښې دا " **هاء** " يو عائد وو نو دا خبر ئ د متبداء سره وتړلو او د دې نه علاوه نور هم راتلے شى لكه كله وضع د ظاهر په ځائ د مضمر باندې عائد وى كما فى قوله تعالى : « **الحاقة ما الحاقة** [1] » الأية . دلته " **الحاقة** " مبتداء ده " **ما** " مبتداء ثانى ده " **الحاقة** " ئ خبر دے او دا جمله خبر دے د مبتداء أولى ، او عائد دلته وضع د ظاهر موضع المضمر ده ؛ ځكه چې أصل كښې داسې وو چې " **الحاقة ما هى** " نو د " **هِىَ** " ضمير په ځائ اسم ظاهر ذكر شو ، او كله كله ألف لام هم عائد واقع كيږى لكه : "**زيد نعم الرجل**" ، دلته " **زيد** " مبتداء ده او " **نعم** " فعل " **الرجل** " ئ فاعل ، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبر د مبتداء دے (بناء په يو تركيب) او عائد دلته ألف لام دى چې داخل دى په " **الرجل** " باندې . او كله عائد جمله وى چې دا جمله خبر او تفسير د مبتداء وى لكه " **هو الله أحد** " نو دلته " **هُوَ** " مبتداء ده او " **الله أحد** " جمله تفسير او خبر دے ، او د دې نه علاوه نور هم شته ، ليكن دلته ماتن﵀ صرف يو قسم ذكر كړو چې ضمير دے ؛ ځكه دا مشهور دے او كثير الوقوع دے .

قوله : **ويجوز حذفه عند قيام قرينة** ... غرض د ماتن﵀ بل حكم ذكر كوى د مبتداء او خبر ، او دا په أصل كښې دفع د اعتراض ده چې تا ووے : چې جمله خبر واقع شى د مبتداء نو هغې كښې به عائد وى نو زه به درته وښائم چې جمله به خبر واقع شوے وى او عائد به پكښې نه وى لكه " **السّمن منوان بدرهم** " شو ، نو دے جواب كوى چې جائز دى حذف كول د عائد د هغې جملې نه چې خبر واقع شوے وى خو مطلقا نه ، بلكه په وخت د وجود د قرينه كښې ، بيا عام د دې نه كه دا قرينه حاليه وى ، او كه مقاليه وى نو دا وجود د قرينې به قائم شى په مقام د عائد باندې مثال لكه "**السمن منوان بدرهم**" ، دلته دا " **السّمن** " مبتداء ده ، او " **منوان بدرهم** " مبتداء او خبر جمله خبر شو د پاره د " **السّمن** " ، او عائد حذف شوے دے چې " **منه** " دے (او معنى ئ دا ده : چې غوړى د دې غوړو نه دوه منه په يوه روپۍ دى) او قرينه ورباندې دا قول دے چې دا دوه منه د څه نه دى خو دغه غوړى دى كنه .

---

[1] سورة الحاقة : ١، ٢ .

قوله : والبر الكر بستين درهما ... او د غنمو یو کر په شپیته روپۍ دی . نو " **البر** " مبتداء ده او " **الكر بستين**[1] **درهما** " ورلره خبر دے ، او عائد ترې حذف شوے دے چې " **منه** " دے ، او قرينه وربانديې دغه قول دے ؛ ځکه په دې دوارو ځايونو کښې که غوړې دی او که غنم دی خوعقد د بيع کيږی په هغه غوړو او غنمو کښې چې کوم هلته موجود وی نو دا قرينه شوه په دې چې دلته " **منه** " حذف دے . قوله : **و قد يتقدم الخبر على المبتدأ** ... دا بل حکم ذکر کوی ، أصل په مبتداء کښې دا ده : چې دا به مقدم وی ؛ ځکه مبتداء ذات وی او خبر وصف وی او ذات مقدم وی په وصف باندې ، خو کله کله خبر هم مقدم کيږی ، بيا دا تقديم د خبر په مبتداء باندې يو په ظروف کښې دے ، او بل د ظروف نه علاوه په نورو کښې دے ، نو په ظروفو کښې تقديم د خبر په مبتداء جائز دے ؛ ځکه په ظروف کښې توسع ده په منزله د محارم باندې دی ، او د محارم د پاره جائز وی هغه څه چې د غير د محارم د پاره نه وی جائز نو د ظروف د پاره هم جائز دی هغه څه چې د غير د ظروف د پاره نه دی جائز ، او په غير د ظروف کښې تقديم د خبر په مبتداء باندې په دوه قسمه دے : ۱ ـ واجب ۲ ـ جائز . واجب په هغه صورت کښې دے چې مبتداء نکره وی او د دې نه علاوه په نورو صورتونو کښې تقديم د خبر جائز دے خو هله چې مانع نه وی ، او که مانع وو نو بيا تقديم د خبر په مبتداء باندې نه دے جائز . قوله : **في الدار زيد** ... دلته دا " **في الدار** " په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم دے ، او " **زيد** " مبتداء مؤخر ده .

قوله : و يجوز للمبتدأ الواحد أخبارًا كثيرًا ... دا بل حکم ذکر کوی چې د يوې مبتداء د پاره ډير خبرونه راتلل ممتنع نه دی ؛ ځکه دا خبر يو حکم او يو صفت وی د مبتداء د پاره او قانون دا دے : چې د يو شي دپاره ډير أحکام او أوصاف کيدے شي نو د مبتداء د پاره هم کيديشی ، بيا که چرته دې أخبار کښې تعدد لفظًا و معنًى وو نو ذکر کول په حرف عاطف سره أولى دی مثال لکه : "**زيد عالم ، و عاقل ، و فاضل**" او بغير د حرف عاطف سره جائز دی مثال لکه "**زيد عالم ، عاقل ، فاضل**" . او که چرته په أخبار کښې تعدد وو لفظًا نه معنًى ، نو بيا ترک د حرف عاطف أولى دے مثال لکه "**هذا حلو حامض**" ، او سره د عطف نه غير أولى جائز دی مثال لکه "**هذا حلو و حامض**" ، او دغسې أخبار کثيره راؤړل دوه قسمه دی : ۱ـ واجب ۲ ـ جائز : يعني که چرته د يو معنى بغير د ذکر د بل نه نه تاميده نو ذکر کول د أخبار

---

[1] " **کر** " (بضمّ الكاف و تشديد الرّاء) دا د شپيته قفيزو يوه پيمانه ده ، او يو قفيز دولس صاعه وی ؛ نو يو " کرّ " د اووه سوه او شل/۷۲۰ صاعو برابر دے (او صاع درې سيره ، او شپږ چهټاکی وی) ، د وضاحت د پاره " **أنوار قدوری** " ، " **درس ترمذی** " ، او " **أوزان شرعيه** " د مفتی شفيع رحمه الله مطالعه کولے شی .

کیږۍ واجب دی لکه " **هذا حلوّ حامض** " ، دلته " **هذا** " مبتداء ده ، او " **حلوّ** " یو خبر دے ، او " **حامض** " بل خبر دے خو معنی د " **حلوّ** " بغیر د ذکر کولو د " **حامض** " نه نه تامیږی ؛ ځکه د دې معنی ده ترېو ، او دا د دواړو نه معلومیږی ، نه د یو نه ، نو راوړل د یو خبر او د بل نه راوړل نه دی جائز ، او که بغیر د ثانی نه معنی د اول تامیده نو بیا أخبار کثیره ذکر کول جائز دی لکه "**زید عالم ، عاقل ، فاضل**" . نو دلته " **زید** " مبتداء ده ، او " **عالم** " یو خبر دے ، " **عاقل** " بل خبر دے ، او " **فاضل** " بل خبر دے ، خو معنی د دې یو بغیر د بل نه تامه ده ، نو یو خبر ذکر کول او بل نه ذکر کول هم جائز دی ، او ټول ذکر کول هم جائز دی چې داسې ووائی : "**زید عالم ، عاقل ، فاضل**" .

وَاعْلَمْ أَنَّ لَهُمْ قِسْمًا آخَرَ مِنَ الْمُبْتَدَإِ لَيْسَ مُسْنَدًا إِلَيْهِ ، وَ هُوَ صِفَةٌ وَقَعَتْ بَعْدَ حَرْفِ النَّفْيِ نَحْوُ : " مَا قَائِمٍ زَيْدٌ " ، أَوْ بَعْدَ حَرْفِ الْإِسْتِفْهَامِ نَحْوُ : " أَقَائِمٌ زَيْدٌ " بِشَرْطِ أَنْ تَرْفَعَ تِلْكَ الصِّفَةُ اِسْمًا ظَاهِرًا نَحْوُ : " مَا قَائِمُ الزَّيْدَانِ " ، وَ " أَقَائِمُ الزَّيْدَانِ " ، بِخِلَافِ " مَا قَائِمَانِ الزَّيْدَانِ " .

ترجمه : او پوهه شه اے طالبه ! چې یقینًا د دې نحات د پاره یو بل قسم دے د مبتداء نه چې هغه مسند الیه نه دے ، او هغه یو صفت دے چې واقع شوے وی پس د حرف نفی نه لکه "ما قائم زیدان" ، یا پس د حرف استفهام نه لکه "أقائم زید" په دې شرط سره چې رفع به ورکوی دغه صفت اسم ظاهر لره (چې وړسته د دې نه وی) لکه " **ما قائم الزیدان** " ، او " **أقائم الزیدان** " ، په خلاف د " **ما قائمان الزیدان** " .

تشریح : قوله : **واعلم أن لهم قسماً آخر من المبتدأ** ... د عبارت مطلب خو تقریبًا د ترجمې نه واضح شو ، صرف تطبیق به ولیکو ، هغه داسې چې په " **ما قائم الزیدان** " کښې دې " **قائم** " دې " **الزیدان** " لره رفع ورکړې ده ، او دا مبتداء ده خو مسند الیه نه دے ، او " **أقائم الزیدان** " کښې هم دې " **أقائم** " دې " **الزیدان** " لره رفع ورکړې ده ، او دا هم مبتداء ده خو مسندالیه نه دے ، بخلاف د " **ما قائمان الزیدان** " باندې چې دلته دې " **قائمان** " رفع دې اسم ظاهر لره نه ده ورکړې ، بلکه ضمیر لره ئې ورکړې ده نو دیته به مونږ قسم ثانی د مبتداء نه وائیو . او مصنفؒ دا قسم ثانی د مبتداء د قسم اول د مبتداء نه جدا ذکر کړه ؛ ځکه چې د دې أحکام د هغې د أحکامو نه جدا دی ، او بل دا چې قسم اول د مبتداء په کلام د عرب کښې کثیر واقع کیږی او دا قسم ثانی د مبتداء په کلام د عربو کښې کثیر او شائع نه واقع کیږی ، او په دې قسم ثانی د مبتداء باندې چې نحات قائل دی نو دا د یو مجبورئ په بناء باندې قائل شوی دی ، هغه مجبوری دا ده : چې کله نحاتو دا قسم اسم په کلام د عرب کښې بیاموندو او دا مرفوع وو نو دوی ئې په رفع باندې سوچ وکړو نو د دې رفع د هیڅ قسم د مرفوعات نه ، نه صحیح کیده ؛

ځکه د کومو مرفوعاتو رفع چې د عامل لفظي د وجې نه وي نو دا په هغې کښې يو هم نه صحيح کيدو ، نه فاعل ، نه مفعول ما لم يسم فاعله ، نه خبر د انّ ، نه اسم د کان ، نه خبر د ما و لا المشبهتين بليس ، نه خبر د لا لنفي الجنس ؛ نو جمهورو نحاتو ووے : چې دا مبتداء ده ؛ ځکه د مبتداء عامل معنوي وي او په ديکښې هم عامل معنوي عمل کړے دے ، او رفع ئې ورکړې ده نو چا پرې **اعتراض** وکړو : چې مبتداء خو مسند اليه وي او دا خو مسند اليه نه واقع کيږي ؟ نو دوی **جواب** وکړو : چې دا اعتراض به تا هله کولے چې ديته مونږ هغه مبتداء وئيلے کومه چې مشهوره ده په کلام د عرب کښې چې قسم اول د مبتداء ورته وائي ، بلکه ديته مونږ قسم ثاني د مبتداء وائيو ، يعني مبتداء ورته ؛ ځکه وائيو چې عامل معنوي دے او دا مرفوع ده ، ورنه په دې اعتبار سره چې مسنداليه ئې واخلو نو بيا مبتداء نه ده ؛ ځکه چې دا مسند اليه نه واقع کيږي نو مجبورًا ئې ورلره نوم کيخودو قسم ثاني د مبتداء ، دا مذهب د جمهورو نحاتو وو ، او ابن حاجب صاحب ، او صاحب د هداية النحو هم په دې باندې رفتار کړے دے . قوله : **و هو صفة وقعت بعد حرف النّفي** ... او دا به صفت وي او واقع شوې به وي پس د حرف نفي نه ، دلته مراد د صفت نه دا نه دے چې د دې نه مخکښې به موصوف وي او دا به ورلره صفت واقع شوے وي ، بلکه د صفت مطلب دا دے : چې دا به اسم مشتق وي يعني اسم فاعل ، اسم مفعول ، صفت مشبه ، او اسم تفضيل به وي ، او ديته اسماء صفتي وائي ، ځکه چې دا دلالت کوي په ذات او وصف دواړو باندې لکه " **ضاربٌ** " شو ، نو په ديکښې يو ذات دے ، او بل صفت د ذات من له الضرب دے ، ليکن شرط په دې کښې دا دے : چې دا به واقع وي پس د حرف استفهام نه ، يا پس د حرف نفي نه ، او دا شرط پکښې ؛ ځکه دے چې اسم فاعل ، او اسم مفعول وغيره چې عمل کوي نو د وجې د مشابهت نه د فعل سره ، نو د دې وجې نه ورسته به راشي چې د دې د عمل د پاره دوه شرطه دي : ۱ ـ يو دا چې په معنی د حال يا استقبال سره به وي . ۲ ـ او دويم دا چې اعتماد به ئې کړے وي په يو د أشياؤ ستؤ باندې چې هغه مبتداء ، موصوف ، ذوالحال ، موصول ، حرف نفي ، او حرف استفهام دي . نو دلته هم مونږ حرف نفي او حرف استفهام شرط کړل ؛ د دې د پاره چې شرط د عمل ئې پوره شي . **سوال** : چې د اعتماد د پاره خو يو د أشياؤ ستؤ شرط وو نو دلته تخصيص په دې دوه پورې ولې وشو ؟ **جواب** : ؛ ځکه چې د دې قسم ثاني د مبتداء اعتماد په هغه څلورو أشياؤ باندې نه صحيح کيږي ؛ ځکه که ماقبل ترې مبتداء راشي نو دا به ئې خبر وي ، او که ماقبل ترې موصوف راشي نو دا به ورلره صفت وي ، او که ماقبل ترې ذوالحال راشي نو دا به ورلره حال شي ، او که ماقبل ترې موصول راشي نو دا به ورلره صله وي ، او مبتداء قسم ثاني بيا نشي کيدے نو چې هر کله دا څلور نه صحيح کيدل نو دغه دوه خود بخود متعين شو .

قوله : **ماقائم زيد** ... دا مثال د هغه دے چې پس د حرف نفي نه وي ، دلته " **قائم** " مرفوع دے او مخکښې د رفع يو سبب هم نشته ، نو مونږ ووے : چې دا مبتداء ده ، او د عامل معنوي د وجې نه مرفوع ده ، او " **زيد** " ورلره فاعل سد مسد د خبر دے . قوله : **و أقائم زيد** ... دا مثال د هغه دے چې پس د حرف استفهام نه وي . **ترکيب ئ دا دے** : چې " **همزه** " استفهاميه " **قائم** " قسم ثاني د مبتداء يعمل عمل فعله معتمد بر حرف استفهام " **زيد** " فاعل سد مسد خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه شوه . قوله : **بشرط أن ترفع** ... خو دا صفت چې قسم ثاني د مبتداء واقع کيږي نو شرط پکښې دا دے : چې رفع به ورکوي اسم ظاهر لره ، يا هغه ضمير لره چې په حکم د اسم ظاهر کښې وي چې ضمير منفصل دے نو " **أراغب أنت** " هم داخل شو په قسم ثاني د مبتداء کښې ؛ لهذا په دې سره احتراز شو د هغه صفت نه چې رفع ئ اسم ضمير مستتره لره ورکړي وي ؛ ځکه بيا به هغه خبر وي قسم ثاني د مبتداء به نه وي .

قوله : **و ماقائم الزيدان** ... دا مثال د نفي دے ، دلته دا " **قائم** " اسم فاعل دے مبتداء واقع شوې ده ، او مفرد دے ، " **الزيدان** " ئ فاعل واقع شوے دے او دا تثنيه ده ، نو دې " **قائم** " رفع ورکړې ده اسم ظاهر لره چې " **الزيدان** " دے نو که دلته مونږ " **قائمان الزيدان** " ووائيو نو نه صحيح کيږي ؛ ځکه صفت چې عمل کوي په اسم ظاهر کښې نو دا پشان د فعل وي او فعل چې کله عمل کوي په اسم ظاهر کښې نو که اسم ظاهر مفرد وي ، که تثنيه وي ، او که جمع وي خو فعل مفرد ذکر کيږي نو دلته به هم داسې وي نو " **الزيدان** " تثنيه ده ، او " **قائم** " مفرد دے نو معلوم شوه چې دې عمل کړے دے په " **الزيدان** " کښې ، او داسې نشي کيدے چې " **الزيدان** " مبتداء موخره شي ، او " **قائم** " خبر مقدم ؛ ځکه موافقت نشته ؛ ځکه مبتداء تثنيه ده ، نو " **قائم** " اسم فاعل دے قسم ثاني د مبتداء ده ، او " **الزيدان** " فاعل قائم مقام د خبر دے .

قوله : **بخلاف ما قائمان الزيدان** ... دلته دې " **قائمان** " ته مونږ قسم ثاني د مبتداء نه شو وئيلے ؛ ځکه چې " **قائمان** " په اسم ظاهر کښې عمل نه دے کړے ، بلکه په ضمير کښې ئ کړے دے نو که دلته مونږ " **قائمان** " قسم ثاني د مبتداء کړو نو دا ضمير به راجع وي " **الزيدان** " ته نو اضمار قبل الذکر راځي ، او دا ناجائز دے نو مونږ وائيو چې " **الزيدان** " مبتداء مؤخره ده ، او " **ماقائمان** " اسم فاعل دے او ضمير ئ فاعل دے ، اسم فاعل سره د فاعل نه شبه جمله خبر مقدم دے ، مبتداء سره د خبر مقدم نه دا جمله اسميه خبريه ده[1] .

---

(1) خلاصه دا ده : چې دلته درې صورته دي : يو صورت دا دے : چې صفت او اسم ظاهر مطابق وي په افراد کښې لکه " ما قائم زيد " په دې کښې دواړه احتماله صحيح دي : چې " زيد " مبتداء مؤخره شي او قائم خبر مقدم شي ، ۲ـ " قائم " قسم ثاني د مبتداء ، او " زيد " مسند اليه فاعل سد مسد د خبر شي . دويم صورت دا دے : چې صفت او اسم ظاهر مطابق وي په تثنية ، يا جمع کښې لکه " ما قائمان الزيدان ، او ما قائمون الزيدون " دلته دا واجب ده چې دا اسم ظاهر مبتداء شي ، او صفت خبر شي ، او که قسم ثاني د مبتداء شي نو بيا به لازم شي اضمار قبل الذکر چې

فصلٌ خَبَرُ إِنَّ وَ أَخَوَاتِهَا : وَ هِيَ أَنَّ ، وَ كَأَنَّ ، وَ لَكِنَّ ، وَ لَيْتَ ، وَ لَعَلَّ فَهٰذِهِ الْحُرُوْفُ تَدْخُلُ عَلَى الْمُبْتَدَإِ ، وَ الْخَبَرِ فَتَنْصِبُ الْمُبْتَدَأَ ، وَ يُسَمَّى إِسْمَ إِنَّ ، وَ تَرْفَعُ الْخَبَرَ ، وَ يُسَمَّى خَبَرَ إِنَّ ، فَخَبَرُ إِنَّ هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا نَحْوُ : " إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ " ، وَ حُكْمُهُ فِيْ كَوْنِهِ مُفْرَدًا ، أَوْ جُمْلَةً ، أَوْ مَعْرِفَةً ، أَوْ نَكِرَةً كَحُكْمِ خَبَرِ الْمُبْتَدَإِ ، وَ لَا يَجُوْزُ تَقْدِيْمُ أَخْبَارِهَا عَلَى أَسْمَائِهَا إِلَّا إِذَا كَانَ ظَرْفًا نَحْوُ : " إِنَّ فِي الدَّارِ زَيْدًا " ؛ لِمَجَالِ التَّوَسُّعِ فِي الظُّرُوْفِ .

ترجمه : دا فصل دے په بیان د خبر د انّ او د أمثالو د دې کښې ، او دا أخوات هِيَ ، كأنّ ، لكنّ ، ليتَ ، لعلّ دی ، پس دا حروف داخلیږی په مبتداء او خبر باندې پس نصب ورکوی مبتداء لره ، او دې ته اسم د انّ وائی . او رفع ورکوی خبر لره او دیته خبر د انّ وائی ، پس خبر د انّ به مسند وی پس د دخول د دې حروف نه لکه انّ زیدًا قائم ، او أثر مرتبه په دې باندې په کیدلو د دې کښې مفرد ، یا جمله ، یا معرفه ، یا نکره پشان د حکم د خبر د مبتداء دے ، او جائز نه دے تقدیم د خبرونو د دې حروف په أسماؤ د دې باندې مګر کله چې ظرف وی (نو بیا جائز دے) لکه "انّ في الدار زیدًا" ؛ د وجې د پراختیا نه په ظروف کښې .

تشریح : قوله : **فصل خبر إنّ و أخواتها** ...

خبر إنّ و أخواتها

هر کله چې فارغ شو ماتن رحمه الله د بیانولو د دریم او خلورم قسم د مرفوعات نه نو شروع ئ وکړه په پنځم قسم د مرفوعات باندې چې هغه خبر د إنّ او د أخوات د دې دے او مراد د أخوات نه أمثال او أشباه دی او دیته حروف مشبه بالفعل هم وائی ، د " **أخوات** " معنی مونږ وکړه أمثال او أشباه ، په دې سره مو دفع د اعتراض وکړه ، **اعتراض** دا دے : چې د أخوات استعمال خو کیږی په ذوی العقول کښې او " إنّ " او دا نور حروف خو ذوی العقول نه دی نو تا ورته څنګه أخوات ووے ؟ **جواب** : دلته د أخوات نه مراد أمثال دی ؛ ځکه نسبت د أخ چې کله غیر ذی عقل ته وشی نو په معنی د مشابه او مماثل سره وی . او دې حروف ته حروف مشبه بالفعل ؛ ځکه وائی چې دا حروف مشابه وی د فعل سره په لفظ کښې هم ، په معنی کښې هم ، او په عمل کښې هم . په لفظ کښې مشابهت خو دا دے : چې څنګه فعل ثلاثی ، او رباعی راځی نو دا حروف هم ثلاثی ، او رباعی راځی . ثلاثی لکه "إنّ" او "لیتَ" ، او رباعی لکه

دا ناجائز دے . دریم صورت دا دے : چې صفت مفرد وی او اسم ظاهر یا تثنیه وی ، او یا جمع وی لکه " ما قائم الزیدان یا ما قائم الزیدون " نو ←

دا صفت قسم ثانی د مبتداء دے ، او اسم ظاهر ئ مسند الیه فاعل او سد مسد د خبر دے .

"لعلّ" او "كأنّ" . دويم مشابهت په ادغام او عدم ادغام كښې دے لكه فعل كښې ادغام هم وى لكه "فرّ ، مدّ" . نو دغه شان پكښې فك ادغام وى لكه "ضرب" وغيره ؛ نو دغسې دا حروف دى په څنې كښې ادغام دے لكه "إنّ ، أنّ ، كأنّ" وغيره . او په څنې كښې ادغام نشته لكه "ليتَ" شو. دريم مشابهت ئ په فتحه د اول سره دے چې څنګه د فعل ماضى اول حرف مفتوح وى نو د دې دا هم مفتوح وى سوا د "إنّ" نه . څلورم مشابهت په لحوق د كاف اسمى خطابى كښې لكه " ضربك " فعل دے ، او كاف اسمى خطابى ورسره ملحق شوے دے . نو دغسې " إنك " دے كاف اسمى خطابى ورسره ملحق شوے دے دغسې په لحوق د نون وقايه كښې مثال لكه " ضربنى " دغه شان " إنّنِىْ " وغيره . او معنوى مشابهت ئ دا دے : چې " إنّ او أنّ " په معنى د " حققتُ " سره دى ، او " كأنّ " په معنى د " شبهت " سره راځي ، او " لكن " په معنى د " استدركت " سره ، او " ليت " په معنى د " تمنيت " سره ، او " لعلّ " په معنى د " ترجيت " سره ، او دا ټول أفعال دى . او په عمل كښې ورسره مشابهت دا دے : چې لكه څنګه چې فعل متعدى دوه اسمين غواړى يو فاعل او بل مفعول او يو لره رفع وركوى او بل لره نصب وركوى ، نو دغه شان دا حروف هم دوه اسمين غواړى او يو لره رفع وركوى او بل لره نصب وركوى . سوال : نه منم دا خبره چې دا حروف مشابه دى د فعل سره په عمل كښې ؛ څكه فعل په دوه اسمونو كښې عمل كوى خو اول (اى فاعل) لره رفع وركوى ، او ثانى (اى مفعول) لره نصب وركوى ، او دا حروف خو اسم اول لره نصب وركوى او ثانى لره رفع وركوى نو دا خو د هغې نه مخالف شو ؟ جواب : فعل په عمل كښې أصل دے او دا حروف ئ فرع ده ، او فعل اسم اول لره رفع وركوى او اسم ثانى لره نصب وركوى نو كه دې حروف هم دغسې عمل كړے وے نو لازميدو مساوات د فرع د أصل سره ؛ نو څكه د دې عمل مخالف شو چې انحطاط د فرع د أصل نه راشي ، او بيا دې اسم اول ته اسم د " إنّ " او د أخوات د دې وائى ، او دې ثانى ته خبر د " إنّ " او د أخوات وائى .

قوله : **فهذه الحروف تدخل على المبتدأ والخبر** ... غرض د ماتنؒ مدخول د دې حروف ذكر كوى چې دا حروف داخليږى په مبتداء او خبر باندې . په دې سره پكښې أفعال ناقصه ، ما و لا المشبهتين بليس ، لا لنفى الجنس ټول داخل شول .

قوله : **فتنصب المبتدأ و يسمّى إسم إنّ و ترفع الخبر و يسمّى خبر إنّ** ... په دې عبارت سره نور هغه باق ټول خارج شول . قوله : **فخبر إنّ مسند** ... غرض د ماتنؒ په دې عبارت سره عمل د حروف مشبه بالفعل ذكر كوى ، نو خبر د إنّ به مسند وى پس د داخليدو د هر واحد د دې نه ، او تعريف هم كوى د دې حروف ، بيا مونږ دا معنى وكړه چې پس د داخليدو د هر

واحد د دې نه، نو دا دفع د سوال وشوه، **سوال** دا دے: چې ته وائې: " **هو المسند بعد دخولها** " يعني چې ټول حروف پرې داخل شي نو مسند به ګرځي، حالانکه داسې خو نه ده؟
جواب: مونږ جواب وکړو چې پس د داخليدو د هر واحد نه، يعني دا ضمير ټولو ته راجع دے باعتبار د کل واحد سره لکه "إنّ زيدًا قائم"، دا " إنّ " حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب، خبر مرفوع غواړي " زيدًا " ئې اسم شو، او " قائم " ئې خبر شو او دا خبر مسند ګرځيدلے دے پس د دخول د دې "إنّ" نه په دې باندې، په دې سره رد وکړو په کوفيانو باندې، په دې مسأله کښې اختلاف دے چې هر کله حروف مشبه بالفعل داخل شي په دوه اسمونو باندې نو آيا دا اسم اول لره نصب او ثاني لره رفع ورکوي او کنه؟ نو مذهب د بصريين دا دے: چې ورکوي، او مذهب د کوفيين دا دے: چې اسم اول لره نصب ورکوي او اسم ثاني لره رفع نه ورکوي، بلکه هغه مرفوع وي بناء بر خبريت يعني هغه ځکښنې رفع وي پکښې نو د ماتن رحمه الله په نزد باندې غوره مذهب د بصريين دے؛ نو ځکه ئې ووے: چې " **و ترفع الخبر** " نو اختيار د مذهب د بصريين ئې وکړو او رد ئې وکړو په مذهب د کوفيين باندې.
قوله: و حكمه في كونه مفردًا أو جملة ... غرض د مصنف رحمه الله بيان د حکم د دې دے، نو وائي: چې اثر مرتبه په دې باندې په کيدلو د دې کښې مفرد، يا جمله، يا معرفه، يا نکره پشان د حکم د خبر د مبتداء دے، مقصد دا دے: چې څنګه د مبتداء د پاره خبر مفرد هم راتلے شو، او جمله هم راتلے شي، بيا جمله عامه ده که اسميه وي، که فعليه وي، که ظرفيه وي، او که شرطيه وي، او معرفه هم راتلے شوه، او نکره هم راتلے شوه؛ نو دارنګ د دې حروف خبر هم مفرد، معرفه، او نکره راتلے شي خو څنګه چې هلته نکره راتلل أولی وو نو دلته به هم نکره راتلل أولی وي، او که چې د مبتداء خبر جمله وي نو لابدی وي د عائد نه نو د دې حروف خبر چې جمله وي نو هم به لابدی وي د عائد نه، او هلته چې څنګه د قرينې په وخت کښې حذف د عائد جائز وو نو دلته به هم جائز وي. **سوال**: چې هر کله حکم د خبر د دې پشان د خبر د مبتداء شو نو د دواړو په مينځ کښې فرق څنګه راغلو؟ نو ماتن رحمه الله جواب وکړو چې " **و لا يجوز تقديم أخبارها** " حاصل د **جواب** دا دے: چې فرق په مينځ د دې دواړو کښې دا دے: چې هلته خبر په مبتداء باندې مقدم کيدے شو او د دې أخبار په أسمائو باندې نشي مقدم کيدے؛ ځکه دا په عمل کښې ضعيف دی يعنی دا حروف مشبه بالفعل؛ په مرتب کښې عمل کولے شي او په غير مرتب کښې نشي کولے. **قوله: إلا إذا كان ظرفًا** ... دا دفع د سوال ده، **سوال** دا دے: چې تا ووے: چې تقديم د أخبارو د دې حروفو په أسمائو باندې نه دے جائز، او زه به درته وښائم چې مقدم شوی به وي لکه " **إنّ في الدار زيدًا** " دا " **إنّ** " حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه " **في الدار** " په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم دے،

او " زيدًا " ئې اسم مؤخر دے نو تقديم د خبر شوے دے ؟ ؛ نو ماتنؒ جواب وكړو چې كله ظرف وى نو په هغه وخت كښې ئې تقديم جائز دے ، بيا كه چرته اسم نكره وو نو تقديم واجب دے لكه «وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا»[1] او كه معرفه وو نو بيا جائز دے لكه ﴿ إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ (٢٥) ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴾ [الغاشية: ٢٥، ٢٦] اوس دا ولې جائز دے نو ؛ " لمجال التوسع في الظروف " د وجې د پراختيا نه په ظروف كښې يعني مقصد دا دے : چې د ظروف نه خلاصے نشته توسع ده پكښې ؛ ځكه ظرف يا زمان وى ، او يا مكان وى او خومره أشياء ممكنات چې دى نو دا هم په زمان او مكان كښې دى نو دا په منزله د محارم دى ، او د محارم د پاره جائز وى هغه څه چې هغه غير محارم لره نه وى جائز نو د ظروف د پاره به هم هغه څه جائز وى چې د نورو د پاره نه وى جائز .

فصل اِسْمُ كَانَ وَ أَخَوَاتِهَا : وَ هِيَ صَارَ ، وَ أَصْبَحَ ، وَ أَمْسَى ، وَ أَضْحَى ، وَ ظَلَّ ، وَ بَاتَ ، وَ رَاحَ ، وَ آضَ ، وَ عَادَ ، وَ غَدَا ، وَ مَازَالَ ، وَ مَابَرِحَ ، وَ مَافَتِئَ ، وَ مَاانْفَكَّ ، وَ مَادَامَ ، وَ لَيْسَ . فَهٰذِهِ الْأَفْعَالُ تَدْخُلُ أَيْضًا عَلَى الْمُبْتَدَأِ ، وَ الْخَبَرِ فَتَرْفَعُ الْمُبْتَدَأَ ، وَ يُسَمَّى اِسْمَ كَانَ وَ تَنْصِبُ الْخَبَرَ ، وَ يُسَمَّى خَبَرَ كَانَ ، فَاِسْمُ كَانَ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهَا نَحْوُ : " كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا " .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د اسم د كان او أخوات د كان كښې ، او دا أخوات صار ، أصبح ، أمسى ، أضحى ، ظل ، بات ، راح ، آض ، عاد ، غدا ، مازال ، مابرح ، مافتئ ، ماانفك ، مادام ، او ليس دى ، پس دا أفعال هم داخليږى په مبتداء او خبر ، پس رفع وركوى مبتداء لره او ديته اسم د كان وائى ، او نصب وركوى خبر لره ، او ديته خبر د كان وائى ، پس اسم د كان مسند اليه دے پس د دخول د دې أفعال نه لكه "كان زيد قائما" .

تشريح : قوله : **فصل اسم كان و أخوتها ...**

اسم كان و أخواتها

هر كله چې فارغ شو ماتنؒ د پنځم قسم د مرفوعات نه نو شروع ئې وكړه په شپږم قسم د مرفوعات باندې چې هغه اسم د كان او د أمثال د هغې دے ، او ديته أفعال ناقصه هم وائى ، دا أفعال هم داخليږى په مبتداء او خبر باندې ، او مبتداء لره رفع وركوى او مسنداليه ئې گرځوى ، او خبر لره نصب وركوى او مسند ئې گرځوى . سوال : "هداية النحو" خو مأخوذ ده د "كافيه"

[1] تفسير السمرقندي - بحر العلوم (٢/ ٥٧١)

نه ، او په "كافيه" كښې خو دا قسم د مرفوعات مستقل نه دے ذكر ، بلكه دا ئ داخل كړے دے په فاعل كښې نو دلته ماتنﷺ ولې مستقلًا ذكر كړو ؟ **جواب** : دا دے : چې دې أفعال لره دوه حيثيته دی : ۱ـ يو حيثيت ورلره دا دے : چې دا داخليږی په مبتداء او خبر ، او مبتداء لره رفع وركوی او هغه بمنزلة فاعل وی ، او خبر لره نصب وركوی او هغه ورلره بمنزلة مفعول وی ۲ـ او دويم حيثيت ئ دا دے : چې دا أفعال دی خو د عامو أفعالو پشان نه دی ، بلكه ناقص دی ؛ ځكه تامه فقط په فاعل تاميږی (يعني چې فاعل ئ ذكر شی نو مسند او مسند اليه موجود شی جمله پوره شی) ، او دا صرف په اسم نه تاميږی ، بلكه خبر ته محتاج وی ، نو صاحب د "كافيه" اول جهت ته نظر كړے دے نو دا ئ په فاعل كښې داخل كړے دے مستقل ئ نه دے ذكر كړے ، او صاحب د "هداية النحو" دويم جهت ته نظر كړے دے او دا ئ مستقل ذكر كړی دی .

قوله : و هي صار و أصبح و أمسى ... او دا وولس أفعال دی لكه دې ماتنﷺ ذكركړی دی[1].

قوله : فهذه الأفعال تدخل على المبتدأ و الخبر أيضًا ... غرض د ماتنﷺ په دې عبارت سره مدخول د دې أفعال ذكر كوی، دا أفعال هم په مبتداء او خبر داخليږی ، او " **أيضًا** " ئ چې ووے : نو د أفعال ناقصه تشبيه ئ وركړه د حروف مشبه بالفعل سره لكه ځنګه چې هغه په مبتداء او خبر باندې داخليږی نو دا هم په مبتداء او خبر باندې داخليږی . **سوال** : چې هر كله دا پشان د حروف مشبه بالفعل شول نو د هغې سره به ئ يوځائ ذكر كړی وے كنه جدا ئ ولې ذكر كړل ؟

جواب : " **فترفع المبتدأ و يسمّى إسم كان و تنصب الخبر و يسمّى خبر كان** ... حاصل د جواب دا دے : چې مدخول د دواړو يو دے چې مبتداء او خبر دی خو په عمل كښې ئ فرق شته دے هغه اسم لره نصب وركوی او خبر لره رفع وركوی او دا د هغې بالعكس دی .

قوله : فاسم كان... غرض د ماتنﷺ د دې عبارت نه تعريف د دې قسم مرفوع كوی نو وائی: پس اسم د " **كان** " به مسند اليه وی پس د داخليدو د هر واحد د دې أفعال نه . " **فاسم كان هو المسند اليه** " چې ووے : نو ټول مرفوعات چې مسنداليه وی هغه پكښې داخل شو . او " **بعد دخولها** " ئ چې ووے : نو باقی ټول مرفوعات ترې خارج شو سوا د دې نه . **سوال** : چې مبتداء خو دې د داخليدو نه مخكښې هم مسنداليه وی نو دا خو لازم شو كون د اسم واحد دوه ځله مسنداليه او دا خو نه ده صحيح ؟ **جواب** : هر كله چې پرې دا أفعال داخل شی نو هغه مخكښې مسنداليه كيدل ترې ختم كړی او نوے مسنداليه پكښې پيدا كړی . **سوال** : ته وائی : چې دا

---

(١) صاحب د كافيه اتلس (١٨) ذكر كړی دی ، او ملاجامی څلورويشت (٢٤) ذكر كړی دی او عبد القاهر جرجانی ديارلس (١٣) ذكر كړی دی .

به مسنداليه وی پس د دخول د دې نه نو چې دا ټول أفعال ناقصه په يو اسم باندې داخل شی نو هله به مسند اليه ګرځی ، او که يو يو پرې داخل شی نو نه به ګرځی ، حالانکه داسې خو نه ده ، بلکه که يو يو ورباندې داخل شی نو هم مسنداليه وی ؟ **جواب** : دا " **هاء** " ضمير دې تولو ته راجع دے په تاويل د کل واحد سره ؛ نو څکه مونث معنی داسې وکړه چې پس د داخليدو د هر واحد د دې نه . **سوال** : چې هر واحد ترې مراد دے نو بيا ورته اسم د " **کان** " ولې وائی ، اسم د بل يو فعل ورته ولې نه وائی " **کان** " ئ ولې خاص کړو ؟ **جواب** : " **کان** " پکښې مشهور دے او کثير الاستعمال دے ؛ نو څکه ئ تسميه د کل په اسم د دغه جزء سره کيخوده مثال لکه "**کان زيد قائما**" . **ترکيب** ئ دا دے : "**کان** " فعل دے د أفعال ناقصه نه اسم مرفوع خبر منصوب غواړی ، نو " **زيد** " ورلره اسم ، او " **قائما** " ئ خبر دے .

وَيَجُوْزُ فِي الْكُلِّ تَقْدِيْمُ أَخْبَارِهَا عَلَى أَسْمَائِهَا نَحْوُ : " كَانَ قَائِمًا زَيْدٌ " ، وَ عَلَى نَفْسِ الْأَفْعَالِ أَيْضًا فِي التِّسْعَةِ الْأُوَلِ نَحْوُ : "قَائِمًا كَانَ زَيْدٌ" ، وَ لَا يَجُوْزُ ذٰلِکَ فِيْ مَا فِيْ أَوَّلِه " مَا " فَلَا يُقَالُ : " قَائِمًا مَازَالَ زَيْدٌ " وَ فِيْ "لَيْسَ" خِلَافٌ، وَ بَاقِي الْكَلَامِ فِيْ هٰذِهِ الْأَفْعَالِ يَجِيْئُ فِي الْقِسْمِ الثَّانِيْ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى.

ترجمه : او جائز دے په دې ټولو کښې تقديم د أخبارو د دې په أسماؤ د دې باندې لکه " **کان قائما زيد** " ، او تقديم ئ په نفس أفعال هم جائز دے په دغه نهه أولنو کښې لکه " **قائما کان زيد** " ، او دا نه دے جائز په هغې کښې چې په اول کښې ئ " **ما** " راشی نو داسې نشې وئيلے چې " **قائما مازال زيد** " ، او په " **ليس** " کښې خلاف دے (چې په تشريح کښې به راشی) ، او باقی تفصيل او کلام به په دې أفعال کښې راشی په قسم ثانی کښې ، ان شاء الله تعالی .

تشريح : قوله : **ويجوز فی الکل تقديم أخبارها علی أسمائها** ... غرض د ماتن رحمه الله د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې هر کله دا أفعال پشان د حروف مشبه بالفعل شول نو هلته خو تقديم د أخبار په أسماء نه رو جائز نو دلته به هم نه وی جائز ، نو دے **جواب** کوی : چې فرق پکښې شته په دې حکم کښې د هغې پشان نه دی ، او دا تقديم ؛ څکه جائز دے چې دا أفعال دی قوی العمل دی ، عمل کولے شی په مقدم او غير مقدم (مرتب او غير مرتب) دواړو کښې . مثال لکه "**کان قائما زيد**" ، دلته دا " **قائما** " خبر مقدم دے ، او " **زيد** " ئ اسم مؤخر دے . قوله : **و علی نفس الأفعال أيضًا** ... او جائز دے تقديم د دې په نفس أفعال باندې

هم خو په تولو كښې نه ، بلكه په يولس أولنو[1] كښې لكه "قائما كان زيد" شو نو " قائما " خبر مقدم " كان " فعل د أفعال ناقصه نه ، او " زيد " ئې اسم دے .

قوله : ولا يجوز ذلک فی ما فی أوّله ما ... او دا نه دے جائز په هغې كښې چې په اول كښې ئې " ما " راشي ؛ ځكه " ما " يا نافيه وى ، او يا مصدريه وى او دا هر يو تقاضه د صدارت كوى په كلام كښې او چې خبر وړاندې مقدم شي نو صدارت ئې فوت كيږي او دويم دا چې ما مصدريه ته موصول حرفي وائى په هغې باندې خو دا أفعال نشي مقدم كيدے نو معمول د دې وړاندې په طريقه أولى سره نشي مقدم كيدے نو داسې نشي وئيلے چې " قائما مازال زيد " .

قوله : و فی ليس خلاف ... او په " ليس " كښې خلاف دے : بعض وائى : چې تقديم د خبر وړاندې جائز دے ؛ ځكه اول كښې ئې " ما " نشته . او بعض (لكه سيبويه) وائى : چې تقديم د خبر وړاندې نه دے جائز ؛ ځكه لفظا اگر چې " ما " نشته ، ليكن معنى كښې ئې نفى ده پښان د " ما " .

قوله : و سيجيئ فی القسم الثانی ... او د دې زيات تفصيل به په قسم ثانى كښې راشى چې بحث د فعل دے . ان شاء الله تعالى .

فَصْلٌ اِسْمُ مَا وَ لَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ : وَ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهِمَا نَحْوُ : " مَا زَيْدٌ قَائِمًا " ، وَ " لَا رَجُلٌ أَفْضَلَ مِنْک " ، وَ يَخْتَصُّ " لَا " بِالنَّكِرَةِ ، وَ يَعُمُّ " مَا " بِالْمَعْرِفَةِ وَ النَّكِرَةِ .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د ما و لا المشبهتين بليس كښې ، او دا مسنداليه وى پس د دخول د دې ما او لا نه ، لكه "ما زيد قائما" ، او "لا رجل أفضل منک" ، او خاص ده كلمه د " لا " په نكره پورې ، او كلمه د " ما " عامه ده معرفه اونكره ته .

تشريح : قوله : فصل اسم ما و لا المشبهتين بليس ...

اسم ما ولا المشبهتين بليس

هر كله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د شپږم قسم د مرفوعات نه نو شروع ئې وكړه په ووم قسم د مرفوعات كښې چې هغه اسم د " ما " او " لا " دے هغه " ما " او " لا " چې مشابه وى د " ليس " سره ، او دا " ما " او " لا " هم داخليږي په مبتداء او خبر باندې ، مبتداء له رفع وركوى

---

(1) دلته په كتاب كښې دا " فی التسعة الأول " د كاتب نه غلطى شوې ده ؛ ځكه دا اولنى أفعال يولس دى چې د دې د أخبارو تقديم په نفس أفعال هم جائز دے ، نهه نه دى .

او هغې ته اسم د "ما" او "لا" وائي ، او خبر لره نصب ورکوي او هغې ته خبر د "ما" او "لا" وائي . خو دا ما او لا چې عمل کوي نو دا د وجې د مشابهت د دې دواړو نه د " **ليس** " سره هم لفظًا او هم معنًا . لفظًا داسې چې " **ليس** " اول حرف مفتوح دويم ساکن ، او د " **ما** " او " **لا** " هم اول حرف مفتوح او دويم ساکن دے او معنًا ئ په نفی کښې دے درې واړه د نفی د پاره راځي ؛ ځکه ورته ما و لا المشبهتين بليس وائي . نو " **ليس** " خو اسم لره رفع او خبر لره نصب ورکوي نو دا خو لازم شو مساوات د فرع د أصل سره ؟

جواب : مساوات د فرع د أصل سره ناروا نه دے ، بلکه ناروا زيادت د فرع دے د أصل نه او مساوات ورسره جائز دے خو خلاف أولی دے .

پس د دينــــه : په عمل د " **ما او لا** " کښې اختلاف دے : دوه مذهبه دی پکښې ، يو مذهب د حجازين دے ، او بل مذهب د بنو تميم دے په نزد د بنو تميم باندې "**ما**" او "**لا**" عمل نه کوي او په نزد د حجازين باندې عمل کوي او مصنف رحمه الله خپل کلام بناء کړے دے په مذهب د حجازين باندې . د بنو تميم دوه دلائل دی : ١ـ عقلی ٢ـ نقلی . ١ـ دليل **عقلی** ئ دا دے : چې د عامل د پاره اتحاد د نوع د معمول ضروری دے يعني دا به په يوه نوع معمول داخليږی او د "ما" او "لا" د پاره اتحاد د نوع د معمول نشته ، بلکه دا کله داخليږی په فعل او کله په اسم . ٢ـ او دليل نقلی ئ دا قول د شاعر دے ، شعر :

و مهفهفٍ كالغصن قلت له انتسب «» فأجاب ما قتل المحب حرام

ترجمه : هغه نرئ ملا والا پشان د خانګې ما ورته ووے : خپل نسب بيان کړه نو جواب ئ وکړو چې قتل د عاشق حرام نه دے .

محل الاستشهاد : دلته " **ما** " راغلے دے ، او " **قتل المحب** " ئ اسم دے او " **حرام** " ئ خبر دے ، او دواړه مرفوع دی نو معلومه شوه چې دا عمل نه کوي که عمل ئ کولے نو بيا " **حرامًا** " منصوب وئيل پکار وو .

او د حجازين هم دوه دلائل دی : ١ـ عقلی ٢ـ نقلی . **عقلی** دليل ئ دا دے : چې " **ما او لا** " مشابه دی د " **ليس** " سره ، او " **ليس** " عمل کوي نو دا به هم عمل کوي . او نقلی دليل ئ دا أيت دے ﴿**مَا هَٰذَا بَشَرًا**﴾ [يوسف:٣١] دلته " **ما** " راغلے دے او " **هذا** " ئ اسم دے ، او " **بشرًا** " ئ خبر دے ، او دا منصوب دے ، معلومه شوه چې دا عمل کوي . او د هغوی د دلائل نه جواب کوي : ١ـ په عامل کښې اتحاد د نوع د معمول ضروری نه دے دا تاسو هسې د ځان نه وائی . ٢ـ او که ومنم چې ضروری دے نو دلته شته دے ؛ ځکه په فعل چې داخليږی هغه جدا " **ما او لا** " دی ، مشابه " **بليس** " نه دی نو نوع د معمول يوه شوه ، دا په تاسو هسې خبط راغلے دے . او هر چې دا **شعر** دے نو په دې هم ستاسو دعوی نه ثابتيږی ؛ ځکه داستاسو

خپل کورنے شعر دے، یعني دا شاعر د بنو تمیم دے او هغه د خپل مسلک مطابق شعر وئیلے دے، تاسو مونږ ته د یو ثالث شعر، یا قول وښائی چې " ما او لا " لره ئې عمل نه وی ورکړے، خو چونکه مختار په نزد د ماتن ﷫ باندې مسلک د حجازین وو؛ نو ځکه وائی : " **خبر ما و لا المشبهتین بلیس هو المسند الیه** " په دې " **هو المسند الیه** " سره تعریف کوی، او دا په منزله د جنس دے ټول هغه مرفوعات پکښې داخل شو چې هغه مسندالیه وی، او " **بعد دخولها** " سره ترې هغه ټول خارج شو مثال لکه " **ما زید قائما** " **ترکیب** : " **ما** " مشابه بلیس اسم مرفوع خبر منصوب غواړی " **زید** " ئې اسم، او " **قائما** " ئې خبر. " **و لا رجل أفضل منک** " دلته دا " **واو** " حرف عطف " **لا** " مشابه بلیس " **رجل** " ئې اسم شو " **أفضل منک** " ئې خبر شو.

قوله : **و یختص لا بالنکرة و یعمّ ما بالمعرفة و النکرة** ... غرض د ماتن ﷫ د دې عبارت نه فرق ذکر کول دی په مینځ د " **ما او لا** " کښې، نو په دې کښې چند فرقونه دی : ۱۔ فرق دا دے : چې " **ما** " عام دے په نکره او معرفه دواړو باندې داخلیږی او " **لا** " خاص دے په نکره پورې. ۲۔ دویم دا چې " **لا** " د نفی مطلق د پاره راځی، او " **ما** " د نفی حالی د پاره راځی. ۳۔ دریم دا چې په خبر د " **ما** " کښې " **لا** " راتلے شی، او په خبر د " **لا** " کښې " **ما** " نشی راتلے، نو مشابهت د " **ما** " د " **لیس** " سره قوی دے؛ ځکه " **لیس** " هم د نفی د حال د پاره راځی، او " **ما** " هم، او " **لیس** " هم په معرفه او نکره دواړو داخلیږی او " **ما** " هم په معرفه او نکره دواړو داخلیږی. او د " **لیس** " په خبر کښې هم " **لا** " راتلے شی، او د " **ما** " په خبر کښې هم راتلے شی، په خلاف د " **لا** " نه چې د هغې مشابهت د " **لیس** " سره قوی نه دے، نو عقل دا تقاضه کوی چې " **لا** " دې غیر عامله شی خو چونکه د دې عمل په نکره کښې نقل دے؛ نو لهذا خاص به وی عمل د دې په نکره پورې؛ ځکه چې کله یو شے خلاف القیاس ثابت شی نو خپل مورد پورې خاص وی او مورد ئې نکره ده.

سوال : چې کله دخول د " **لا** " خاص دے په نکره پورې نو بیا خو د دې دخول په مبتداء باندې نه صحیح کیږی؛ ځکه مبتداء خو معرفه وی ؟

جواب : دا اسم به نکره وی پخوا د داخلیدو د " **لا** " نه، او چې " **لا** " پرې داخل شی نو بیا نکره محضه نه وی، بلکه نکره مخصصه ګرځی په وقوع د دې سره په سیاق د نفی کښې لکه دا مخکښې تیر شوی وو چې نکره په سیاق د نفی کښې واقع شی نو خصوص راولی.

فَصلٌ خَبَرُ لَا لِنَفْيِ الْجِنْسِ : وَ هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا نَحْوُ : " لَا رَجُلَ قَائِمٌ " .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د خبر د لا لنفي الجنس کښې ، او دا مسند وی پس د دخول د دې " **لا** " نه لکه " لا رجل قائم ".

تشريح : قوله : فصل خبر لا لنفي الجنس ...

خبر لا التي لنفي الجنس

هر کله چې فارغ شو مصنف‌ د دووم قسم د مرفوعات نه نو شروع ئ وکړه په أتم قسم د مرفوعات کښې ، نو أتم قسم د مرفوعات نه خبر د " **لا** " دے داسې " **لا** " چې د نفی د صفت د جنس وی . قوله : **و هو المسند بعد دخولها** ... غرض د ماتن‌ تعريف کول دی د دې ، نو دا " **هو المسند** " په منزله د جنس دے په دې سره ښکښې هغه ټول مرفوعات داخل شو چې هغه مسند وی لکه خبر د مبتداء ، قسم ثاني د مبتداء ، خبر د إنّ . او " **بعد دخولها** " ئ چې ووے : نو هغه ټول ترې خارج شو ؛ ځکه هغه مسند وی خو پس د دخول د " **لا لنفي الجنس** " نه نوی. مثال لکه " **لا رجل قائم** ".

ترکيب ئ دا دے : " **لا** " لنفي الجنس " **رجل** " اسم د " **لا** " او " **قائم** " خبر د " **لا** " . بيا دلته مونږ ووے : چې د دې نه مراد هغه " **لا** " دے چې راځی د پاره د نفی د صفت د جنس ، په دې سره مونږ دفع د اعتراض وکړه ، **اعتراض** دا دے : چې تا ووے : خبر د لا لنفي الجنس ، يعني خبر د هغه " **لا** " چې راځی د پاره د نفی د جنس ، او مثال دې ذکر کړو " **لارجل قائم** " دلته خو نفی د جنس نه ده شوې ، بلکه نفی د صفت شوې ده ؟ **جواب** : وشو چې دا په حذف د مضاف سره دے أصل کښې " **لا لنفي صفة الجنس** " دے ، نو مضاف إليه حذف شوے دے ، او مضاف قائم شوے دے په ځائ د مضاف اليه باندې .

بله خبره دا ده : چې " **لا** " چې راځی نو دا أکثر داخليږی په أفعال عامّه باندې چې کون ، وجود ، ثبوت ، او حصول دی ، او په هغې کښې نفی د جنس کيږی ، او د وجې د تسميه د پاره په يوځائ کښې وجود هم کافی دے ، استغراق په وجوه د تسميه کښې ضروری نه دے يعني جامعيت او مانعيت شرط نه وی په وجوه د تسميه کښې . بيا دا لا لنفي الجنس چې عمل کوی نو د وجې د دې نه چې دا مشابه دی د " **إنّ او أنّ** " سره په تاکيد کښې هغه " **إنّ او أنّ** " چې د حروف مشبه بالفعل نه دی ، يعني " **إنّ او أنّ** " هم د پاره د تاکيد راځی ، او لا لنفي الجنس هم د تاکيد د پاره راځی ، البته " **إنّ او أنّ** " د تاکيد د اثبات د پاره راځی ، او لا لنفي الجنس د تاکيد د نفی د پاره راځی نو دا د قبيلې د حمل النظير على النظير نه دے ، يا داسې چې د حمل النقيض على النقيض نه دے نو هغوی چې څنګه عمل کوی نو دا به هم هغسې عمل کوی . بيا

دا " لا " چې داخل شي په مبتداء او خبر باندې نو په دې خبره اتفاق دے چې مبتداء لره نصب ورکوی خو په دې کښې اختلاف دے چې آیا خبر لره رفع ورکوی او کنه ؟ نو مذهب د مبرد ، ذی مخشری ، او أخفش دا دے : چې دا " لا " خبر لره رفع ورکوی ، او مذهب د سیبویه دا دے : چې دې خبر لره رفع دا " لا " نه ورکوی ، بلکه " لا " سره د اسم نه مبتداء واقع کیږی او دا خبر مرفوع وی نو بناء بر خبریت د پاره د مبتداء .

قد تم بحث المرفوعات بعون الله تعالى
ويتلوه بحث المنصوبات .

****



[المقصد الثّاني في المنصوبات]

مشتمل على ما سيأتي:

- بحث المفعول به
- بحث المنادى
- بحث المفعول فيه
- بحث المفعول له
- بحث المفعول معه
- بحث الحال
- بحث التّمييز
- بحث المستثنى
- بحث خبر كان واخواتها
- بحث اسم ان واخواتها
- بحث المنصوب بلا التى لنفى الجنس

المَقْصَدُ الثَّانِي فِي المَنْصُوبَاتِ : الْأَسْمَاءُ الْمَنْصُوْبَةُ اِثْنَا عَشَرَ قِسْمًا : الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ ، وَ بِهِ ، وَ فِيْهِ ، وَلَهُ ، وَ مَعَهُ ، وَالْحَالُ ، وَ التَّمْيِيْزُ ، وَالْمُسْتَثْنَى ، وَاِسْمُ اِنَّ وَ أَخَوَاتِهَا ، وَ خَبَرُ كَانَ وَ أَخَوَاتِهَا ، وَ الْمَنْصُوْبُ بِلَا الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ ، وَ خَبَرُ مَا وَ لَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ .

ترجمه : مقصد ثانی په بیان د منصوبات کښې دے ، أسماء منصوبه دولس قسمه دی : مفعول مطلق ، به ، فیه ، له ، معه ، حال ، تمییز ، مستثنی ، اسم انّ و أخواتها ، خبر کان و أخواتها ، منصوب بلا التی لنفی الجنس ، او خبر د ما ولا المشبهتین بلیس .

تشریح : قوله : المقصد الثانی فی المنصوبات

المقصد الثّانی فی المنصوبات

هر کله چې فارغ شو ماتنؒ د بیانولو د مقصد اول نه نو شروع ئ وکړه په بیانولو د مقصد ثانی باندې چې منصوبات دی ، او منصوبات ئ مؤخر کړه د مرفوعات نه ؛ ځکه هغه عمده وو او دا فضله دی او عمده أولی بالتقدیم وی او په مجرورات ئ مقدم کړو ؛ ځکه چې دا مشتمل دی په حرکت خفیف او هغه مشتمل دے په حرکت ثقیل ، او خفیف أصل وی د ثقیل نه او أصل أولی بالتقدیم وی . دویمه وجه دا ده : چې منصوبات کثیر دی او مجرورات قلیل دی او " **العزة للتکاثر** " نو کثرة أصل دے د قلت نه ، او أصل أولی بالتقدیم وی بیا په " **المقصد** " او " **المنصوبات** " باندې یو خو اعتراضات دی چې هغه مخکښې په " **المقصد الأول** " کښې تیر شوی دی فلا حاجة الی ذکرها ههنا . منصوبات جمع د منصوب ده ، په لغت کښې ودرولے شوی ته وائی، او په اصطلاح کښې کافیه والا تعریف کړے دے " **هو ما شتمل علی علم المفعولیة** " .

قوله : **الأسماء المنصوبة اثنا عشر قسمًا** ... منصوبات ټول دولس دی . وجه د حصر پکښې دا ده : چې د دې منصوباتو عامل به خالی نه وی یا به فعل شبه فعل وی او یا به حرف شبه وی ، که عامل ئ فعل شبه فعل وو نو دا معمول به خالی نه وی یا به د مفاعیل نه وی او یا به د ملحقات د مفاعیل نه وی ، که د مفاعیل نه وو نو بیا به خالی نه وی یا به جزء د دغه فعل شبه فعل وی ، او یا به نه وی ، که وو نو دا مفعول مطلق ، او که نه وو نو دا فعل شبه فعل به خالی نه وی ، یا به په دې باندې واقع وی او یا به په دې کښې واقع وی او یا به د دې سره واقع وی او یا به د دې د پاره واقع وی ، که په دې باندې واقع وو نو دا مفعول به او که په دې کښې واقع وو نو مفعول فیه ، او که د دې سره واقع وو نو مفعول معه ، او که د دې د پاره واقع وو نو دا مفعول له ، او که چرته د ملحقات د مفاعیل نه وو نو بیا به خالی نه وی یا به مبیّن وی او یا به

نه وي ، كه مبَيَّن نه وو نو دا مستثنى ، او كه مبَيَّن وو نو بيا به خالي نه وي يا به مبَيَّن د ذات وي او يا به مبَيَّن د صفت وي ، كه مبَيَّن د ذات وو نو دا تمييز او كه مبَيَّن د صفت وو نو حال ، او كه عامل د دې حرف شبه حرف وو نو بيا به خالي نه وي يا به په كلام موجب كښې وي او يا به په كلام غير موجب كښې وي ، كه په كلام موجب كښې وو نو دا معمول به خالي نه وي ، يا به مسند اليه وي او يا به مسند وي ، كه مسند اليه وو نو دا اسم د " انّ " او د أخوات د دې ، او كه مسند وو نو دا خبر د " كان " او د أخوات د هغه ، او كه په كلام غير موجب كښې وو نو دا معمول به خالي نه وي يا به مسند وي او يا به مسند اليه وي كه مسند وو نو خبر د " **ما ولا المشبهتين بليس** " او كه مسند اليه وو نو اسم د " **لا لنفى الجنس** " .

فصل اَلْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ : وَهُوَ مَصْدَرٌ بِمَعْنَى فِعْلٍ مَذْكُوْرٍ قَبْلَهُ ، وَيُذْكَرُ لِلتَّاكِيْدِ كَـ " ضَرَبْتُ ضَرْبًا " ، أَوْ لِبَيَانِ النَّوْعِ نَحْوُ : " جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِيْ " ، أَوْ لِبَيَانِ الْعَدَدِ كَـ " جَلَسْتُ جَلْسَةً ، أَوْ جَلْسَتَيْنِ ، أَوْ جَلَسَاتٍ " .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د مفعول مطلق كښې ، او دا مصدر دے په معنى د فعل مذكور سره چې مخكښې د دې نه وي ، او دا مفعول مطلق كله د پاره د بيان د تاكيد وي لكه "**ضربت ضربًا**" ، او كله د پاره د بيان د نوع لكه "**جلست جلسة القاري**" ، او كله د پاره د بيان د عدد لكه "**جلست جلسة او جلستين او جلسات**".

تشريح : قوله : **المفعول المطلق و هو مصدر** ... هر كله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د اجمال د منصوبات نه نو شروع ئې وكړه په تفصيل كښې ؛ ځكه دا قانون دے : چې تفصيل بعد الاجمال أوقع فى الذهن وي ، او په تفصيل كښې ئې مفاعيل مقدم كړل ؛ ځكه دا أصل دي او دا نور فروع دي ، او أصل أولى بالتقديم وي ، بيا په مفاعيل كښې ئې مفعول مطلق مقدم كړو په دې نورو باندې ؛ ځكه په اجمال كښې مقدم وو نو تفصيل كښې ئې هم مقدم كړو چې تفصيل موافق د اجمال شي ، اوس اجمال كښې ولې مقدم وو ؟ نو ځكه چې دا مطلق دے څه قيد پكښې نشته په خلاف د دې باق چې هغه مقيد دي په قيد د يو حرف سره چې " **باء** ، يا **فى** ، يا **لام** ، او **واو بمعنى مع** " دے . **بله وجه دا ده** : چې مفعول مطلق ئې ځكه مقدم كړو چې دا جزء دے د فعل نه پشان د فاعل ، نو فاعل ئې اول ذكر كړے وو په مرفوعاتو كښې نو دا ئې هم اول ذكر كړو په منصوباتو كښې.

قوله : **و هو مصدر بمعنى فعل مذكور قبله** ... غرض د ماتن رحمه الله تعريف كول دي د مفعول مطلق . معنى ئې دا ده : چې دا مفعول مطلق به يو مصدر وي عام د دې نه كه اصالةً وي او كه

نيابةً وي که حقيقتًا وي او که حکمًا وي خو چې په معنی د فعل مذکور سره وي او هغه د دې نه مخکښې ذکر وي ، او هغه بيا عام دے که فعل وي او که شبه فعل وي ، او دا مصدر به په معنی د فعل مذکور سره وي د قبيلې د اشتمال د کل نه په جزء باندې ، او د دې مصدر نه چې مخکښې کوم فعل يا شبه فعل وي دا عام دے که حقيقتًا وي او که حکمًا وي . " **مصدر** " ئې چې ووے : دا په منزله د د جنس دے ټول مصادر پکښې داخل شو " **بمعنی فعل مذکور** " ئې چې ووے : نو په دې سره ترې هغه ټول مصادر خارج شو چې په معنی د فعل مذکور سره نه وي لکه "**ضربته تاديبًا**" دلته "**تاديبًا**" مصدر دے خو بمعنی فعل مذکور نه دے . " **قبله** " ئې چې ووے : نو په دې سره هغه مصادر خارج شو چې فعل ترې مخکښې نه وي ، بلکه دا د فعل نه مخکښې وي لکه " **الضرب واقع علی زيد** " دلته دا " **الضرب** " مصدر دے خو دا د شبه فعل نه مخکښې دے ديته مفعول مطلق نه وائی . بيا مونږ دا قيد ولکولو چې مصدر عام دے که اصالةً وي او که نيابةً وي په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا چې د مفعول مطلق کوم تعريف وکړو دا نه دے صحيح ؛ ځکه دا جامع نه دے او کوم تعريف چې جامع نه وي هغه صحيح نه وي نو دا صحيح نه شو ، دا خبره خو ظاهره ده چې کوم تعريف جامع نه وي هغه صحيح نه وي ؛ ځکه په تعريف کښې جامعيت شرط دے ، اوس دا ولې جامع نه دے ؛ نو ځکه چې خارجيږی د دې نه " **خير مقدم** " ؛ ځکه چې ديته خلق مفعول مطلق وائی ، او دا خو مصدر نه دے ، بلکه اسم تفضيل دے ؟ **جواب** : وشو چې دا مصدر عام دے که اصالة وي او که نيابة وي نو دا اګرچې اصالةً نه دے ليکن نيابةً دے ؛ ځکه دا اګرچې اسم تفضيل دے خو قائم دے په مقام د مصدر باندې ؛ ځکه د. أصل کښې داسې وو چې "**قدمت قدومًا خير مقدم**" ، (ته راغکښې شوې په ښهٔ راتګکښې کيدو سره) نو " **قدمت** " فعل وو هغه حذف شو او " **قدومًا** " موصوف او " **خير مقدم**" ئې صفت وو نو موصوف حذف شو ، او صفت قائم شو په مقام د هغې باندې نو " **خير مقدم**" شو حاصل د معنی ئې دا دے : چې پخير راغلې . بيا مونږ ووے : چې دا مصدر عام دے که حقيقتًا وي او که حکمًا وي په دې سره دفع د بل اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې ستا دا تعريف د مفعول مطلق نه دے صحيح ؛ ځکه چې د دې نه خارجيږی " **اهلکه الله ويحةً** " دلته دې " **ويحةً** " ته خلق مفعول مطلق وائی ، حالانکه ستا دا تعريف ورته نه دے شامل ؛ ځکه تا ووے : چې مفعول مطلق به مصدر وي او " **ويحة** " اسم جامد دے مصدر نه دے ؟ نو **جواب** : وشو چې دا مصدر عام دے که حقيقتًا وي او که حکمًا وي نو " **ويحة** " اګرچې اسم جامد دے خو په حکم د مصدر کښې دے ؛ ځکه د دې معنی ده " **اهلاک** " ، او دا مصدر دے . بيا مونږ ووے : چې دا به په معنې د فعل مذکور سره وي په دې شان سره چې فعل مذکور مشتمل وي په دې باندې د قبيلې د اشتمال د

كل نه په جزء باندې ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا چې د مفعول مطلق كوم تعريف وكړو دا نه دے صحيح ؛ ځكه تا ووے : چې دا به مصدر وى او په معنى د فعل مذكور سره به وى نو "**ضربته ضربًا**" كښې خو دا نه صحيح كيږى چې دا "**ضربًا**" دې په معنى د فعل مذكور سره شى ؛ ځكه په فعل مذكور كښې خو درې أشياء دى : ۱ـ حدث . ۲ـ نسبت . ۳ـ زمان . او په "**ضربًا**" كښې د دغه أشياء مذكورۇ ثلاثۇ نه صرف يو شے دے چې حدث دے او دا نور پكښې نشته ، نو دا جزء شو د فعل مذكور نه په معنې د فعل مذكور سره خو نشو؟ **جواب** : وشو چې دا به په معنې د فعل مذكور سره وى په دې شان سره چې دغه فعل مذكور به مشتمل وى په دې باندې د قبيلې د اشتمال د كل نه په جزء باندې يعنې دا فعل مذكور به كل وى او دا به ترې يو جزء وى او دغه كل به په دې جزء باندې مشتمل وى ، او په "**ضربته ضربًا**" كښې هم دغسې ده . بيا مونږ ووے : چې دا فعل عام دے كه لفظًا وى او كه تقديرًا وى ، په دې سره دفع د بل اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا چې د مفعول مطلق كوم تعريف وكړو دا نه دے صحيح ؛ ځكه دا جامع نه دے خارج شو د دې نه ﴿**فَضَرْبَ الرِّقَابِ**﴾ [محمد:٤] ؛ ځكه دلته دا "**ضرب**" مصدر دے او مفعول مطلق دے او د دې نه مخكښې خو فعل نه دے مذكور ؟ نو **جواب** : وشو چې فعل عام دے كه لفظًا وى او كه تقديرًا وى دلته لفظًا نشته ليكن تقديرًا شته ؛ ځكه د دې معنى دا ده : چې "**فا ضربوا ضرب الرقاب**" . بيا مونږ دا قيد لګولے وو چې فعل وى او كه شبه فعل وى په دې سره دفع د بل اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې ستا تعريف صحيح نه دے ؛ ځكه "**و الذاكرين الله ذكرًا**" ترې خارج شو؛ ځكه "**ذكرًا**" مفعول مطلق دے او مخكښې ترې فعل نشته دے ؟ **جواب** : فعل وى او كه شبه فعل وى دلته مخكښې شبه فعل دے . قوله : **و يذكر للتاكيد** ... اوس د دې ځائ نه غرض د ماتن ﷺ أقسام د مفعول مطلق ذكر كول دى . نو يو قسم مفعول مطلق راځى د پاره د تاكيد يعنې مضبوطوى معنى د فعل مذكور لره مثال لكه "**ضربت ضربًا**" (ومې وهلو هغه سړې لره په وهلو سره) او مونږ چې دا معنى وكړه چې مضبوطوى معنى د فعل مذكور ، نو په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې ته وائې : چې مفعول مطلق د پاره د تاكيد راځى نو تاكيد خو دوه قسمه دے : ۱ـ لفظى . ۲ـ معنوى . نو تاكيد لفظى خو په تكرار د لفظ اول سره وى او هغه خو دلته نشته او تاكيد معنوى په خاصو الفاظو سره راځى چې "**كل**" ، "**أجمع**" وغيرهما دى او هغه هم دلته نشته ؟ نو **جواب** : وشو چې دلته د تاكيد دغه اصطلاحى معنى نه ده مراد ، بلكه د تاكيد لغوى معنى مراد ده چې مضبوطوى معنى د فعل مذكور لره ، او دلته هم "**ضربًا**" معنى د فعل مذكور مضبوطه كړې ده . قوله : **او لبيان النوع** ... او كله كله مفعول مطلق راځى د بيان د نوع د پاره يعنې د فعل مذكور هيئت بيانوى چې فعل مذكور به كوم

هيئت کښې واقع دے لکه "**جلست جلسة القاری**" دا "**جلسة**" په دې مقام کښې مفعول مطلق دے او د بیان د نوع د پاره دے .

قوله : **او لبیان العدد** ... او کله راځی د پاره د بیان د عدد یعنې د شمیر د پاره لکه "**جلست جلسة او جلستین او جلسات**" (کیناستم زه په یو ځل کیناستو سره ، یا په دوه ځل کیناستو سره ، او یا په ډیر ځل کیناستو سره) او فرق په مابین د د دې أقسام ثلاثو کښې دا دے : چې کوم مفعول مطلق د پاره د نوع وی نو هغه به همیشه مفرد وی ؛ ځکه دا وی د پاره د ماهیت د فعل او ماهیت د فعل کښې تعدد نه وی . او کوم چې د پاره د عدد او یا نوع وی نو دا به د مفرد سره مفرد وی ، او د تثنیه سره به تثنیه وی ، او د جمع سره به جمع وی . او په دې دواړو کښې فرق دا دے : چې کوم د پاره د بیان د نوع وی نو دا به په کسره د فاء سره وی لکه "**جِلسة**" او "**جِلسات**" .

وَ قَدْ يَكُوْنُ مِنْ غَيْرِ لَفْظِ الْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ نَحْوُ : " قَعَدْتُ جُلُوْسًا " ، وَ " أَنْبَتَ نَبَاتًا " ، وَ قَدْ يُحْذَفُ فِعْلُهُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا كَقَوْلِك : لِلْقَادِمِ " خَيْرَ مَقْدَمٍ " أَيْ : قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ ، وَ وُجُوْبًا سَمَاعًا نَحْوُ : " سَقْيًا " ، وَ " شُكْرًا " ، وَ " حَمْدًا " ، وَ " رَعْيًا " ، أَيْ : سَقَاك اللهُ سَقْيًا ، وَ شَكَرْتُك شُكْرًا ، وَ حَمِدْتُك حَمْدًا ، وَ رَعَاك اللهُ رَعْيًا .

ترجمه: او کله وی مفعول مطلق بغیر د لفظ د فعل مذکور نه لکه " **قعدتَ جلوسًا او أنبت نباتًا** " ، او کله فعل د دې حذف کیږی د وجې د قیام د قرینې نه جوازًا لکه دا قول ستا راتلونکی ته چې " **خیر مقدم** " یعنې : قدمت قدوما خیر مقدم ، او وجوبا حذف کیږی سماعًا لکه " **سقیًا** " ، " **شکرًا** " ، " **حمدًا** " ، " **رعیًا** " ، یعنې : سقاک الله سقیًا ، شرتک شکرًا ، حمدتک حمدًا ، او رعاک الله رعیًا .

تشریح : قوله : **وقد یکون من غیر لفظ الفعل المذکور** ... غرض د ماتن ﷬ د دې ځائ نه بیان د أحکام د مفعول مطلق دے ، د دې څلور أحکام ذکر کوی . اول حکم ئ دا دے : چې دا مفعول مطلق کله کله من لفظ الفعل المذکور راځی ، اوس دا صحیح دے او که نه ؟ نو په دې کښې یو څو صورتونه دی : ١ـ چې د مفعول مطلق او فعل مذکور لفظ ، معنی ، او باب درې واړه یو شان وی نو دا بالاتفاق جائز دے ، او مفعول مطلق دے لکه "**ضربته ضربًا**" . ٢ـ چې لفظ هم جدا وی او معنی ئ هم جدا وی نو دا بالاتفاق ناروا دے یعنې دا به مفعول مطلق نه وی لکه "**ضربته تادیبًا**" (دا مفعول له دے) . ٣ـ چې الفاظ جدا جدا وی او معنی یوه وی لکه "**قعدتَ جلوسًا**" . ٤ـ چې د ألفاظو ماده یوه وی خو باب مختلف وی لکه "**أنبت الله نباتًا**" ، دلته " **أنبت** " باب افعال دے او دا مزید دی ، او " **نباتًا** " مصدر د مجردو نه دے نو په دې دوه صورتونو کښې اختلاف دے په نزد د مبرد او أخفش باندې مفعول مطلق واقع کیږی ، او په

نزد د سيبويه باندې نه واقع کيږي ، او مختار په نزد د ماتنﷺ باندې مذهب د مبرد او د أخفش دی ؛ نو ځکه ئې ووے : چې " و قد يكون من غير لفظ الفعل المذكور ".

قوله : **و قد يحذف فعله لقيام قرينة جوازًا** ... دا دويم حکم ذکر کوی چې کله کله د مفعول مطلق نه فعل حذف کيږي او دا بيا کله جوازي وی او کله وجوبي وی . چې کله فقط قرينه موجود وی او سد مسد نه وی ؛ نو بيا جوازي وی او چې دواړه موجود وی ؛ نو بيا وجوبي وی .

او دويم غرض د ماتنﷺ په دې عبارت سره دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې تا په تعريف د مفعول مطلق کښې وئيلې وو چې دا به مصدر وی او په معنی د فعل مذکور سره به وی او زه به درته مفعول مطلق وښائم چې فعل به ئې نه وی مذکور لکه " **خير مقدم** " ديته خلق مفعول مطلق وائي او فعل نه دے مذکور ؟ **جواب** : ماتنﷺ جواب وکړو چې کله کله فعل حذف کولے شی نو دلته هم حذف شوے دے أصل کښې داسې وو چې " **قدمت قدومًا خير مقدم** ". **سوال** : فعل خو عامل دے او حذف د عامل خو جائز نه دے ؟

جواب : **لقيام قرينة** ... يعنې حذف د عامل هله جائز نه وی چې قرينه نه وی په حذف باندې او دلته قرينه شته . اوس قرينه څه ته وائي ؟ نو قرينه په لغت کښې علامې ته وائي ، او په اصطلاح کښې " **ما يدل على تعيين الشيئ** . قوله : **جوازًا** ... دا حذف به جوازي وی لکه دا قول ستا شو راتلونکی ته . قوله : **خير مقدم** ... پخير راغلې ، دلته دا خير مقدم مفعول مطلق دے په أصل کښې داسې وو چې " **قدمت قدوما خير مقدم** " ، نو " **قدمت** " فعل وو او " **قدومًا** " ورله مفعول مطلق وو ، او " **خير مقدم** " صفت وو د " **قدومًا** " نو فعل حذف شو ؛ ځکه قرينه موجود ده چې حال د مخاطب دے ، او بيا هغه مفعول مطلق هم حذف شو او هغه صفت ئې قائم شو په مقام د دې باندې ، او دا حذف جوازي دے نو که " **خير مقدم** " وائي نو هم صحيح ده ، او که " **قدمت قدوما خير مقدم** " وائي نو هم صحيح ده . اوس دا جائز ولې دے ؛ نو ځکه که ديته وګورو چې قرينه موجود ده نو پکار ده چې واجب دې شی ، او که ديته وګورو چې سد مسد نشته نو پکار ده چې ممتنع دې شی ، نو مونږ يوه درميانه لار وکتله چې جواز دے ، نه وجوب او نه منع . قوله : **و وجوبًا سَماعًا نحو سقيًا و شكرًا** ... دا دريم او څلورم حکم دے چې کله حذف کولے شی فعل د مفعول مطلق په حذف وجوبي سره خو دا بيا دوه قسمه دے : ١ـ سماعًا . ٢ـ قياسًا . خو دلته مصنفﷺ صرف سماعًا ذکر کړے دے ، او قياسًا به به کافيه کښې راځي مثال لکه "**سقيًا** ، **حمدًا** ، **شكرًا** ، **رعيًا**" دا ټول مصادر دی او مفعول مطلق دی او فعل ئې حذف شوے دے په حذف وجوبي سماعی سره ، په أصل کښې داسې وو چې : "**سقاك الله سقيًا**" ، "**حمدتك حمدًا**" ، "**شكرتك شكرًا**" ، "**رعاك الله رعيًا**" . دلته دا عامل حذف شوے دے للتخفيف ، او دا حذف ئې وجوبي دے او سماعی دے . وجوبي ؛ ځکه

دے چې قرينه هم شته او سد مسد هم شته ، قرينه دا ده : چې دا مقام د دعاء دے ، او په مقام د دعاء کښې خلق اختصار کوی ، او سد مسد (قيام د مفعول مطلق په ځائ د عامل باندې) سماع ده د عربو نه . او سماعی ؛ ځکه دے چې نورو باندې نشي قياس کيدے صرف په کومو الفاظو کښې چې مسموع دے په هغې پورې خاص دے . **سوال** : ته وائې : چې د دې فعل حذف واجب دے نو واجب خو ديته وائی چې ذکر ئ په يو وقت د أوقاتو کښې نه کيږی او دا خو تا دلته ذکر کړو ؟ **جواب** : د دې حذف واجب دے په کلام د فصحاؤ کښې نو ذکر ئ په کلام د فصحاؤ کښې جائز نوی ، او په کلام دغير فصحاؤ کښې ذکرجائز وی او داهم کلام د غير فصحاؤ دے.

فصلٌ اَلْمَفْعُوْلُ بِهٖ : هُوَ اِسْمُ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ فِعْلُ الْفَاعِلِ کـ " ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا " ، وَ قَدْ يَتَقَدَّمُ عَلَى الْفَاعِلِ کـ " ضَرَبَ عَمْرًوا زيدٌ " ، وَ قَدْ يُحْذَفُ فِعْلُهُ ؛ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا نَحْوُ : " زَيْدًا " فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ : " مَنْ أَضْرِبُ " .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د مفعول به کښې ، دا هر هغه اسم دے چې واقع شوے وی په دې باندې فعل د فاعل لکه " ضرب زيد عمرًوا " ، او کله مقدم کيږی دا مفعول به په فاعل باندې لکه " ضرب عمرًوا زيدٌ " ، او کله حذف کيږی فعل د دې د وجې د قيام د قرينې نه جوازًا لکه "زيدًا" په جواب د هغه چا کښې چې وائی: " من أضرب " .

تشريح : قوله : **فصل المفعول به هو اسم ما وقع عليه فعل الفاعل** ... هر کله چې فارغ شو ماتنﷺ د بيان او تفصيل د قسم اول د منصوبات نه نو شروع ئ وکړه په تفصيل د قسم ثانی د منصوبات کښې چې مفعول به دے ، او دا ئ د نورو مفاعيل نه مقدم کړو ؛ ځکه چې په اجمال کښې مقدم وو د نورو مفاعيل نه نو په تفصيل کښې ئ هم مقدم کړو چې تفصيل موافق شی د اجمال سره ، اوس په اجمال کښې ئ ولې مقدم کړے وو د نورو مفاعيل نه نو؛ ځکه چې شدت اتصال دے د مفعول به د عامل خپل سره په نسبت سره نورو مفاعيل ته پس د مفعول مطلق نه ؛ نو ځکه ئ د مفعول مطلق نه ورسته کړو او د نورو نه ئ مخکښې کړو.

پس د دينـــــه : د مفعول به معنی لغةً کار کړے شوے د هغه سره ، او په اصطلاح کښې " **هو اسم ما وقع عليه فعل الفاعل** " ، او ديته مفعول به ؛ ځکه وائی چې فعل د فاعل په دې باندې واقع شوے وی ، يا دا سبب وی د پاره د واقع کيدلو او د موجوديدلو د فعل د فاعل په دې باندې . د دې اصطلاحی تعريف معنی کوو : دا مفعول به نوم د هغه شے دے چې واقع شوے وی فعل د فاعل په هغه باندې . " اسم " په منزله د جنس دے تولو أسماؤ ته شامل دے.

او " وقع عليه فعل الفاعل " په منزله د فصل دے په دې سره ترې ټول مرفوعات او منصوبات خارج شو علاوه د مفعول به نه . قوله : **نحو ضرب زيد عمرًوا ... تركيب** ئ دا دے : " **ضرب** " فعل دے " **زيد** " ئ فاعل دے او " **عمرًوا** " ئ مفعول به دے ، نو دا "ضرب" د "زيد" واقع شوے دے په "عمروا" باندې . **سوال** : ستا دا تعريف نه دے صحيح ؛ ځکه د دې نه خارجيږي مفعول به په دې قول د الله تعالى کښې ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [الفاتحة: ٥] دلته دې " إِيَّاکَ " ته خلق مفعول به وائی ، او په دې کښې خو خطاب الله تعالى ته دے ، او عبادت خو به الله تعالى باندې واقع نه دے ؟ **جواب** : دلته ذکر د وقوع دے خو مراد ترينه تعلق دے او هيڅ شک نشته چې زمونږ د عبادت او استعانت تعلق د الله تعالى سره شته دے . **سوال** : که د وقوع معنی تعلق شي نو دا تعريف بيا هم نه دے صحيح ؛ ځکه دا مانع نه دے د دخول د غير نه داخليږي پکښې مجرور په حرف جر سره په دې تركيب کښې چې " **مررت بزيد** " دلته " مرور " فعل دے او د " **زيد** " سره ئ تعلق شته دے او ديته خو خلق مفعول به نه وائی او سره ددې نه ستا تعريف ورته شامل دے ؟ **جواب** : زمونږ مراد د تعلق نه هغه تعلق دے چې بغير د واسطې د حرف جر نه وی او دا تعلق په واسطه د حرف جر سره دے . **سوال** : که مراد د تعلق نه بغير د واسطې د حرف جر نه وی نو دا بيا هم نه دے صحيح ؛ ځکه چې داخليږي پکښې مفعول فيه ، مفعول له ، او مفعول معه ؛ ځکه چې د فعل تعلق د دغه مفاعيل سره شته بغير د واسطې د حرف جر نه لکه "**ضربته تاديبًا**" ، دلته د " **ضرب** " تعلق د " **تاديبًا** " سره شته وغيره ؟ **جواب** : زما مراد د تعلق نه اتصال شديده دے او اتصال شديده صرف د مفعول به د خپل عامل سره شته او د دې نورو نشته دے . **سوال** : بيا خو دا تعريف مانع نه ګرځی د دخول د غير نه داخليږي پکښې فاعل ؛ ځکه د فعل د فاعل سره هم شدت اتصال وی ؟ **جواب** : زه وائم چې دفعل به تعلق شديده وی د مفعول به سره خو پس د اسناد نه فاعل ته . **سوال** : دا تعريف بيا جامع نه شو خارج شو ترې مفعول به په دې تركيب کښې چې "**أعطِيَ زيدٌ درهمًا**" دلته " **درهما** " مفعول به دے او د " **أعطى** " فعل تعلق ورسره شته خو د " **أعطى** " اسناد مخکښې فاعل ته نه دے شوے ، بلکه مفعول ما لم يسم فاعله ته شوے دے ؟ **جواب** : فاعل عام دے که حقيقتًا وی او که حکمًا وی او نائب فاعل هم حکمًا فاعل وی . قوله : **و قد يتقدم على الفاعل** ... هر کله چې فارغ شو د تعريف د مفعول به نه نو شروع ئ وکړه په أحکامو د مفعول به باندې ، نو يو حکم ئ دا دے : چې کله کله مقدم کيږي مفعول به په فاعل باندې يعني أولى او غوره خو دا ده : چې فاعل دې مخکښې وی ، او مفعول به دې ورسته وی ؛ ځکه فاعل عمده دے او مفعول به فضله دے ، خو کله کله ورباندې مفعول به مقدم کيږي د يو غرض د پاره لکه مثلًا تقديم د ماحقه التاخير حصر او اختصاص فائده کوی . **سوال** : چې دا خبره خو تا

مخکښې په بحث د فاعل کښې هم کړې وه نو دلته ئ ذکرکول مستدرک دی ؟ **جواب** : د دې حيثيتونه جدا دی هلته په دې حيثيت سره وه چې فاعل کله کله د مفعول به نه ورسته کيدے شی ، او دلته په دې حيثيت سره ده چې مفعول به کله کله د فاعل نه مخکښې کيدے شی نو هلته دا يو صراحةً ذکر شوے وو او دا بل تړې ضمنًا معلوم شوے وو ، دلته ئ په هغې باندې تصريح وکړه . او دا تقديم د مفعول به ؛ ځکه جائز دے چې په عامل د دې کښې اختلاف دے : ١ـ بعض وائی : چې عامل په مفعول به کښې فعل دے . ٢ـ بعض وائی : چې فاعل دے . ٣ـ او بعض وائی : چې دواړه دی ، غوره مذهب اول دے خو بهر حال دا قوی عامل دے په مقدم او مؤخر دواړو کښې عمل کولے شی ، دغه شان د مفعول به په عامل فعل باندې تقديم هم جائز دے ؛ ځکه عامل قوی دے په مرتب او غير مرتب دواړو کښې عمل کولے شی ، بيا دا تقديم په دوه قسمه دے : ١ـ جوازی . ٢ـ وجوبي . وجوبي په هغه صورت کښې چې کله مفعول به داسې شے وی چې تقاضه د صدارت فی الکلام کوی يعنې مفعول به داسې اسم وی چې متضمن وی معنی د استفهام ، يا شرط لره .

قوله : **وقد يحذف فعله** ... د دې ځائ نه دويم حکم د مفعول به ذکر کوی چې کله کله فعل د مفعول به حذف کيږی ، او " **قد** " ئ په فعل مضارع باندې داخل کړو دا تقليل فائده کوی نو اشاره ئ وکړه په ديکښې ديته چې دا حذف د مفعول به قليل دے کثير نه دے . **سوال** : دا تخصيص د فعل ئ ولې وکړو کله خو شبه فعل هم حذف کيږی ؟ **جواب** : ذکر د فعل او مراد ترينه مطلق عامل ناصبه دے . **سوال** : د فعل نه عامل ناصبه مراد کول خو مجاز دے نو کلام ئ په حقيقت باندې ولې نه بناء کوو چې ذکر د عامل ناصبه او مراد هم عامل ناصبه وے ؟ **جواب** : فعل ئ ذکر کړو په ديکښې ئ اشاره وکړه اصالت د فعل ته ؛ ځکه فعل عمده فی العمل دے ، او ديته وائی ذکر د خاص او مراد ترينه عام .

قوله : **لقيام قرينة** ... غرض د ماتن ﷫ په دې عبارت سره دفع د سوال ده ، **سوال** دا دے : چې فعل جزء د جملې وی او حذف د جزء د جملې خو جائز نه وی نو دلته ولې حذف کيږی ؟ **جواب** : حذف د جزء د جملې جائز نه دے خو هله چې قرينه نه وی ، او چې کله قرينه وی نو بيا حذف د جزء د جملې جائز دے او دلته قرينه شته دے . اوس آيا دا حذف به جوازًا وی او که وجوبا به وی نو دے وائی : چې " **جوازًا** " يعنې کله به په طريقه د جواز سره وی (او ورسته به وائی : چې کله به په طريقه د وجوب سره وی) . جوازًا لکه " **زيدا** " په جواب د هغه چا کښې چې اوائی : " **من أضرب** " څوک اوهم ؟ نو دلته " **زيدًا** " مفعول به دے او فعل ئ حذف دے چې " إضرِبْ " دے او قرينهورباندې ذکر د دې فعل دے په سوال کښې ؛ ځکه چې " **المذکور فی السّوال هو المعادُ فی الجواب** " وی .

وَ وُجُوْبًا فِيْ أَرْبَعَةِ مَوَاضِعَ : اَلْأَوَّلُ سَمَاعِيٌّ نَحْوُ : " إِمْرَءً وَ نَفْسَهُ " ، وَ " اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ " ، وَ " أَهْلًا وَ سَهْلًا " ، وَ الْبَوَاقِيْ قِيَاسِيَّةٌ .

ترجمه : او وجوبًا حذف د فعل د مفعول به کیږي په څلورو ځائیونو کښې ، اول سماعي لکه " امرءً و نفسه " ، او " انتهوا خیرًا لکم " ، او " أهلًا و سهلًا " ، او باقي قیاسي دي .

تشریح : قوله : **و وجوبًا في أربعة مواضع الأول سماعيّ نحو امرءً و نفسه** ... او وجوبًا (چې کله قرینه او سد مسد دواړه موجود وي) د پاره څلور ځائیونه دي : **الأول سماعًا** : اول موضع په دغه مواضع أربعؤ کښې سماعي دے ، سماعي هغه ته وائي : چې مقصور وي په سمع پورې یعني صرف په هغه ځائیونو کښې راځي چې د أهل لسان نه اوریدلے شوي وي او قاعده او قانون ترې نه جوړیږي . **سوال** : د حذف وجوبي د فعل حصر په مواضع أربعؤ پورې صحیح نه دے ، بلکه د دې نه علاوه په نورو ځائیونو کښې هم حذف کیږي چې هغه تا نه دي ذکر کړي . ۱ـ لکه اغراء شوه مثال لکه **"أخاک أخاک"** د دې فعل حذف دے چې " **الزم** " دے . ۲ـ په مقام د مدح کښې هم حذف د فعل واجب دے لکه **"بسم الله الرحمنَ الرحیمَ"** (په نصب د " الرّحمن " ، او " الرّحیم " سره) أی أمدح الرحمن الرحیم . ۳ـ دریم په مقام د ذم کښې هم حذف د فعل واجب دے لکه **"مررت بزیدٍ الخبیثَ"** (بالنصب) أی أذم الخبیث ، یا لکه **"أعوذ بالله من الشیطن الرجیم"** أي: أذم الرجیمَ (بالنصب) . ٤ـ څلورم په حین د ترحم کښې لکه **"مررت بزیدٍ المسکینَ"** (بالنصب) أي: أرحم المسکین ؟ **جواب** : ۱ـ زما مراد د مواضع أربعؤ نه مواضع مشهوره دي او دا تا چې کوم ذکر کړه دا غیر مشهور دي . ۲ـ دغه مواضع د دې مواضع أربعه نه خارج نه دي ، بلکه په دیکښې داخل دي ؛ ځکه اغراء داخله ده په تحذیر کښې او دا باقي درې داخل دي په منادی کښې نو حصر صحیح شو . قوله : **امرءً و نفسه** ... دا مثال د حذف وجوبي سماعي د پاره دے نو " **امرءً** " مفعول به منصوب دے او عامل ناصبه ئې حذف دے چې هغه " **اترک** " دے ، أی أترک امرءً و نفسه . **ترجمه ئې دا ده** : نه خپل لاس د وهلو د دغه سړی نه او زبان د دغه د نصیحت کولو نه بند کړه . اوس نفس قرینه په حذف باندې هغه نصب د " **امرءً** " دے ، او په تعیین د محذوف حال د مخاطب دے ، او سد مسد سمع د عربو نه ده . بیا " **و نفسه** " کښې دا **"واو"** یا عاطفه دے ، یا په معنی د " **مع** " سره دے . قوله : **و انتهوا خیرًا لکم** ... دلته هم " **خیرًا** " مفعول به دے ، او منصوب دے او عامل ناصبه ئې حذف دے په حذف وجوبي سماعي سره .

أصل عبارت داسې دے : « **انتهوا عن التثلیث و اقصدوا خیرًا لکم** » . **ترجمه ئې دا ده** : اے نصاراؤ منع شئ د تثلیث نه او طلب کړئ خیر لره چې تاسو لپاره دے . اوس نفس قرینه هغه

نصب د " خيرًا " دے ، او په تعيين د محذوف قرينه خطاب دے ، او سد مسد ئ سمع د حذف ده د قرآن نه . **سوال** : د " **خيرًا** " د پاره عامل ناصبه محذوف وائى نو دا مذكور پكښې ولې عامل نه وائى ؟ **الجواب** : كه دا مذكور عامل شي نو بيا معنى غلطيږي ؛ ځكه معنى به دا شي منع شئ د خير نه چې تاسو د پاره دے ، نو الله تعالى خو د خير نه منع نه كوى .

قوله : **أهلًا و سهلًا** ... دا بل مثال دے د حذف وجوبي سماعي د پاره ؛ ځكه أصل عبارت داسې دے " **أتيت أهلًا و وطيت سهلًا** " . **ترجمه** : ته خپل أهل ته راغلې ، او نا نرمه زمكه پائمال كړه ، عرب په طور د مبارك باد داسې ألفاظ استعمالوى ، يعنې ته خپل أهل ته راغلې او غير ته نه ئ راغلے ، او زما كور ستا د پاره د راحت سامان دے . اوس نفس قرينه په حذف نصب د دې دے ، او په تعيين د محذوف حال المخاطب دے ، او سد مسد سمع د عربو نه ده چې د هغوى نه حذف د عامل ناصبه په دې ځائ كښې اوريدلے شوے دے .

اَلثَّانِيْ اَلتَّحْذِيْرُ : وَ هُوَ مَعْمُوْلٌ بِتَقْدِيْرِ " اِتَّقِ " تَحْذِيْرًا مِّمَّا بَعْدَهٗ نَحْوُ : " اِيَّاکَ وَ الْأَسَدَ " أَصْلُهٗ اِتَّقِکَ وَ الْأَسَدَ ، اَوْ ذُكِرَ الْمُحَذَّرُمِنْهُ مُكَرَّرًا نَحْوُ : " اَلطَّرِيْقَ الطَّرِيْقَ " .

ترجمه : دويم (موضع) تحذير دے ، او دا هر هغه اسم دے چې دا معمول وى بناء بر مفعوليت د پاره د " اتّق " د وجې د يرولو د مابعد د دې نه لكه " **ايّاک و الأسد** " چې أصل ئ " **اتّقک و الأسد** " دے ، او يا ذكر شوے وى محذرمنه مكرر لكه " **الطريق الطريق** " .

تشريح : قوله : **الثّانى التّحذير و هو معمول بتقدير اتّقِ** ... دا دويم موضع ذكر كوى د هغه مواضع نه چې په هغې كښې حذف د عامل ناصبه واجب وى د مفعول به نه په حذف وجوبي سره ، او بيا دا قياسى دے ، د قياسى مطلب دا دے : چې د دې سمع د عربو نه داسې شوى وى چې قاعده او قانون ترې جوړيدے شي نو دا حذف مبنى شو په يوه قاعده ، او قانون باندې ، كه دغه قاعده او قانون وو نو حذف به واجب وى او كه دغه قاعده او قانون نه وو نو بيا به حذف واجب نه وى .

پس د دينـــــــه : "**تحذير**" صيغه د مصدر ده د باب تفعيل نه ، په لغت كښې په معنى د يرولو سره راځي ، او په اصطلاح كښې ماتن ﷫ تعريف كړے دے " **هو معمول بتقدير اتّقِ مما بعده** " بيا كه " **اتّقِ** " وى او كه مثل د " **اتّقِ** " وى لكه "**بْعُدْ ، اجْتَنِبْ**" وغيره ، يعنې دا هغه اسم دے چې منصوب وى په تقدير د " **اتّقِ** " ، يا د دې په أمثال سره . بيا په تحذير كښې يو څو اصطلاحات دى : ۱ ـ **محذِّر** ۲ ـ **محذَّر** ۳ ـ محذرمنه . ۱ ـ **محذِّر** : په صيغه د اسم فاعل سره يرونكى ته وائى . **محذَّر** : په صيغه د اسم مفعول سره يرولے شوى ته وائى . **محذر منه** : د كوم

شی نه چې يرولے شی . مثال لکه " **إيّاک و الأسد** " دا مفعول به د فعل محذوف دے أصل عبارت داسې دے " **اتّقک و الأسد** " ، بيا چونکه ضمير د فاعل او د مفعول شے واحد وو ، او دا ناجائز وی په سوا د أفعال قلوب کښې نو په درميان کښې " **نفس** " زياتی شو نو " **نفسک** " شو نو " **اتّقِ نفسک والأسد** " شو ، بيا فعل حذف شو د تنګ والی د مقام د وجې نه ، او " **نفس** " ته هم ضرورت پاتې نه شو نو هغه هم حذف شو ، او بيا ضمير متصل په منفصل سره بدل شو نو " **إيّاک و الأسد** " شو . نو دلته عامل ناصبه حذف شوے دے په حذف وجوبي قياسی سره نفس قرينه په حذفيت نصب د " **ايّاک** " دے ، او په تعيين د محذوف مقام دے ، او سد مسد قيام د محذرمنه (الأسد) دے په ځاۍ د فعل محذوف باندې . اوس دا خبره چې عامل ناصبه دلته ولې حذف کيږی ؟ نو ځکه چې دا وخت او مقام د اختصار دے ؛ ځکه که پوره فعل ذکر کوې نو مقصود به بيا فوت شوے وی چې هغه د نفس بچ کول دی د هلاکت نه .

قوله : **أو ذکر المحذرمنه مکررًا** ... دلته دا " **او** " د پاره د تقسيم دے د شک د پاره نه دے نو اشاره شوه اقسامو د تحذير ته . ۱- يو قسم چې په ذکر د محذرمنه سره وی غير مکرر لکه دغه مخکښې تير شو . ۲- چې په تکرار د محذرمنه سره وی ، مثال لکه " **الطريق الطريق** " په أصل کښې عبارت داسې وو : " **اتّقِ الطريقَ الطريقَ** " بيا عامل ناصبه حذف شو په حذف وجوبي قياسی سره نو نفس قرينه په حذف باندې نصب د " **الطريق** " دے ، او سد مسد تکرار د محذرمنه دے . اوس په دې مقام کښې دا فعل ولې حذف کيږی ؛ ځکه دا مقام د اختصار او ضِيْقت دے . بل مثال لکه ديوال راغرځيږی او يو کس خواته دے نو ته وائې : " الجدار الجدار " يعني اتّقِ الجدار ان يسقط عليک ، نو که پوره فعل ذکر کوې نو مقصود فوت کيږی چې هغه بچاؤ د نفس دے د هلاکت نه ، نو اوس قياس او قانون دا شو چې په مقام د اختصار او ضِيْقت کښې به فعل حذف کيږی .

اَلثَّالِثُ : مَا أُضْمِرَ عَامِلُهُ عَلَى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ ؛ وَهُوَ كُلُّ اِسْمٍ بَعْدَهُ فِعْلٌ ، اَوْ شِبْهُهُ يَشْتَغِلُ ذٰلِكَ الْفِعْلُ عَنْ ذٰلِكَ الْاِسْمِ بِضَمِيْرِهٖ ، اَوْ مُتَعَلِّقِهٖ بِحَيْثُ لَوْ سُلِّطَ عَلَيْهِ هُوَ اَوْ مُنَاسِبُهُ لَنَصَبَهُ نَحْوُ : " زَيْدًا ضَرَبْتُهُ " ، فَاِنَّ " زَيْدًا " مَنْصُوْبٌ بِفِعْلٍ مَحْذُوْفٍ مُضْمَرٍ ، وَهُوَ " ضَرَبْتُ " يُفَسِّرُهُ الْفِعْلُ الْمَذْكُوْرُ بَعْدَهُ ، وَهُوَ " ضَرَبْتُهُ " ، وَلِهٰذَا الْبَابِ فُرُوْعٌ كَثِيْرَةٌ .

ترجمه : دريم ځاۍ (د هغه مواضع نه) ما اضمر عامله علی شريطة التفسير (چې پټ کړے شوے وی عامل د هغې په شرط د تفسير سره) دے ، او دا هر هغه اسم دے چې ورسته د دې نه فعل يا شبه فعل ذکر وی چې مشغول وی دغه فعل يا شبه فعل د دغه اسم نه په ضمير ، يا متعلق د هغه سره په دې شان سره چې که چرته

مسلط کړے شي دغه فعل یا مناسب د هغه نو خامخا نصب به ورکوی لکه " زیدًا ضربته " نو دلته دا " زیدًا " منصوب دے په فعل محذوف مضمر سره ، او هغه " ضربت " دے دا فعل مذکور کوم چې ورسته دے هغه یٔ تفسیر کوی چې هغه " ضربته " دے ، او د دې باب د پاره ډیر فروع دی .

تشریح : قوله : **الثالث ما أضمر عامله علی شریطة التفسیر** ... دریم ځائ د هغه مواضع نه چې هلته حذف د عامل ناصبه د مفعول به واجب دے . او د دې عبارت معنی مونږ کړې وه .

مقصد دا دے : چې عامل مضمر شوے وی خو شرط پکښې دا دے : چې ورسته د دغه عامل تفسیر شوے وی ، نو په دغه وخت کښې عامل ذکر کول جائز نه دی ؛ ځکه چې دغه عامل مضمره مفسَّر دے ، او دا ورسته ورلره مفسِّر دے ، نو لازمیږی جمع بین المفسِّر و المفسَّر او دا ناجائز ده . **سوال** : نه منم دا خبره چې جمع بین المفسِّر و المفسَّر ناروا ده ، زه به درته وښائم چې راغلی به وی لکه "**مررت برجلٍ**" ای: زیدٍ ، دلته " **رجل** " مفسَّر دے ، او " **أی زید** " دا مفسِّر دے او دواړه جمع شوی دی ؟ **جواب** : جمع بین المفسِّر و المفسَّر ناروا ده خو بغیر د فائدې نه ، او دلته د فائدې د پاره ده . هغه فائده دا ده : چې دلته په "**رجل**" کښې ابهام وو هغه په " **أی زید** " سره لرې شو په خلاف د هغه نه چې دلته دے ، چې دلته د عامل محذوفه او د ورسته مفسِّر د دې دواړو مقصد یو دے ، نو دلته دا تفسیر ابهام نه رفع کوی مثال لکه "**زیدًا ضربته**" ، " **زیدًا** " مفعول به دے او منصوب دے او عامل ناصبه یٔ حذف دے په حذف وجوبي سره چې هغه "**ضربت**" دے ؛ ځکه چې ورسته " **ضربته** " یٔ تفسیر کړے دے نو ذکر کولو ته یٔ ضرورت نشته ، نو نفس قرینه په حذف باندې هغه نصب د دغه اسم دے ، او په تعین د محذوف باندې ورسته فعل دے ، او سد مسد قیام د تفسیر دے په مقام د عامل باندې .

قوله : **و هو کل اسم بعده فعل او شبهه** ... غرض د ماتن‌رحمه الله د دې عبارت نه د " **ما أضمر عامله علی شریطة التفسیر** " تعریف کول دی ، یعني دا هر هغه اسم دے چې ورسته ترې فعل یا شبه فعل وی ، چې مشغول شوے وی دغه فعل د دغه اسم نه په ضمیر د دغه اسم باندې یا په متعلق د دغه اسم باندې په داسې شان سره چې که چرته مسلط شي په دغه اسم باندې دا فعل شبه فعل ، یا مناسب د فعل شبه فعل چې هغه مرادف د دغه فعل شبه فعل وی یا لازم وی ؛ نو دغه اسم لره به نصب ورکړی . مثال لکه " **زیدًا ضربته** " ، دلته دا " **زیدًا** " اسم دے ورسته ترې فعل دے چې " **ضرب** " دے ، او د شبه فعل مثال لکه " **ضاربه** " شو . اوس دا " **ضربت** " فعل د " **زیدًا** " نه مشغول دے (په هغه کښې یٔ عمل نه دے کړے) په ضمیر د هغه نو که دا " **ضربت** " په خپله راواخستے شي او د " **زیدا** " نه مخکښې شي نو نصب به ورکوی " **زیدا** " لره ، أصل عبارت داسې دے " **ضربت زیدًا ضربته** " نو هغه اول " **ضربت** " حذف شو وجوبًا ؛ ځکه چې دې ورسته یٔ تفسیر کړے دے . دا مثال د هغه وو چې عین فعل پرې مسلط شي نو

نصب ورکوی . او مثال د مناسب د فعل شبه فعل چې مرادف وی لکه " **زيدًا مررت به** " اوس په " **مررت** " مسلط کولو سره نصب نه ورکوی خو د " **مررت** " مرادف دے هغه نصب ورکړے چې " **جاوزت** " دے . او مثال د هغه چې لازم د فعل شبه فعل پرې مسلط کړې او نصب ورکړې لکه "**زيدًا ضربت غلامه**" ، اوس لازم د " **ضرب** " سره " **اهانة** " دے چې دا پرې مسلط شي نو نصب به ورکوی ، ای : أهنت زيدًا ، دغه شان په شبه فعل کښې هم " **زيدًا أنا مارّ به** " ای أنا مجاوز زيدًا . بيا دلته دا " **كل اسم** " په منزله د جنس شو " **بعده فعل او شبهه** " سره هغه اسم خارج شو چې ورسته ترې فعل او شبه فعل نه وی لکه "**هذا زيد و زيد أبوك**" او " **يشتغل الخ** " ئ چې ووے : نو په دې سره ترې هغه اسم خارج شو چې ورسته ترې فعل وی خو مشغول نه وی لکه "**زيدًا ضربت**" او " **سلّط عليه** " ئ چې ووے : نو په دې سره ترې هغه اسم خارج شو چې ورسته ترې فعل وی او مشغول وی خو که په دغه اسم باندې مسلط شي نو نصب نه ورکوی لکه "**زيد ضُرِبَ**" .

قوله : **و لهذا الباب فروع كثيرة** ... او د دې باب د پاره ډير فروع دی يعنې دغه اسم چې د قبيلې د " **ما أضمر عامله على شريطة التفسير** " نه دے نو په دې کښې باعتبار الاعراب په بعض مواضع کښې وجوب النصب ، په بعض کښې وجوب الرفع ، په بعض کښې جواز الأمرين سواء سواء ، په بعض کښې جواز الأمرين مع اختيار النصب ، او په بعض کښې جواز الأمرين مع اختيار الرفع دے نو دا په غټو کتابونو لکه " کافيه ، شرح الجامی " وغيرهما کښې ذکر دی .

الرَّابِعُ : الْمُنَادَى ؛ وَ هُوَ اِسْمٌ مَدْعُوٌّ بِحَرْفِ النِّدَاءِ لَفْظًا نَحْوُ : " يَا عَبْدَاللهِ " أَيْ : أَدْعُوْ عَبْدَاللهِ ، وَ حَرْفُ النِّدَاءِ قَائِمٌ مَقَامَ " أَدْعُوْ " ، وَ حُرُوْفُ النِّدَاءِ خَمْسَةٌ : يَا ، وَ أَيَا ، وَ هَيَا ، وَ أَيْ ، وَ الْهَمْزَةُ الْمَفْتُوْحَةُ ، وَ قَدْ يُحْذَفُ حَرْفُ النِّدَاءِ لَفْظًا نَحْوُ : « يُوْسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا » .

ترجمه : څلورم مقام (د هغه مقامات نه چې حذف د عامل ناصبه پکښې واجب دے) منادی ده ، او دا منادی مسمی د اسم ده چې بللے شوې وی په حرف نداء سره لفظًا لکه " **يا عبدالله** " يعنې : أدعو عبدالله ، او حرف نداء قائم ده په مقام د أدعو ، او حروف د نداء پنځه دی : يا ، أيا ، هيا ، أی ، او همزه مفتوحه ، او کله حرف نداء به لفظ کښې حذف کيږی لکه يوسف أعرض عن هذا .

تشريح : قوله : **الرّابع المنادى و هو اسم مدعوٌّ بحرف النّداء لفظًا** ... غرض د ماتن رحمه الله بيان د څلورم مقام دے د هغه مقامات نه چې حذف د عامل ناصبه پکښې واجب دے هغه منادی ده ، په دې کښې هم حذف د عامل ناصبه واجب دے په حذف وجوبي قياسی سره . اوس په منادی کښې ولې حذف د عامل ناصبه واجب دے نو دا د دوؤ وجو نه : ۱ـ چې حرف نداء

قائم وی په مقام د دغه عامل باندې ، نو که مونږ دغه عامل هم ذکر کړو نو جمع به راشی په مابین د نائب او د منوب کښې ، او جمع په مابین د نائب او د منوب کښې جائز نه ده نو حذف ئې واجب شو . ۲ ـ منادی کثیر الاستعمال ده او کوم شے چې کثیر الاستعمال وی نو لایق د هغه سره اختصار دے ، او اختصار په دې سره راځی چې مونږ حذف د عامل ناصبه وکړو .

تعریف المنـــــادی

اوس منادی څه ته وائی : نو منادی په لغت کښې آواز کړے شوی ته وائی ، او بیا دلته یو خو الفاظ دی : ۱ ـ منادِیٔ ۲ ـ منادی ۳ ـ منادی به ٤ ـ منادی له ٥ ـ نداء . نو ۱ ـ منادِیٔ آواز کونکی ته وائی . ۲ ـ منادی آواز کړے شوی ته وائی . ۳ ـ منادی به چې کوم الفاظ سره آواز کیږی . ٤ ـ منادی له چې د څه د پاره ورته آواز کیږی . ٥ ـ نداء دې مجموعه ته وائی . او اصطلاحی تعریف ماتن ﷺ کړے دے مونږ به ورسره معنی ولیکو : " **هو** " دا منادی " اسم " مسمی د اسم ده " **مدعو** " چې بللے شوی وی " **بحرف النداء** " په حرف نداء سره " **لفظًا** " په داسې حال کښې چې دا اسم منادی ملفوظ وی ، یا دا حرف نداء ملفوظ وی لکه "**یا عبدالله**" . " **هو** " په منزله د جنس دے تولو أقسامو د کلمې ته شامل شو " **اسم** " ئې چې ووے : نو په دې سره ترې تمام حروف او أفعال خارج شو . او " **مدعوّ** " ئې چې ووے : نو په دې سره ترې مندوب خارج شو " **بحرف النداء** " ئې چې ووے : نو په دې سره ترې هغه مطلوب خارج شو چې په حرف نداء سره نه وی لکه " **أدع زیدًا** " . بیا مونږ ووے : چې " **هو** " دا منادی چې ده " **اسم** " مسمی د اسم ده ، په دې سره مونږ دفع د اعتراض وکړه ، **اعتراض** دا راځی : چې تا کوم تعریف د منادی کړے دے دا نه دے صحیح ؛ ځکه تا ووے : چې " **اسم مدعوّ** " منادی هغه اسم دے چې بللے شی ، او بلل د اسم نشته ؛ ځکه چې اسم د ذوی العقول نه ، نه دے چې ته ئې راوبلې ، بلکه بللے کیږی خو د اسم هغه مسمی ؟ **جواب** وشو : چې دلته ذکر د اسم دے خو مراد ترې مسمّی د اسم دے . " **مدعوّ** " بللے کیږی دا بلل بیا عام دی که حقیقتًا وی او که حکمًا وی ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا کوم تعریف د منادی وکړو دا نه دے صحیح ؛ ځکه خارجیږی د دې نه یا جبال ، یا أرض ، یا سماء دا منادی ده خو دا تعریف ورته نه دے شامل ؛ ځکه أسمانونه نه بللے کیږی ؛ ځکه چې بلل په ذوی العقول کښې راځی او دا غیر ذوی العقول دی ؟ نو **جواب** وشو : چې دا بلل عام دی که حقیقتًا وی او که حکمًا وی ، حقیقتًا خو هغه دی چې ذوی العقول وی او منادی واقع شی ، او حکمًا هغه دی چې هغه ذوی العقول نه وی خو منادی واقع شی په منزله د ذوی العقول باندې کرځولے شوی وی ، او بیا ورته نداء شوی وی ، او یو شے چې رابللے کیږی نو هله چې صلاحیت د بللو پکښې وی ، او مقصود ستا بلل د هغې وی ، په دې سره دفع د بل سوال وشوه ، **سوال** دا

راځي : چې ستا دا تعريف نه دے صحيح په ديکښې داخليږي مندوب ، مندوب هغه مړی نه وائي چې خلق په هغې باندې ژړا کوی ، دا هم يو اسم دے چې مدعو دے په حرف نداء سره لکه "يا زيداه" وغيره ؟ نو مونږ جواب وکړو : چې مقصود ستا د هغه بلل وی او مندوب چې دے نو هلته مقصود بلل نه وی ، بلکه هلته هغه غم ښکاره کول مقصود وی ، او د مړی محاسن شميرل وی نفس واقع کيدل پس د حرف نداء نه مقتضی د دې نه دے چې خامخا دا منادی وی . **سوال** : تا چې کوم تعريف کړے دے هغه نه دے صحيح زه به تا ته يوه منادی وښائم چې منادی به وی او حرف نداء به پکښې نه وی لکه په دې قول د الله تعالی کښې چې ﴿يُوْسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا﴾ [1] خلق وائي : چې دا منادی ده او حرف نداء پکښې نشته ؟

جواب : دا حرف نداء عام دے که لفظًا وی او که تقديرًا وی ، نو په « **يوسف أعرض عن هذا** » کښې اگرچې لفظًا نشته ليکن تقديرًا پکښې ده چې په أصل کښې " **يا يوسف أعرض عن هذا** " دے . مثال د لفظًا لکه "**يا عبدالله**" چې په أصل کښې أدعو عبدالله وو ، نو " **أدعو** " فعل حذف شو او نداء قائم شوه په مقام د هغه باندې ، بيا په دې خبره کښې اختلاف دے چې دې "**عبدالله**" لره دا نصب چا ورکړے دے ؟ دې حرف نداء ورکړے دے او که فعل ورکړے دے : نو بعض نحات وائی : چې حرف نداء ورکړے دے ، او بعض وائی : چې فعل ورکړے دے .

ترکيب ئې دا دے : " **يوسف** " مبنی علی الضم منصوب محلًا مفعول به شو د پاره د فعل مقدر چې " **أدعو** " دے ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه ندائيه " **أعرض** " فعل فاعل " **عن** " جار " **هذا** " مجرور ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **أعرض** " پورې ، دا بيا جمله فعليه خبريه انشائيه لا محل لها جواب نداء شو ، بيا جمله ندائيه سره د جواب نداء نه جمله ندائيه شوه . قوله : **وحروف النداء خمسة** ... بيا په دې پنځو کښې څوک فرق کوی په دې شان سره چې " **هيا** " او " **ياء** " راځی د پاره د نداء بعيد ، او " **أی** " او " **همزه مفتوحه** " راځی د نداء قريب د پاره ، او " **ياء** " عام ده ، د قريب او بعيد دواړو د پاره راځی . او څوک فرق نه کوی خو غوره خبره پکښې دا ده چې فرق پکښې نشته .

قوله : **و قد يحذف حرف النداء لفظًا** ... او کله حذف کيږي حرف نداء لفظًا لکه « **يوسف أعرض عن هذا** » چې په أصل کښې " **يا يوسف أعرض عن هذا** " وو ، دلته حرف نداء محذوف دے ، خو دا " **ياء** " حرف نداء چې حذف کيږي نو دا حذف په طريقې د جواز سره دے ؛ د پاره د تخفيف خو (١) يو شرط پکښې دا دے : چې منادی اسم جنس نه وی (٢) دويم شرط

[1] سورة يوسف ، الأيه : ٢٩

پکښې دا دے : چې دا منادی اسم اشاره نه وی ؛ ځکه چې استعمال د حرف نداء په دې دواړو کښې قلیل دے که حذف شی حرف نداء نو پته به نه لګی چې منادی ده او که نه ده. (۳) دریم شرط دا دے : چې دا منادی مستغاث نه وی . (٤) څلورم دا چې مندوب نه وی ؛ ځکه په دې دواړو کښې مقصود مدّ الصوت وی او د حرف نداء حذف منافی دے د مدّ الصوت سره ؛ نو ځکه به نه حذف کیږی .

وَ اعْلَمْ أَنَّ الْمُنَادَى عَلَى أَقْسَامٍ : فَإِنْ كَانَ مُفْرَدًا مَعْرِفَةً يُبْنَى عَلَى عَلَامَةِ الرَّفْعِ كَالضَّمَّةِ وَ نَحْوِهَا نَحْوُ: " يَا زَيْدُ " ، وَ " يَا رَجُلُ " ، وَ " يَا زَيْدَانِ " ، وَ " يَا زَيْدُوْنَ " ، وَ يُخْفَضُ بِلَامِ الْإِسْتِغَاثَةِ نَحْوُ : " يَا لَزَيْدٍ " ، وَ يُفْتَحُ بِإِلْحَاقِ أَلِفِهَا نَحْوُ : " يَا زَيْدَاهُ " .

ترجمه : او پوهه شه چې منادی په یو څو قسمه ده : که چرته مفرده معرفه وه نو دا به مبنی وی په علامه د رفع باندې چې ضمه او د دې غندې نورې ، لکه " یا زید " ، " یا رجل " ، " یا زیدان " ، او " یا زیدون " ، او مجرور کولے به شی په لام استغاثه سره لکه " یا لزید " ، او مفتوح کولے به شی په الحاق د ألف د دې سره لکه " یا زیداه " .

تشریح : قوله : **و اعلم أنّ المنادی علی أقسام** ... غرض د ماتن ﷫ په دې " **و اعلم** " سره یو أقسام د منادی ذکر کول دی ، چې دا په څلور قسمه ده : ١ ـ منادی مفرده معرفه . ٢ ـ منادی مضاف شبه مضاف . ٣ ـ منادی نکره غیر معیّن . ٤ ـ منادی معرفه باللّام ، او دویم دا خبره ذکر کوی چې د هر یو قسم حکم څه دے په اعتبار د اعراب او بناء سره ؟ نو دے اول منادی مفرده معرفه ذکر کوی ، مراد د مفرد نه دا دے : چې مضاف او شبه مضاف به نه وی ، معرفه به وی بیا عام د دې نه که قبل دخول حرف النداء معرفه وی او که بعد دخول حرف النداء معرفه وی ، نو حکم ئې دا دے : چې " **یبنی علی علامة الرفع** " مبنی به وی په علامه د رفع سره بیا علامه د رفع په واحد کښې " **ضمه** " ده ، او په تثنیه کښې " **ألف** " دے ، او په جمع کښې " **واو** " دے . اوس نفس مبنی به ولې وی ؟ او په علامې د رفع سره به ولې مبنی وی ؟ نو نفس مبنی خو به ؛ ځکه وی چې منادی کله مفرده معرفه وی نو دا واقع شوی وی په ځائ د کاف اسمی خطابی باندې ، او کاف اسمی خطابی مشابه دے د کاف حرف خطابی سره ، او کاف حرفی خطابی مبنی دے نو دا به هم مبنی وی ؛ ځکه مشابهت ئې راغلو د مبنی أصل سره نو مبنی به وی . او په علامې د رفع سره مبنی شو ، مبنی علی السّکون نه شو ؛ ځکه بناء علی السکون أصل ده خو په مبنی الأصل کښې او دا خو مبنی الأصل نه ده ؛ ځکه په دې کښې جانب د اسمیت ختم شو چې هغه قطع عن الاضافة دے نو یو قسم زخم ورته ورسیدو نو د دې

دپاره جبيره قويه پکار ده ، او هغه علامه د رفع ده ؛ نو ځکه په علامې د رفع سره مبني شوه .
او بل دا چې که مبني ئ کړو په علامې د جر کسره سره نو التباس ئ راځي د هغه منادی سره چې مضاف وی " ياء " د متکلم ته ، او دغه " ياء " حذف شوی وی لکه "يا ربِّ" . او که مبني ئ کړو په علامې د نصب فتحې سره نو التباس ئ راځي د هغه منادی سره چې مضاف وی " ياء " د متکلم ته ، او دا " ياء " بدل شوی وی په ألف سره ؛ ځکه چې کله " ياء " بدل شي په ألف سره نو ماقبل ترې فتحه وی ، او دغه " ألف " حذف شوے وی لکه "يا غلامَ" ، او بل دا چې التباس ئ راتلو د منادی مستغاث سره نو بچپله ضمه متعين شوه . **سوال** : ته خو وائی : چې منادی مفرده معرفه وی ، او بيا دې " **يا زيدان** " مثال د تثنيه ، او " **يا زيدون** " مثال د جمع ذکر کړے دے نو مثال دې مطابق نه دے د ممثل سره ؟ **جواب** : مفرد په څلور قسمه دے : ۱ـ چې مقابل د تثنيه او جمع وی . ۲ـ چې مقابل د مرکب راځي . ۳ـ چې مقابل د مضاف او شبه مضاف راځي . ٤ـ چې مقابل د جملې راځي . دلته مراد هغه دے چې مقابل د مضاف او شبه مضاف وی ، او بيا مونږ ووے : چې دا معرفه عامه ده که قبل دخول حرف النداء وی او که بعد دخول حرف النداء وی ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې تا ووے : چې منادی مفرده معرفه به وی او ورسته ورله مثال نکره ذکر کوی لکه "**يا رجل**" ؟

نو **جواب** وشو : چې دا عامه ده که مخکښې د دخول د حرف نداء نه وی او که روسته د دخول د حرف نداء نه وی ، نو دا اګرچې مخکښې د دخول د حرف نداء نه نکره ده خو ورسته د دخول د حرف نداء نه معرفه ګرځيدلې ده . " **يا زيد** " دا مثال د منادی مفردې معرفې مبني على الضمة دے . " **يا رجل** " دا مثال د منادی مفردې معرفې مبني على الضمة دے خو چې پس د دخول د حرف نداء نه معرفه وی . " **يا زيدان** " مثال د منادی مفردې معرفې دے خو چې مبني وی په "ألف" سره . " **يا زيدون** " مثال د دې دے چې مبني وی په "واو" سره .

ترکيب ئ دا دے : " **ياء** " حرف نداء قائم مقام د " **أدعو** " فعل فاعل " **زيد** " مبني على الضم منصوب محلًا مفعول به نه ، فعل سره د فاعل او مفعول به دا جمله فعليه معطوفة عليها ، او دا نورېږې عطف . قوله : **و يخفض بلام الاستغاثة** ... أحکام د منادی ذکر کيدل نو يو حکم ئ دا ذکر شو چې دا به مبني ګرځي په علامې د رفع سره نو اوس د دې ځائ نه دويم حکم ذکر کوی چې دا به مجرور کولے شي په لام الاستغاثة سره . **لام الاستغاثة** عبارت دے د لام جاره نه او دا نسبت د وجې د أدنی ملابست نه دے . اوس دا لام الاستغاثة چې کله په منادی مفرده معرفه باندې داخل شي نو دا به معرب ولې وی ؟ او معرب بالجر به ولې وی ؟ نو معرب خو به ځکه وی چې دا لام جاره د خواص معظمؤ مکبرؤ د اسم نه دے نو قوی کوی جانب د اسميت ، او أصل په أسماؤ کښې اعراب دے . او مجرور به ؛ ځکه وی چې کله حرف جر

داخل شي په اسم باندې نو اثر ئ دا دے : چې دا په آخير كښې جر وركوي نو ځكه به مجرور وي . مثال لكه " يا لَزيدٍ " ، دا " زيد " منادى مفرده معرفه ده خو چونكه لام استغاثه پرې داخل شوے دے نو مجرور شوے دے . **سوال** : نه منم دا خبره چې دا لام استغاثه لام جاره دے ؛ ځكه چې لام جاره مكسور وي او دا خو مفتوح دے ؟ **جواب** : صحيح ده چې لام جاره مكسور وي خو دلته ؛ ځكه نه دے مكسور چې التباس ئ را نه شي د هغه " **لام** " سره چې داخل شوے وي په مستغاث له باندې په حين د حذف د مستغاث كښې ؛ ځكه هغه مكسور وي .

پس د دينــــــه : استغاثه په لغت كښې فريادرسئ ته وائي ، او د دوى په اصطلاح كښې " **طلب الأحد لأحد لدفع الظلم** " ته وئيلے شي ، بيا يو مستغاث دے او بل مستغاث له دے ، **مستغاث** هغه چا ته وائي : چې آواز كيدے شي د پاره د امداد د هغه نه ، او **مستغاث له** هغه چا ته وائي : چې په چا باندې ظلم كيږي ، او ته د هغه د پاره څوك راغواړې . نو كه مونږ دا " لام " د استغاثه هم مكسور كړو نو التباس ئ راځي د " **لام** " د مستغاث له سره ، لكه " **يا للمظلوم** " دا مستغاث له دے او مستغاث حذف دے ، په أصل كښې داسې وو " **يا لزيد للمظلوم** " (اے زيده د مظلوم د پاره لار شه) . نو كله چې " **لام** " د استغاثه داخل شي په مستغاث له باندې نو دا " **لام** " مكسور وي ؛ نو كه مونږ " **لام** " داخله په مستغاث هم مكسور كړو ؛ نو په حين د حذف د مستغاث كښې پته نه لگي چې دا " **لام** " د مستغاث دے ، كه د مستغاث له دے .

سوال : عكس وكړه كنه ! " لام " د مستغاث له مفتوح كړه او " **لام** " د مستغاث مكسور كړه ؟ **جواب** : عكس نه كوم ؛ ځكه چې دا مستغاث په ځائ د اسم ضمير واقع دے ، او قانون دا دے : چې كله " **لام** " جاره داخل شي په ضمير باندې نو مفتوح وي لكه لَكَ ، لَكُمَا ، لَكُمْ ، نو كوم شے چې واقع شي په ځائ د كاف ضمير باندې او په هغې باندې " **لام** " داخل شي نو هغه به هم مفتوح وي . نو د مستغاث لام هم مفتوح شو ؛ ځكه چې دا پشان د اسم ضمير دے مثال لكه " **يا لَزَيْدٍ** " .

تركيب ئ دا دے : چې " **ياء** " حرف نداء قائم ده په مقام د " **أدعو** " فعل فاعل " **لام** " مفتوح مبنى على السكون لا محل لها استغاثه جاره " **زيد** " **مجرور** ، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په " **أدعو** " پورې ، بيا فعل سره د فاعل او متعلق نه دا جمله فعليه شوه .

قوله : **و يفتح بإلحاق ألفها** ... او مفتوح به وي دا منادى مفرده معرفه په حين د استغاثه كښې په إلحاق د ألف الاستغاثه سره ؛ ځكه د استغاثې د پاره كله " **لام** " راځي ، او كله " **ألف** " ، نو كله چې مقصود مدّ الصوت وي نو په هغه وخت كښې به ألف په آخير كښې راځي د پاره د استغاثه او " **لام** " د استغاثه به نه راځي ؛ ځكه د دواړو په مينځ كښې منافات دے په دې شان

سره چې ألف ماقبل فتحه غواړي ، او لام آخير لره جر ورکوی نو أثرين ئ مناف شو . لکه "یا زیداه" په دغه وخت کښې به دا منادی مفرده معرفه مبنی علی الفتحة وی ؛ ځکه ألف خپل ماقبل فتحه غواړي ، او "هاء" ساکنه ورسره د وقف د وجې نه پیوست شوې ده .
ترکیب ئ دا دے : "یاء" حرف نداء قائم مقام د "أدعو" فعل فاعل "زیداه" مفعول به "ألف" د استغاثه "هاء" د سکته ، فعل سره د فاعل او مفعول به نه دا جمله فعلیه ندائیه شوه .

وَيُنْصَبُ إِنْ كَانَ مُضَافًا نَحْوُ : "يَا عَبْدَاللهِ" ، أَوْ مُشَابِهًا لِلْمُضَافِ نَحْوُ : "يَا طَالِعًا جَبَلًا" ، أَوْ نَكِرَةً غَيْرَ مُعَيَّنَةٍ كَقَوْلِ الْأَعْمَى : "يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ" ، وَإِنْ كَانَ مُعَرَّفًا بِاللَّامِ قِيْلَ : "يَا أَيُّهَا الرَّجُلُ" ، "يَا أَيَّتُهَا الْمَرْأَةُ" .

ترجمه : او دا منادی به منصوبه وی که چرته مضاف وی لکه "**یا عبدالله**" ، او یا مشابه وی د مضاف سره لکه "**یا طالعًا جبلًا**" او یا نکره غیر معین وی لکه دا قول د ړوند شو "**یا رجلًا خذ بیدی**" ، او که چرته منادی معرف باللام وی نو داسې به ونیلے کیږی "**یا أیها الرجل**" ، او "**یا أیتها المرأة**" .
تشریح : قوله : **و ینصب إن کان مضافًا نحو یا عبدالله** ... دا دریم قسم د منادی ذکر کوی چې منادی مضافه وی نو منصوبه به وی لکه "**یا عبدالله**" ، او چې کله منادی مفرده معرفه مشابه وی د مضاف سره نو هم به منصوب وی لکه "**یا طالعًا جبلًا**" ، دیته ئ شبه مضاف وویے ؛ ځکه چې مضاف الیه مجرور وی او دا خو مجرور نه دے ، بلکه جزء اول او ثانی دواړه منصوب دی لیکن د مضاف سره مشابه دے ؛ ځکه چې دا "**طالعًا**" بغیر د ذکر کولو د "**جبلًا**" نه نه تمامیږی لکه څنګه چې مضاف بغیر د مضاف الیه نه نه تمامیږی نو دې حالت کښې به معربه وی په اعراب د نصب سره . معرب به ؛ ځکه وی چې اضافت او شبه اضافت د خواص مکبرؤ معظمؤ د اسم نه دے نو راجح کوی جهت د اسمیت ، او أصل په أسماؤ کښې اعراب دے نو ؛ ځکه به معرب وی ، او منصوب به ؛ ځکه وی چې دا منادی پشان د مفعول به دے او مفعول به منصوب وی خو هله چې مانع نه وی . قوله : **أو نکرة غیر معینة** ... او دغه رنګ منصوب به وی دا منادی چې کله نکره غیر معین وی لکه دا قول د یو ړوند سړی شو چې "**یا رجلًا خذ بیدی**" دلته دا منادی چې "**رجلًا**" دے منصوب ده او معرب ده . معرب خو ؛ ځکه ده چې مشابهت ئ د مبنی أصل سره نشته او منصوب ؛ ځکه ده چې دا منادی مفعول به ده د فعل محذوف ، او مفعول به منصوب وی چې کله مانع د نصب نه نه وی ، او دلته هم مانع د نصب نه نشته . قوله : **و إن کان معرفًا باللام** ... د منادی أقسام ذکر کیدل نو درې قسمونه ئ ذکر کړل ، اوس څلورم قسم ذکر کوی چې کله منادی مفرده معرفه وی خو تعریف ئ په ألف

لام سره راغلے وی نو آیا چې حرف نداء په هغې باندې داخلیدے شی او که نه شی داخلیدے ؟ نو دے وائی : چې داخلیدے شی خو په دغه وخت کښې به توسط د " أيّ " په مذکر کښې ، او د " أيّة " په مؤنث کښې وی ، نو داسې به وائی : چې " يا أيّها الرجل " ، و " يا أيتها المرأة " ، او دا به مبنی علی الضمة وی ، او نکته ئ په منادی مفرده معرفه کښې ذکر شوې ده [۱] . دلته یو سوال راځی : چې هر کله منادی مفرده معرفه وی نو نحات خو وائی : چې دخول د حرف نداء پرې صحیح نه دے او تا خو پرې دلته حرف نداء داخل کړو ؟ جواب : کومه منادی چې معرف باللام وی نو دخول د حرف نداء پرې نه دے صحیح خو بالذات او بالواسطه صحیح دے ، او دلته په واسطه د " أيّ او أيّة " سره داخل شوے دے . سوال : څه وجه ده چې کله منادی معرف باللام وی نو دخول د حرف نداء پرې بالذّات ناروا دے ، او په واسطه د " أيّ او أيّة " سره جائز دے ؟ جواب : دا ځکه چې هر کله منادی معرف باللام وی نو که بلا واسطه پرې حرف نداء داخل کړو نو لازمیږی اجتماع د آلتین د تعریف او دا جائز نه ده ؛ ځکه حرف نداء هم آله د تعریف ده ، او ألف لام هم آله د تعریف ده ، او په واسطه د " أيّ او أيّة " سره ؛ ځکه داخلیدے شی چې په " أيّ او أيّة " کښې ابهام دے ، او ألف لام تفصیل د ابهام کوی ، او تفصیل بعد الابهام أوقع فی الذهن وی نو اجتماع د آلتین د تعریف نه لازمیږی.

سوال : نه منم دا خبره چې اجتماع د آلتین د تعریف په اسم واحد کښې ناروا ده په غیر د واسطه نه ؛ ځکه زه به درته داسې اسم وښائم چې معرف باللام به وی او حرف نداء به پرې داخل شوې وی بغیر د واسطې د " أيّ او أيّة " نه لکه " يا الله " . دلته دا " الله " معرف باللام دے او " ياء " پرې داخل شوې ده ؟ جواب : اسم د " الله " چې دے نو مستثنی دے د قواعد صرفیؤ ، او نحویؤ نه [۲].

وَ يَجُوْزُ تَرْخِيْمُ الْمُنَادَى ، وَ هُوَ حَذْفٌ فِيْ آخِرِهٖ ؛ لِلتَّخْفِيْفِ كَمَا تَقُوْلُ : فِيْ " مَالِكٍ " يَا مَالُ ، وَ فِيْ " مَنْصُوْرٍ " يَا مَنْصُ ، وَ فِيْ " عُثْمَانَ " يَا عُثْمُ ، وَ يَجُوْزُ فِيْ آخِرِ الْمُنَادَى الْمُرَخَّمِ الضَّمُّ ، وَ الْحَرَكَةُ الْأَصْلِيَّةُ كَمَا تَقُوْلُ : فِيْ " يَا حَارِثُ " يَا حَارُ وَ يَا حَارِ (يَا حَارُ يَا حَارِ) .

ترجمه : او جائز دے ترخیم د منادی ، او دا حذف دے په آخیر د دې منادی کښې ؛ د پاره د تخفیف لکه

---

[۱] چې دا واقع ده په ځای د کاف اسمی خطابی باندې ، او کاف اسمی خطابی مشابه دے د کاف حرف خطابی سره ، او کاف حرفی خطابی مبنی دے نو دا به هم مبنی وی ؛ ځکه مشابهت ئ راغلو د مبنی أصل سره نو مبنی به وی .

[۲] او د دې د پاره یوه قاعده هم په " کافیه " کښې شته ، چې د هغې په سبق کښې وښلے کیدے شی .

چې ته وائې : په " **مالک** " کښې يا مالُ ، او په " **منصور** " کښې يا منصُ ، او په " **عثمان** " کښې يا عثمُ ، او جائز دی په آخير د منادی مرخّم کښې ضمه او حرکت أصليه لکه چې ته وائې : په " **يا حارث** " کښې يا حارُ او يا حارِ .

تشريح : قوله : و يجوز ترخيم المنادی ...

مبحث ترخيم المنادی

په دې مقام کښې چند خبرې ذهن نشين کول پکار دی : (۱) ربط (۲) لغوی معنی (۳) اصطلاحی تعريف (٤) مثال (٥) شروط د ترخيم . (۱) ربط دا دے : هر کله چې فارغ شو مصنف ﷫ د منادی د أقسامو نه ، او جدا جدا حکم ذکر کولو نه نو شروع ئې وکړه په مجموعی حکم د هغوې باندې چې ترخيم المنادی دے .

(۲) ترخيم په لغت کښې نرم والی ، او لکۍ کټ کړے شوی ته وائې . (۳) په اصطلاح کښې دا ترخيم د منادی حذف دے په آخير د منادی کښې د پاره د تخفيف بغير د قواعد صرفيۋ او نحويۋ نه ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې زه به درته يو اسم وښائم چې د هغه نه به په آخير کښې حذف شوے وی او ته به ورته ترخيم د منادی نه وائې لکه " **يَدٌ** او **دَمٌ** " چې په أصل کښې " **يَدَوٌ** او **دَمَوٌ** " وو ؟ **جواب** : جواب وشو چې مراد زمونږ هغه دے چې حذف شوے وی بغير د قواعد صرفيۋ او نحويۋ نه ، او دلته دا حذف په قواعد صرفيۋ باندې شوے دے . اوس دلته دوه/۲ سواله راغلل : ۱ـ نفس ترخيم ولې کوې ؟ ۲ـ ترخيم په منادی کښې ولې کوې ؟

الجواب عن الأوّل : ۱ـ نفس ترخيم خو کوو د پاره د **تخفيف** ؛ ځکه چې يو لفظ اوګد وی نو په هغې تلفظ کول ګران وی د دې نه چې دا لفظ لنډ شی لکه مثلًا " **محمّد عبدالرحمن** " وائې نو اوګد دے ، او چې نفس " **محمّد** " اوائې نو لنډ دے .

الجواب عن الثّانی : ۲ـ او بيا دا ترخيم خاص شو په منادی پورې؛ ځکه دا کثيرالاستعمال ده.

قوله : **کما تقول فی مالک يا مالُ** ... په " **يَا مالک** " کښې به " **يَا مَالِ** او **يَا مَالُ** " وائې ، او په " **مَنْصُوْر** " کښې به " **يَا مَنْصُ** " وائې ، او په " **يَا عُثْمَان** " کښې به " **يَا عُثْمُ** " وائې ، خو دا ترخيم به په آخير د منادی کښې وی . **سوال** : مثال خو د پاره د وضاحت د ممثل وی نو يو مثال کافی وو که ! درې مثالونه ئې ولې راوړه ؟ **جواب** دا دے : چې درې مثالونه ئې ؛ ځکه راوړه چې يو مثال د هغه منادی دے چې د هغې نه يو حرف غرځيدلے وی او دا هغه منادی ده چې په آخير کښې ئې دوه زياداته په حکم د واحد کښې هم نه وی ، او په آخير کښې ئې حرف صحيح د مخه ئې درې حرف مدّه هم نه وی ، او دوه مثالونه ئې د هغه منادی راوړه چې آخير کښې ئې دوه حروف غرځيدلې وی ، خو " **يا منصور** " د هغه منادی مثال دے چې په آخير کښې ئې حرف

صحيح او ماقبل ترې حرف مدّه وي او دوه حروف زائد پکښې په حکم د واحد کښې وي . او " عثمان " د هغه مثال دے چې په آخير کښې ئ حرف صحيح وي او ماقبل ترې نه حرف مدّه او دوه حروف زائدتان وي په حکم د زائد واحده کښې .خو دا ترخيم د منادى چې جائز دے نو اول شرط دا دے : مضافه به نه وي ؛ ځکه که مضافه وي نو بيا پکښې ترخيم نه دے جائز؛ ځکه چې مضاف مضاف اليه غواړي ، نو ترخيم به يا په مضاف کښې کوي ، يا په مضاف اليه کښې ، که په مضاف کښې کوې نو دا حذف په وسط کښې دے او دا نه دے جائز او که ته حذف په مضاف اليه کښې کوې نو بيا حذف راځي بغير د منادى نه په بله کلمه کښې ؛ ځکه منادى أصل کښې هغه مضاف وي . دويم شرط دا دے : چې دا منادى معرف باللام نه وي ؛ ځکه چې په معرف باللام کښې هم ترخيم نه کيږي ؛ ځکه دا ترخيم د خواص د منادى نه دے ، او أصل منادى معرف باللام نه واقع کيږي نو د دې وجې نه دا خاصه په هغې کښې نه شي راتلے . دريم شرط دا دے : چې دا منادى به مستغاث نه وي ؛ ځکه که مستغاث وي نو يا به مستغاث په ألف سره وي او يا په لام سره که بالألف وي نو هلته مدّالصوت مقصود وي او په ترخيم کښې قصر الصوت مقصود وي ، او په مدّ او قصر کښې منافات دے . او که باللام وي نو په هغې کښې ؛ ځکه نه شي راتلے چې دا ترخيم د خواص د منادى نه دے او أصل منادى باللام نه واقع کيږي يعني باللام أصلي منادى نه ده نو دا خاصه پکښې نشي راتلے . څلورم شرط دا دے : چې دا منادى به جمله نه وي ؛ ځکه چې مقصود په جمله کښې حکايت وي ، او په ترخيم د منادى کښې حکايت مقصود نه وي . قوله : **و يجوز في آخر المنادى المرخم** ... او جائز دي په آخير د منادى مرخمه کښې ضمه او حرکت أصلي ، نو په " **يا حارث** " کښې " **يا حارُ** " وئيل هم جائز دي چې مبنى على الضمة شي ؛ ځکه محذوف نسيًا منسيًا وګرځوه ، او أصل په داسې منادى کښې بنا على الضمة ده . او " يا حارِ " وئيل پکښې هم جائز دي چې اعتبار حرکت أصلي لره ورکړې چې کسره وه .

وَاعْلَمْ أَنَّ " يَا " مِنْ حُرُوْفِ النِّدَاءِ قَدْ تُسْتَعْمَلُ فِيْ الْمَنْدُوْبِ أَيْضًا ، وَهُوَ الْمُتَفَجَّعُ عَلَيْهِ بِـ " يَا " ، أَوْ " وَا " كَمَا يُقَالُ : " يَا زَيْدَاهُ " ، وَ " وَا زَيْدَاهُ " ، فَـ " وَا " مُخْتَصَّةٌ بِالْمَنْدُوْبِ ، وَ " يَا " مُشْتَرَكَةٌ بَيْنَ النِّدَاءِ ، وَالْمَنْدُوْبِ ، وَحُكْمُهُ فِيْ الْإِعْرَابِ ، وَالْبِنَاءِ مِثْلُ حُكْمِ الْمُنَادَى .

ترجمه : او پوهه شه! چې يقينًا " ياء " د حروف نداء نه کله استعماليږي په مندوب کښې هم ، او دا مندوب هر هغه اسم دے چې په هغې سره درد او غم ظاهرولے شي په " يا " " وا " سره لکه چې ته وائې " يا زيداه " ،

"وا زيداه"، پس "وا" مختص دے په مندوب پورې او "يا" مشترکه ده په مابين د نداء او مندوب کښې، او حکم د دې په اعراب او بناء کښې پشان د حکم د منادی دے.

تشريح: قوله : **و اعلم أن ياء من حروف النّداء قد تستعمل في المندوب أيضًا** ... غرض د ماتن ﷫ په و اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په دې خبره چې لکه څنګه "ياء" حرف نداء استعماليږي په نداء کښې نو دغسې دا استعماليږي په مندوب کښې هم، بيا چونکه مشهور په حروف د نداء کښې ياء وه؛ نو څکه عموم ئ په "ياء" حرف نداء کښې وکړو چې "ياء" په غير د منادی نه په مندوب کښې هم استعماليږي چې قرينه فارقه وی په مندوب او نداء کښې او که چرته قرينه نوه نو بيا جائز نده. قوله : **و هو المتفجّع عليه بيا او وا** ... غرض د ماتن ﷫ تعريف کول دی د مندوب. **مندوب** : صيغه د اسم مفعول ده په لغت کښې هغه مړے دے چې په هغه جړا کيږی او د هغه محاسن شمارلے کيږی د پاره د دې چې اوريدونکی د دې دا مرګ يو أمر عظيم وګنړی، او شريک ورسره شی په جړا کښې. او په اصطلاح کښې ماتن ﷫ تعريف کړے دے معنی ئ دا ده : چې دا هر هغه اسم دے چې په هغه سره درد او غم ظاهر کړے شی په لفظ د "ياء، يا وا" سره، بيا که په وجود د هغه سره وی او که په عدم د هغه سره وی مثال لکه چې اوئيلے شی "يا زيداه" په مدّ الصوت سره؛ څکه که مدّ الصوت (يعني په ألف سره) نه شی نو بيا خو نداء کرځی نو دا مدّ الصوت قرينه فارقه شوه.

قوله : **فوا مختصة في المندوب** ... يعني د "وا" استعمال صرف په مندوب کښې کيږی او "ياء" عامه ده په مابين د نداء او مندوب کښې؛ څکه دواړو کښې مستعمليږی. قولهٗ : **و حكمه في الاعراب و البناء مثل حكم المنادى** ... دا اوس حکم د مندوب ذکر کوی چې حکم ئ په اعراب او بناء کښې پشان د حکم د منادی دے، يعنې څنګه چې منادی مفرده معرفه وه نو مبنی وه په علامه د رفع سره نو دغه شان که مندوب مفرد معرفه وو نو مبنی به وی په علامه د رفع سره، او لکه څنګه چې منادی مضاف شبه مضاف معرب وه په اعراب د نصب سره نو دغه سې که مندوب اسم مضاف وو نو معرب به وی په اعراب د نصب سره وغيره وغيره.

فَصْلٌ اَلْمَفْعُوْلُ فِيْهِ : هُوَ إِسْمُ مَا وَقَعَ فِعْلُ الْفَاعِلِ فِيْهِ مِنَ الزَّمَانِ وَ الْمَكَانِ، وَ يُسَمَّى ظَرْفًا، وَ ظُرُوْفُ الزَّمَانِ عَلَى قِسْمَيْنِ : مُبْهَمٌ؛ وَ هُوَ مَا لَا يَكُوْنُ لَهٗ حَدٌّ مُعَيَّنٌ كَـ "دَهْرٍ"، وَ "حِيْنٍ"، وَ مَحْدُوْدٌ؛ وَ هُوَ مَا يَكُوْنُ لَهٗ حَدٌّ مُعَيَّنٌ كَـ "يَوْمٍ"، وَ "لَيْلَةٍ"، وَ "شَهْرٍ"، وَ "سَنَةٍ"، وَ كُلُّهَا مَنْصُوْبٌ بِتَقْدِيْرِ "فِيْ" تَقُوْلُ : "صُمْتُ دَهْرًا"، وَ "سَافَرْتُ شَهْرًا" أَيْ : فِيْ دَهْرٍ وَ شَهْرٍ.

ترجمه : دا فصل دے په بيان د مفعول فيه کښې، دا هر هغه اسم دے چې واقع شوے وی فعل د فاعل په

دهکښې د زمان او مکان نه ، او ديته ظرف وائي ، او ظروف زمان په دوه قسمه دی ، مبهم : او دا هغه دے چې نه وی د دې د پاره حدّ معيّن لکه دهر ، او حين شو . او محدود : دا هغه دے چې وې د دې د پاره حدّ معين لکه يوم ، ليلة ، شهر ، او سنة شو ، او دا ټول منصوب دی په تقدير د " في " سره ، ته به وائی : " صمت دهرًا " ، او " سافرت شهرًا " يعني " في دهرٍ ، و شهرٍ " .

تشريح : قوله : **المفعول فيه** ...

بحث المفعول فيـــــه

په دې مقام کښې چند خبرې بطور اجمال ذکر کول مناسب دی (١) ربط (٢) لغوی معنی (٣) اصطلاحی معنی (٤) أقسام (٥) حکم .

(١) ربط دا دے : چې کله فارغ شو ماتن ﷺ د دوه قسمونو د مفاعيل نه نو شروع ئ وکړه په دريم قسم باندې چې مفعول فيه دے . بيا ئ دا په دريم مقام کښې ذکر کړو ؛ ځکه په اجمال کښې په دريم مقام کښې ذکر وو ؛ د دې د پاره چې تفصيل موافق شی د إجمال سره ، بيا د فعل زيات احتياج ديته دے ؛ ځکه هر فعل د وقوع د زمان او مکان نه خالی نه وی .

پس د دينه : مفعول فيه په لغت کښې کار کړے شوے په دې کښې ، او په اصطلاح کښې « **هو اسم ما وقع فعل الفاعل فيه من الزمان و المكان** » يعني مفعول فيه نوم د هغه شی دے چې واقع شی په دې کښې فعل د فاعل چې دا زمان دے او مکان دے . په هر تعريف کښې لابدی وی د جنس او فصل نه ، نو " اسم " په منزله د جنس دے " **ما وقع فعل الفاعل فيه** " سره ټول منصوبات خارج شو . بيا دا فعل عام دے که حقيقتًا وی لکه "**صمت زمانًا**" ، او که تقديرًا وی لکه "**يوم الجمعة**" أی: صمت يوم الجمعة . بيا د فعل نه مراد معنی لغوی ده چې حدث دے . بيا په دې " **من الزمان و المكان** " کښې اشاره ده دوه قسمونو د مفعول فيه ته ، او د " **من الزمان** " مقصد دا دے : چې په جواب د " **متى** " کښې واقع کيږی لکه يو سړے ووائی : "**متى سرت**" ؟ ته ورته ووائی : "**يوم الجمعة**" . او د " **المكان** " مقصد دا دے : چې په جواب د " **أين** " کښې واقع کيږی مثلًا تا ته يو کس ووائی : " **أين زيد** " ؟ ته ورته ووائی : " **في البلد** " .

قوله : **و يسمى ظرفًا** ... غرض په دې عبارت سره دفع د اعتراض ده ، **اعتراض** دا دے : چې تا کوم تعريف د مفعول فيه وکړو دا خو د ظرف تعريف دے ؟ **جواب** : " **و يسمى ظرفا** " مطلب دا چې مفعول فيه او ظرف يو شے دے . قوله : **و ظروف الزمان على قسمين** ... غرض د ماتن ﷺ أقسام د ظرف ذکر کوی ، خو اولًا ظرف دوه قسمه دے : ١ ـ زمان . ٢ ـ مکان ، بيا هر واحد دوه قسمه دے : ١ ـ مبهم . ٢ ـ محدود ، نو د ظرف څلور أقسام شو . ١ ـ ظرف زمان مبهم . ٢ ـ ظرف زمان محدود . ٣ ـ ظرف مکان مبهم . ٤ ـ ظرف مکان محدود .

قوله : **مبهم و هو ما لايكون له حدّ معين** ... غرض د ماتنﷺ تعريف د ظرف زمان مبهم كول دی : چې دا هغه اسم دے چې د هغه د پاره حدّ معين نه وی ، مثال لکه " **دهر** " ، يا " **حين** " شو چې د دې څه وخت معين نه دے .

قوله : **و محدود و هو ما يكون له حدّ معين** ... غرض د ماتنﷺ د ظرف زمان محدود تعريف كول دی : چې د دې د پاره حدّ معين وی لکه " **يوم** " چې د دې حدّ معين دے چې مخصوص گهنټو ته وائى ، دغسې " **ليل** " چې د دې د پاره هم حدّ معين دے چې د غروب الشمس نه تر طلوع الشمس پورې . دغسې " **شهر** " چې د دې هم وخت معين دے چې يو کم ديرشت ، يا ديرشت ورځې وی . دغسې " **سنة** " چې د دې هم وخت معين دے چې دولس مياشتې وی ، حاصل دا چې دې تولو لره حدّ معين شته دے . قوله : **و كلها منصوب بتقدير في** ... د دې ځائ نه حکم د دې قسم ظرف چې ظرف زمان دے ذکر کوی چې دا دواړه به منصوب وی په تقدير د " **فی** " سره ، دا تقدير قيد ؛ ځکه لکوو چې که " **فی** " مذکور وی نو بيا خو مجرور وی ؛ ځکه " **فی** " خو جاره دے خپل مدخول لره جر ورکوی ، نو اشاره شوه چې دا فعل پکښې بالذات عمل کوی بغير د واسطه نه ، او وجه دا ده : چې دا ظرف زمان مبهم جزء دے د مفهوم د فعل نه پشان د مفعول مطلق نو په هغه کښې ئ بلا واسطه عمل د نصب کوو نو په ديکښې به هم بلا واسطه عمل کوی ، او هر چې ظرف زمان محدود دے نو دا حمل دے په زمان مبهم باندې ؛ ځکه دا ورسره شريک او متحد په اعتبار د ذات سره دے ؛ ځکه دواړه زمان دی ، مثال لکه " **صمت دهرًا** " أی " **فی دهرٍ** " ، او دا مثال د ظرف زمان مبهم دے . او " **سافرت شهرًا** " أی " **فی شهرٍ** " ، دا مثال د ظرف زمان محدود دے .

وَ ظُرُوْفُ الْمَكَانِ كَذٰلِكَ مُبْهَمٌ ؛ وَ هُوَ مَنْصُوْبٌ أَيْضًا بِتَقْدِيْرِ " فِيْ " نَحْوُ : " جَلَسْتُ خَلْفَكَ " ، وَ " أَمَامَكَ " ، وَ مَحْدُوْدٌ ؛ وَ هُوَ مَا لَايَكُوْنُ مَنْصُوْبًا بِتَقْدِيْرِ " فِيْ " ، بَلْ لَابُدَّ مِنْ ذِكْرِ " فِيْ " فِيْهِ نَحْوُ : " جَلَسْتُ فِي الدَّارِ " ، وَ " فِي السُّوْقِ " ، وَ " فِي الْمَسْجِدِ " .

ترجمه : او ظروف المکان هم دوه قسمه دی : مبهم ، او دا هم منصوب وی په تقدير د فی سره لکه " **جلست خلفک و أمامک** " ، او بل محدود دے ، او دا هغه دے چې منصوب نه وی په تقدير د " **فی** " سره ، بلکه لابدی وی پکښې د ذکر د " **فی** " نه لکه " **جلست فی الدار ، و فی السوق ، و فی المسجد** " .

تشريح: قوله : **و ظروف المکان کذلک مبهم** ... غرض د ماتنﷺ دوه أقسام د ظرف مکان ذکر کوی : چې ظرف مکان هم په دوه قسمه دے : ۱ـ مبهم چې دې لره حد معين نه وی لکه " **جلست خلفک و أمامک** " ؛ ځکه د " **خلف او أمام** " څه حدّ نشته دے .

قوله : **و هو منصوب أيضًا بتقدير ف** ... غرض د ماتن﷫ حکم ذکر کول دی : چې دا به منصوب وی په تقدیر د " **فی** " سره پشان د ظرف زمان ، او وجه دا ده : چې دا مشترک دے د ظرف زمان مبهم سره په وصف کښې چې ابهام دے نو حمل شو په زمان مبهم باندې په تقدیر د " **فی** " کښې ، بیا د دې تقدیر د " **فی** " نه داسې معلومیږی چې مفعول فیه په دوه قسمه دے :
۱ ـ مفعول فیه چې منصوب وی او په تقدیر د " **فی** " سره وی . ۲ ـ چې تقدیر د " **فی** " نه وی خو " **فی** " پکښې ملفوظ وی نو بیا به مفعول فیه مجرور وی ، نو یو مفعول فیه منصوب ، دویم مجرور ، او دا رائی د مصنف﷫ ده ورنه د جمهورو رائی دا ده : چې مفعول فیه یو قسم دے چې تقدیر د " **فی** " وی ، او منصوب وی نو د مفعول فیه کیدلو د پاره شرط تقدیر د " **فی** " دے ، او که تقدیر د " **فی** " نه وو نو بیا دیته مفعول به وائی په واسطه د حرف جر سره ، د ماتن﷫ په نزد تقدیر د " **فی** " شرط د نصب د پاره دے نه د مفعول فیه کیدلو د پاره .

قوله : **و محدود و هو ما لایکون منصوب بتقدیر فی** ... څلورم قسم ظرف مکان محدود دے نو حکم ئې دا دے : چې دا به منصوب په تقدیر د " **فی** " سره نه وی ، بلکه دیکښې به " **فی** " ذکر وی ؛ ځکه دا شریک نه دے د زمان مبهم سره نه په ذات کښې او نه په وصف کښې ، چونکه أصل په ظروف کښې زمان مبهم دے نو په هغه کښې فعل بلا واسطه عمل د نصب کوو ، او دویم زمان محدود وو نو دا هم حمل وو په زمان مبهم باندې ؛ نو ځکه منصوب وو ، او وجه دا وه چې دا ورسره شریک وو په ذات کښې چې زمان دے ، دریم مکان مبهم دے دا د ظرف زمان سره په وصف کښې شریک وو ؛ نو ځکه پرې حمل کیدو په نصب کښې ، هر چې ظرف مکان محدود دے نو دا ورسره نه په ذات کښې او نه په وصف کښې شریک وو ، نو دا نشی حمل کیدے په زمان مبهم باندې ؛ نو لهذا دیکښې به تقدیر د " **فی** " نه وی ، نو فعل به پکښې بالذات عمل نشی کولے ، بلکه په واسطه سره به پکښې کوی چې " **فی** " دے ، مثال لکه " **جلست فی الدار** " ، " **جلست فی السوق** " ، او " **جلست فی المسجد** " وغیره .

فصل اَلْمَفْعُوْلُ لَهُ : **هُوَ** مَا لِأَجْلِهِ يَقَعُ الْفِعْلُ الْمَذْكُوْرُ قَبْلَهُ ، وَ يُنْصَبُ بِتَقْدِيْرِ اللَّامِ **نَحْوُ** : " ضَرَبْتُهُ تَادِيْبًا " أَيْ : لِلتَّادِيْبِ ، وَ " قَعَدْتُ عَنِ الْحَرْبِ جُبْنًا " أَيْ : لِلْجُبْنِ ، وَ عِنْدَ الزَّجَّاجِ **هُوَ** مَصْدَرٌ تَقْدِيْرُهُ أَدَّبْتُهُ تَادِيْبًا وَ جَبُنْتُ جُبْنًا .

ترجمه : دا فصل دے په بیان د مفعول له کښې ، دا هر هغه اسم دے چې د دې د وجې نه فعل مذکور د دې نه مخکښې واقع کیږی ، او منصوب کولے شی په تقدیر د لام سره لکه " **ضربته تادیبًا** " یعني للتادیب ، او "

قعدت عن الحرب جبنًا " يعني للجبن ، او په نزد د زجاج باندې دا مصدر دے تقدير ئ داسې دے " أدّبته تاديبًا ، و جبنت جبنًا " .

تشريح : قوله : فصل المفعول له ...

بحث المفعول لـــــه

په دې مقام کښې چند خبرې اجمالًا ذکر کول مناسب دی چې تفصيل آسان شی . (۱) ربط (۲) معنى لغوى (۳) اصطلاحی معنى (٤) حکم (٥) مثال (٦) بيان د يو اختلاف .

(۱) **ربط دا دے** : چې هر کله فارغ شو ماتن ﷫ د درې أقسام د مفاعيل نه نو شروع ئ وکړه په څلورم قسم باندې چې مفعول له دے ، بيا دا ئ په څلورم مقام کښې ولې ذکر کړو ؛ نو ځکه چې په اجمال کښې په څلورم مقام کښې وو نو په تفصيل کښې ئ هم په څلورم مقام کښې ذکر کړو چې تفصيل موافق شی د اجمال سره ، بيا دا ئ د مخکښې أقسامو نه ورسته کړو ؛ ځکه دا نور منصوبات وو بغير د اختلاف نه او د دې په مستقل منصوب شمارلو کښې اختلاف وو ؛ نو ځکه ئ د هغوی نه ورسته کړو .

(۲) **لغـــوی معنى** : " المفعول له " په لغت کښې « کار کړے شوے د هغه د پاره » .

(۳) **اصطلاحی معنى** : « **هو اسم ما لأجله يقع الفعل المذکور** » يعني دا نوم د هغه شی دے چې د هغه د وجه نه فعل مذکور واقع شوے وی . بيا " **هو** " په منزله د جنس دے ټول مفاعيل پکښې داخل دی " اسم " سره ترې أفعال او حروف خارج شو " **ما لأجله يقع الفعل المذکور** " سره ترې ټول منصوبات خارج شو " **الفعل المذکور** " عام دے که حقيقتًا مذکور وی او که حکمًا وی ، دا په أصل کښې دفع د سوال ده ، **سوال** دا دے : چې زه به درته وښائم چې مفعول له به وی او مخکښې به ترې فعل نه وی لکه تا ته يو کس ووائی : " لِمَ ضَرَبْتَ زَيْدًا " ؟ ته ورته جواب ورکړې چې " **تاديبًا** " نو دا " **تاديبًا** " مفعول له دے او مخکښې ترې فعل نشته ؟

جواب : فعل عام دے که حقيقتًا وی او که حکمًا وی نو دلته اګرچې حقيقتًا نشته دے خو حکمًا شته دے .

(٤) **بيـــــان الحکم** : قوله : **و ينصب بتقدير اللام** ... غرض د ماتن ﷫ بيان د څلورمې خبرې دے : حکم د مفعول له ذکر کوی چې دا به منصوب وی په تقدير د " **لام** " سره ؛ ځکه که " **لام** " ذکر شی نو بيا خو به مجرور په " **لام** " سره وی . بيا دينه معلوم شوه چې د نصب د مفعول له د پاره شرط تقدير د " **لام** " دے ، نو مفعول له دوه قسمه شو : ۱ـ چې " **لام** " پکښې مقدر وی . ۲ـ چې " **لام** " پکښې ملفوظ وی ، او د جمهورو په نزد باندې تقدير د " **لام** " د مفعول له د پاره شرط دے نه د نصب د پاره ؛ ځکه که " **لام** " ملفوظ وو نو بيا ورته مفعول به

وائی په واسطه د حرف جر سره ، بیا دلته دا فعل پکښې بالذات عمل کوی ؛ ځکه چې کوم وخت دا فعل معلل به وی نو د دې او مفعول له فاعل یو وی ، او مفعول له د فعل معلل به سره مقارن وی نو په دې وخت کښې دا مفعول له پشان د مفعول مطلق شو په جزء کیدو د فعل نه نو مفعول مطلق کښې عمل د نصب د فعل بالذات وو نو په دې کښې به بالذات وی ، مثال لکه " ضربته تادیبًا " أی للتادیب ، " و قعدت عن الحرب جبنًا " أی للجبن . **سوال** : مثال خووی د پاره د وضاحت د ممثل نو یو مثال کافی وو دلته ئ دوه ولې راوړه ؟ **جواب** : تعدد د أمثلو بناء دے په تعدد د ممثلات سره ؛ ځکه یو مثال د هغه مفعول له د پاره دے چې دا مفعول له پکښې د فعل مذکور د وجه نه راشی ، او دویم مثال د هغه د پاره دے چې مفعول له پکښې د مخکښې نه موجود وی خو په فعل مذکور سره پکښې ظاهر شی لکه دویم مثال کښې دا " جبن " مخکښې نه وو خو فعل مذکور سره پکښې ظاهر شو [1] .

(٦) **بیان الإختـــــلاف** : قوله : **و عند الزجاج** ... **سوال** : دا مفعول له مستقل قسم د منصوبات نه شمارل صحیح نه دی ؛ ځکه دا په مفعول مطلق کښې داخل دے ، او دا زه یواځې نه وائم ، بلکه زجاج هم دا وائی ؟ **جواب** : زجاج صاحبه زه ستا نه تپوس کوم چې نه دیته مفعول مطلق وائی نو مفعول مطلق خو مصدر په معنی د فعل مذکور سره وی ، او " تادیبًا " په معنی د فعل مذکور سره نه دے ؟ د زجاج صاحب د طرف نه **جواب** دا دے : چې دا مؤول دے په تاویل د " **أدبته بالضرب تادیبًا** " سره ، او " **جبنت فی القعود عن الحرب جبنًا** " سره . خو دا قول د زجاج صحیح نه دے؛ ځکه په تاویل کولو سره یوه نوع په بله نوع کښې نه داخلیږی، ورنه بیا خو په ټولو کښې تاویل کوه ، او په مفعول مطلق کښې ئ داخلوه ! ؛ لهذا دا مستقل قسم د منصوبات دے او په مفعول مطلق کښې داخل نه دے .

فصل اَلْمَفْعُوْلُ مَعَهُ : **هُوَ مَا يُذْكَرُ بَعْدَ الْـ " وَاوِ " بِمَعْنَى " مَعَ " ؛ لِمُصَاحَبَةِ مَعْمُوْلِ الْفِعْلِ نَحْوُ : " جَاءَ الْبَرْدُ وَ الْجُبَّاتِ " ، وَ " جِئْتُ أَنَا وَ زَيْدًا " أَيْ : مَعَ الْجُبَّاتِ ، وَ مَعَ زَيْدٍ . فَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ لَفْظًا وَ جَازَ الْعَطْفُ يَجُوْزُ فِيْهِ الْوَجْهَانِ النَّصْبُ وَ الرَّفْعُ نَحْوُ : " جِئْتُ أَنَا وَ زَيْدًا وَ زَيْدٌ " ، وَ إِنْ لَمْ يَجُزِ الْعَطْفُ تَعَيَّنَ النَّصْبُ نَحْوُ : " جِئْتُ وَ زَيْدًا " ، وَ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ مَعْنًى ، وَ جَازَ الْعَطْفُ تَعَيَّنَ الْعَطْفُ نَحْوُ : " مَا لِزَيْدٍ وَ عَمْرٍو " ، وَ إِنْ لَمْ يَجُزِ الْعَطْفُ تَعَيَّنَ النَّصْبُ نَحْوُ : " مَالَكَ وَ زَيْدًا " ، وَ " مَا شَأْنُكَ وَ عَمْرًوا " ؛ لِأَنَّ الْمَعْنَى مَا تَصْنَعُ .**

---

[1] بالفاظ دیگر : یو مثال د هغې دے چې فعل مذکور علت او مفعول له معلول ، او دویم مثال د بالعکس دے . منه

ترجمه : دا فصل دے په بیان د مفعول معه کښې ، دا هغه اسم دے چې ذکر کیږي پس د "**واو**" نه په معنی د "**مع**" سره د پاره د مصاحبت د معمول د فعل لکه " **جاء البرد و الجبات** " ، " **و جئت أنا و زیدًا** " أی مع الجبات ومع زید، که چرته فعل لفظًا وو او جائز وو عطف نو جائز دی په دې کښې دوه وجې : نصب ، او رفع لکه " **جئت أنا و زیدًا و زیدٌ** " ، او که چرته عطف جائز نه وو نو متعین به وی نصب لکه "**جئت و زیدًا**" ، او که چرته فعل معنًی وو او جائز وو عطف نو متعین دے عطف لکه " **ما لزیدٍ و عمرو** " ، او که چرته عطف جائز نه وو نو متعین دے نصب لکه " **مالک و زیدًا و ما شانک و عمرًوا** " ؛ ځکه د دې معنی ده ما تصنع .

تشریح : قوله : **فصل المفعول معه هو ما یذکر بعد الواو** ...

بحث المفعول معه

په دې مقام کښې چند مباحث اجمالًا ذکر کول مناسب دی د دې د پاره چې تفصیل آسان شی . (۱) ربط (۲) معنی لغوی (۳) معنی اصطلاحی (٤) مثال (٥) أحکام .

(۱) **ربط دا دے** : چې هر کله فارغ شو ماتن ﷫ د تفصیل د څلور قسمونو د منصوبات نه نو شروع ئ وکړه په تفصیل د پنځم قسم د منصوبات باندې ، بیا ئ دا په پنځمه مرتبه کښې ذکر کړو ؛ ځکه اجمال کښې په دې مرتبه کښې ذکر وو نو په تفصیل کښې ئ هم په دې مرتبه کښې ذکر کړو چې تفصیل موافق شی د اجمال سره ، او په اجمال کښې په دې مرتبه کښې ؛ ځکه ذکر وو چې دا په نسبت سره ماقبل ته قلیل الاستعمال وو ، او د مابعد په نسبت سره کثیر الاستعمال وو ؛ نو ځکه ئ د هغوی نه مخکښې ذکر کړو .

(۲) **لغـــــوی معنی** : " **المفعول معه** " په لغت کښې کار کړے شوے د ده سره .

(۳) **اصطلاحی معنی** : ماتن ﷫ اصطلاحی معنی کړې ده « **هو ما یذکر بعد الواو بمعنی مع لمصاحبته معمول الفعل** » یعنې دا هغه اسم دے چې ذکر کړے شوے وی پس د "**واو**" نه داسې "**واو**" چې په معنی د " **مع** " سره وی د پاره د مصاحبت د معمول د فعل ، بیا دا معمول عام دے که فاعل وی او که مفعول وی ، او بیا فاعل عام دے که اسم ظاهر وی او که اسم ضمیر وی . " **هو** " په منزله د جنس " **ما** " کلمه عبارت دے د اسم نه په دې سره أفعال او حروف خارج شو " **یذکر بعد الواو** " سره ترې تول منصوبات خارج شو " **بمعنی مع** " سره ترې هغه اسم خارج شو چې پس د "**واو**" نه وی خو دغه "**واو**" په معنی د "**مع**" سره نه وی، بلکه " واو " عاطفه وی .

(٤) **مثـــــال** : لکه " **جاء البرد و الجبات** " أی مع الجبات ، دا مثال د هغه دے چې د مفعول معه مصاحبت د معمول د فعل سره راغلے وی خو دا معمول فاعل اسم ظاهر وی چې هغه " **البرد** " دے (معنی ئ دا ده : چې راغله یخنی سره د کوټونو نه) . او دا دویم مثال د هغه معمول د فعل دے چې هغه فاعل اسم ضمیر وی . لکه گوره ! "**جئت أنا و زیدًا**" ، دلته مصاحبت د "

زید " د " تُ " ضمیر د فاعل سره راغلے دے . او مثال د هغه د پاره چې د معمول د فعل سره مصاحبت راغلے وی خو دا معمول الفعل مفعول به وی لکه "کفاك و زیدًا درهم" (کاف دے ستا د پاره سره د زید نه یو درهم) دلته دا " زیدًا " مفعول معه دے مصاحبت د " کاف " ضمیر د مفعول معه سره راغلے دے ، بیا ماتن ﷺ دا مثال ذکر نه کړو ؛ د وجې د کثرتِ وضوح نه ، او یا قلیل وو ؛ ځکه ئې ذکر نه کړو.

(ه) أحـــــــکام : قوله : فان کان الفعل لفظًا و جاز العطف یجوز فیه الوجهان ... که چرته عامل ناصبه لفظی وو او حال دا دے : چې عطف هم جائز وو نو دغه اسم چې ورسته د " واو " نه واقع دے په دې کښې دوه وجې جائز دی : ۱ـ نصب . ۲ـ عطف . مقصد دا دے : چې کوم اسم ورسته د " واو " نه واقع دے او اسم داسې دے چې په ماقبل باندې ئې عطف هم جائز دے یعنې مانع د عطف نه نشته نو په دغه اسم کښې دوه وجې جائز دی : نصب ، او عطف . مثال لکه "جئت أنا و زیدًا" ، دلته د " زیدا " عطف په " تُ " ضمیر متصل باندې جائز دے چې کله تاکید په ضمیر منفصل سره شوے وی ، او دلته هم تاکید شوے دے په " أنا " سره ؛ لهٰذا د " زیدًا " عطف هم صحیح دے نو که عطف شی نو مرفوع به وی ، او که عطف ئې نه کوې نو نصب پکښې ووایه ! بنا بر مفعول معه .

قوله : و إن لم یجز العطف تعیّن النصب ... مطلب دا چې که عطف جائز نه وو یعنې مانع د عطف موجود وو نو بیا په دغه اسم کښې نصب متعیّن دے . او بنا بر معفعول معه مثال لکه " جئت و زیدًا " ، دلته عطف د " زیدًا " په " تُ " ضمیر باندې جائز نه دے ؛ ځکه عطف په ضمیر مرفوع متصل باندې بغیر د تاکید نه په منفصل سره جائز نه دے او دلته تاکید په منفصل سره نه دے شوے نو عطف جائز نه شو نو نصب یخپله متعین شو.

قوله : و إن کان الفعل معنًی ... یعنې که چرته فعل معنوی وو (معنوی دیته وائی : چې د فحوا د کلام نه معلومیږی) ، او عطف جائز وو یعنې مانع د عطف نه وو نو بیا تعیّن العطف ، او نصب بنا بر مفعول معه نه دے جائز مثال لکه "ما لزید و عمرو" ، دلته دا " ما " استفهامیه مبتداء ده " لزید " ئې په اعتبار د متعلق سره خبر دے ، او " عمرو " په دې عطف دے او دلته عطف ؛ ځکه جائز دے چې دا عطف د اسم ظاهر مجرور دے په اسم ظاهر مجرور باندې ، او دا بغیر د اعادې د حرف جر نه جائز وی ، اوس که منصوب شی نو عامل به پکښې معنوی شی او عامل معنوی ضعیف وی او چې عطف شی نو عامل به پکښې لفظی شی چې " لام " جاره دے او عامل لفظی قوی وی . قوله : و إن لم یجز العطف تعین النصب ... یعنې که عامل معنوی وی او عطف جائز نه وی ، بلکه ممتنع وی نو بیا نصب متعین دے مثال لکه "مالك و زیدًا و ما شانك و عمروا" ، په اول مثال کښې " ك " ضمیر مجرور متصل بحرف الجر دے او " زیدًا "

پرې عطف کول نو جائز ؛ ځکه نه دے چې قاعده دا ده : چې عطف په ضمير مجرور باندې بغير د اعادې د حرف جر نه جائز نه دے او دلته اعاده د حرف جر نه ده شوې نو عطف جائز نه شو نو ځکه " زيدًا " منصوب پاتې شو بنا بر مفعوليت ، او په دويم مثال کښې " شانک " کښې دا " ک " ضمير مجرور متصل باندې عطف د " عمرو " شوے دے او عطف په ضمير مجرور باندې بغير د اعادې د حرف جر نه جائز نه وی نو ؛ لهذا عطف جائز نه شو نو نصب متعين شو بنا بر مفعول معه ، او عامل پکښې معنوی وی چې " تصنع " دے أی : " ماتصنع و زيدًا و ماتصنع و عمرًوا " . بيا ماتن ﷺ دوه مثاله ذکر کړه ؛ ځکه اول مثال د مجرور بحرف الجر دے او دويم مثال د مجرور بالاضافت دے .

فصل الحَالُ : لَفْظٌ يَدُلُّ عَلَى بَيَانِ هَيْئَةِ الْفَاعِلِ ، أَوِ الْمَفْعُوْلِ بِهِ ، أَوْ كِلَيْهِمَا نَحْوُ : " جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا " ، وَ " ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا " ، وَ " لَقِيْتُ عَمْرًوا رَاكِبَيْنِ " ، وَ قَدْ يَكُوْنُ الْفَاعِلُ مَعْنَوِيًّا نَحْوُ : " زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِمًا " ؛ لِأَنَّ مَعْنَاهُ زَيْدٌ اسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ قَائِمًا ، وَ كَذَا الْمَفْعُوْلُ بِهِ نَحْوُ : " هَذَا زَيْدٌ قَائِمًا " ؛ فَإِنَّ مَعْنَاهُ الْمُشَارُ إِلَيْهِ قَائِمًا هُوَ زَيْدٌ .

ترجمه : دا فصل دے په بيان د حال کښې ، او حال داسې يو لفظ دے چې دلالت کوی په بيان د هيئت د فاعل او مفعول به يا د دواړو لکه " جاءنی زيد راكبًا و ضربت زيدًا مشدودًا " ، و " لقيت عمرًوا فی الدار " ، او کله فاعل معنوی وی لکه "زيد فی الدار قائمًا" ؛ ځکه معنی د دې دا ده : چې "زيد استقرّ فی الدار قائمًا" ، او دغسې مفعول به هم لکه " هذا زيدٌ قائمًا " ؛ ځکه معنی د دې دا ده : چې کوم څوک د قيام مشار اليه دے نو هغه " زيد " دے .

تشريح : قوله : **فصل الحال ...**

بحث الحـــــال

په دې عنوان کښې چند خبرې دی : (۱) ربط (۲) معانی د حال (۳) تعيين د ما هو المراد ههنا (٤) مثال (٥) أحکام .

(۱)**ربط دا دے** : چې هر کله فارغ شو ماتن ﷺ د تفصيل د مفاعيل خمسو نه نو شروع ئې وکړه په تفصيل د ملحقات د مفاعيل باندې ، او بيا ئې په ملحقات کښې حال مقدم کړو په تميز او مستثنی باندې ؛ ځکه حال کثير الاستعمال دے ، او کثرت استعمال تقاضه د تقديم کوی ؛ نو ځکه ئې حال مقدم کړو .

(۲) **لغوی تحقيق** : حال په لغت کښې په ګڼرو معانو سره راځی لکه : ۱ـ حال په معنی د هغه زمانې چې په مابين د ماضی او استقبال کښې وی . ۲ـ په اصطلاح د منطق کښې حال أمر

عارض ته وائی . ۳ـ په اصطلاح د أهل المعانی کښې حال أمر داعی ته وائی . ٤ـ په اصطلاح د نحات کښې « ما يبيّن هيئة الفاعل أو المفعول به أو كليهما » .

(۳) تعيين ما هو المراد ههنا : او مراد هم دلته دا معنی ده (ما يبيّن هيئة الفاعل أو المفعول به أو كليهما) ؛ ځکه قانون دے كلّ متكلّم يتكلّم باصطلاحه ، نو کتاب د نحو دے نو معنی د حال به هم د نحو وی ، بیا مصنف ﷺ په تعریف د حال کښې " **لفظ** " ذکر کړے دے دا په منـزله د جنس دے " **يدل على بيان هيئة الفاعل** " سره ترې تمییز خارج شو ؛ ځکه هغه بیان د ذات کوی نه د هیئت " **الفاعل** او **المفعول به** " سره ئ احتراز وکړو د هغه نه چې بیان د هیئت د فاعل او د مفعول به نه علاوه د بل شی کوی لکه مثلًا مبتداء وغیره چې بیان د هیئت د مبتداء کوی ، بیا دا قید ورسره دے چې په دې حیثیت چې فاعل او مفعول ئ واخلې نو په دې سره ترې هغه خارج شو چې بیان د هیئت فاعل یا د مفعول ئ کړے وی خو په حیثیت د فاعل او مفعول نه وی مثال لکه " **جاءنی رجل عالم** " ، دلته " **عالم** " هیئت د " **رجل** " بیان کړے دے خو په حیثیت د فاعل نه دے نو دیته حال نشی وئیلے کیدے ، بیا فاعل او مفعول عام دی که حقیقتًا وی او که حکمًا وی ، په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې زه به درته وښائم چې حال به وی او بیان د هیئت به ئ نه د فاعل کړے وی او نه د مفعول به لکه " **ضُرِبَ زيدٌ مشدودًا** " ، دلته دې " **مشدودًا** " حال بیان کړے دے خو د نائب فاعل ، دغسې " **قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا** [1] " الأية دې " **حنيفًا** " حال د " **ابراهيم** " بیان کړے دے ، او دا مضاف اليه دے فاعل نه دے ، او خلق ورته حال وائی ؟ **الجواب** : فاعل او مفعول عام دی که حقیقتًا وی او که حکمًا وی نو نائب فاعل هم حکمًا فاعل دے ، او " **ابراهيم** " مضاف اليه هم حکمًا مفعول به دے . قوله : **نحو جاءنی زيدٌ راكبًا** ... غرض د ماتن ﷺ أمثله بیانول دی ، نو دا مثال د هغه دے چې حال هیئت د فاعل بیان کړے وی ، او "**ضربت زيدًا مشدودًا**" ، دا مثال د هغه دے چې حال بیان د هیئت د مفعول به بیان کړے وی ، او "**لقيتُ عمرًوا راكبين**" دې حال د هیئت د فاعل او مفعول به دواړو بیان کړے دے دا درې ممثلات وو ؛ نو ځکه ئ درې مثالونه راوړه . قوله : **و قد يكون الفاعل معنويًا نحو زيد فی الدار قائمًا** ... غرض د ماتن ﷺ تعمیم کول دی په فاعل او مفعول به کښې په دې شان سره چې دا فاعل او مفعول به عام دی که ملفوظ وی ، که منطوق وی ، او که معنوی وی . د معنوی مقصد دا دے : چې معلومیږی د فحوا د کلام نه مثال د فاعل معنوی لکه "**زيد فی الدار قائمًا**" ، دلته دا " **قائمًا** " حال د " **زيد** " دے خو " **زيد** " معنیً فاعل دے ؛ ځکه " **فی الدار** " جار مجرور متعلق دے په " **استقرّ** " پورې

(1) سورة البقرة : ١٣٥ .

او "استقرَّ" کښې ضمير د "هُوَ" راجع دے "زيد" ته نو دا "قائمًا" د هغې نه حال شو، نو معنى دا شوه: چې ((زيدٌ استقرّ في الدار قائمًا)).

قوله: و كذا المفعول به ... يعني دا مفعول به ملفوظ نه وى، بلکه معنوى وى لکه "هذا زيدٌ قائمًا"، دلته دا "قائمًا" حال دے د "زيد" نه او دا مفعول به معنوى دے؛ ځکه د فحوا د کلام نه معلوميږى. "هذا" اسم اشاره ده بمعنى "المشار اليه قائمًا"، يا "أشير زيدًا قائمًا" وغيره، نو دلته "زيد" نائب فاعل دے، او "المشار اليه" اسم مفعول شو او نائب فاعل هم حقيقت کښې مفعول به وى، او په "أشير زيدًا" کښې مفعول به دے، او "قائمًا" ترې حال راقع شوے دے. بهر حال فاعل او مفعول عام دى که ملفوظ وى او که معنوى وى.

وَالْعَامِلُ فِي الْحَالِ فِعْلٌ أَوْ مَعْنَى فِعْلٍ، وَ الْحَالُ نَكِرَةٌ أَبَدًا، وَ ذُو الْحَالِ مَعْرِفَةٌ غَالِبًا كَمَا رَأَيْتَ فِي الْأَمْثِلَةِ الْمَذْكُوْرَةِ، فَإِنْ كَانَ ذُو الْحَالِ نَكِرَةً يَجِبُ تَقْدِيْمُ الْحَالِ عَلَيْهِ نَحْوُ: "جَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ"؛ لِئَلَّا تَلْتَبِسَ بِالصِّفَةِ فِيْ حَالَةِ النَّصْبِ فِيْ مِثْلِ قَوْلِكَ: "رَأَيْتُ رَجُلًا رَاكِبًا".

ترجمه: او عامل په حال کښې فعل يا معنى د فعل ده، او حال نکره وى هميشه د پاره، او ذو الحال معرفه وى غالبًا لکه تا په مذکوره مثالونو کښې وليدل، که چرته ذو الحال نکره وه نو وا جب دے تقديم د حال په دې باندې لکه "جاءنى راكبًا رجل"؛ د دې د پاره چې التباس ئې رانشى دصفت سره په حالت د نصب کښې په مثل د دې قول ستا کښې چې "رأيت رجلًا راكبًا".

تشريح: قوله: **و العامل في الحال فعل أو معنى فعل** ... غرض د ماتنﷺ د دې عبارت نه باقى أحكام ذکر کول دى هغه دا دى: چې حال به نکره وى هميشه، او وجه پکښې دا ده: چې حال واضع وضع کړے دے د پاره د تقيد د مطلق د معنى حدثى د فعل او تقيد د هغې به نکره سره حاصليږى نو معرفه کولو ته ئې ضرورت نشته، معرفه کول ئې بلا فائده دى؛ ځکه چې أصل په أسماؤ کښې نکارت دے، او ذو الحال به معرفه وى غالبًا.

يو نکته او وجه ئې دا ده: چې ذو الحال محکوم عليه وى او أصل په محکوم عليه کښې دا ده: چې دا به معرفه وى. **دويمه نکته او وجه دا ده**: چې حال به نکره وى او ذو الحال به معرفه وى دواړه نکره کولے هم نشو او دواړه معرفه کولے هم نه شو؛ ځکه چې بيا ئې التباس راځى د صفت سره په حالت د نصب کښې. **سوال**: عکس به دې کړے وے يعنې حال به دې معرفه کړے وے او ذو الحال به دې نکره کړے وے؟

جواب: عکس مو ونکړو؛ د وجې د اولې نکتې نه.

دریمه نکته دا ده : چې ذو الحال په منزله د مبتداء دے ، او حال په منزله د خبر دے او أصل په مبتداء کښې تعریف دے او په خبر کښې تنکیر دے ؛ نو ځکه ذو الحال معرفه شوه او حال نکره شوه . او دا " غالبًا " قید ئې ولګولو ؛ ځکه چې د ذو الحال د پاره دوه قسمه أحوال دی : ۱ ـ یو أحوال غالبه . ۲ ـ أحوال غیر غالبه . ۱ ـ أحوال غالبه ئې دا دی : چې دا به معرفه وی. ۲ ـ أحوال غیر غالبه ئې دا دی : چې دا نکره هم راتلے شی .

پس د دینــــــه : ذو الحال چې نکره واقع کیږی نو دا په یو څو ځائیونو کښې واقع کیږی : ۱ ـ یو موضع دا دے : چې ذو الحال نکره موصوفه وی لکه "جاءنی رجل من بنی تمیم فارسًا" ، دلته "رجلا" ذو الحال دے ، او نکره ده خو نکره موصوفه ده " من بنی تمیم " ئې صفت دے ، او " فارسًا " ترې نه حال واقع شوے دے . ۲ ـ دویم موضع دا دے : چې په هغه ځائ کښې ذو الحال نکره واقع کیږی چې دا ذو الحال منکر مستغنی وی دِ تعریف نه ؛ د وجې د استغراق د ده نه لکه الله تعالی فرمائی : ﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴿٤﴾ أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا﴾ [الدخان: ٤، ٥]، نو دلته دا " کل أمرٍ " ذو الحال دے ، او " أمرًا من عندنا " ترې حال واقع شوے دے ، او دا " کل أمر " نکره ده ؛ ځکه چې مستغنی دے د تعریف نه ؛ د وجې د استغراق د دې نه په " کل " سره .

۳ ـ دریم موضع دا دے : چې نکره په حیّز د استفهام کښې راشی لکه " هل أتاک رجلًا راکبًا " ، دلته " رجلًا " نکره ده ، او په حیّز د استفهام کښې ده یو قسم استفهام پکښې راغے .

٤ ـ څلورم موضع دا دے : چې د حال نه وروسته " الّا " راغلے وی داسې " الّا " چې ماتونکے وی حکم د ماقبل لره لکه "جاءنی رجل راکبًا الّا زید" ، نو دلته " رجل " ذو الحال نکره ده " راکبًا " ترې نه حال دے ، او د " راکبًا " نه وروسته " الّا " راغلے دے ، او دې " الّا " منقوض کړے دے حکم د ماقبل ؛ ځکه چې ماقبل حکم د مجیئت وو ، او په " الّا " سره د مجیئت د " زید " نه استثناء وشوه . ٥ ـ پنځم موضع دا دے : چې حال مقدم شوے وی په ذو الحال باندې لکه " جاءنی راکبًا رجلٌ " . دا وو أحوال غیر غالبه د ذو الحال .

قوله : و الحال نکرة ابدًا ... مخکښې چې مونږ ولیکل نو أحوال غیر غالبه وو د ذو الحال ، اوس وائی : چې د حال حکم دا دے : چې دا به همیشه نکره وی ، او دا نکارت د حال عام دے که حقیقتًا وی او که صورتًا وی ، حقیقتًا لکه "جاءنی زید راکبًا" ، او صورتًا لکه "رأیت القوم کلًا" ، دلته دا " کلًا " صورتًا نکره ده اګر چې حقیقتًا (معنیٰ) معرفه ده ؛ ځکه چې " کل " مضاف دے " القوم " ته ، په أصل کښې داسې دے " رأیت کل القوم " ، او په اضافت سره تعریف حاصلیږی . قوله : فان کان ذو الحال نکرة یجب تقدیم الحال علیه ... دا بل حکم ذکر

کوی چې أصل خو په ذو الحال کښې دا وه چې دا به معرفه وی ، خو که چرته ذو الحال نکره وی نو بیا تقدیم د حال په ذو الحال واجب دے .

قوله : **لئلا تلتبس بالصّفة فی حالة النّصب فی مثل قولک رأیت رجلًا راکبًا** ... دا دلیل دے د دې خبرې چې ذو الحال نکره وی نو تقدیم د حال واجب دے ؛ د دې د پاره چې په حالت د نصب کښې ئې التباس رانشی د صفت سره په مثل د دې قول ستا کښې چې « **رأیت رجلًا راکبًا** » دلته دا " **رجلًا** " او " **راکبًا** " دواړه نکرې دی نو که دلته مونږ تقدیم د حال ونکړو نو د " **رجلًا راکبًا** " سره ئې التباس راځی ؛ ځکه چې دا ترکیب توصیفی دے ، او چې مقدم ئې کړو نو بیا التباس نه راځی ؛ ځکه چې تقدیم د صفت په موصوف باندې نه دے جائز . **سوال :** التباس خو صرف په حالت د نصب کښې راځی نو په حالت د رفع او جر کښې ولې حال مقدم کوې په ذو الحال باندې ؟ **جواب :** چې هر کله په حالت د نصب کښې التباس راتلو او حال مقدم شو نو حالت د رفع او د جر پرې محمول دے ؛ د پاره د دې چې حکم د باب مختلف نشی ، او متفق شی .

وَقَدْ تَكُوْنُ الْحَالُ جُمْلَةً خَبَرِيَّةً نَحْوُ : " جَاءَنِیْ زَيْدٌ وَ غُلَامُهُ رَاكِبٌ ، أَوْ يَرْكَبُ غُلَامُهُ " ، وَمِثَالُ مَا كَانَ عَامِلُهَا مَعْنَى الْفِعْلِ نَحْوُ : " هَذَا زَيْدٌ قَائِمًا " مَعْنَاهُ أُنَبِّهُ ، وَأُشِيْرُ . وَقَدْ يُحْذَفُ الْعَامِلُ ؛ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ كَمَا تَقُوْلُ : لِلْمُسَافِرِ " سَالِمًا غَانِمًا " أَیْ : تَرْجِعُ سَالِمًا غَانِمًا .

ترجمه : او کله حال جمله خبریه واقع کیږی لکه " **جاءنی زید و غلامه راکب** " ، " **أو یرکب غلامه** " ، او مثال د هغه چې عامل ئې معنی الفعل وی لکه " **هذا زید قائما** " معنی ئې دا ده : چې " **أنبّه و أشیر** "، اوکله عامل د حال حذف کیږی ؛ د وجې د قیام د قرینې نه لکه ته مسافر ته وائې : " **سالمًا غانمًا** " یعنې ترجع سالمًا غانمًا .

تشریح : قوله : و قد تکون الحال جملة خبریة ... أحکام د حال ذکر کیدل بعض أحکام ذکر شو ، اوس د دې ځائې نه نور أحکام د حال ذکر کوی نو یو حکم د حال خو دا وو چې دا به نکره وی او دویم حکم د حال دا دے : چې کله به دا جمله خبریه وی ، " **قد** " چې په فعل مضارع داخل شی نو تقلیل پیدا کوی نو معنی دا ده : چې دا حال جمله واقع کیدل قلیل دی ، اکثر به مفرد وی خو کله کله جمله هم واقع کیدے شی ؛ ځکه مقصود د حال نه بیان د هیئت د فاعل دے او دا چې څنګه مفرد واقع کیږی نو داسې جمله هم واقع کیدے شی.

پس د دینه : حال چې کله جمله واقع کیږی نو یو شرط ئې دا دے : چې دا به جمله خبریه وی جمله انشائیه حال نه شی واقع کیدے ، او دا ځکه چې حال خو دینه وائی چې « **یبین هیئة**

الفاعل او المفعول به او كليهما» ، او جمله انشائيه صلاحيّت د دې نه لري چې بيان وكړي ؛ ځكه جمله انشائيه «إيجادُ أمرٍ لم يوجد» وي نو بيان به څنګه وكړي په خلاف د جملې خبرې نه چې هغه صلاحيّت د بيان لري ، بيا جمله خبريه چې واقع كيږي نو عامه ده كه جمله فعليه وي او كه اسميه وي خو شرط پكښې دا دے : چې په دې جمله خبريه كښې به عائد وي چې ربط د ذو الحال سره پيدا كړي او عائد د جملې خبرې د پاره چې حال واقع شي دوه أشياء دي يو ضمير او دويم " واو " ، او دا دوه ؛ ځكه دي چې جمله خبريه چې په حيثيت د جملې سره واخلې دا په قوّت د وحشت او منافرت كښې ده ؛ د وجې د استقلال نه ، او ارتباط ئې د ماقبل سره نه راځي نو عائد ورلره پكار دے چې ربط ئې د ماقبل سره راولي ؛ ځكه چې د عائد مثال پشان د غوړندي دے لكه څنګه چې حيوان هسې منډې وهي خو چې وتړلے شي نو بيا نه شي تلے نو دارنګ دا جمله هم اول د ماقبل سره نه وي مربوط خو چې عائد پكښې وي نو ربط ئې پيدا كړي د ماقبل سره . بله خبره دا ده : چې دا جمله كله خبريه وي او حال واقع شي نو عائد به يا ضمير وي او يا به " واو " وي ، او كه چرته جمله اسميه حال واقع شوے وو نو په هغه كښې به عائد ضمير او " واو " دواړه وي لكه " جاءني زيد و أبوه قائم " ، او يا به فقط ضمير وي خو فقط ضمير عائد واقع كيدل ضعيف دي مثال لكه **"جاءني زيد غلامه راكب"** ؛ ځكه ضمير د اول حال نه دلالت په ربط نه كوي ، بخلاف د " واو " نه چې دا ئې كوي ، او مثال د " واو " لكه حديث دے ﴿كُنْتُ نَبِيًا وَآدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ﴾[1] ، او كه چرته دا حال جمله فعليه وي نو بيا به خالي نه وي يا به ماضيه وي او يا به مضارعيه وي ، كه چرته مضارعيه وي نو بيا به خالي نه وي يا به مثبته وي او يا به منفي وي كه مثبته وي ، يا مضارعيه منفيه په " لا ، يا ما " سره وي نو عائد به پكښې ضمير وي فقط ، " واو " پكښې عائد نشي واقع كيدے ؛ ځكه مضارع مشابه ده د اسم فاعل سره لفظًا او معنًا جميعًا نو اسم فاعل چې حال واقع شو نو د " واو " راتلل نه وو جائز نو دلته به هم داسې وي مثال لكه **"جاء زيد يضحک"** . او كه چرته دا جمله مضارعيه وي خو منفي بلم وي ، يا جمله ماضيه وي[2] بيا عامه ده كه مثبته وي او كه

---

(1) المقاصد الحسنة : رقم (۸٤۲) ، كشف الخفاء ومزيل الالباس عما اشتهر .... ، رقم (۲۰۱۷)

(2) بيا ماضيه به سره د " قد " نه وي ، بيا دا " قد " عام دے كه لفظًا وي لكه " **جاءني زيد و قد ركب غلامه** " يا " قد " مقدر وي لكه ﴿ أَوْ جَاءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ ﴾ أي قد حصرت صدورهم ، دا " قد " به ؛ ځكه وي چې " قد " سره ماضي زمانه حال ته نزدې كړي ، بيا مونږ دلته ووے : چې " **حصرت** " كښې " **قد** " حذف دے دا خبره بخلاف د سيبويه او مبرد ده ؛ ځكه د هغوی په نزد حذف د " قد " جائز نه دے ، نو بيا سيبويه " **حصرت** " ته حال نه وائي ، بلكه حال محذوف وائي ، او مبرد دا جمله صفت وائي د موصوف مقدره أي " **قومًا حصرت صدورهم** " او مبرد وائي : چې دا جمله دعائيه ده .

منفي وي خو عائد به پکښې " واو " او ضمير دواړه وي لکه "جاءني زيد و ركب غلامه"، او يا فقط " واو " وي لکه "جاء زيد و لم يطلع الشمس"، او يا به فقط ضمير وي لکه "جاءني زيد ركب غلامه"، خو فقط ضمير عائد واقع کيدل ضعيف دي پشان د جملې اسميه.

قوله: **جاءني زيد و غلامه راكب** ... دا مثال د جملې اسمي دے او عائد پکښې هم " **واو** " دے او هم ضمير.

قوله: **او يركب غلامه** ... دا عطف دے په مخکښې، أي: **جاءني زيد و يركب غلامه** ... دا مثال د جملې فعليه مضارعيه مثبته دے، بيا په ديکښې هم عائد " **واو** " او ضمير دواړه دي.

قوله: **و مثال ما كان عامله معنى الفعل** ... تر دې ځايه خو هغه أحكام ذکر کيدل چې عامل پکښې فعل صريحي وو، اوس د دې ځائ نه هغه ذکر کوي چې عامل ئې معنی د فعل وي لکه "**هذا زيد قائمًا**"، دلته دا " **قائمًا** " حال دے او ماقبل ترې نه نه فاعل شته او نه مفعول به شته؛ ځکه چې " **هذا** " مبتداء ده او " **زيد** " ئې خبر دے نو اګر چې لفظًا نشته خو معنًى شته؛ ځکه چې " **هذا** " اسم اشاره ده په معنى د " **أُنبّه** "، او " **أُشير** " سره ده، او دا فعلين دی ضمير پکښې مستتر دے هغه ذو الحال او " **قائمًا** " ترې نه حال دے نو حال د فاعل نه واقع شو.

قوله: **و قد يحذف العامل لقيام قرينة** ... او کله کله حذف کيږي عامل د حال؛ د وجې د قيام د قرينې نه، دا قرينه عامه ده که حاليه وي او که مقاليه وي، ماتن﷫ مثال د قرينې حالي پيش کړے دے. قوله: **كما تقول للمسافر سالمًا غانمًا** ... په داسې حال کښې چې ته سالم ئې، او په داسې حال کښې چې ته غانم ئې، دلته " **سالمًا** " حال دے، او ذو الحال سره د عامل نه حذف دے، او " **غانمًا** " حال دے د ضمير د " **سالمًا** " نه، ديته حال متداخله وائي.

قوله: **أي ترجع سالمًا غانمًا** ... چې هغه " **ترجع** " ئې حذف کړے دے، او قرينه پرې حال د مسافر دے، او مثال د قرينې مقالي لکه ته يو سړی ته ووے: چې ‹‹ **كيف جئتَ** ›› ته ځنګه راغلے ئې، او هغه ووائي: چې ‹‹ **راكبًا** ››، دلته هم عامل حذف شو سره د ذو الحال نه، أصل کښې داسې وو چې ‹‹ **جئت راكبًا** ››.

فَصْلٌ التَّمْيِيْزُ: هُوَ نَكِرَةٌ تُذْكَرُ بَعْدَ مِقْدَارٍ مِنْ عَدَدٍ، أَوْ كَيْلٍ، أَوْ وَزْنٍ، أَوْ مَسَاحَةٍ، أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ مِمَّا فِيْهِ إِبْهَامٌ تَرْفَعُ ذٰلِكَ الْإِبْهَامَ نَحْوُ: " عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا "، وَ" قَفِيْزَانِ بُرًّا "، وَ" مَنَوَانِ سَمْنًا "، وَ" جَرِيْبَانِ قُطْنًا "، وَ" عَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا ".

ترجمه: دا فصل دے په بيان د تمييز کښې، دا تمييز هغه نکره ده چې ذکر کيږي پس د مقدار نه يعني يا

پس د عدد ، یا کیل ، یا وزن ، یا مساحت نه ، او یا غیر د دې نه د بل شی نه چې په هغه کښې ابهام وی نو دا تمییز به هغه ابهام لرې کړی لکه "عندی عشرون درهمًا" الخ .

تشریح : قوله : فصل التمییز هو نکرة تذکر بعد مقدار من عدد ...

بحث التّمییــز

په دې عنوان کښې چند مباحث اجمالًا ، او بیا د هغو تفصیل مناسب ده چې وکړے شی :

(۱) ربط (۲) معنی لغوی (۳) اصطلاحی معنی (٤) أقسام (٥) أمثله .

(۱) **ربط دا دے :** چې هر کله فارغ شو ماتنؒ د بیانولو د حال نه نو شروع ئ وکړه په تمییز باندې دا د منصوبات ووم قسم دے ، او د ملحقات دویم قسم دے .

(۲) **لغــــوی تحقیق :** "تمییز" په لغت کښې جدائی ته وائی .

(۳) **اصطلاحی معنی :** « **هو نکرة تذکر بعد مقدار من عدد او کیل او وزن او مساحة او غیر ذلک** » معنی ئ بره شوې ده ، نو مختصر تعریف د تمییز دا شو چې « **هو نکرة تذکر بعد ما فیه ابهام لرفع ذلک الابهام** » "**هو**" په منزله د جنس دے ټول أقسام د کلمې پکښې داخل وو "**نکرة**" ئ چې ووے : نو په دې سره ترې أفعال ، حروف ، او معرفې خارج شو "**تذکر بعد الابهام**" ئ چې ووے : نو په دې سره ترې ټول مفاعیل خارج شو "**ترفع ذلک الابهام**" ئ چې ووے : نو په دې سره ترې حال خارج شو ؛ ځکه چې حال رفع د ابهام کوی د وصف نه او دا رفع د ابهام کوی د ذات نه ، بیا دلته ده دا خبره وکړه چې تمییز به نکره وی او دا مذهب د بصریین دے ، په دې مسأله کښې اختلاف دے چې آیا تمییز به نکره وی همیشه او که معرفه هم راتلے شی نو په نزد د بصریین به تمییز همیشه نکره وی ، او په نزد د کوفیین باندې چې تمییز څنګه نکره واقع کیږی نو دغسې معرفه هم واقع کیدے شی خو چونکه مختار په نزد د ماتنؒ باندې مذهب د بصریین وو ، او دا مشهور مذهب دے نو په دې وجه باندې "**هو نکرة**" ئ ووے : چې دا به نکره وی او معرفه نشی راتلے . اوس نکره به ولې وی ؟ نو دا ؛ ځکه چې تمییز د رفع د ابهام د پاره راځی او رفع د ابهام په نکره سره حاصلیږی نو معرفه کولو ته ئ ضرورت نشته ؛ ځکه چې أصل په أسماؤ کښې نکارت دے .

(٤) **أقســـــام :** قوله : **تذکر بعد مقدار** ... ماتنؒ په دې مقام کښې اشاره کوی دوه قسمونو د تمییز ته چې تمییز په دوه قسمه دے : ۱ـ تمییز عن المقدار . ۲ـ تمییز عن غیر مقدار . بألفاظ دیګر تمییز په دوه قسمه دے : ۱ـ تمییز عن المفرد . ۲ـ تمییز عن الجملة . دا تمییز عن المفرد بیا په دوه قسمه دے : ۱ـ عن المقدار . ۲ـ عن غیر المقدار . نو "**بعد مقدار**" ئ چې ووے : نو دا هغه تمییز عن المفرد ، او عن المقدار طرف ته اشاره ده . او ورسته به ووائی : چې «

وقد يكون عن غير مقدار » دا تمييز عن غير المقدار طرف ته اشاره ده . بيا كوم تمييز چې د مقدار نه واقع كيږي دا پنځه قسمه دے : ١ ـ عن العدد ٢ ـ عن الكيل ٣ ـ عن الوزن ٤ ـ عن المساحة ٥ ـ عن المقياس .

اولنے عدد دے : د " **عدد** " نه مراد معدود دے نو د تمييز عن العدد مقصد دا شو چې په معدود كښې يو ابهام وى او د هغې نه ورسته ته يو اسم نكره ذكر كړې چې د هغه معدود هغه ابهام رفع كړى مثال لكه "**عندى عشرون درهمًا**" دا " **عشرون** " عدد دے ، خو په دې كښې څه ابهام نشته ؛ ځكه " **عشرون** " هغه مرتبه ده چې د نولسو (١٩) نه بره ده او يويشتو (٢١) نه ښكته ده أصل ابهام په هغه معدود كښې دے چې پته نه لګى چې شل (٢٠) ورسره څه دى ؟ نو چې " **درهمًا** " ئې ووے : نو په دې سره هغه ابهام رفع شو .

دويم كيل دے : " **كيل** " پيمانې ته وائى ، دلته ذكر د " **كيل** " دے او مراد ترې مكيل دے ؛ ځكه چې په كيل كښې څه ابهام نه وى ، بلكه ابهام په مكيل كښې وى لكه مثلًا يو كس روائى : چې " **عندى قفيزان** " زما سره دوه قفيزه يعنې دوه پيمانې دى نو په ذات د پيمانه كښې خو څه ابهام نه وى خو أصل كښې په هغه مكيل كښې ابهام وى چې پته ئې نه لګى چې دا د غنمو دى كه د جوارو دى ، كه د څه شى دى ؟ نو چې " **بُرًّا** " ئې ووے : نو هغه ابهام ختم شو .

دريم تمييز عن الوزن دے : " **وزن** " تول ته وائى ، دلته هم ذكر د وزن او مراد ترينه موزون دے ؛ ځكه چې په وزن كښې هم ابهام نه وى ؛ ځكه چې چټاكئ ، پاؤ ، نيم سير ، كلو ، سير ، او درئ وغيره په ديكښې خو څه ابهام نشته خو په موزون كښې ابهام وى لكه "**عندى منوان سمنًا**" (زما سره دوه منه دى) " **من** " په فارسئ كښې نيم سيرى ته وائى يعنې دوه نيم سيرى دى نو پته نه لګى چې دا څه دى ؟ چينى دى ، كه غوړى دى ، او كه ماسته دى ، نو چې " **سمنًا** " ئې ووے : نو ابهام رفع شو .

څلورم تمييز عن المساحة دے : يني كج ، ګام ، او پټ وغيره ، دلته هم ذكر د مساحت دے او مراد ترينه ممسوح منه دے ، مثلًا يو كس ووے : چې " **و جريبان** " (زما سره دوه جريبه دى) نو پته نه لګى چې دوه جريبه غنم ئې كرلى دى ، كه جوار دى ، كه وريشې دى ، او كه څه دى ؟ نو چې " **قطنًا** " ئې ووے : نو ابهام ختم شو ، دلته هم ابهام په مجروب كښې دے .

پنځم مقياس دے : د " **مقياس** " نه مراد هغه آلات دى چې د هغې په وجه خلق د شى مساوات كوړ والے ، او روغ والے كورى لكه تار وغيره شو مثال لكه " **و على التمرة مثلها زبدًا** " نو " **مثلها** " ورسره نه وو ذكر نو پته نه لګيده چې په كجوره باندې د هغه پشان څه دى ؟ نو " **زبدًا** " ئې چې ووے : نو هغه ابهام ئې رفع كړو .

وَقَدْ يَكُوْنُ عَنْ غَيْرِ مِقْدَارٍ نَحْوُ: "هَذَا خَاتَمٌ حَدِيْدًا"، وَ"سِوَارٌ ذَهَبًا"، وَفِيْهِ الْخَفْضُ أَكْثَرُ، وَقَدْ يَقَعُ بَعْدَ الْجُمْلَةِ؛ لِرَفْعِ الْإِبْهَامِ عَنْ نِسْبَتِهَا نَحْوُ: "طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا"، أَوْ "عِلْمًا أَوْ أَبًا".

ترجمه: او كله وى دا تميز د غير مقدار نه لكه "هذا خاتم حديدًا و سوار ذهبًا"، او په دې كښې جر أكثر دے، او كله واقع كيږى پس د جمله نه د پاره د رفع د ابهام د نسبت نه لكه "طاب زيدٌ نفسًا"، او "علمًا"، او"أبًا".

تشريح: قوله: **و قد يكون عن غير مقدار** ... هر كله چې فارغ شو ماتنؒ د تميز عن المفرد عن المقدار نه نو شروع ئې وكړه په تميز عن المفرد عن غير المقدار كښې.

تميز عن غير المقدار ديته وائى: چې ابهام راغلے وى په ذات د دغه شے كښې نو دغه تميز دغه ابهام رفع كړى مثال لكه "**خاتم حديدًا**"، دلته "**خاتم**" مميز دے او "**حديدًا**" ئې تميز دے، او دا "**خاتم**" نه عدد دے، نه كيل دے، نه وزن دے، نه مساحت دے، او نه مقياس دے، بلكه دلته ابهام په ذات د خاتم كښې دے چې دا به د سرو وى كه د سپينو به وى كه د زيړو به وى كه د أُسپنې به وى، نو كله چې ورسره "**حديدًا**" ذكر شو نو هغه ابهام رفع شو او پته ولګيده چې دا د أُسپنې ده، او د بل څه نه ده. قوله: **و سوار ذهبًا** ... دا هم دغه شان دے چې په "**سوار**" كښې ابهام وو چې دا بنګړى به د څه وى، نو چې "**ذهبًا**" ذكر شو نو هغه ابهام ختم شو.

پس د دينـــــــه: دا خبره پيژندل پكار دى چې دې تميز لره دا نصب څه شے وركوى نو دا نصب دې لره اسم تام وركوى، اوس اسم تام څه شے دے نو دا كيدل د اسم دى په داسې حالت كښې چې په دغه حالت كښې اضافت د دې اسم ناروا وى، او هغه حالت دا دے: چې دا اسم تام شوے وى په تنوين يا قائم مقام د تنوين سره چې نون د تثنيه، نون د جمع، او نون د اضافت دے نو په دغه حالت كښې د دې اسم اضافت بل شى ته ناروا وى؛ ځكه چې اسم په دې باندې تمام شوے دے، او اضافت دا تقاضه كوى چې اسم نه دے تمام شوے. او په تمام او عدم تمام كښې منافات دے نو اضافت ئې ځكه نه كيږى، او په دې حالت كښې دا اسم تام دې تميز لره نصب؛ ځكه وركوى چې دا مشابه شو د فعل سره په اتمام كښې په فاعل باندې، او فعل چې په فاعل باندې تمام شى نو ما بعد لره نصب وركوى كه مفعول به وى كه مفعول فيه وغيره وى، نو دغه شان اسم په منزله د فعل شو او دغه أشياء مذكوره ورلره په منزله د فاعل شو نو چې ورسته ترې تميز راځى نو هغه لره به نصب وركوى او ماتنؒ ووے: چې په دې تميز عن غير مقدار كښې خفض أكثر دے؛ ځكه تميز چې د كوم مقصد د پاره راځى چې رفع د ابهام ده دا حاصليږى په حالت د خفض كښې په تخفيف سره نو

صیرورت کولو د غیر ته څه ضرورت نشته ، او أصل خو په ابهام کښې مقادیر دي نو کوم تمیيز چې د مقدار نه راغلے وی نو هغه به منصوب وی یعني په هغه کښې نصب متعین دے ، او په غیر مقدار کښې ابهام أصل نه دے نو دا مجرور شو. قوله : **و قد يكون عن الجملة** ... دا دویم قسم د تمیيز ذکر کوی چې تمیيز عن الجملة دے ، کله کله ابهام راغلے وی په نسبت کښې یعني دا پته نه لګی چې د دې فعل نسبت فاعل ته په څه جهت سره دے لکه **"طاب زيد"** ، نو دلته اوس ابهام دے چې آیا د " **زيد** " سر ښه دے ، که ښیې ئ ښې دی ، که سترګې ئ ښې دی ، او که څه ئ ښه دی ، نو چې تمیيز ذکر شی نو دغه ابهام به رفع کړی او کوم تمیيز چې په نسبت کښې وی د هغه نه چې کوم تمیيز راځی هغه درې قسمه دے : ۱۔ کله به رفع کوی د منتصب عنه نه ، کله به رفع کوی د متعلق د منتصب عنه نه ، او کله به رفع د ابهام کوی د دوارو نه . د اول مثال لکه **"طاب زيدٌ نفسًا"** (ښه دے زید د جهته د نفس نه) دا تمیيز د منتصب عنه نه دے چې " **زيد** " دے ، او کله د متعلق د منتصب عنه وی لکه **"طاب زيد علمًا"** ؛ ځکه د " **زيد** " متعلقات ډیر دی چې بکاء ، ضحک ، غصه ، جګړه ، علم ، او حلم وغیره دی ، نو پته نه لګیده چې په څه تعلق سره ښه دے نو " **علمًا** " چې ذکر شو نو هغه ابهام رفع شو ، او کله به رفع د ابهام د دوارو نه کوی لکه **"طاب زيد أبًا"** ، نو اوس که " **زيد** " د بل چا پلار شی نو منتصب عنه شو ، او که مراد د " **زيد** " پلار شی نو بیا متعلق د منتصب عنه شو. د اول معنی به دا وی چې زید ښه پلار دے ، او د ثانی معنی به دا وی چې د " **زيد** " پلار ښه دے .

فَصلُ الْمُسْتَثْنَى : لَفْظٌ يُذْكَرُ بَعْدَ إِلَّا ، وَ أَخَوَاتِهَا ؛ لِيُعْلَمَ أَنَّهُ لَايُنْسَبُ إِلَيْهِ مَا نُسِبَ إِلَى مَا قَبْلَهَا ، وَهُوَ عَلَى قِسْمَيْنِ : مُتَّصِلٌ ؛ وَهُوَ مَا أُخْرِجَ عَنْ مُتَعَدِّدٍ بِإِلَّا ، وَ أَخَوَاتِهَا نَحْوُ : " جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا زَيْدًا " ، وَ مُنْقَطِعٌ ؛ وَهُوَ الْمَذْكُورُ بَعْدَ إِلَّا ، وَ أَخَوَاتِهَا غَيْرَ مُخْرَجٍ عَنْ مُتَعَدِّدٍ ؛ لِعَدَمِ دُخُوْلِهِ فِي الْمُسْتَثْنَى مِنْهُ نَحْوُ : " جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا حِمَارًا " .

ترجمه : دا فصل دے په بیان د مستثنی کښې ، دا مستثنی داسې لفظ دے چې ذکر کیږی پس د " إلّا " ، او د أخوات د " إلّا " نه ؛ د دې د پاره چې معلوم شی چې نسبت نه کیږی دې ته د هغه څه چې نسبت ئ شوے وی ماقبل د دې ته ، او دا مستثنی په دوه قسمه ده : متصل ، او دا هغه ده چې دا خارج شوې وی د متعدد نه په " إلّا " ، او أخوات د " إلّا " سره لکه " جاءنی القوم الّا زیدًا " ، او بله منقطع ده ، دا هغه ده چې مذکور وی پس د " إلّا " او د أخوات د " إلّا " نه غیر مخرج وی د متعدد نه ؛ د وجه د عدم دخول د دینه په مستثنی منه کښې لکه " جاءنی القوم الّا حمارًا " .

تشريح : قوله : **فصل المستثنى** ...

بحث المستثـــــنى

په دې عنوان کښې چند مباحث مناسب دی : (۱) ربط (۲) معنی لغوی د مستثنی (۳) معنی اصطلاحی د مستثنی (٤) أقسام د دې (٥) أحکام (٦) تفصیل د هغې .

(۱) **ربط دا دے** : هر کله چې فارغ شو ماتن د ووه قسمونو د منصوبات نه نو شروع ئ وکړه په اتم قسم د منصوبات باندې چې مستثنی ده .

(۲) **لغوی معنی** : مستثنی په لغت کښې ډبل کړے شوی ته وائی ، او دیته هم مستثنی ؛ ځکه وائی چې په دې کښې هم دوه حکمونه ډبل ذکر کیږی یو ایجاب یعنې اثبات ، او بل نفی ، که مستثنی منه کښې ایجاب وو نو دیکښې به نفی وی لکه "**جاءنی القوم الّا زیدًا**" ، او که په هغې کښې سلب وو نو دا به ایجاب وی لکه "**ما جاءنی القوم إلّا زیدًا**" .

(۳) **اصطلاحی معنی** : اصطلاحی معنی ئ ماتن کړې ده : چې «**المستثنی لفظ یذکر بعد إلّا و أخواتها الخ**» یعنې دا یو لفظ دے چې ذکر وی ورسته د "إلّا" او د أخوات د دې نه ؛ د دې د پاره چې معلوم کړی دا خبره چې دې مستثنی ته نسبت نه کیږی د هغه څه چې د هغه نسبت مستثنی منه ته شوے دے لکه "**جاءنی القوم إلّا زیدًا**" ، دلته نسبت د مجیئت شوے دے "**قوم**" ته ، او "**زید**" ته نه دے شوے . بیا په هر تعریف کښې لابدی وی د جنس او فصل نه نو "**لفظ**" په منزله د جنس وو تولو أقسامو ته شامل وو "**یذکر بعد إلّا و أخواتها**" ئ چې ووے : نو په دې سره د مستثنی نه علاوه نور تول أقسام خارج شو ، او دلته ماتن أخوات ووے : نو مراد د أخوات نه خلا ، حاشا ، لیس ، غیر ، او سواء دی . **سوال** : تا تعریف د مستثنی وکړو په "**لفظ**" سره ، لیکن دا په "اسم" سره پکار وو ؛ ځکه چې مستثنی قسم دے د منصوبات نه ، او منصوبات قسم دے د معرب نه او معرب قسم د اسم دے ؟ **جواب** : ده تعریف په "**لفظ**" سره وکړو ؛ د دې د پاره چې شامل شی هغه مستثنی ته چې جمله وی ، او که اسم ئ وئیلے وے نو بیا صرف هغه لره شاملیدو چې مفرد وی ، او جمله ته نه شاملیدو .

(٤) **أقســـــــام** : قوله : **و هو علی قسمین** ... کله چې فارغ شو ماتن د تعریف د مستثنی نه نو شروع ئ وکړه په تقسیم د مستثنی کښې ، او دا هغه څلورمه خبره ده چې أقسام د مستثنی دی ، نو مستثنی په دوه قسمه ده : ۱ـ متصل ۲ـ منقطع .

قوله : **و هو ما أخرج عن متعدد** ... غرض د ماتن تعریف د هر قسم کول دی ، نو د متصل تعریف دا دے : چې دا خارج شوی وی د متعدد نه په "**إلّا**" او په أخوات د "**إلا**" سره ، یعنې اول پکښې داخله وی بیا عامه ده که د متعدد د أفرادو نه وی او که د متعدد د أجزاؤ "یو فرد وو . د اول مثال لکه "**جاءنی القوم إلّا زیدًا**" ، "**زید**" داخل وو په "**قوم**" کښې او د "**قوم**" یو فرد وو . او مثال د ثانی لکه "**ضربت زیدًا إلا رأسه**" ، نو دا "**رأس**" په "**زید**" کښې داخل

دے خو جزء دے تري ، او مراد په اخراج سره اخراج فی الحکم دے په دې سره دفع د اعتراض وشوه ، **اعتراض** دا دے : چې ستا تعریف د مستثنی نه دے صحیح ؛ ځکه تا ووے : چې دا خارج وی د متعدد نه په " إلّا " او په أخوات د " إلّا " سره نو دا مستثنی ته په مستثنی منه کښې داخل وائی ، او که داخل ئ نه وائی ، نو دا خو ته اجتماع د ضدین کوې ؛ ځکه چې بو طرف ته وائی : "**جاءنی القوم**" ، نو په " **قوم** " کښې خو " **زید** " هم وو ، او بیا وائی : چې " **إلا زیدًا** " نو " **زید** " نه دے راغلے ؟ **جواب** : زه دا مستثنی په مستثنی منه کښې داخل وائم په اعتبار د مفهوم سره او اخراج ئ وائم په اعتبار د حکم سره چې هغه دلته " **مجیئت** " دے ، یعنې کوم حکم چې " **قوم** " لره شامل دے چې " **مجیئت** " دے هغه " **زید** " لره نه دے شامل .

قوله : **و منقطع لعدم دخوله فی المستثنی منه** ... غرض د ماتنﷺ د مستثنی منقطع تعریف کوی : چې دا هغه ده چې ذکر وی پس د " إلّا " او د أخوات د " إلّا " نه او ویستے شوی نه وی د متعدد نه ؛ ځکه داخل نه وی په مستثنی منه کښې ، بیا دا عامه ده که د مستثنی منه د جنس نه وی او که نه وی ، بعض خلق د مستثنی منقطع تعریف دا کوی : چې دا مستثنی د جنس د مستثنی منه نه وی ، او په متصله کښې د جنس نه وی مثال لکه " **جاءنی القوم إلّا حمارًا** " ، نو " **حمار** " په " **قوم** " کښې داخل هم نه دے او د جنس د " **قوم** " نه هم نه دے ، او مثال د هغه چې د جنس د مستثنی منه نه وی خو داخل پکښې نه وی لکه " **جاءنی القوم إلّا زیدًا** " ، په هغه وخت کښې چې " **زید** " د " **قوم** " دښمن وی ، نو اګر چې د جنس د " **قوم** " نه دے ، لیکن داخل پکښې نه دے ؛ ځکه چې دشمن ئ دے ، نو دا قسم د مستثنی منقطع د دې بعض نحات په نزد د تعریف نه خارج کیده نو ؛ ځکه ماتنﷺ دغه تعریف وکړو .

وَاعْلَمْ أَنَّ إِعْرَابَ الْمُسْتَثْنَى عَلَى أَرْبَعَةِ أَقْسَامٍ : فَإِنْ كَانَ مُتَّصِلًا وَقَعَ بَعْدَ إِلَّا فِي كَلَامٍ مُوْجَبٍ ، أَوْ مُنْقَطِعًا كَمَا مَرَّ ، أَوْ مُقَدَّمًا عَلَى الْمُسْتَثْنَى مِنْهُ نَحْوُ : " مَا جَاءَنِي إِلَّا زَيْدًا أَحَدٌ " ، أَوْ كَانَ بَعْدَ " خَلَا " ، وَ " عَدَا " عِنْدَ الْأَكْثَرِ ، أَوْ بَعْدَ " مَاخَلَا " ، وَ " مَاعَدَا " ، وَ " لَيْسَ " ، وَ " لَايَكُوْنُ نَحْوُ : " جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا " الخ كَانَ مَنْصُوْبًا ، وَ إِنْ كَانَ بَعْدَ " إِلَّا " فِي كَلَامٍ غَيْرِ مُوْجَبٍ ، وَهُوَ كُلُّ كَلَامٍ يَكُوْنُ فِيْهِ نَفْيٌ ، وَ نَهْيٌ ، وَ إِسْتِفْهَامٌ ، وَ الْمُسْتَثْنَى مِنْهُ مَذْكُوْرٌ يَجُوْزُ فِيْهِ الْوَجْهَانِ النَّصْبُ ، وَ الْبَدَلُ عَمَّا قَبْلَهَا نَحْوُ : " مَاجَاءَنِي أَحَدٌ إِلَّا زَيْدًا وَ إِلَّا زَيْدٌ " .

ترجمه : او پوهه شه ! چې اعراب د مستثنی په څلور قسمه دے ، که چرته دا متصل وه او واقع شوې وه پس د " إلّا " نه په کلام موجب کښې ، او یا منقطع وه لکه چې تیر شو ، او یا مقدم وه په مستثنی منه باندې لکه " ما جاءنی القوم الّا زیدًا احدٌ " ، او یا واقع وه پس د " خلا " ، او " عدا " نه په نزد د أکثر ، او یا پس د " ماخلا " ،